لیکوال نسیم حجازي

ژباړن محمد زبیر شفیقي

منصور کتابتون @ Telegram

# قیصر او کسرا



## اهدا

هغو بانهلنه ځلمو ته چې ایمان او همت یې د کوم
قیصر او کسرا په مخکې سرټیټ نه نه پرېږدي
(شنیتې)


## کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: قیصر او کسرا

لیکوال: نسیم حجازي

ژباړن: زیر شنېتي

شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ کال: ۱۴۳۶ هـ ق / ۱۳۹۲ هـ ل / ۲۰۱۳ م

خپرندوی: میوند خپرندویه ټولنه

چاپ: د میوند خپرندویې ټولنې مطبعه

کابل: د فارسي دریاست ترڅنګه افغان ترک لیسې ته مخامخ

سبا کتابخانه - ګرځنده ټیلفون: ۰۷۸۶۰۰۰۱۲۳ - ۰۷۰۰۲۸۴۹۵۴

پست بکس: ۱۲۲۸ مرکزي پسته خانه

E-Mail: maiwand.press@gmail.com



ټول حقوق محفوظ دي

# د ژباړن څرګندونې

الحمد لله چې داروابناد نسیم حجازي بل تاریخي ناول «قیصر اوکسری» هم دادی ستاسو درنو لوستونکو مخې ته ږدم.

«قیصر اوکسری» هم د تاریخ واقعیتونه دی او هم داسې سمبولونه چې له ازله شته او تر ابده پورې به دوام لري، داروابناد نسیم حجازي دغه داستان د فارس او روم د دوو امپراتوریو او زورواکیو ترمنځ د مظلوم انسانیت پر وضعه کښل شوی شهکار دی چې د فاران پرغرونو د پیغمبري لمر د راختو انتظار بې کاوه، دغه داستان د عربي قبیلو ترمنځ د جاهلانه رسم او رواج او قومي شخړو یو بې ساری هنري تصویر دی چې د هرې کرښې په لوستلو بې انسان پردې باوري کوي چې د انسانیت د خیر او ښیګڼې یوازینی لاره داده چې د بې شمیره خدایانو پرځای یوازې د یوه پروردګار په مخکې سر په سجده وي.

دا یوازې د پرون نسخه نه ده د نن ده او تر ابده د ژغورنې او خیر لاره همدغه ده.

چې پر مظلوم انسانیت د قومي تعصب پیریان کښیني او پخپلو کې یې یو د بل په وینو لاسونه سره شي، چې اولسونه د کوم قیصر او یا کسری د فاتح پوځ تر مغرورو او وحشیانه کامونو لاندې شي. څمکه پرې سره تبې او د ژوندلوري ترې ورک شي یوازینی د ژغورنې پیغام ورته همدغه دی چې ستر خدای ته پناه یوسي او له خرافاتو

راووخي. اسلام همدغه مهال د انسانیت دبقا سلامتی سوکالی او عظمت بوازینی غبرګه شي چې انسان یکې پناه اخیستی شي او بس. زه خپل درانه هیوادوال په تیره زلمیان دهغه ارواپال تاریخي ناول لوستلو ته رابولم. له ستر پروردګار څخه ددغه تاریخي ناول د دوهم ټوک دچاپ او څو نورو پاتې آثارو دزیاري بری غوارم.

په پای کې د هیوند خبرندویې ټولنې څخه د زړه له کومې مننه کوم چې زما زیاتره ژباړل شوي آثار یې په ډیر خلوص او مینه زما د غوښتنې او هیلې سره سم چاپ کړي دي او په ډیر حساس پړاو کې یې د هیواد د فرهنګي بډاینې په هڅو کې برخه اخیستی ده. همدغسې د ښاغلي علی جان سلطاني څخه مننه کوم چې د قیصر او کسرا په کمپوز یې زیار ګاللی.

درنښت
محمد زبیر شفیقي
سردار احمد جان کالوني کرابي کوټ
د ۱۳۸۳ المریزکال دغبرګولي میاشت

Telegram @ مَنصور کتابتون

بسمه تعالي

لومړی برخه

# تږي ريگونه

# لومړی باب

یوه ورځ له ما سپینبن ځخه لږ مخکې عاصم اوعباد کوم پینځه کیلومتره لـه یرو شیلم ځخه لرې بیا هغـه سرای تـه نژدې شول چې خوا‌ونـی مخکې بې دمشق تـه دتلو پـه وخت کې یوه شپه پکې تیره کړې وه. دخپل عمر پـه اندول عاصم دهغو متهورو او پیاوړیو خلکو ځخـه ؤ چې پـه هلکانو کې ځوان اوپـه ځوانانو کې تر تولو زلمی ښکاري. خوښکلې ځیره یې لـه هغو توپانونو سره آشنا ښکاریده چې ځوانان له وخته مخکې له مسوولیتونو سره روږدي کوي. لـه جامو ځخـه یې لوړ نسبه عرب ښکاریده، دهغه توري ځلیدونکې سترګې دشوخې، هوښیارې اوغرور نـه پرتـه دداسې پرخان باورې او زغم ښکارندویې وې، چې پرخوک یې پـه لوړو ژورو او لـه خطره ډکو لارو ژوند تیرولو ترلاسـه کولای شي هغـه پـه توره اولینده سنبال پـه یوه ښکلي آس پـه داسې انداز سپور ؤ چې کـه یې ښي اوکیڼ لوري تـه ددښمن کتارونه وای هم پـه غرور اوخان باورۍ کې بـه یې کمی نـه ؤ، راغلی ، کـه دی دیوه عرب پرځای دکوم رومي سپاهي پـه جامه کې وای اوتر شایې دیوه غلام پرځای دسپرو پوځ وای نودده دغه بې باکه کنل بـه ددې پوځ دبري ضمانت بلل کیده، خو کـه دغه ځوان چیرته دبې پروا پـه ساعت تیری او لویو برختو ځوانانو سره پـه مندو

رامندو او لوبو کې لیدل شوی وای نوننداړ چیانو به دده دېوچې رعب پرخای دده دکړسندو خنداگانو اوموسکاو ننداره ډیره خوښوله.

عباد دده دلوړ قد او پنډبدن خاوند غلام پراوښ سپور و هغه په عمر تر ده لس دوولس کاله لوړ ښکاریدو.

اوددوهم اوښ پرې چې سامان پرې بار و دعبادله اوښ سره تړلی و.

دسرای څلوړ دیوالي له بهر څخه دیوې کلا په څیر ښکاریده.

عباد اوعاصم ددروازې په مخ کې پلې شول.اوله خپلو اوښانو او آس سره دننه ننوتل.

دسرای دوه پوړه ودانۍ ډیره لویه نه وه، خوانګړې ښه پراخ و. له برنډې نه مخکې دلرګي پړستنو دخرما دڅانګو او بانو تر چت لاندې دعامو مسافرو لپاره پوزي غوړیدلي وو. بل لورې ته څو شړیدلي میزونه اوتخت ایښي وو. په نور انګړ کې خای خای دزیتون اوانځیرو ونې وې، کینې لوري ته ددیوال سره له یوې اوږدې څپرې نه دطبیلې کار اخیستل کیده،چې تر هغو لاندې څو اسونه اوبهریې څو اوښان تړلي وو، هغو ته نژدې تر ونو لاندې څو تنه مسافرو سیوري ته ډډې اچولې وې څلور تنه یهودان تر یوه میز راچاپیرناست وو اوقمارېې واهه ، له دوی نه لږ لرې یو تکړه پهلوان شامي چې له جامو اوچړنې څخه دکوم قام سردار ښکاریده دشرابو په څښلو بوخت و اویو حبشي یې په ادب خوړندسر په مخکې ولاړ و. شامي توره اوخنجر درلودل. اودشرابو له امله یې په څیره کې غوسه ورو ورو په وحشت بدلیده.

په دریم میز دوه تنه عیسویان چې دیروشیلم د زیارت لپاره راغلی وو په ډوډۍ خوړلو بوخت وو او دسرای له مالک سره چې یو د خندا نې څیرې خاوند و اوفرمس نومیده په روغبړ اوخبرو لګیا وو.

چې عاصم اوعباد خپل اوښان او اسونه پرونو تړل نو ناڅاپه

دفرمس ورپام شو. په بیړه ورغی او ورته ویې ویل:

که تاسو غواړئ دلته پاتې شی نو ددی اوښانو ټرلو ته اړتیا نشته. بهر بې پریږدئ چې وخري زه به یو نوکر ورته ودروم چې څاري

عاصم خواب ورکړ:

نه، پردې سامان باردی، موږ اوس بیرته روانیږو، زه غواړم دعربو سودا ګرو له یوه کاروان سره ملګری شم. هغه کاروان دغطفان اوکلب دقو مونو دئ او تر دیرو پړاوونو مولاره یوه ده. هغوی له موږ نه څلور ورځې وړاندې خوځیدلي وو ښایي ته پرې خبروې؟

فرمس خواب ورکړ:

هغوی پرون له دې خایه تیر شول اوپه یرو شیلم کې به یو دوه اونی خامخا تیروي.

عاصم وویل!

نه هغوی به له یوې ورخې زیات پاتې نشي.

په عربو کې دامن ورخې مخ پرپای ته رسیدودي. اوزما په خیر هغوی ته هم داضروري ده چې زرترزره خانونه کورونو ته ورسوي.زه غواړم تر ننن ماښامه خان یروشیلم ته ورسوم، تاسو اوس د ږدې بندوبست راته وکړئ.

که ستا نوکر چې تیرخل بې زما آس نال کړی. د وزګار وي را ویې غواړه، زه مې آس نال کوم داسې کار یګر په لاره کې بیا نشم موندلی.

- دابه اوس وشي. خودا راته ووایه چې سفر موڅنګه ؤ؟

عاصم څواب ورکړ:

په دمشق کې مې اسونه په ښه بیه ولاړل، خو دجګړې له امله هلته توري هم ګراني وې. ځکه مې یوازې څو توري. راونیولې ، په نورو پیسو مې وریښمین ټوکران واخیستل ، تمه مې ده چې ددې ټوکر په سودا ګري، به زیاتې پیسې وګټم.

که مې بیا نورو تورو ته اړتیا شوه له موته ځخه به یې په ارخانه بیه راوغواړو.

فرمس جدي شو ویې ویل:زه درته دعاکوم چې ته خپل وطن ته ورسیږې دا واورې چې جګړه موپای ته ورسیده اودنورو تورو رانیولو ته دې اړتیا نشي.

عاصم خواب ورکړ:

موږ په ریښتیا چې له جګړې ځخه ستومانه شوي یو اوددواړو قومونو زیاتره کسان دامن او سولې لیوال دي. خوزما کورنی له هغو دلو ځخه نه ده،ماته تردې بل بدخبر نشته چې که واورم چې داوس اوخزرج دښمني دتل لپاره پای ته ورسیده اوزه دخپل پلار او ورونو بدل نشم اخیستلی. زه مې تره ددې لپاره دتورو په اخیستلو پسې واستولم چې زموږ دقوم شتمنو خلکو چې توري. یې درلودې له جګړې ځخه مخ واړاوه،اوبې وزلې یې چې ځه غیرت پکې پاتې ؤ بیا دیهودي سوداګرو ځخه په لوړه بیه تورې نشواى اخیستلای.

خواوس زما باوردی چې کله په دې تورو وسله وال خوانان میدان ته راووزي بیا به دقوم نور کسان په کورونو کې پاتې نشي.

فرمس دخبرو دموضوع بد لولو اړتیا احساس کړه ویې ویل:

تادې خپل غوره آس بیرته درسره راوستلی دی، که دې اوس هم اراده بدله کړاى شي نوزه یې پیرلوته تیاریم.

عاصم خواب ورکړ:

که مې یې دپلورلو نیت واى پخوا به مې درته انکار نه ؤ کړی.

ستا په خبر په دمشق کې هم ډېرو کسانو ښه ښه پرې راګوله، خو دا زما ډېر ښه دوست دی.

فرمس ووېل:

ډېره ښه ده که دا آس دومره ډېر درته ګران دی زه هم ټينګار نه کوم، راځه زه د ډوډۍ بندوبست درته کوم.

****

عاصم له فرمس سره روان شو، څو ګامه يې چې واخيستل خپل ملګري ته يې مخ راواړاوه او ويې ويل:

عباده! راځه.

عباد له خپل خوان ياداره ...ره ښه بلدو، خو د نورو خلکو په مخکې هغه ديوه غلام له حدودو څخه تېرېدل نه خوښو ل، ځکه يې ځواب ورکړ!

نه يا داره زما ډوډۍ همدلته راواستوه.

فرمس وپوښتل:

دا غلام دې له کومه کړی دی!

عاصم ځواب ورکړ:

دا چې داوو-اتوکلو ماشوم و، زما پلار په يمن کې لـه يوه يهودي څخه رانيولی و، هغه مهال زه لا زېږېدلی نه وم.

فرمس يوه نوکر ته دآس نالولو اوېل ته د ډوډۍ تيارولو امر وکړ او بيا له عاصم سره تر څېرې لاندې کيناست.

عاصم ووېل:

ستا به يادوي زه يو ...ل پخوا هم دلته راغلی وم؟

- څه وخت؟

يو څلور کاله پخوا زه له خپل پلار سره دلته درې ورځې پاتې شوم،

بیا له یوې قافلې سره دمشق ته روان شوو، هلته له شپږو میاشتو وروسته چې بېرته راستانه شوو هم دلته مو یوه شپه تېره کړه.

قرمس وویل: زما نه یادېږي. خو تېر خل چې دلته راغلې او په سرباڼې ژېړه دې خبرې کولې وپوهیدم چې پخوا هم دلته راغلی یې.

عاصم وویل:

زه د نورو ژبو په زده کړه کې ډېر تکړه یم. په دمشق کې چې شپږمیاشتې پاتې شوو له رومیانو سره مو ډېره راشه درشه وه زه دهغوی په ژبه هم یوڅه بلدشوم.

له بل میز څخه دجوار کړو یهودیانو نه یوتن راپاڅید او عاصم ته یې وویل:

خواته له موږ سره دې بخت نه ازمویې؟

- نه زه چې له کوره راروانیدم دا ژمنه مې کړې چې ترڅو خپل مقصد پوره نه کړم نه به قمار وهم او نه به شراب وڅښم.

- نوبیا ته عرب نه یې!

عاصم ځواب ورکړ:

که ته تېنګار کوې نوزه له شراب څښلو او قمار وهلو پرته هم تا ته خان عرب ثابتولی شم.

یهودي له عاصم سره دنښتې ارتیا نه احساسوله. او بیله دې چې نور څه ووایې دخپلو ملګرو خواته نژدې شو.

ناڅا په شامي رئیس چې دشرابو صراحي یې تشه کړې وه له ځایه جګ شو. دیهودیانو میز ته ورغی او ویې ویل:

زه ستاسو سره دخپل قسمت از مویلو ته چمتو یم.

یهود یان پریشانه شول او دغه دېوته ورته انسان ته یې وکتل، بالاخره په دوی کې یوه لږ جرئت وکړ ویې ویل:

نه بناغلیه! موږ غریب یهودیان دیوه عزتمن شامي سره دجواري

جرئت نشوکولی.

شامي هغه تر مړه ونيو او له کرسۍ څخه يې لاندې راوغورځاوه او په درانه غږ يې وويل:

که تاسو يهوديان وی نو دلته له موږ سره مو ديوځای کيناستو جرئت ولي کاوه ؟

بل يهودي وويل:

ښاغليه! داخوسرای دی او تاسو له موږ سره زياتی مه کوی.

شامي هغه پرمخ په څپيړه وواهه او ويې ويل:

زه به ستانه څرمن و باسم ، يهودی له څپيړې سره دخپل ملګرې په څير پرخمکه راوغورځيد، پاتې دوه نور په منډه شاته وتښتيدل. او دشرابو د نشې په حالت کې يې کنځلې اوبدرد ورته ويل:

عاصم په خپ غږ له فرمس نه پوښتنه وکړه:

داڅوک دی؟

- داديوې شامي قبيلې رئيس دی او له بد مرغه مې پخپل سرای کې ځای ورکړ، ده له سهار راسې دوې صراحي تشې کړې دي.

هغو مسافرو چې هلته دونو تر سيوري لاندې ناست دي څوځله دده کنځلې اوسپيکې سپورې اوريدلې دي ، که دی ديوه ګاونډی خونړي قوم رئيس نه وای نو هغوې به يې غوښې شکولې وای.

مامې خپل يوسړی يروشيلم ته استولی دی، هلته مې يو رومي افسر دوست دی ، که هغه کوم سپاهي ورته راواستاوه نودده تو له نيشه به وتښتوي. شامي رئيس لويدلي يهوديان څو لغتې ووهل او بيرته راغی تشه صراحي يې اوچته کړه او په پياله کې يې راواړوله ويې ليده بيا يې فرمس ته راوکتل اوچيغې يې کړې:

څه ته ګورې! صراحي تشه شوې ده.

فرمس په ويريدونکي غږ وويل:

بیا غلیمه ډیر دې وخښل!
شامي په درانه غږ وویل:
څه ګډې وډې وایې!
- جنابه!... ماویل چې شراب نور نشته.
- ته دروغ وایې، زه دې سرای اوکور تالاشي کوم، شامي بیا دبرنډې په لور وړاندې شو، دفرمس څلور نوکران په منډه ورغلل او غوښتل یې چې مخه یې ونیسي، خوده ناڅاپه توره راوکښله اوهغوی له ویرې یوه خنګ ته شول.
فرمس لږ جرئت وکړ ور وړاندې شو اوویې ویل:
ګوره صیبه! ته ډیر تیری کوې زه دې دننه نه پرېږدم چې ولاړشي.
شامي ناڅاپه خپله توره نیغه کړه اوفرمس په وار خطا یې شاته ولاړ اودبرنډې له ستنې سره ولګید.
شامي په کړس کړس خندل او دتورې څوکه یې دفرمس پر تټر لګیدلې وه.
دفرمس نوکرانوله بې وسې څخه چیغې وهلې، شامي اودهغه حبشي غلام چې توره یې ایستلې وه او دخپل بادار مرستې ته را رسیدلی و، هغوی ویرول اوځو ګامه لرې یې دایساړولو هڅه کوله.
فرمس چیغې وهلې:
دخدای لپاره پرما رحم وکړه! زه یو مساپرمصری یم.له تاسره خومې څه ګستاخي نه ده کړې.
یوازې دومره مې غوښتل ووایم چې دنښې په حالت کې تاته سفر کول ښه نه دي، خوکه تاسو امروکړئ دشرابو ډک منګی به درته راوړم.
شامي دتورې څوکه دهغه پرغاړه کیښوده ویې ویل:
ذلیل انسانه خوله دې چوپه کړه....

فرمس دشامي سردار تر څېرو زيات دهغه دنوري دځوکي له زوره چوپ شو. شامي په کله لاس شانه کړ کله به يې توره دهغه سينې، خېټې او غاړې ته ور نږدې کړه. ننداره چيانو چې لوبړې فکر کاوه چې د فرمس وروستي وخت راغلی دی اوس پردې ويوهيدل چې دغه ويروونکی اوديو ته ورته انسان اصلاً توکي اوملنډې کوي ناڅاپه په برنده کې يوه تنکۍ پېغله رابښکاره شوه اوچيغې يې وهلې وراندې راغلله غوښتل يې چې دشامي لاس ونيسي. خو دغه ديو زړ خپل لاس وخنډلو اونجلی يوې څواته وغورځيده.

فرمس چيغه وکړه:

انطونيې! دخدای لپاره له دې ځايه تېښته!

نجلی غوښتل چې په بېړه وتښتي. خو شامي ناڅاپه په کيڼ لاس هغه ترويښتانو راونيوه.

يوه ښځه چې له څېرې نه ددې نجلی مورښکاريده له په چيغو راغله اوشاوخوا ته ولاړ خلک يې مرستې ته راوبلل. شامي بيا توره دفرمس پر ورميږ کېښوده او چيغې يې کړې!

که دې ښځې خپله خوله بنده نه کړه نوستا ورميږ به والوزوم

ښځه چوپه شوه. ناڅاپه عاصم ته نور دا لوبه له زغم ووته. توره يې راوايستله اوشامي ته ورنږدې شو ويې ويل:

ماتر اوسه پورې ستا په شان ذليل سړی نه و ليدلی.

شامي مخ ور واړاوه عاصم ته يې وکتل او ويې ويل:

که دی بې همته نه وای نويه لوبړې کوزار به مې يې ورميږ وهلی و.

عاصم وويل: بې همته دی نه دی ته يې

دشامي پخپلو غوږونو باور رانغی . ويې ويل:

ته ماته بې غيرته وايې ، خبر يې زه څوک يم؟

هوکې پیژنم دې ، ته یو وحشي یې چې په یوه تش لاس سړي اوبې وسه نجلۍ له لاس پورته کولو نه شرمیږې.

شامي په غوسه شو نجلۍ یې بوې خواته تیل وهله او پرلیسي یې پرعاصم خو گوزارونه وکړل. عاصم دهغه گوزارونه پرخپله توره واخیستل اوخو کامه شاته ولاړ. خو چې کله یې خوابې حمله وکړه نوشامي جوش اومستي په پریشانۍ اوخپکان بدلیده.

ننداره چیان چې ترڅه وخته وړاندې حیران ولاړ وو اوس یې دآفرین چیغې وهلې ، د شامي غلام چې خپل بادار دشاته تلو په حالت کې ولیده هڅه یې وکړه چې له شانه پرعاصم گوزار وکړي . خوعبادپه منده ورغی او هغه یې په ورمیږ په سوك ووهه اوپرځمکه یې راوغورځاوه. بیا یې توره ترې واخیسته اویوه پښه یې دهغه پر ورمیږ کیښوده ویې ویل:

ستاخیر په دې کې دی چې همدلته آرام پروت وي.

لږ خندورسته چې شامي دیوه ستړي آس په څیر سیلیده. شپږ تنه سپاره په تراټ سرای ته ورننوتل اوله څه ځنډپرته له آسو نو پلي شول، فرمس په منده ورغی او له هغوی څخه یې یوه بارعبه سړي ته چې دروميې پوځ لوی افسر ښکاریدو وویل:

تاسو لږ ناوخته راورسیدئ.زه خبر نه وم چې ستاسو له راتلو نه مخکې به زما مرستې ته یوه پردېسی رارسیږي که نه تاسو ته به مې زحمت نه و، درکړی.

که دغه شریف عرب دلته نه وای راغلی نواوس به تاسو زما مړی لیدلی و.

رومي افسر چې انکړ ته له راننوتلو سره یې سترگې پر عاصم اودده پر حریف ښځې شوې وې له څه خواب ورکولو پرته وړاندې ولاړ. خو چې دجگړې رنگ یې ولید سمدستې یې دڅه مداخلې ارتیا نه لیده

او دده په اشاره دده نور ملګري هم د ننندارچیانو تر څنګ ودریدل.

عاصم پرشامي له پرلپسي حملوهغه په شا تلو ار کړ او بیا یې له همغه ستني سره ولګاوه چې لږ څنډ وراندې فرمس هلته دشامي د تورې په دم کې دکومې معجزې په انتظار ولاړ و. عاصم دهغه دبدن پرځای دهغه جامې خپل هدف وګرځولې.

څکه خودشامي ګرانبیه چپنه څو ځایه وشلیده، د سترپا اوشرابو دنېشې له امله نور دشامي همت خواب ورکړی و.

عاصم دتورې په څوکه دهغه پګړه یوې خواته وغورځوله اوویې ویل:

دشرابو نېشه له کیدراتو څخه زمرې نشې جوړولی که غواړې خپل ژوند وژغورې نو توره دې وغورځوه! دعاصم دغه خبرې دده حریف ته دقمچینې کار وکړ. اوخپل پاتې څواک یې راټول کړ او دیوه ټپي حیوان په څیر یې پرده حمله وکړه. خودادده دراندې جوش ورروستی ننداره وه، عاصم یې چې څو کامه شاته کړ دشامي سترګې تورې شوې او څوځلې هسې په هوا کې دتورې. له وهلو وروسته پرمخې پرځمکه راولوید.

رومي افسر ورورواندی شو، عاصم یې ترمخ ونیو اوویې ویل: خوانه! تادیوه شریف سړی مرسته وکړه ، زه درنه منته کوم بوازې پردې افسوس کوم چې لږ ناوخته شوم اوپوره تماشا مې ونه لیدای شوای تایو مست فیل راقابو کړی دی.

فرمس چې عاصم لږ اندیښمن ولید دررومي منصبدار دخبرو ترجماني یې وکړه، هغه په سریاني خواب ورکړ:

دی شرابو بد مست کړی و چې په راقابو کولو یې زه خوشاله نه یم.

فرمس وویل: ته دی نه پیژنې. خوزه یې ښه پیژنم، په توره وهلو

کې په ټولو قبیلو کې وتلی دی.

عاصم خواب ورکړ:

نو بیا خو پردې افسوس کوم چې نن دې په هوښ کې نه و.

رومي افسر په سریاني ژبه وویل:

ته زړور هم یې او شریف هم، که دې خوښه وي زموږ په پوځ کې دعزت مقام تر لاسه کولی شې.

- ډېره مننه، خو زه مې کورته خم او هلته ماته زیاته اړتیا ده.
- کور دې چېرته دی؟
- زه له عربو راغلی یم، کور مې په یثرب کې دی.

رومي وویل:

زما نوم بطیوس دی، که له یروشیلم څخه تیرېدې او زما کره پاتې شې نو ډېر به خوښ شم.

- ډېره مننه، خو زه هلته ایساریدای نشم، غواړم بیله ځنډه خپل کورته ځان ورسوم.

رومي وویل:

فرمس زما آشنا دی، تاپې ژوند وژغوره، او س زه ستا څه خدمت کولی شم؟

دقبرص له دوو مساپرو څخه یوه رومي افسرته وویل:

ښاغلیه! ده زموږ ټولو ژوندوژغوره. موږ له قبرص څخه راغلي یو، دامو په خیال کې هم نه تیریده چې رومي حکومت به دغسې وحشي انسانانو ته آزادي ورکړي وي، موږ داسې ګڼله لکه یوځناور چې له خپلې پنجرې څخه راوتلی وي.

یوه یهودي فریاد وکړ!

ښاغلیه! دی پریوې نجلۍ له لاس پورته کولو هم ونه شرمیده زه وویریدم چې دشرابو په نیشه کې موږ ټول مړه نه کړي.

تولو مسافرو په وار وار دشامي پرخلاف خپله غوسه اواندیښنه څرګندو له خوعباد چې دشامي له رالویدو سره دهغه توره اخیستې وه او خلك یې ولیدل چې شرابي شامي ته یې پام اوښتی دی دتورې پوښ اوخنجر یې هم راواخیستل.

حبشي غلام سره له دې چې ډېر ویریدلی ؤ تر ډیره یې دخپل بادار دبې وسۍ ننداره ونه زغمله چې عباد دهغه تر چپنه لاندې لاس ننه یوست اودسکو ډکه کڅوړه یې راوایستله نودی ور وړاندې شو، دهغه لاس یې ونیو ، خو عباد په یوه جټکه خپل لاس ترې خوشی کړ او جګ شو حبشي ته یې ډیکه ورکړه اوڅو ګامه یې تیل واهه،تر دې وروسته حبشي د را وړاندې کیدو جرئت ونه کړ خو غوغا یې ګډه کړه او دخلکو پام یې ور واړاوه.

رومي افسر په غوسه وپوښتل:

داڅوك دی؟

فرمس خواب ورکړ:

عالي جنابه داددغه وحشي غلام دی.

حبشي عباد ته اشاره وکړه او رومي افسر ته یې شکایت وکړ:

ښاغلیه ده زما دبا دار توره اوخنجر اخیستي دي.

ده زما دبا دار همیانۍ هم واخیسته. زما توره یې هم اخیستې ، ښاغلیه که مې با دار را په خود شو خرمن به رانه وباسي، دهغه توره ډیره قیمتي ده صیبه!

رومي په خواب کې ورته وویل:

ستا با دار به دیروشیلم په بندیخانه کې په هوښ راځي.

اومرو به پخوا تر دې چې دی راخوشي کړو پردې به خانونه ډاډه کړو چې ته دهغه له سزا څخه خوندي یې.

اوس که دهغه آس دلته وي نودی پرې واچوه اوراسره روان شه!

مسوولیت نشي اخیستی ، زه یوازې پردې خپه یم چې زما له راتلومخکې دا وحشي ولې ونه وژل شو.

خو تاسو بې غمه اوسئ دی به بیا دې سرای ته رانشي.

دشامي غلام وویل:

جنابه! ماته مودا حکم وکړچې خپل بادار پرآس واچوم اوستاسو سره روان شم.

رومي ځواب ورکړ:

ستا بادار دې ته اړتیا لري چې پرسر یې یخې اوبه ورچپه کړي ،چې راپه خود شي بیا دیروشیلم تر جیل پوری پلی مزل ورته گران نه دی.

یوه یهودي چیغه کړه:

صیب! هغه دادی ورو ورو راپه خود کیږي.

ټولو ناڅاپه هغه ته سترگې ورواړولې ، هغه پرلټ واوښت اوبیا راجگ شوسرېې پردواړو لاسو نوکې ټینگ ونیواو کیناست، دفرمس یوه نوکرد اوبو کوزه راوړه اودده پرسر یې ورتشه کړه ، شامي څه مزاحمت ونه کړ ،دفرمس نورو نوکرانو هم یوپربل پسې داوبو کوزې پرهغه ورواړولې اوخلکو په په کړس کړس ورته خندل.

فرمس رومي افسر ته وویل:

ښاغلیه ! مهرباني وکړئ، زه به ډیر غوره شراب درته راوړم.

رومي افسر دیوه میز تر څنگ کیناست.

فرمس عاصم ته پام واړاوه او ویې ویل:

تاسو هم مهرباني وکړیه، زه تاسو ته ډوډۍ راوغواړم.

عاصم رومي ته نژدې کیناست.او ویې ویل:

زه ستاڅخه مننه کوم، دغه دوې تورې ماته ډیر لوی انعام دی.

- ماخوپله توره نه ده لیدلې!

- هغه زما غلام چیرته پټه کړې ده.

- مالومږی خل یو عرب په جګړه کې ولید، تاسو به خامخابنه پوځ لرئ؟

- نه جنابه! عرب پوځ نه لري.

- عرب چې پوځ نه لري نوحکومت څنګه چلوي؟

- هلته حکومت هم نشته.

- هلته چې پوځ هم نشته، حکومت هم نشنه ، نو ټولواکي څرنګه چلیږي؟

- صیب! عرب دکومې امپراتورۍ اوټولواکۍ نوم نه دی.

- ستا مطلب دادی چې تاسو پاچا نه لرئ؟

- نه! نه یې لرو.

رومي هك پك شو ویې پوښتل:

نوهلته څه کیږي؟

- هلته یوازې قومونه اوکورنۍ دي.

- دامپراتورۍ، حکومت اوپوځ نه پرته قومونه اوکورنۍ څرنګه اوسي، مطلب مې دادی چې ددوی ترمنځ امن څه ډول ټینګ دی؟

- ښاغلیه! زموږ غوږونه دامن له نامه سره آشنا نه دي، تقدیرموږ یوازې دوژلو اووژل کیدو لپاره پیدا کړي یو،له عربو څخه بهر موږ یوه امپراتوري له بلې سره په جګړه لیدلې ده.خوهلته یوازې دقومونو ترمنځ جګړې وي.

دعجمو دپاچا هانو جګړې دیوه پریري اودبل پر ماته پای ته رسیدای شي خوزموږ جګړې هیڅکله هم پای ته نه رسیږي.

- دقومونو جګړې یوازې مزبوت حکومت پای ته رسولی شي.

- خوموږ دداسې کوم حکومت تصور نشو کولای چې موږ دوژنو اولوټ اوتالان څخه ایسار کړي.

ـــ ته خوماته کوم قاتل اویا ډاکو نه ښکارې.

عاصم خواب ورکړ.

که زما دکورنۍ کوم قاتل دلته وای نوزما خیره به دې بیا بل ډول لیدلې وه.

یو بوډا یهودی زړه نازړه وړاندې ورغی او په ادب یې له سلام کولو وروسته پوښتنه وکړه:

صیبه! دجګړې له محاذه کوم تازه خبر راغلی دی؟

پطیوس یهودي ته له غوسې نه په ډک نظر وکتل او ویې ویل:

ته څنګه خبر غواړې چې وایې ورې؟

یهودي وراخطا شو ویې ویل:

ښاغلیه! زه غواړم یوازې ستاسو دبري زیری واورم اوزموږ باور دی چې دارمینیا څمکه به دایرانیانو هدیره شي.

پطیوس وویل:

زه ستاڅخه مننه کوم خوتازه خبردادی چې ایرانیان کومو سیمو ته ننوزي یهودیان ورسره ملګري کیږي.

موږ دخپل راتلونکي په اړه اندیښنه نه لرو، پرخپل ځ‌ا‌‌ن مو باور دی. خو تاسو دایران اوروم دجګړې سره دمیني پرځای پردې فکر وکړئ چې له بهر نیو دښمنانو سره دمقابلې نه وروسته چې کوم وخت خپلو کورنیو دښمنانو ته پام واړوو نوستاسو پای به څنګه وي؟

ـ صیبه! که دارمینیا یهودیان بې لارې شوي وي نودخپلو کړو وړو سزا به وګالي ، خو ستاسو په خیر زړه سواندی حاکم باید زموږ پروفا داري شکمن نشي ،دشام دټولو یهودیانو دعا ګانې له تاسو سره دي

یهودی بیرته په ادب له سلام وروسته شاته ولاړ.

* * * *

لږخنډ وروسته عاصم د ډوډۍ پرخوړلو او رومي افسر پطیوس پرشرابو بوخت شو، فرمس هغوی ته نژدې ناست و. پطیوس دشرابو دیوه جام له تشولو وروسته له میز نه صراحي بیا راپورته کړه، بل جام یې ډکاوه اوعاصم ته یې وویل: دا ډیر ښه شراب دي، که دې څو غوړې په ښبلي وای ستو مانې به دې لرې شوې وه.

عاصم ځواب ورکړ:

چې له کوره راوتم دخپل پلار او اووروڼوپرقبرونو ودریدم او سوګند مې وخوړچې ترڅوددوی له وژونکیو نه بدل وانخلم شرابو ته به لاس ورنه وړم، اوغواړم پردې تعهد پابند پاتې شم ،چې خپل فرض ادا کړم بیابه دښو اوبدو شرابو تو پیرنه کوم.

له عاصم اوفرمس سره تر لږ روغبړ وروسته پطیوس له دوی نه اجازه واخیسته اوپرآس سپورشو، او درې تنه سپاهیان چې ده امر ورته وکړ چې شامي رئیس جیل ته ورسوي په سرای کې پاتې شول او نور ورسره روان شول، دغه درې سپاهیان دپطیوس له وتلو سره سم پر شرابو ورپریوتل. اود ستر ګو په رپ کې یې صراحي تشه کړه، فرمس یوه بله صراحي ورته راوغوښته اوپه مخکې یې کیښوده ویې ویل:

دادرسره یو سی.ستا سو دملګریو برخه هم پکې ده.

لږ خنډ وروسته هغوی بندي ورسره روان کړ او ولاړل، خو عاصم دخپل آس دنال کیدو لپاره پاتې شو، بیا چې ده له فرمس څخه رخصت وغوښتو هغه ورته وویل: ګوره! دومره بیړه مه کوه، اوس مانبام کیدونکی دی.

شپه همدلته تیره کړی، سهار وختي به مورخصت کړم. که تاسو زما لپاره نشئ پاتې کیدای نو لږ تر لږه خوزما میرمنې اولورته دمننې موقع ورکړی، عاصم دفرمس دغه له خلوصه ډکه بلنه رد

نکړای شوه.

دلمر لویدوپروخت له یرو شلیم څخه دغزه لورته روان یو کاروان راورسید اوفرمس عاصم د سرای دخونو په پاسني پوړ کې په یوه کوټه کې کیناوه اودهغه په خدمت بوخت شو، دغه پراخه کوټه چې یوازې درئیسانو اوحاکمانو دهستو ګې لپاره غوره شوی وه، دعجمو په داسی څیزونو سینګار وه چې عرب لا ور سره نا آشنا وو.

عاصم تر لږخنده پربنکلې غالی له قدم وهلو وروسته پریوه کرسی کیناست، لږ ځند وروسته عبادساه نیولی کوټې ته ورننوت اوویې ویل:

که اجازه راکوئ هغه دوه آسونه همدا اوس پلورل کیدای شي، یو سو دا ګردې ته چمتو دی چې دهغو په بدل کې دوې تورې اودوربینمو څو څادرونه راکړي ،زه خودهغو آسونو بیول خطرناك بولم،که په یروشلیم کې دهغه شامي کوم قومي هغه وپیژندل نو موږ به په جنجال کې کیوزو، دسرای دمالك هم همدغه نظردی چې که دغه آسونه همدلته وپلورل شي ښه به وي.

عاصم وویل:

نن تقدیر پرموږ ډیر مهربانه دی ما همدا اوس دهغو آسونو په باب فکر کاوه ، ورشه اوبیله ځنډه یې وپلوره، خو زه ستا پریوه خبره ډیر خپه یم ، ته پوهیږې که هغه رومي افسر دسرای دمالك دوست نه وای نوته به یې دغلا په تور بندي کړی وې،دیوه خطر ناك سړي دتورې په اخیستلو ښایي هغه رومي هم دومره بده نه وای منلې خوتا دهغه د جیب په لوټلو هیڅ شرم نه کاوه؟

عباد خواب ورکړ:

صیب! زه احمق نه یم، ما چې ولیدل چې رومي افسر له هغه احمق سره هیڅ خواخوږي نه لري تا چې دهغه پرګرانبیه چپنه دتورې تمرین

کاوه نو هغوی په کړس کړس ورپورې خندل، بیا پردې هم زه پوهیدم چې دسرای دننه چې څو مره کسان دي دا ټول زموږ ملا تړ کوي که رومي افسرزما په کړو وړو راوپاريد یوازې غنيمت شوی مال به بيرته ورکوم، خو زما اټکلونه ټول سم وو.

اوافسوس کوم چې تا شاباسی رانکړې، دا پوښتنه دې هم رانه ونکړه چې دهمیانی دننه څه شی دي؟

- ښه راته ووایه؟

- صیب! په کڅوړه کې ديرش دسرو اودوه پنځوس دسپينو زروسکې وې،اويو بل شی هم لاسته راغی چې تر اوسه څوك پرې خبر نه دي.

- هغه څه شی دي؟

- هغه يوه ګوتيې ده چې په را ايستلوكې مې داسې هوښياري اوچالاکي وکړه چې دده غلام هم راباندې پوه نه شو، عاصم وويل ښه ده ته اوس ولاړ شه اسونه وپلوره.

- ته نه راځې؟

- نه،زه ډاډه يم چې په دې کار کې ته تر ماډير هوښيار يې، اوګوره واوره! همیانی اوګوتيې ستاده په هغو کې زما هيڅ کار نشته، اوس ورخه.

عباد په موسكا روان شو، خو چې دروازې ته ورسيد ودريد اومخ يې راواړاوه ويې ويل:

دغه ګوټه خود سرای پرځای دکومې مانۍ کوټه ښکاري ته خويې غالي ته وګوره!

عاصم په غوسه شو هغه ته يې وکتل او ويې ويل:

عباده که دې ددې خونې څه شي ته لاس ور ووړ نوزه به دې سترګې درباندې وباسم.

عباد له کوټې څخه راووت اوعاصم له کرسۍ څخه جګ شو اوپر بستره ورپرېووت، یو ساعت وروسته چې فرمس کوټې ته ورننوت نوعاصم په درانه خوب ویده و، فرمس تر منځ ونیو او راویښ یې کړ،هغه راجګ شو او کیناست،

فرمس وویل:

افسوس کوم چې زرمې دوړی درته تیاره نه کړای شوه خیره اصلاً داسې وه چې ستاسو د دوړی په تیارولو کې لږ ناوخته شوه، زما میرمن او لور پردې خپه وې چې تاسو سهار وختي روانیږی،خکه یې غوښتل چې خپل دخوښې خوراکونه ټول درته پاخه کړي راځه! هغوی په کور کې ستاسو انتظار کوي.

عاصم پوښتنه وکړه:

هغه آسونه وپلورل شول؟

– هوکې ، دهغو په بدل کې لږ شی وو خوښه شول ستاسو یو جنجال لرې شو ، ستا غلام ډیر هوښیار دی، هغه ډیر ستومانه ؤ خکه مې دوړی وختي ورکړه.

• • • •

عاصم له خپل کوربه سره تر سرای ګرد را تا و شو او شاته یوه وړوکې دهستوګنې کورته ننوتل، دلوړو دیوالونو په منځ کې وړوکې انګړ کې دفرمس میرمن او لور ولاړې وې او مخامخ دیوې کوټې له خلاصې دروازې څخه رڼا راتله.

انطونیې دخپل پلار له لاسه مشال واخیست او دیوال ته یې تکیه ودراوه دوی کوټې ته ننوتل او پردستر خوان کیناستل.

انطونیې اوصور یې دسلمه دخدمت لپاره دشام، فلسطین، مصر اوروم ټول تکلفات کار ولي وو، اوعاصم چې په خپل ژوند کې

لومړی خل لـه داسې نـيـك خويـه اوبا ادبه خلکو سره دناستې موقع مونـدلې وه دخپلې کمۍ تر احساس لاندې و. انطو نيه چې لومړی خل ده د ډېرې بې وسۍ په حالت کې ليدلې وه اوس په ګرانبيه اوښکليو جامو کې يوه شهزادګۍ ښکاريده.

د ډوډۍ پروخت د روم اوايران جګړې ددوی دخبرو موضوع وه. فرمس په آرمينيا کې دايرانيانو دظلمونو کيسې وکړې بيا يې دانطاکيې دبربادۍ داستان بيان کړ ورروسته يې وويل:

اوس معلومه نه ده چې دغه توپان به چيرته تم شي. موږ له پيړيو راسې دختيځ اولويديځ له ورانوونکيو توپانونو سره لاس او ګريوان يو.

په مصر اوشام کې ديوه ظالم بيرغ رانسکور شوی اوبرخای يې دبل ظالم اوستمګر بيرغ رپيږي.

نن موږ درومیانو غلامان يو، سبا ته ښايي دايرانيانو دغلامۍ کړۍ په غاړو کې واچوو.

خوانه ! ته ډير نيکمرغه يې ته په داسې سارا کې ژوند کوې چې روميان اويا ايرانيان هيڅ ميل نه لري چې هغه لوري ته ورشي. ستاسو برخلیك په خپلو لاسونو کې دی، په عربو کې حاصلخيزې درې اولوی ښارونه نشته، خوله دې څخه خودخطر احساس نه کوي چې له لويديځ اويا ختيځه به کوم مصيبت را پورته شي اوستاسو ښارونه او کلي به ونغاړي.

عاصم خواب ورکړ:

زموږ دتباهۍ لپاره کوم بهرني آفت ته اړتيا نشته زموږ دکلبودمنوخولو لپاره زموږ دخپلوکورونو اوربس دی، تاسو ته لکه چې معلومه نه ده چې کله دعربو وينې تودې شي نويو بل ته تر لیوانو زيات خيرونکې اووينې خوړونکې شي.

فرمس وویل:

زه ستاسو په کورنیو جګړو خبریم، خو داسې وایم چې تاسو زموږ په خیر بې وسه او مجبور نه یاست، تاسو ددې خبرې اختیار لرئ چې کله وغواړئ توري مو په پوښونو کې کړئ، او چې کله وغواړئ بیوله بل سره تر غاړې وزئ، زما مطلب دادی چې زموږ په څیر ستاسو وطن دبهر نیو ښامارانو دجګړې ډګرنه دی او تاسو دا خطرنه احساسوی چې هغوی به مو غویل کړي او پرې به مو ږدي.

عاصم ځواب ورکړ:

نه، موږ تر تاسو زیات بې وسه او مجبور یو، بو عرب له تبکې ځخه توره را ایستلی شي، خو دایې په وس کې نه ده چې هغه بیرته په پوښ کې کیږدي.

په کومه ځمکه چې زموږ وینې تویږي هغه تل ترې پاتي وي، چې دهغو دتندې دماړولو لپاره موږ مجبوریو چې نورې وینې تویې کړو او دامو دژوند هدف وګرځي زموږ تر ټولو ستره هیله داشي چې دخپلو مشرانو بدل واخیستلی شو.

او زموږ دراتلونکیو نسلونو داهیله وي چې هغوی زموږ دقاتلانو ځخه کسات واخستلای شي، که دروم او ایران سپاهیان دخپلو امپراتورانو لپاره جګړه کوي نو موږ دخپل خپل قوم دزور ښودلو لپاره یو دبل وینې تویوو.

فرمس وویل: ستاله خبرو نه داسې ښکاري چې ته دخپل وطن له دې وضعې ځخه خوښ نه یې، که دعربو په قومونو کې ستا په شان خو خوانان نور پیدا شي نو هلته یو په زړه پورې انقلاب راتلای شي.

عاصم وویل:

زه یوازې له خپل کور ځخه په میلونو لرې داخبرې کولی شم، امکان لري په زړه او مغزومې ددې ځای د اوبو او هوا اغیزه وي.

دعربو په هوا کې له ساه اخیستو وروسته دخپلې قبیلې دعزت لپاره جنګیدل یادخپلو خپلوانو بدل اخیستل ماته دژوند تر ټولو ستره خبره ښي. دخپل پلار او ورونو ارواوې به مې یوه شیبه هم آرام نه پرېږدي.

فرمس په غمجنه لهجه وویل:

خوزما پردې باور نه راځي چې تاغوندې نرم ،زړسواندی سړی به چې دیوه بې وسه مصري لپاره یې خپل ژوند په خطر کې وغورځاوه پوازې دبدل لپاره دچاوژلو اولوټ تالان ته چمتو شي.

عاصم خواب ورکړ.

زه بیله کوم سببه دومره لرې دتورو دپیرلو لپاره نه یم راغلی.دفرمس میرمنې چې تر اوسه پورې په چوپه خوله ددوی خبرې اوریدلې خپل میړه ته یې وویل:

ته له ده سره بحث ولې کوې امکان لري دوی ته ددښمن له لاسه تاوان رسیدلی وي چې له جګرې پرته یې جبران نشې کیدای، ده له موږ سره نیکي کړې ده اوموږ اوس باید پردې فکر وکړو چې ددې نیکۍ بدله څه ډول ورکولی شو؟

عاصم وویل:

زه ستاسو له نیکو دعاګانو پرته نورڅه انعام نه غواړم ، فرمس وویل:

که موږ دسرو اوپاسپینو زرو ځوسکې تاسو ته وړاندې کړو نودا به زموږ داحسلساتو اومننې دجذبې سپکاوی وي، خوته تورو ته اړتیا لرې اوزما میرمنې په سرای کې له مساپرونه ستالپاره دوې تورې رانیولی دي.

زما هیله ده چې ته دغه ډالۍ په خوښۍ ومنې.

دفرمس میرمنې وویل:

انطونیې ستا غلام لیدلی ؤ چې دشامي رئیس اودهغه د غلام توري يې ترې اخیستي وې، دې همغه مهال راسې ټینګارکاوه چې دوې تورې تاته درکړي.

عاصم وویل:

زه ستاسو مننه کوم، رښتیا هم موږ تر تورو زیات څه شي ته اړتیا نه لرو.

لږ څنډ وروسته چې ډوډۍ وخوړل شوه انطونیې له بلې خونې دوې تورې راوړې اوعاصم ته يې وړاندې کړې ويې ویل:

یوه میړني سړي ته له تورې بل ښه سوغات نشته.

که زما ورور نن ژوندی وای نویوه توره به مې دهغه تر ملا ورتړلې وه او ورته ویل به مې چې دې شریف سړي زموږ عزت ساتلی ، خکه خو له نن وروسته دده دوستان زموږ دوستان اودښمنان يې زموږ دښمنان دي. اوکه ته زما ورور وې نوله ده سره ولاړشه.

انطونیی لومړی خل له ده سره خبرې پیل کړې عاصم تر لږ څنډه یو ډول تر اغیزې لاندې چوپ پاتې ؤ، بالاخره یې تورې ورسره واخیستې. اوویې ویل:

که ستاورور ژوندی وای ما به ورته ویلي وو چې تر ما ستا خور او مور اوپلار تاته ډیر اړتیالري، او کوم څوك چې دخپل پلار او ورونو کسات وانخستلای شي. هغه داحق نه لري چې کوم څوك په خپل مصیبت کې ورسره ښکیل کړي.

فرمس وویل:

تیره اونۍ دمکې کوم سودا ګر چې دلته ایسار شوی وو ویې ویل چې هلته یو نبي دنیکۍ ، لورینې اوعدل اوبرابرۍ ښوونې کړیدی خلکو دهغه په لار ښوونو ملنډې وهلې ، خو پردې يې اعتراف کاوه چې هغه پیغمبر دعربو ډیرې شریفې کورنۍ څخه دی

اوکومو کسانو چې ایمان پرې راوړی هغوی دمکې دخلکو له لاسه د زیاتو عذابونو پرګاللو برسیره پرخپله عقیده کلک پاتې دي.

ماله هغوی نه پوښتنه وکړه چې دپیغمبرۍ له دعوې پخوا دهغه ژوند څه ډول و ، هغوی وویل چې له نبوت څخه مخکې هغه په ریښتیا ویلو، حقانیت او دیانت کې مشهور و او چې دچا ورسره معامله شوې وه هغوی یې په ریښتینولۍ اوامانت کارۍ شاهدي ویله.

عاصم وویل:

ماد مکې دنبي په باب اوریدلي دي چې هغه زموږ دقومي اوکورنیو اختلافونو مخالف دي زموږ ټول خدایان دروغ ګڼي او دیوه خدای بنده ګۍ ته خلک رابولي.

ځیني خلک وایي چې هغه جادوګردی، خوکه هغه ریښتنی نبي وي هم دعربو خلک به داسې کوم دین ونه مني چې د برابرۍ لار ښوونه کوي اواعلی اوټیټ انسانان سره برابر اوپه یوه کتار کې ګڼي، ما اوریدلي دي چې دمکې په کوڅوکې پردې پیغمبر ملنډې وهل کیږي اودده دخپل قوم خلک چې عصبیت یې دده ملاتړ کیدای شوای دده په لاره کې ازغي شیندي.

که په یو شمیر بې وسو او غریبو اوځو تنو شتمنو دده کوډو اغیزه کړې ده دا کوم بری نه دی.

ماهیڅکله هم ددې پیغمبر په باب جدي فکر نه دی کړی.

تاسو هم په اوریدلیو خبرو باید تر اغیزې لاندې رانشئ، دعربو تږې دښتې خولوی لوی دریابونه جذبوي، نوبیا به دلته داسې کوم پیغمبر څه ډول بریالی شي چې دهغو قوم پالنو پر خلاف یې دجګړې اعلان پیل کړی وي چې موږ ته تر بې شمیروخدایانو هم سپیڅلي دي.

فرمس وویل:
پرنړۍ چې نن څومره تیارې خپرې دي پخوا هېڅکله نه وې، انساني ضمیر کوم ژغورونکي ته فریاد کوي، خدای خپل بندګان تل په داسې حال کې نشي پرېښودای، دهغه چا دراتګ په باب چې زموږ مشرانوزیری ورکړی دی خامخا به راځي اوځمکې اواسمان دمالك ټول رحمتونه به ورسره ملګري وي ، هغه دعاګانې چې نن دځنکندن په حال کې د بې وسه انسانانو له زړونو راپورته کېږي خامخا به قبولې شي، دهغه له حسن اوجمال څخه به په مایوسو ستر ګوکې دامیدونو ډیوې بلې شي او له جلال اودبدبې څخه به بې دقیصر او کسری پرمانیو لړزه ګډه شي.

بې وسه اومظلومان به دهغه تر سیوري لاندې پناه ومومي، دزخمي شویو اوستم ځپلیو انسانانو پرسر به دده لاس دخدای درحمت لاس وي ، خوکاشکې موږ ته دا معلومه وای چې هغه به څه وخت اوچیرته را اوچت شي؟

دفرمس دخبرو اترو په دوران کې عاصم داسې احساسوله لکه څنګه یې چې دانساني توان له وسعتونو څخه وړاندې دخلاپه پراخیو کې الوزي، هغه له لږ چورت وروسته وپوښتل:

ته دقیصر اوکسری دواړو مخالف یې؟

فرمس موسکی شو ځواب یې ورکړ:

پردې خبرو تر اوسه ستا سرنه خلاصیږي.

عاصم ته دده داموسکا له هغې څخه ډیره بدله ښکاریده چې دا دیوه سرای دمالك په حیث دهغه پرشوندو لیدله.

سهار وختې چې کله عاصم له خپل زړه سواندي کوربه څخه خدای پاماني اخیسته فرمس وویل:

زه دوې خبرې درته کوم ، یوه داچې کله دلته راغلې زما دکو

دروازه به دې پرمخ خلاصه وي دوهمه داچې ته که دلویدلي دښمن پرشاه رګ دتورې له ایښودو وروسته خپل لاس بیرته راټول کړې نولاړیات آرام اوسکون به احساس کړې.

عاصم خواب ورکړ:

ماته به دیوه دوست دکور دروازه تل راپه یاد وي ، خو دکوم دښمن پرشاه رګ له تورې ایښودو وروسته بیرته دلاس را ټولول دیوه عرب له وسه بهر دي.

فرمس وویل:

خوزما زړه ګواهي راکوي چې ته به پرکوم لویدلي دښمن ګوزار ونه کړای شې.

عاصم په یوه غمجنه موسکا فرمس ته وکتل او پر آس سپور شو، له سرای نه له وتلو وروسته دتیرو څو ځا ښتونو پیښې یو خوب ورته ښکاریدلې، کله کله به یې انطونیه په خیال کې ورغله او پرشونډو به یې موسکا وغوړیده، خو چې دهغې پرخط اوخال به یې فکر کاوه نوداسې به یې احساسوله چې دفرمس دلوریه حیث دهغه تورې ځلیدونکې سترګې یې دذهن په ګوټونو کې پاتې دي.

منصور کتابتون @ Telegram

# د وهم باب

دوخت توپانونو دژوند پراخې دتیروو ختونو نښې پټولې، او دنن په تیاروکې د سرګردانه لارورکو لـه نظره هغه ستوري ورکیدل چې دشپې مسا پروته دسهار دراتلوپیغام ورکوي ، دانسانیت لمن په وینو اواوښکوکې ډوبه وه.

دروم دسمندرګي ختیځې څنډې چې کله دمصر دفرعونانو اوکله دبابل دواکمنو په لاسوله تباهی سره مخ کیدلې اوس لـه زرو کلونو راسې دایران اودهغه دلویدیځ سیال ترمنځ د جګړو اوغورځې ډګر وې.

دحضرت مسیح له ز یږیدو څخه پنځه نیم سوه کلونه پخوا پرایران دسایرس واکمني دختیځ دتاریخ دنوي دوران پیلامه وه، دغه شپانه واکمن دبابل ښښته ښښته په اور واړو له، بیا یې له بلخه دفاسفورس تر خلیج او دخزرلـه سمندرګي څخه تر سینا دښتې پورې پراخه امپراتوري جوړه کړه اودخپل بري جنډې یې ورپولې ، دپیړه په څلورمه برخه کې دننه دایراني واکمنی بریدونه له پنجاب څخه تر یو- نان پورې ورسیدل اودمصر حیثیت ددې ستري امپراتوری دیوه ولایت نه زیات نه و، تردې وروسته نژدې دوه سو ه کاله په ختیځ اولویدیځ کې دسایرس دځای ناستو سیال نه و.

بیا ناڅاپه یونان په لټ و اوښت، لـه مقدونیې څخه یو ځوان راپورته شو په آسیا کې یې دایران بیرغ رانسکورکړ اوتر پنجابه پرمخ ولاړ، دمصر ، بابل اونینوا پاچاهانو دماضي پرلارو چې کومې نښې پرېښې وې، هغه دلوی سکندر تر پښولاندې شوې ، بیا چې کله دلوی سکندر دسترې امپراتوری زوال پیل شونوله اروپا نه یوبل ښامار راپورته شو،چې دهغو دښمنهار اوریدو ته دزماني سترګې روم ته ورواوښتې، رومي پوځونه لـه یوه پلوه دختیځ په غوبل شویو لارو منډې وهلې ، او بل لوري ته یې داروپا هغه هیوادونه لاندې کول چې تراوسه پورې دمهذبې نړۍ له سترګو پناه وو، له میلاد څخه ۶۴ کاله مخکې رومیانوپه شام کې دلوی سکندر ځای ناستي ته وروستی ماته ورکړه اوداروپا او آسیا ډیر لوی خواك تري جوړ شو. خومحکومو اولسونو ته دماضي دنورو انقلابونو په څیر ددغه نوي انقلاب مفهوم هم دباداړانو له بدلون پرته بل څه نه و.

دملوکیت چینه اوس هم دانسانیت پروینو داغداره وه.

عیسوی مذهب مجبورو اوبې وسه انسانانو ته دژوند یونوی پیغام راوړ، خودغه پیغام هغو واکمنوته نا آشنا و چې خپل بې ګناه بندیان به یې وږو زمریانو ته دغوړخول اودوی به په کړس کړس ورته خندل نژدې درې پیړۍ دغه دین درومي امپراتورانو پرمزاج اغیزه ونه کړه ، په دې موده کې بې وسه اوکمزوري عیسویان درومیانو له لاسه سخت په عذاب کې اخته وو.

دڅلورمې عیسوی پیړۍ په لومړۍلور یزه کې امپراتور قسطنطین عیسوی مذهب ومانه،چې بیا یې دروم پرځای دپخوانې

بازنطین پرکنډوالو دخپل نوي پلازمیني قسطنطنیې بنسټ کیښود، دجغرافیا وي موقعیت اوپوخي اواقتصادي وسایلو لـه درکه قسطنطنیې نه یوازې پررروم بلکې دلویدیځ او ختیځ پرټولو هغو ښارونو برتري درلوده چې په کنډوالو کې یې د ډېرو سترو امپراتوریو د عروج اوزوال داستانونه ښخ وو.

تر ۳۹۵ کاله پورې دروم امپراتورۍ وضعه داسې وه چې کله په دقسطنسطین ځای ناستو هغه سره متحده کړه اوکله به دروم اوبازنطینی شاهانو ترمنځ وویشل شوه، بالاخره دامپراتور تیودوسیس له مرګه وروسته امپراتوري عملاً پردوو برخو وویشل شوه. تر دې وروسته په قسطنطنیه کې د رومیانو دختیځې امپراتورۍ ریښې کلکې شوې، اوپه روم کې دهغوی د دبدبې ماڼۍ ورو ورو ونړیدې ، بالاخره دپینځمې پیړۍ په وروستۍ نیمایي کې دمرکزي اروپا وحشي قبیلو یو توپان پر روم راخپور شو او دروم دامپراتورۍ دراتلونکې ټولې هیلې دقسطنطنیې دواکمنو لـه راتلو نکې سره غوټه شوې ، دیونیم سل کلونو په اوږدو کې درومیانو نوې پلازمینه دنړۍ په یو ډېر لوی اونه فتحه کیدونکې ښاربدل شوی و، دقسطنطین ځای ناستو ختیځ لوري تـه پرمختګ لپاره هغه لارې لیدلې چې په یوه زمانه کې لوی سکندر هوارې کړې وې، خووخت یو بل لټ وخوړ، لـه پیړیو وروسته دایران په اورتونونو کې چوپ اورو نه ناڅاپه بیا ژبغړاند شول، هغه بیرغونه چې په پرسې پولس، سوس اواستخرکې دیونانیانو په لاس رانسکورشوی وو اوس ددجلې پرغاړه دمداین پرځنډوبیرته رپیدل، په ایران کې دساسانی کورنۍ لوړ تیا دتاریخ دیوه نوي باب ددوران پیلامه وه.

دقسطنطنیې واکمن لومړۍ ځل په آسیا کې یوځوک په خپل مخ کې ولاړ لیده، دایران کسری او دروم قیصر دختیځ اولویدیځ دوا

ویروونکي ښامارانو او په ۵۲۷ م کې منځنۍ ختیځ ددې دوو ښامارانو ترمنځ دسیالۍ اومقابلې ډګرو.

دادوې لوڅې توري وې چې تل له یو بل سره ټکر ته ناکرارې وې، ختیځ لوري ته له ایران پرته دروم په وړاندې نور هیڅوک نه وو، نه لویدیځ لوري ته له روم پرته دایران مقابلې ته بل رقیب و.

مجوسي واکمن به چې له خپلو اورتونو نوڅخه بهر ته راوکتل نولویدیځ لوري ته به یې سترګې دتثلیث دپیروانو پرکلیساو اوعبادتخانو لګیدې، اود قسطنطینې پاچا به چې دخپلو ختیځو بریدونو نه وړاندې وکتل نومداین به یې په سترګو کې دا زغي په ځیر ښخ شو. وړې آسیا، شام اوارمینیا دبې وسه نندار چیانو په ځیر داور اووینو دې ویروونکیو توپانونو ته کتل چې کله به له مداین اوکله له قسطنطنیې را اوچتیدل، دا دژر ندې دوه پلونه وو چې ترمنځ پرتو قومونو اوانسانانو به یوازې هغه مهال یوڅه آرام ساه اخیستلای شوای چې قیصر یاکسری به خپلو کورنیو لانجو ته پام وروااوه.

په داسې هیوادونو کې چې چې هر قانون اواخلاقي اصول داولس پرځای یوازې د واکمنو دساتنې لپاره وضع کیږي دتخت اوتاج د لاسته راوړو لپاره سازش کوونکي لږ نه وي.

په ایران او روم کې ډیر تر سرتیر دهغه تخت اوتاج لاسته راوړو ته تیارو و چې پرهغو یوانسان له کیناستلو وروسته دنورو انسانانو تول راحتونه تري اخستلای شواې، دماتې او ناکامۍ په صورت کې به دتخت اوتاج دلیوال سرتري والوزول شو اورعیت ته به پردې خبره دجشن او خوښۍ کولوامر وشو چې دپاچا هانو پاچا اوددوی لوی رب النوع دیوه سپک دښمن ناولې ارادې له خاورو سره خاورې کړې، امیرانو به دخپل بادار پر بري له یو بل سره په خوښۍ اوخوشالۍ کې

سیالی کوله، مذهبي پیشوا به دعاګاني ورته کولې ، خوکه به کوم قسمت از موبونکی بریالی شو نوبیا به همدغو امیرانو هغه داطاعت اوهمدغه مذهبي پیشوا هغه ددعاګانو وړ باله.

دامپراتورۍ دننه دانقلابونو اوبد لونونو اغېزې زیاتره ترهغو امیرانو اومذهبي کوډګرو پورې محدودې وې چې دهېواد قانون له پاچا وروسته دوی ته داولس دهډوکود شپېلولو اجازه ورکوله.له امپراتورۍ څخه بهرددغو بد لونونو او انقلابونواغېزې پرهغو ګاونډیو پرتو اوسېدونکیو لوېدې چې دهغوی پروېنو دکوم نوي کسرې اویانوي قیصر دفتحو داستانونه لیکل کېدل.

مذهب دنیکۍ اوبدۍ دپېژندنې او توپیر او یا اخلاقي ارځښتونو ته دودې ورکولو د زینې پرځای هغې ودانۍ ته دستنې کار ورکاوه چې تاداو یې پرظلم او ستم اېښودل شوی و.

داهغه پل و چې دهغې په واسطه مذهبي مشر داولس له لیکو څخه ووت اودامتیاز دخاوندانو په کتار کې دریده.

دایران په مذهب کې دانساني وروروله اوبرابرۍ هیڅ تصور نه و. زردشت که دنیکۍ اوبدۍ په باب کوم ښه تصور وړاندې کړی و هم پر هغو دپېړیو دوختونو ګردرنه لوېدلي وو اوپکې پټ سوي وو. اوس دایران دمجوسیانو لومړنۍ هدف داو چې خپله تولنه له بهرنیو اغیزو څخه خوندي وساتي چې دادم په اولاد یې پرلورو اوټیټو اوواکمنو اوبې واکه پارکیو ویشلي وې ،په ایران کې څوداسې کورنۍ وې چې دامپراتورۍ ټول لوړ مقامونه هغوی ته ځانګړي شوي وو، دهمدغو کورنیو ترمنځ جوړ جاړي به دننه دکوم انقلاب تومنه جوړوله.

په کوم ډول چې په هندوستان کې دبرهمنو په ټولنه کې کوم ټیټ ذاتي اونوکرته دشامليدو امکان نزو همدغسې په ایران کې چا ته

داولس له صف څخه وتلي او دخاصو او اشرافو ډلې ته ننوتل له اټکل څخه لرې وو. دایران امپراتورانو دخپل رعیت دسراومال بشپړ واک درلود، دواك پر دوهمه پوړۍ هغو شهزاده ګانو او دباج ورکوونکیو ریاستونو والیانو ډډه اچولې وه چې په دوی کې ځینې دفتحه شویو سیمو نیم خپلواك سرداران وو او ځینو ته اعلی ملکي اوپوځي منصبونه سپارل شوي وو. په دوی پسې دهغو کورنیو واروو چې په ټول هیواد کې یې پراخه ځمکې اوجایدادونه درلودل، دهغو کورنیو مشرانو چې ځان ته ځومره مالیې ترلاسه کولې دهغو په بدل کې یې دخپل پاچا لپاره دا ړتیا په وخت کې پوځیان تیارول، دااقتدار پرورروستی پوړۍ هغه وړوکي دځمکو او شتمنیو خاوندان ناست ووچې چې دسرکاري مالیې دراټولولو پرمهال یې دحکومت اواولس ترمنځ دارتباط دکړۍ کار ورکاوه اودغه بزګران بیا د اولس هغه برخه وه چې دغلامانو ژوند یې درلود، دوی چې دکوم ځمکه وال ځمکه قلبه کوله دهمغه ملکیت بلل کیدل، او ددوی بادار له ځمکې سره دوی هم پلورلی شول، دوی هغو پسونو ته ورته وو چې غوښې ،هډوکي اووړۍ یې ټول دنورو لپاره وو. مزدکیت ددې نظام پرخلاف یو بغاوت و ، دهغو هدف داو چې شخصي ملکیت له منځه یوسي دهیواد ټوله شتمني پرټولو خلکو بوډول وویشل شي، ددې تحریك دبنسټګر د سختګیرۍ داحالت و چې دځمکې اوزر سره یې ښځې هم دخلکو پرځای داولس مال اوملکیت باله .دژوند له ټولو نعمتونو څخه محروم او دغلامانوپه څیر دژوند درلودونکي اولس به خامخا ددې تحریك څخه اغیزمن کیده، ایراني امیرانو یوازې له ځمکواو پیسو څخه دوی نه وو محروم کړي بلکې له ښځو څخه هم هغوی حرمونه ډك کړي وو، قبادچې په هغه مهال کې دایران واکمن و بهرنیو اوداخلي خطرونو ته په پام سره داولس دمرستې ترلاسه کولو

اړتیا احساس کړه اوددې حرکت پالنه ئې وکړه ، خو چې کله دنوي دین پلویانو دامیرانو کورونه لوټ کړل او اورونه یې ورواچول او دهغوی لوراني اونږوراني یې په زور ورسره بوتلې نوقباد ددوی دمشرانو اومجوسي پیشو ایانوپه اشاره پوځیانو دمزدك دتحریك غړي یو یو رانیول اووژل یې ، او مجوس مذهب یوځل بیا لوړې مقام ته لاسه کړی ؤ.

****

دروم سیاسی وضعې تر ایران توپیر نه درلود، دعیسایي مذهب ښوونې دخپلو تولو ښیګڼو سره دداسې پاچهۍ دمزاج بدلولو توان نه درلود چې دپخواني یونان په بتخانو کې یې سترګې غړولې وې، په شام اوفلسطین کې د عیسویت غوړېدل اوخپرېدل طبیعي خبره وه دا هغه سیمې وې چې په تیرو پېړیو کې دختیځ اولویدیځ څخه دراپورته شویو زیاتو توپانونو ویراني یې لیدلې وې، دلته دعیسویت په ښوونه کې دهغو ترلاس لاندې خلکوداروا د آرامتیا تومنه وه چې ددوی په لاسوکې دبر لاسودګوزار نیولو توان نه ؤ، خورومي واکمنو دخپلو محکومو پراروا و هم دبل چا واکمني نه خوښوله، خکه خو نژدې تر درې پېړیو پورې دعیسویت په غېږه کې له پناه اخستو نکیو دبې وسه انسانانو سره دبا غیانو په څیر سلوك کیده.

بیا چې دشام اوفلسطین داولس په څېر دختیځې اروپا په اولسونو کې هم دغه دین محبوبیت وموند نوحکومت هم خپله غیږه ورته پرانیسته ، قیصر خپله ظاهري جامه بدله کړه خودملوکیت خوی یې بدل نکړای شو، دقسطنطنیې دپاچا هانو پرسر به لوړې داپالودعبادتځای پیشوا تاج ایښودو اوس دغه خدمت دکلیساو

مشرانو په خپله غاړه واخیست، پخوا به دوی پردښمن له یرغل نه وړاندې له خپلو دیو تاګانو څخه مرسته غوښته، اوس پرهغوی دتورې له اوچتولو مخکې صلیب دوی ښکلاوه، توره هماغه وه، یوازې پوښ یې بدل شوی و.

په اولس کې دعیسویت د خوښونې سبب داو چې دغه مذهب دظلم اوتیرې پرځای دمینې اومحبت اوزړه سوې اوعاجزۍ درس ورکاوه. خوددې ښوونې عملې پایلې درهبانیت په بڼه را ووتې، په پیل کې ځینې کسان دټولنې له اصلاح څخه مایوسه شول اودنیا ته یې شا کړه، له ښارونو اوکلیو دښتو اوځنګلونو ته ووتل، دې راهبانو به چلې کولې، پرځمکه به ویده کیدل اولوږې یې تیرولې او دخپلو ارواو دآرامتیا لپاره به یې ډیر بدنې عذابونه تیرول، دنړۍ ټولې معاملې دوی واکمنو ته پریښودې، خود دنیا خاوندانو بیا دوی خدای ته رسیدلې بلل اوورپسې ورغلل.

چا به دناروغۍ نه دځان ژغورنې او چا په خپل کاروبار کې دبرکت لپاره ددوی نه دعا ګانې غوښتې، دوی له یخنۍ نه ریږدیدل اوله تودوخې سوځیدل خوښو ل.

خوپردوی به یې سیوری کاوه، دژوندې پاتې کیدو لپاره به یې بوه نمړۍ وچه ډوډۍ کافي بلله، خوددوی په مخه کې به ددنیا نعمتونه انبار شول.

دوی به خپل نفس وژل اوستونزې تیرول دخپلو ګناهونو کفاره ګڼله خوددنیا اهل به ددوی دکرامتونو ډنډورې غږولې، غرض داچې څومره دوی له دنیا نه تښتیدل هومره دنیا ورپسې وه، بیا به چې کوم یو له دوی نه مړشو نوخلکو به یې پرقبر یو لوی زیارت اوخانقاه جوړه کړه، ورو ورو دغه رهبانیت دعیسوي مذهب یوه مهمه برخه شوه.

انسان دښتو او واك په پیمانه تلل کیده

په یوه داسې ټولنه کې چې لاس او بې وسه سړي رامخې ته دخلکو دمرکز په توګه دیوه تش خبره نه وه، ورو ورو خانقا وې له کیدل څه معمولي اوعادي ورځنې نوې لارې رواج شوې راهبانونه ډکې شوې اودریاضت اونفس دکوم تاپوپرکوم ګرنګ ډېره خینو راهبانو به دسمندرپه منځ کې هلته تیراوه ،چا به ځان ته په کومه دښته ووهله او تول ژوند به یې او یاځنګل کې کوم ځلی جوړ کړ او دهغوپر ځوکه به کیناست اووخت به یې تیراوه، خینو به لوڅ لغړ له جامو پرته دیخنی اوتودوخې دزغملو ښوونه کوله او د خلکو ستاینه به یې ګټله، خینو به دومره درانه اوسپنیز ځنځیرونه اویا حلقې په ملااوغاړه کې اچولې چې ملا به یې ورسره خولمه شوی وه، په پیل کې دغه دریاضت اونفس وژلو ویرونکې طریقې هغو کسانو دود کړې چې ددوی په اند دهرډول بد نې عذاب تیر ول او د دنیا وي هیلو ترپښولاندې کول دروحانې سکون اوآرامۍ بوازینۍ لاره وه، خو وروسته دفردي لیونتوب دې چارو د مذهب دټولنیز فرض په توګه ځای ونیو، دغه خانقا وې چې په سلګونو نارینه اوښځو پناه ور وړې وه دکلیسا پربرجونو بدلې شوې اوځارنه یې دمذهب هغه مشرانوته وسپارل شوه چې زیاتره یې له پاچاهانوسره اوږه پراوږه دکلیسا دبیرغ په رپولوکې هڅې کولې ، دخانقاو دنظم اودراهبانو دروزنې لپاره چې کوم اصول اوظوابط وضع شوي ووهغه دپاچاهۍ له قانون څخه زیات سخت وو.

رومي امپراتورانوپه خپلوبدودوروکې هم دتثلیت دعقیدې پرخاوندانوهغسې ظلمونه ونه کړل لکه دهغو خانقاو اوسیدونکو په ځپله خوښه زغمل ،نوردمذهب دښوونې محوري ټکی دا و چې انسان فطرتاً ګناهکاردی، دهغه بدن دهغه د اروا ترټولولوی دښمن دی، چې دروح دژغورنې لپاره دبدن دذلیلولو او ربړولو پرته

نشته.

غرض دا چې خانقاوې هغه بټۍ وې چې په اور کې يې روح ديدن له جنجالونو څخه پاکاوه.

په عام ډول وهم پرست اودردونو اومصيبتونو ځپلي پريشان خلک ديوه غوره ژوندانه په تمه او پرخپلو ګناهونو پښيمانه کسان دخپل ضمير دآرامۍ اوډاډ لپاره دې خانقاوته ننوتل، خودلته دوی له داسې خلکو سره مخامخ کيدل چې ددوی پرهډوکويې دکليسا دواکمنۍ دمانۍ جوړولو راز مونډلی و.

خانقاته دورننوتلو نه وروسته له ماضي سره ددوی ټولې اړيکې شليدلې، ترڅو چې دماضي په باب فکر کول هم دوی ته يوه ګناه وه، دهر نوي راهب لپاره دوه روزل شوي راهبان ګومارل کيدل چې هغو به شپه او ورځ پرې پهره کوله، هيڅ راهب له خپلو خپلوانو سره دخپلو ساتونکيو اوپهره دارانو څخه بيل نشوليدای، که به ده له ليدو څخه انکار کاوه نو دا به يې دستاينې وړ عمل ګڼ تر يوې اوږدې مودې پورې ورې ترې اوسيدل ياوينش پاتې کيدل ديوه راهب دروزنې لازمې برخه ګڼل کيده، دلاس اوپښومينځل او يا لمبيدل په انساني غوښتنو کې شامل وو.

خکه خو ډير چټل اوسيدل اوخپل بدن اوجامې خيرن اوبدبويه پريښودل اويا لوږ لغړاوسيدل ثواب بلل کيده، دښکليو خيرو مسخه کول هم په نيکۍ کې ياديدل څکه خود کومې ښکلې راهبې کومه ستر ګه ايستل اويا دراهب لاس اويا پښه غوڅول معمولي خبره وه، دخانقادا صولو څخه دسرغړاوي په ګناه سل درې وې ددنيا پرکوم شي دعوه کول ګناه وه ترڅو چې که کوم راهب به په ناپامۍ کې داوويل چې دازما بوټونه [illegible] زما کميس دی نوپه دې ګناه به شپږ درې سزا ورکول کيده.

دخانقاو پراوسیدونکیو دحکومت تر بندیانو زیات ظلم اوتیری کیده، د ډیرو ظلمونو اوعذابونو نه وروسته به خوب دوی ته دځه آرام سبب کیدای شوای، خوددوی دارروا و ساتونکیو چې دوی په لوږه مجبورول ضروري بلل ددې خیال یې هم ضروري باله چې په ویده کیدو ددوی پربدن راغلي عذابونه لرې نشي، هغو بد مرغو خلکو ته به یې هرډول سزا وې چې ورکړې بیا به یې داډاډ ورکاوه چې داستاسو دخیر لپاره دي تر دې چې هغوی به حواس اوعقل له لاسه ورکړل، اوپه هغو له زغم وتلیو عذابونو کې به یې هم یو تسکین اوآرام احساساوه، دشپې په تیاره بلکې زیاتره وختونه دورځې په رڼا کې هغوی ته څلور واړو لوریو ته دابلیس بې شمیره څیرې تر ستر ګو کیدې، او داسې یې احساسوله چې دوی دګناهونو په سمندر کې ډوبیږي ، دخیالي ګناهو نو دکفاري ادا کولو لپاره به دوی دخپلو اروا و له ساتونکي څخه زیاتې سزاګانې غوښتلې، کله کله به یې پخپلو لاسونو خپل ژوند پای ته ورساوه او دخپلو ګناهونو له همیشنی ویرې به یې ذهني توازن له لاسه ورکړ. په شپږمه عیسوی پیړۍ کې ددغسې لیونیو شمیر دومره زیات شوچې په یرو شیلم کې ددما غي ناروغیو د روغتون جوړ ولو اړتیا شوه، دراهب اویا راهبې جوړیدو نه وروسته بیا څوک په ژوند له خانقا څخه نشوای تښتیدلی، کوم راهبان به چې پخپله خوښه دبدني عذابونو ګاللو ته چمتو نه وو پرهغوی به په زور دنفس وژنې ټول پراوونه تر سره کیدل.

په لومړیو وختونو کې به په عام ډول دغه خانقاوې پرهغو بې وسه خلکو دکې وې چې په دنیا وې ژوندانه کې به کوم راښکون اومینه ورسره نه وه، خو چې کله رهبا نیت په عیسوې تولنې کې یو مهم مقام ترلاسه کړ نودښه ژوند خاوندان هم هغو ته ورمات شول د

لوړ پوړ هغه زلمیانو چې په رومي پوځونو کې خدمت ورته ضروري و، دخپلوخانونو دڅغونې لپاره یې خانقاو ته پناه وروړه.

دنفوذ خاوندان چې په خانقا وکې شامل شول پردې درهبانیت درناوی نورهم زیات شو اودخانقاو پادري به له عامو خلکو څخه اشراف غوره گڼل، دغه خلك به دښو ژوندونو خاوندانو سوداگرو اویا حکومتي چارواکو ته ورتلل او له هغوی څخه به یې غوښتنه کوله چې پلانۍ زوی اویا لور دې دعیسوي دین دخدمت لپاره وقف کړه، نو په دنیا اوآخرت به سرلوړی شې، خو که تاهڅه وکړه چې هغوی دڅغورنې اونجات له لارې راوگرځوې نودهغه د ټول ژوندانه دگناهونو پیتي به ستا پرغاړه وي، دهغو راهبانو خبرې اووینا وې به دومره اغیز منې اواحساساتي وې چې پلار او مور به یې خپل اولادونه دوی ته وسپارل، دخلکو په زړونو کې دخانقاو درعب اچولو یوه لاره داهم وه چې دځینو راهبانو دکرامتونو په باب به عجیبې اوحیرانوونکې کیسې مشهورې کړای شوې.

هره خانقاه یوه وړوکې پاچهي وه چې واك د لویو او وړو چارواکواتر منځ یکې ویشل شوی و، اوځرنگه چې رعیت دخپلې پاچهۍ دامر په منلو مجبور وي دغسې به عامو راهبانو دخپلو واکمنو راهبانو حکم مانه، دخانقاه لوی راهب اویا اعلی حاکم به برازې هغه را هبان په واك کې ورسره شریکول چې دنفس وژنې اورياضت ستونزمن پړاوونه به یې په سرلوړی سرته رسولي وو. دهغو خانقاو دارتیاو دپوره کولو لپاره دپیسو کمی نه و، خلکو به دلته دخپل خپل وس سره سم نذرانې راوړې.

خرافات پالنې اوعذاب خوښو نې دغه راهبان ډیر متعصب اوتنگ نظره کړي وو، دغو خلکو له خپل ذات څخه کرکه کوله، ځکه خوبې له بل چا سره مینه اویا لورینه له وسه وتلې وه، دوی

دخپلو تیارو اوتنګو لارو نه پرته بله کومه لاره نه خوښوله، دعقیدې
په اړه یوه ذره تیریدنه اونرمي دوی ته له وغم نه وتلې وه، ددوی په
خانقاوکې چې دنفس وژنې کومې لارې رواج وې، پرهغو نیوکه
اوهغه دمعقولیت پر معیار تلل یوه داسې ګناه وه چې هیڅ دبخښنې
وړ نه وه ،دمختلفو فرقوترمنځ د عقیدې اویا عباداتونو پرطریقو
معمولي اختلاف دوی وژنې اولوټ ته تیارولای شواې اودوی به پر
خپلو مخالفینو دوږیو ځناورو په څیر حملې کولې، دچا په وژلو اویا
په اور کې سوځولو به یې آرام مونده چې ګواکې د ووژل شوي له
اروا سره یې نیکي وکړه اودچا په لاسودوژل کیدو پرمهال به دوی
پردې ډاډه وو چې اروا به یې دبدن له ګنده ګۍ څخه وژغورل شي.

رومي حکومت دخپل ټول جلال اوهیبت سره سره دکلیسا په چارو
کې له لاسوهنې ډډه کوله، که به په څه خبره ددینوي اواخروي واکمنو
تر منځ ورانې راغلې نورومي پوځیانو به داسې احساسوله چې
دکلیسا دتقدس ساتونکي تر دوی ډیر زورور اوویني څښونکي دي.

دپاچاهۍ اوکلیسا نه وروسته دامپراتورۍ دریم لوی ځواک سنا
وه چې رومي حکومت ته یې تر یوه حده دجمهوریت او دیموکراسۍ
رنګ ورکړی و.

خو دامپراتورۍ په چارو کې دسنا لاسوهنې دواکمنو په مزاج
پورې اړه درلوده، یو کمزورې پاچابه کله دکلیسا دمشرانو اوکله
دسنا دغړیو په لاسوکې دګوډاګي په څیر لوبیدو، او یوه ځواکمن پاچا
بیا په خپلو چاروکې معمولي لاسوهنه اومداخله هم نشواې زغملی.

دبت پرستو یونانیانو نو ځینې پخوانې رواجونه دروم په څیر
قسطنطنیې ته هم ورسیدل، دګاډیو زغلولو سیالۍ ډآتن اوروم په څیر
دلته هم دملي لوبې حیثیت درلوده اوبیا ز نطیني واکمنو دیوه
مذهبي رسم په څیر دهغو پالنه اوسرپرستي کوله.

په لومړیو وختونو کې دغه یوه تفریح اوساعت تیري وه، خو وروسته بیا دغه لوبه دفساد سبب شوه دګاډیو په لوبه کې برخه اخستونکیو لوبغاړو بیلا بیلې ډلې یو له بل سره په جګړه او اختلاف واوښتې، اوپه باز نطبنی ټولنه کې هغوی ته دمذهبي فرقو په څیر ارځښت ورکړل شو.

دلوبغاړو کومې ډلې ته به چې دټولو اک پالنه اوسرپرستي په برخه شوه نو دهغو پرمخالفینو به دژوند ساحه تنګه شوه، دغه خلک به دشپې لخوا وسله وال له کورونو څخه راووتل او دښار په کوڅو او واټونو کې به یې وژنې اولوټول پیل کړل.

ددوی ظلمونه به تر خپلو مخالفینو اویاد هغوی تر پلویانو پورې محدودنه وو بلکې دغه ځناور به دهغو بې ګناه خلکو کورونو ته هم ورننوتل چې ددوی له دوستانو یادښمنانو سره به یې هیڅ سروکار نه درلود، له شتمنو څخه به یې شتمني لوټوله دمیړونو او ورونو په وړاندې به یې ددوی دمیرمنو او خویندو آبرو ترې لوټله، د مور وپلار له غیږو به یې ددوی ښکلي ماشومان واخیستل خو هغوی به داحتجاج جرئت نشو کولی، که به چا ددغو ځناورو په لیدو دخپل کور دروازه بنده کړه نوکور ته به یې اور وراچاوه.

ددغو بد مرغیو نه دقسطنطنیې دژغورنې لپاره دقانون، مذهب او اخلاقو ټول اصول ناکام شول، داولس دکورونو په څیر کلیسا وې او خانقاوې هم ددې وحشت له څپو څخه خوندي پاتې نه شوې،

دحکومت پوځ اوپولیسو داهر څه لیدل خودپاچهی رعب اودبد بې ددندې په تر سره کولو کې ددوی مخه نیو له، که به کوم بااحساسه حاکم او یا ایماندارقاضي پرعدالت اوبرابری ولاړې پریکړې جرئت وکړ نوهغه به له ځان څخه لاس ومینځل، دهغو لوبغاړو دکوم لوري پرسر به چې دامپراتور لاس و دهغوی ددیرو

بدو ظلمونو په وړاندې به هم دقانون ژبه ګونګه وه.

بیا به چې کله کوم نوی واکمن دکوم بل لو پالنه پیل کړه نوظالم به مظلوم شو اومظلوم ظالم،

دروم واکمنو دغه سلوك لـه کوم بهرني دښمن سره نه ولـه هغورعیتونو سره ووچې دوی یې خپل ساتونکي ګڼل اوپه مذهبي عبادتخانو کې یې دهغوی دعزت اوسرلوړی لپاره دعاګانې کولې،

داهغه وخت و چې دلویدیځ اوختیځ د ۶۴ ولایتونو ، ۹۳۵ ښارونو اوبې شمیره کلیو پراوسیدونکیو دقیصر واکمني چلیده ، که په دغو ولایتونو ، ښارونو اوکلیوکې دفکر، احساس اودرك خاوند انسانان اوسیدل نو موږ ته پر دې پوهیدل ګران نه دي چې دژوندانه پرواړ ددغو سرګردانه مساپروش څومره تیاره، څومره ویرونکې اوڅو مره لـه زغم وتلې وې . بیا تول پرې پوهیږي چې دروم اوایران تر منځ دټکر نوی پړاو دانسان داولادې لپاره څومره سخت اوزمولوونك و، دا دهغو امپراتورانو ترمنځ ټکر و چې دخدای پرځمکه یې لـه خانه پرته دبل چا ساه اخیستل اوژوندنه خوښیدل.

دادهغو قومونو جګړه وه چې په یوډول خرافات پالونکی ، بې رحمه او تنګ نظره وو، خو ددې ټولو خبروسره ایران اوروم هغه سترې امپراتورۍ وې چې دلویدیځ اوختیځ قومونو دتهذیب اواخلاقو سبق ترې زده کاوه داهغه خرې اوبه وې چې لـه وچو او بې اوبو دښتواوساراوو څخه سرګردانه کاروانونه همغه لورې ته ورتلای شوای.

په آسیا اوداروپا په شمال اومنځ هیوادونوکې جهالت اوناپوهي اوج ته رسیدلې وه، داهیوادونه دهغو کوچي اووحشي قبیلو ښکار ځایونه وو چې په بیلا بیلو وختونو کې لـه منګولیا څخه را وتل داروپا اوآسیا په میدانونو کې تیت کیدل،. دحاصلخیزو سیمو لـه

نیولو وروسته به چې دغه کوچي قومونه یوڅه دپرمختللي ژوند انه سره روږدي شول او دکرنې اومالدارۍ له امله به یې دژوند داسبابو پریمانۍ غرنې اووحشي خویونه پرې بدل کړل نو له منځنۍ آسیا څخه به دبربریت اووحشت کوم بل توپان راوالووت اودغو پرمختللیو کوچیانو به خپلو وحشي ورونو ته خپل ځای پرېښود ، سیتین، هونیا- ن ، ونډال هغه قومونه وو چې کله به یې په ختیځ کې وحشت دایران امپراتورۍ اوکله په لویدیځ کې دروم امپراتورۍ ته ستر خطر شو، ددغو قومونوځانګې وې چې په منګولیا کې یې دخپل نفوس د زیاتوالي له امله ورشوګانې کمې ګڼلې اودنورو ورشوګانو په موندلو پسې به راووتل.

* * * *

عرب د روم اوایران دسترو امپراتورېو خوا راو نوموړکې ګاونډی و، خوددې هیواد اوسیدونکي دخپلوګاونډیوله ښواو بدو اغیزو څخه خوندي وو، له ختیځ اویا لویدیځ څخه به چې کوم توپان راوالووت نوځپې به یې ددې دښتې په ریګونو کې ورکې شوې ،دعربو او سیدونکي د مدنیت دشعورله هغو پړاوونو څخه په پېړیو وروسته پاتې وو چې هلته خلك دقومونو له یووالي اولس او ملت جوړوي اودځمکې دغه برخه دامپراتورۍ یوه برخه شي.

دلته دبهر نیو تهذیبونو یوه خپه اغیزه یوازې په هغو کلیو اوښارونوکې لیدل کیده چې دیمن اوشام ترمنځ دسوداګرۍ دپخوانۍ لارې پرسر پراته وو.

دامپراتورۍ اوپاچهۍ تصور دعربو ټاپووزمې تر هغو بهرنیو اوحاصلخیزو سیمو پورې محدود و چې دهغو ځای دایمي اوسیدونکي دخپل ژوند داسبابو دساتنې لپاره مجبور وو چې دکومې

خواکمني کورني مشرتوب اوسیادت ومني ، ددښتو اوسیدونکي هغه پرونده ووچي داوښ اویا وزو له وړیو څخه په جوړو کیږدیو کې اوسیدل دهغوی په اند دمیږو ، پسونو اواوښانو پالل اوښکار دناریته کارونه وو . دجنوب په حاصلخیزو ځمکو کې پاچهي جوړې او ړنګې شوې ، خودبې اوبو دښتو اوسیدونکي دهغو بدلونونو اوانقلابونو څخه خوندي وو .

داوبو دلړوالي ، دخوارک کمبود اوسوخوونکي تودوخې له امله بهرنیو یرغل کوونکیو ته په دې سیمه کې هیڅ راښکون نه ؤ خپردې سربیره بیا هم دغه ددښتو اوسیدونکي دامن او آرامی سره بلدنه وو ، هغوی له بهرني تیري څخه خوندي وو خودجهالت دیو چې دوی د خپلو خانګړیو تهذیبي اواخلاقي ارځښتونو ساتندوی باله دوی ته دروم اوایران دظالمو خواکونو نه زیات خطرناک شوی ؤ ، دوی دبهرنیو تویانونو څخه خوندي وو خودخپل کور له اورڅخه یې هیڅ دپناه ځای نه درلود .

ددوی تیر تاریخ دکورنیو اوقومي جګړو اوشخړو تر حده محدود ؤ ، دغه جګړې معمولاً له افرادو څخه پیل شوې وې چې کله به دکومې چیني داوبو پرسر او یاکومې ورشو دنیولو لپاره اوکله به دیویل دځارویو دنیولولپاره یو له بل سره کیوتل ، بیا به تولو قبیله جګړې ته راووتو اوتر کلونوکلونو پورې به دوږلو ، لوټمار اودکساتو نو پر کساتو نولړۍ دوام وموند ، چې کله به دیوه نسل له رګونو څخه وروستی څاڅکی وینه وبهیده نونوی نسل به راډګرته شو ، ددوی وینا والو اوشاعرانو به دکرکې اوکسات د دوزخ لپاره تازه خاشاک برابرول ، ددوی زیاتره شعر او ادب دهغو قصیدو او هجووڅخه عبارت ؤ چې پرهغوی خپلې پخوانی دښمنی تازه ساتلی شوای .

قبیلوي ژوند دسارایي تولنې بنسټ ؤ ، دیوه تن دژوند انه لومړنی

هدف داؤ چې دخپل قوم غرور اوانا د تسکین اوآرامتیا اسباب برابرکړي، دخپلې قبیلې دکوم قاتل لپاره دپناه هیڅ ځای نه و، داسې ګناهکار یوازې په تیښته کولی شوای چې دقوم له کسات ځخه ځان وژغوري خودګاونډۍ قبیلې پرخلاف په ډیرو درنو اوبدو جرمونو ککړ سړی به دشاباسي اوستاینې وړ و،

کمزوري قومونه دخپلې سلامتۍ لپاره د زورورو قومونو پناه ته اړ وو چې ددې په بدل کې به یې جزیه ورکوله، کله کله به یوه بې طرفه قبیله ددوولوریو منځ ته ورکیوتله اوتر یوې لنډې مودې پورې به سوله ټینګه شوه.

خود پریکړې او حساب کتاب اصول داوو چې په جګړه کې به دکومې قبیلې لږ کسان وژل شوي وو هغوی به دمقابل قوم د زیاتو مړیو خون ورکاوه.

قبیلې یوازې په نسلي رشتو نه جوړیدې بلکې کوم پردي به چې دکومې قبیلې ډوډۍ وخوړه او دهغوی دوینو څو ځاځکي به یې وڅښل نوددې قبیلې غړۍ به شو، کله کله به یوه وړوکې قبیله دخپل پایښت اوبقا لپاره په همدې دود له بلې خواکمنې قبیلې سره جذب شوه په دې ډول به یې چې خواك وموند له خپلو پیاوړیو دښمنانو ځخه به یې بیا دتیرو دښمنیو بدل اخیستو فرصت تر لاسه کړ.

عرب چې څومره ناپوه اوجاهل وو هومره سرتمبه، وینې خوړونکي اومغرور وو، ددښتواوبو او هوا دوی داوښانو په څیر سخت سره اودخرما دونو په څیر کلك جوړ کړي وو، خو دغه زیارکښ توب اوسخت سري یې دیوې روغې ټولنې پرځای دخپل چاپریال دجهالت اوتیارو په دوام کې کار یدل.

دخپلو نیکو نو ډیرو بدورواجونو دوام دوی ته غیرت اومیړانه ښکاریده اود هغوی لاره پرېښودل اوبله لاره غوره کول یې بې

غیرتي اوبې همتي بلله.

مکې دا شرف درلود چې دلته حضرت ابراهیم علیه السلام دخدای لومړی کور جوړکړی و.

خو شرک تورپانونو دلته دتوحید ډیوې مړې کړې وې او دخدای کور پرېتخانه بدل شوی و، عربو اوس هم مکه خپل روحاني مرکز باله خو پېرېو بې لارېو او جهالت دابراهیم حنیف دین ښوونې پرڅو مشرکانه رسمونو بدلې شوې وې.

خال خال داسې کسان وو چې دزړونو په تل کې کې یې ددې دین اصول ژوندي وو، خو دتیارو د دې تورپانونو په وړاندې څو رڼیدونکیو ډیوو هیڅ شتون نشو ثابتولای، له عربو څخه بهرتېي انسانیت خپل تېرونه احساسول،

هلته سرګردانه او لارورکو کاروانونو کوم لار ښود لټولی شوای، په خانګړې توګه په شام کې دعیسویانو او یهودیانو مذهبي مشران به چې کله له خپل چاپېریال څخه مایوس شول نو ددوی نظریه دفلسطین په دروکې دهغه ژغورونکي په لټون کې وو چې زېرې یې ددوی په اسماني کتابونو کې و، که هغوی په تیارو کې سرګردانه وو نو دیوې رڼا انتظار یې درلود، که هغوی د ظلم او ستم لاندې غوبل شوي وو نو دعدل او برابرۍ او رحم او مهربانۍ هیله یې درلوده، خو دعربو ضمیر دهغه رڼا څخه محروم شوی و چې د نیکۍ او بدۍ توپیر یې کولای شوای، دوی په خپله غمرونکې ماضي ویاړ کاوه، دحال پرذلتونو یې غرور درلود، ددوی په برخه تیارو کومې رڼا ته اړتیا نه درلوده.

دوی چې په کوم ډګرروان و پرهغو یې دمزله دوام غوښتلو، کومه بله لاره چې پرهغو ددوی دنیکونو دګامونو نخښې نه وې دوی ته دمنلو وړ نه وه، کومه بدې چې دوی ته په میراث پاتې وه دکرکې

ورنه وه او هیڅ نېکي هم چي ددوی نېکو نو اوپلرونو مخ ترې اړولی د
دوی ته د ددې ورنه وه چي مخ ورواړوي ، ددوی ژوند دژوند دهرې
نیکمرغۍ نفې کوله.

دوی خپلې تیاره خونې دهغې بهار د رڼا له وړانګو څخه خوندي
ساتلې چي دهغو په انتظار دامن او آرامي دلټوونکیو ستر ګې وچي
شوې وې خو همدغه تیارې وې چي درڼا دلټوونکیو مرکز ترې
جوړېدونکی و، همدغه هغه شارې اوبې وښو دښتې اودبرېښې سیمې
وې چي خدای دخپلو انعامونو دباران لپاره غوره کړې وې
او همدغه افق و چي ویروونکې تیارې بې دپیغمبري لمر دوړانګو
لپاره تر ټولو زیاتې حقدارې ګڼل شوې وې، دا داستان دآدم داولادې
له هغه دوران سره تړلی دی چي په مکه کې دیوه نوي سهار رڼا
دتیارې شپې مسافر راوبش کړې وه.

Telegram @ منصور کتابتون

# دریم باب

یوه ورځ دیثرب دیهودو یو اعتباري سردار کعب بن اشرف دخرماو په بڼ کې دننه له خپلې لوېې ماڼۍ څخه را ووت، شمعون او دده دکورنۍ اتوکسانو چې د خرماو تر سیوری لاندې پرپوزیو ناست وو اودده دراتلو انتظار یې کاوه چې دی یې ولید په درناوي تول راجګ شول.

کعب له شمعون نه وپوښتل:

هبیره تر اوسه نه دی راغلی؟

شمعون ځواب ورکړ:

صیبه! زما غلام هغه ته ستاپیغام رسولی ؤ زر تر زره یې دراتلووعده هم کړې وه خوته ښه پوهیږې چې هغه ډیر بد خویه سړی دی، تاسو لږ سختي پرې راولی، هغه خلک باید داجرئت ونه کړی چې زموږ پرورېي هم وي اوځواب هم راکوي. تیره میاشت چې زه ورغلی وم نودوی جګړې اوجنجال ته راته چمتو شول.

پینځه تنه عرب دباغ په منځ کې ماڼۍ ته په راغلي لاره رابښکاره شول، کعب هغوی ته اشاره وکړه ویې ویل:

وګوره هغه دي راغلل! ته باید له دوی سره په خبرو کې له تدبیرنه کار واخلې، اوس اوخزرج یوې اوږدې جګړې ستومانه کړي دي ددوی زیاتره مشران په پټه دسولې لپاره هڅې کوي .زه تل په دې

اندیښنه کې یم چې که ددوی ترمنځ سوله راشي بیا به یوه ورځ زموږ پرخلاف سره یو شي ،موږ باید یولوری هم دو مره آزرده اوخپه نه کړو چې دمایوسۍ اوبې وسۍ په حالت کې لـه خپل دښمن سره سولې ته تیار شي.

دهبیره اودهغه دملګریو په ورنژدې کیدو یهودیان چوپ شول، دهبیره دړیرې نیمايي ویښتان سپین شوي وو.

بیا یې هم غټ بدن اویارعبه څیره دروغتیا او سلامتۍ ښکارندویه وه ، دهغه ښۍ مټ لـه څنګلې پاس غوڅ ؤ او پرسر اوتندي یې دتیرو جګړو دزخمونو داغونه پاتې وو، دهغه په کیڼ لاس کې یوه مزبوته متروکه وه، نور څلورکسان چې ددوو عمرونه به لـه ۱۵ تر اتلس کلونو وو او دوه نوریې دهبیره همځولي وو توري ورسره وې.

دغه کسان دکعب په اشاره یهودیانو ته نژدې کیناستل کعب هم دوی ته مخامخ کیناست ویې ویل:

هبیره! زه حیران یم چې دامن په ورځوکې هم وسله وال کسان درسره ګرځوي.

هبیره ځواب ورکړ:

زما په ګومان تر تش لاس لـه تورو سره ګرځیدل دامن ښه ضمانت کوي.

یوه یهودي وویل:

پام ښه شي دی ،آبله ورځ بني خزرج درې وسله وال کسان په ښار کې ګرځیدل کعب وویل:

هبیره! شمعون ګیله کوي چې تا بدقولي ورسره کړې ده.

زه غواړم تاسو په خپل منځ کې خبره سپینه کړئ.

دهبیره مخ لـه غوسې سور اوشین شو،په غوسه ناک نظریې شمعون

ته وکتل اوويې ويل:

ماله ده سره هيڅ بدقولي نه ده کړې.

شمعون وويل:

صيب! ده زما دپوز اداکولو پرځای خپل آسونه بهر چيرته استولي دي.

هبيره دشمعون پرځای کعب ته مخ واړاوه اوويې ويل: ښاغليه! مادده له پورنه انکار نه دی کړی. يوازې ځومياشتې مهلت مې غوښتی و.

شمعون وويل:

که ته خپل آسونه پرنورو پلورې نوزه مهلت ولې درکړم.زه هغې ورځې ته ولې انتظار وکړم چې ته دې آسونه ،باغونه اودکور ټول سامان وپلورې او په کوم لوري وتښتې.

هبيره دوينو غوړپ تير کړ اوکعب دځه ويلو اړتيا احساس کړه ويې ويل:

شمعونه! له يوه عزتمن سړي سره داسې خبرې نه دي په کار. زه هبيره پيژنم اوباورمې دی چې ستاپور به پريوه ځای ادا کړي.

هبيره په ګيله منه لهجه وويل:

هبيره په ده نه ځومره پيسې خيستې وې دهغې درې چنده سود مې ماچې له ده راته وويل چې که خپل اته غوره اسونه راکړې نويوازې پاتې دسودپيسې به ادا شي ماغو ښتل چې ټول حساب يې ورکړم. ورکړی دی، په تېرو ورځوکې په شام کې آسونه په ښه بيه تلل، خکه مې هلته واستول.

کعب وويل:

که ستادا نظر وْ چې شمعون داسونو بيه لږ درکوي دلته به دې په بل چا پلورلي وو.

هبیره وویل:

که هغه آسونه تول زما خپل وای نوهمدغسې به مې کړي وو خو په هغو کې زما دوراره عاصم برخه هم وه ،هغه ددلته پلورلو پرځای تینګار کاوه چې شام ته یې بوزي، دهغه دتینګار سبب داؤ چې موږ وسلو ته زیاته اړتیا درلوده. عاصم به دآسونو له پلورلو وروسته په شام کې توري واخلي او ورسره رابه یې وړي. موږ به بیا هغه زیاتې تورې دخپل قام خلکو ته په دوه چنده بیه ورکړو.

بیا به ماته دشمعون پور ادا کول ګران نه وي.

شمعون پر ماد.د قولی تور پورې کوي خوته پوښتنه ترې وکړه چې زموږ کورنۍ ته یې دشلو تورو د برابرولو ژمنه وکړه اوبیا ترې وګرځید او دوکه یې پې راسره وکړه ،تورې یې زموږپر دښمنانو وپلورلې که نه ؟

شمعون وویل:

چې دخزرج قبیلې تر تاسو زیاتې پیسې راکولې نوتورې به مې ولې پرتاسو پلورلې ؟

هبیره وویل: نوبیا داګیله ولې کوې چې ماخپل آسونه پرتا ارځانه ونه پلورل؟

شمعون خواب ورکړ:

خکه چې ته زما پوروړی وې.

هبیره په غوسه شوویې ویل:

ستا توله شتمني زموږ له خولو اووینونښتیخلي ده.

اوس ته موږ ته دپوروړي پیغور راکوې؟

کعب وویل:

جګړه هیڅ ګټه نه لري ما ته ددې لپاره راغوښتی یې چې ستا حساب ورسره تصفیه شي.

هیبره وویل:

تاسو چې څه ووایی منلو ته یې تیاریم خوشمعون حق نه لري چ
بدې خبرې راته وکړي ماتر اوسه له هغه سره کومه بدلوظي نه ده کړ
خوده تل زما له اړتیانه بده ګڼه کړې ده ،تر ماپخوایې زما ورو ر
چې په کومو شرطونو پور ورکړی د هغه ډیر سخت وو.

خومونږ له مجبوری،تول وزغمل، زما ورور دخپل نیمایې بر
اوچینې څخه نیمایې اوبه ده ته په ګروی کیښودې ، معلومه وه چ
دغه اوبه باید د ګروشوې بڼ په اوبولولګیدلې وای خوکله چې زم
ورور دپور تر نیمایې زیاتې پیسې اداکړې نودده نیت بدل شو او
اوبه یې خپل نوي باغ ته واړولې پایله داشوه چې درې کاله وروست
زما ورور تول پور اداکړ اوخپل بڼ یې راخلاص کړ زیاتې ونې ب
وچې شوې وې.

شمعون وویل:

تاخو داخبره هیره کړې ده چې ورور دې خپل یوزوی هم ماته په
کروی اینبې د اوتړون داسې د چې دپورتر وروستي درهمه پورې هغه له
ماسره وي.

هیبره وویل:

که هغه تاله خانه سره نشوای ساتلای په دې کې زما دورور څه
قصور د آیا داربنتیانه ده چې کله هغه ستاله بد چلن څخه
راوتښتید مونږ بیرته درووست خوتا پخپله دهغه له ساتلو انکار وکړ.

شمعون کعب ته مخ وراړاوه ویې ویل:

صیب ته راته ووایه چې له عاصم سره ماڅه بد چلن کړی، ما
غوښتل چې دکار سړی ترې جوړکړم ، هغه ته مې دلیك لوست زده
کولو بندوبست وکړ، خو چې هغه په لیك ، لوست وپوهیده زما دښمن
شو درې خلې یې زما مشر زوی وواهه څلورم ځل یې زما کشرزوی

پرېاغي آس سپور کړ اوآس يې خوشې کړ.

زما سره دبنوخز رج دقبيلې ديوه عزتمن سړي عدي زوی عمير هم ګروړ، دعاصم له هغه سره هم جوړه نه وه يوه ورځ هغه عميربن عدي دومره وواهه چې له خولې اوپزې يې وينې راغلې، زما نوکرانو چې عمير تړي وژغوره هغه په منده خپل کور ته ولاړ دهغه دکورنۍ بوډاګان اوځوانان ماته راغلل اورانه ويې غوښتل چې عاصم دوی ته وسپارم دا دعاصم نيکمرغي وه چې هغه زما په پناه کې و که نه دعدي له زوی سره ددامې سلوك نه وروسته به هغه يوه شيبه هم ژوندی نه و پاتې شوی ماپه ډېر زحمت هغه خلك وپوهول اودې ته مې راضي کړل چې بيرته ولاړشي.

څوورځې وروسته ماته معلومه شوه چې اوس او خزرج بيا يو له بل سره دمقابلې تياري کوي، زه وېرېدم چې اوس به دخزرج مقابله ونکړای شي ځکه مې نوکرانو ته وويل چې پرعاصم پام کوی.

تر دې چې دجګړې نه يوه ورځ مخکې هغه ماپه يوه کوټه کې بند کړ،زما اټکل پرځای و اوس په دې جګړه کې ډېر تاوان وګاله دهبيره يوزوی اودوه وريرونه پکې ووژل شول او زما په سبب عاصم ژوندی پاتې شو. خوده ددې نيکۍ بدل دا راکړ چې کله دهغه دکوټې دروازه خلاصه شوه هغه پرما بريد وکړ، داوګوره! شمعون خوله خلاصه کړه اوپه غاښونو يې ګوتې را تيرې کړې زياته يې کړه:

زما درې غاښونه اوس هم ښوري.

هبيره په وياړمنه لهجه ووېل:

دا تا ته چا ويلي وو چې زما وراره له مرګه ويرېږي.

تاخو بنوخزرج ته غوښتل داووايې چې دجګړې په ورځ تازموږ يوزمری تړلی و ته پردې خپه يې چې هغه عميربن عدي وهلی و خودافکر دې ولې نه و کړی چې اوبه اواور نه سره يوځای کېږي بيا

ستادزا منو په مغزو کې دغه خبره له کومه راپیدا شوه چې دوی زما له ورارہ څخه غوره دي موږ له تانه پوراخیستی دی سوال مونه دی کړی.

شمعون وویل:

ښاغلیه! ما عاصم دخپلو زامنو په څیر په کورکې ساته ، دجګړې په ورځ مې یوازې له دې ویرې په کوټه کې بند کړ چې هغه تر اوسه دتورې اوچتولو ورنه و، که میدان ته وتلی وای نوانجام به یې دمشرانو ورونو په څیر وای. خوزه نه پوهیدم چې ددې اجربه ماته داسې راکړل شي.

خبره اصلاً داسې وه چې کله دعاصم دوه ورونه په جګړه کې ووژل شول پلار یې داارتیا احساس کړه چې دی ورسره وي لومړی هغه وویل چې زه دسوداګرۍ لپاره شام ته خم اوغواړم چې عاصم هم راسره بوزم دی خومیاشتې آزاد کړه خوچې زه دپور له ادا کولو مخکې دده پرینبودو ته راضي نه شوم بیا یې عاصم زما پرخلاف وپاراوه تر څو وضعه داسې شي——

چې زه مجبورشم هغه بیرته وروسپارم.

هبیره خپله غوسه راقابو کړه ویې ویل:

که زموږ نیت بد وای نوموږ به عاصم بیرته تاته نه و، دروستلی.

شمعون کعب ته وویل:

صیب! بیرته دهغه راوستل هسې پرما دملنډو وهلو لپاره وو یوې خواته به دوی له ماسره دجوړ جارې خبرې کولې بل خای عاصم زما زوی ته په غوږ کې ویل چې که داخل زه دلته پاتې شم نو لومړی به تا ووژنم بیا به دې دپلار او ورونو نویت راخي.

هبیره کعب ته وویل:

صیب ! ته له دې خبرې اټکل کولی شې چې له عاصم سره دوی څه

ډول چلن کړی دی، یوکم عمره هلك بې سببه دومره نه را پاریږي.

— هبیره ! زه ستاسو کوم چا ته دا اجازه نشم درکولی چې زموږ هلکان ووهي تاسو دبنوخزرج قبیلې په مقابل دخپلو ماتو بدل له یهودیانو څخه نشی اخیستلای. زه دې ته اړتیا نه وینم چې ودې پوهوم چې لـه موږ سره په جنجال به یوه ورځ هم دمدینې په دروکې تاسو ونه اوسیدای شی.

مالـه ډیر زغـم څخـه کـار واخیست اوستاخبرې مې واوریدې اوافسوس کوم چې دغـه چلن دې دهوښیارۍ نه دی. ته یـه ګام پرګام موږ ته اړتیا لرې.

هبیره تر لږ خنده کعب ته حیران حیران کتل، بالاخره یې وویل:

ته دشمعون د دروغوتر اغیزې لاندې راغلې ، عاصم په کوم هلك لاس نه دی پورته کړی ، دهغه کشری زوی دده همخولی دی،نور دوه یې تر ده مشران دي ته له شمعون نه وپوښته چې زامنو یې. عاصم ته څه ویلي وو؟

شمعون وویل:

ته یې پخپله ورته وایه!

— هغوی ورته ویلي وو چې نور به ستا سو دپورغوښتو په بدل کې په ګروی کې دهلکانوپرخای نجونې درنـه غواړو، دعدي زوی بې غیرته ؤ او داخبره یې زغملې وه خوعاصم بیا داسې نه ؤ.

شمعون وویل:

دابلکل دروغ ده، خبره داسې وه چې هلکانو لـه عمیر سره توکې کولې اوعاصم لوړی هغه ته دبې غیرتۍ پیغور ورکړ او غوښتل یې راویې پاروي خو چې هغه یې تر خبرولاندی رانغی ده پخپله زما له زامنو سره جګړه پیل کړه ،هغه به تل زما له زامنو سره د جنجال لپاره پلمه لټوله له عمیرسره دده ددښمنۍ ترټولو لوی سبب داؤ چې هغه

زما دزامنو پرخلاف دده ملګرتیا نه کوله.

هبیره وویل:

دا کله امکان لري چې دشمعون بناغلبه ته پخپله انصاف وکړه ، کړې وي اوعاصم پرې په زوی دې دبنو خزرج له یوه هلك سره توکې خبره اصلاً داسې وه چې هغوی ددوی دوارو پرعزت غوسه شوی وي. سپکاوی وزغملو خوعاصم ونه حمله کړې وه عمیر دخپلې کورنۍ زغملای شو، هغه مهال دهغه عمر له ۱۲ یادیارلس کالو زیات نه و، خو شمعون تر ننه پورې له موږ نه بدل اخلي!

شمعون په غوسه شو ویې ویل:

دڅه شي بدل؟

هبیره وویل:

تالومړی زما دورور نیمایي بڼ ویجاړ کړ، بیا دې زموږ پرخای توري زموږ پردښمنانو وپلورلې.

بیا داخلور میاشتې مخکې خبره ده په کورکې مې دورور مړی راته پروت و اوتا دخپل پور پرغوښتو ټینګار کاوه، دعاصم لومړنۍ دنده داوه چې دخپل پلاربدل واخلي ،خوپرهغه ستا دخبرو اغیزه داوه چې پلار یې ښخ کړ آسونه یې ورسره واخیستل اوشام ته په سفر روان شو چې بیله خنډه ستاپور ادا کړای شي اودپیسو بندوبست درته وکړي.

خواوس تا خو ورځې هم صبر نشو کولی.

کعب وویل:

شمعونه ! زه هبیره ښه پیژنم، دی یو با اصوله سړی دی،دده پروعده باید اعتماد وکړې.

شمعون خواب ورکړ:

زه دده پروعده اعتماد کولی شم، خو لومړی زما دده پرورارہ دا

باورنشته چې بېرته به راوګرځي بيا داهم امکان لري چې هغه په لاره کې هر څه له لاسه ورکړي وي.

هبيره وويل:

زما وراره پخوا هم شام ته تللی و. او زما دهغه پر هوښياری باور دی خوکه هغه ته څه پېښه وشوه نودېور په بدل کې زه دې ته چمتو يم چې خپل نيمايي بڼ درته ګرو کېږدم.

کعب وويل:

شمعو نه! اوس بايد ډاډه شي اوهبيره ! ته هم بايد داسي فکرونه کړې چې دلته مې ددې لپاره را وغوښتې چې څه فشار درباندې راوړم ، ما يوازې دا غوښتل چې له موږ سره ستا اړيکې خرابې نه شي، په راتلونکې کې که څه ستونزې در باندې راغلې نوماته راشه!

هبيره جګ شو اوپه احسانمنه لهجه يې وويل:

زه ستا څخه مننه کوم په اوسنۍ وضعه کې موږ ته له تاسو نه دمرستې غوښتلو نه پرته بله لاره نشته ،موږ يوازې دومره غواړو چې که په جګړه کې راسره مرسته نه کوی هم دومره پور راسره کوی چې موږ له بنو خزرج سره جګړه وکړای شو.

زموږ دقوم دمشر انو يو پلاوی تاسو ته راروان دی زما تمه ده چې تاسو به هغه مايوس نه کړئ.

کعب خواب ورکړ:

ته ډاډه اوسه موږ پخوا هم تاسو مايوسه کړي نه ياست.

اوس به هم ددې کيلي خای رانشي چې بنی خزرج تر بنی اوس غوره وبولو.

- موږ به هم هيڅکله ددې ويلو موقع درنکړو چې بنې اوس دنيکۍ دبدل په ورکولو نه پوهېږي ، هبيره داوويل او له هغه ځايه ولاړ، دهغوی ملګرې ورپسې شول. کعب تر لږ خندله په يوه معنا داره

مرسکا پسې کنل او چې هغوی په خرماو کې پناه شول نو له
شمعون نه یې وپوښتل:
شمعونه! اوس رښتیا ووایه چې ستاز امنو یوازې له عمیربن عدي
سره توکې کړې وې او عاصم هسې برې غوسه شوی و؟
- هوکې، ما مې پرزامنو برسیره له عمیرڅخه هم داپوښتنه وکړه.
- عمیر داهم درته وویل چې عاصم دی ستا دزامنو پرخلاق
راپاراوه؟
هوکې!
- نو ددې مطلب دادی چې عاصم د اوس اوخزرج له نورو هلکانو
سره توپیرلري.
- هوصب! هغه چې څومره هوښیار دی، هومره خطرناک هم دی،
یوه ورځ به ماته په مخ وویل چې هغه ورځ لرې نه ده چې اوس
اوخزرج به پخپلو کې دجګړې پرځای سره یوشي او دیهودو پرخلاف به
جنګیږي.
- نو بیا دې داسې خطرناک هلك ته تعلیم ولې ورکاوه؟
شمعون ځواب ورکړ:
صیب! کله چې هغه ماته راغی عمر یې ډیرنه و، له خبرو څخه ډېر
هوښیار، ښکاریدو، ما ګومان کاوه چې لوی شي زما سره به په کارو
بارو کې ښه مرسته وکړي او ښایې بیرته خپل کور ته هم ستون
نشي بیا زما داتمه هم وه چې پلار یې زما پورنشي ادا کولی، ځکه
به دې ته اړ وي چې له ماسره پاتې شي.
کعب وویل:
ستالومړی غلطي داوه چې داسې هوښیار هلك دې په کور کې
پرېښی دی، دوهمه دې داچې هغه ته دې لیك لوست هم ورښودلی
دریم داچې کله لوی شو اوغوښتل یې چې په جګړه کې برخه واخلي

تا په کونه کې بندي کړ.

يوه يهودي وويل:

داوس ديوې معمولي کورنۍ هلك مو؛ ته دخه انديښنې سبب نشي کيدای، لومړی خو به هغه دخزرج دکورنۍ دکوم چا په لاس ووژل شي ، که نه وه بيا به موږ ورسره پوه شو.

کعب ځواب ورکړ:

زه دهغه په باب انديښمن يم، زه دافکر کوم چې که داوس ديوه نوي زلمي په مغزو کې داخبره راګرځي امکان لري څه وخت وروسته زموږ په باب نور خلك هم داسې فکر وکړي. ديثرب ديهوديانو د ژغورنې لاره داده چې اوس اوخزرج يوله بل سره جګړه وکړي او سره ورك شي.

په عربو کې دسولې وخت هلته راځي چې يو ماته خوړلی لوری له هر لوري مايوس شي اودخپلو زيانونو په اړه په فکر کولو اړ شي، په تيرو جګړو کې داوس وضعه کمزورې شوې ده اود خزرج هم زياتره کسان دجګړې دوام نه غواړي، اوس بايد زموږ کار داوي چې داوس دقوم حوصلې مزبوتې کړو او په پټه دومره مرسته خامخا ورسره وکړو چې دخپلو خلکو دوينو تر وروستي څاڅکي بهيدو پورې وجنګيږي . موږ بايد خزرج هم پردې پوه کړو چې موږ يې دوستان يو داوس اوخزرج يووالی موږ ته ډير خطر ناك دی ځکه چې په دې صورت کې به يې پام زموږ لوري ته راواوړي.

که هوږ پخپله دجګړې پرځای پيسې ورکړو نود اوس په لاس دخزرج اودخزرج په لاس داوس کسان وژلی شو، نوموږ بايد له بخيلۍ څخه کار وانخلو،زموږ پيسې بيځايه هم نه ځي.

که مو ځوکالـه دوی پخپلوکې سره وجنګول نو ددوی باغونـه اوځاروي به تړل زموږ په لاسو کې کيوزي ، شمعونه! زه درته نصيحت

کوم چې دخپل اولس دګټې لپاره لې له حوصلې اوزغم نه کار واخله.

شمعون خواب ورکړ:

جنابه استاسو مشوره موږ ته دحکم په مانا ده.

که تاسو وفرمایی زه دې ته چمتو یم چې نور یوز هم ورکړم،

خو تاسو پردې خبره اندیښمن کېږی مه چې داوس اوخزرج په منځ کې

دهېبره غونډې خلک شته یو دبل مرۍ به غوڅوي ، دعربو خلک چې پر

کومه خاوره یوځل وینې توی کړي دهغو تنده بیا په کلونو نه خړو

بیږي . تاسو د بسوس اورفجار دجګړو نه خبریاست ، داهم درته

معلومه ده چې په هغو جګړو کې برخه اخیستونکې قبیلې له یهودانو

څخه ډیرې لرې وې.

کعب جکیدو دیې ویل:

داسمه ده چې له یو بل سره دهغو قبیلو په جنګونو کې یهودیانو

لاس نه درلود ، خو که دهغوی په منځ کې یهودان وای نو هغه جګړې

به نورې هم تونډې اواوږدې شوې وای.

زه غوارم پردې دې ویوهوم چې داوس اوخزرج له جګړو نیغه موږ

ته کنه رارسیږي خکه خو باید هغه وکړو چې داسې وضعه رانشي چې

دوی دې ته مجبور شي چې خپلې تورې په تیکو وسنډې زموږ کار

دانه دی چې د هبیره غونډې، تونډ خوییه خلک خپه کړو بلکې دادی

چې هغوی پرشاونیو او نوره حوصله ورکړو.

یوه یهودي وویل:

صیب! تاسو داده اوسی ، موږ به داوس اوخزرج کوم لوری پرېنږدو

چې احساسات یې سارہ شي.

داسې ده چې ددوی ډیرې کورنې له جګړو څخه په تنګ شوې دي

، خو زما باوردی چې دعاصم په بیرته راتلو سره کومې تورې ددوی

په کورنیو کې وویشل شې هغه به تر ډیرې مودې په تیکو کې پاتې

نشي.

کعب وويل:

شمعونه! ته يو هوښيارسوداګر يې، خو دا په پام کې ونسه چې ستا راتلونکې په يثرب کې له نورو يهوديانو ښځه بيله نه ده او دراتلونکو خطرونو ښځه ديهوديانو ژغورنه هغه مهال امکان لري چې داوس اوخزرج تر منځ دسولې امکانات پيدا شي. که هيڅ غونډې خلك دمره کيدونکې اور لپاره نوی خس پيدا کولی شي: ومونږ به دزړه ماتو لوېرخاي بايد حوصله ورلوړه کړو.

ددې هدف لپاره که مونږ هغوی ته وړيا توري ورکړو نودا به راته ګرانه معامله نه وي.

شمعون ځواب ورکړ:

صبر! تاسو داده اوسئ ،زه ددې خبرې ذمه اخلم چې اوس اوخزرج به تر ډيرې مودې په امن کې پاتې نشي.

Telegram @ منصور کتابتون

# څلورم باب

له یروشلیم څخه وړاندې دبنو کلب او بنو غطفان قبیلو دسوداګرو سره له یوه اوږده مزله وروسته دعاصم لاره بیله شوه بیا یوه ورځ هغه دوبرینو ګرنګونو او ریګي غونډیو ترمنځ په یوه تنګه دره کې تېرېده. ددبنتې هوا ورو ورو سړېده. عاصم ناڅاپه خپل آس ودراوه او مخ یې عباد ته راوګرځاوه ویې ویل:

موږ نور مزل نشو کولی، زما آس ډیر ستړی دی.

موږ ته به دا غوره وي چې له لارې څپ ددرې یلې غارې ته واړوو، ته همدلته اوسه زه به ولاړ شم یو مناسب ځای به وګورم او بیرته به راشم.

عباد وویل:

ما پخپله غوښتل درته ووایم چې موږ باید پاتې شو.

له نن نه شل کاله وړاندې چې زه ستا له پلار سره شام ته په سفر تللی وم چې بیرته راستنیدو شپه مو دلته تېره کړه. عجیب تصادف دی. هغه ځل مو هم به شام کې اسونه وپلورل او بیرته راغلو خو هغه مهال موږ یوازې نه وو. زموږ سره دیمن یو کاروان هم ملګری و.

هغه دیرې شپې ورځې ونږ دخزرج قبیلې څوکسان هم را سره په سفر کې ملګري وو او موږ له یو بل نه هیڅ خطر نه احساساوه. چې له

دمشق نه بیرته را روان شوو نو.....

دعباد په ذهن کې یوه بشپړه کیسه راژوندۍ شوه خو عاصم د آس جلب راکش کړ او پوښتنه یې ورکړه چې دسترګو په رپ کې کیڼ لوري ته دبوې ریګي غونډۍ سرته وختوت. له هغه ځایه یې بل لوري ته یوې بلې تنګې درې ته نظر واچاوه اوبیا یې خپل ملګري ته لاس پورته کړ او اشاره یې ورته وکړه اوهغه دده په لور ورغی.

عاصم له آس څخه پلی شو، هغه یې تر پړي ونیوا وله غونډۍ نه راکوز شو، لاندې یو ځای څو غرني ازغي وو، عاصم د آس پړی له غاړې راخلاص کړ اوپه یوه بوټي یې وتاړه له خرجینۍ یې لږ وریښمې راوایستې له پټک څخه یې اوبه پرې وپاشلې بیا یې دخرمنې په توبړه کې واچولې اویوې خواته یې کېښودې، د آس چې پرتوبړه سترګې ولګیدې وشیشنیده اولغتې یې وهلې، عاصم ورغی اس یې وتپاوه اوویې ویل: ملګریه! زه پوهیږم چې ډیر وږی شوی یې خولې انتظار وکړه.

بیا دبوټیو په لور ولاړ، دهغو وچې څانګې یې را ټولې کړې . په دې کې عباد هم راورسید ، هغه اوښ چوک کړ اوترې پلی شو ویې ویل: زما په ګومان به دلته دومره یخنی نه وي چې دشپې مو اور بلولو ته اړتیا شي.

عاصم ځواب ورکړ:

زما هم همدا ګومان دی خو داحتیاط لپاره مې دغه خس راټول کړل، که یخني زیاته وه نو اور به بل کړو.

ته داوبو مشک او د ډوډۍ سامان، کوز کړه، او بس په همدې بوټیو کې وتړه، دنور سامان کوزولو ته اړتیا نشته، موږ به دشپې په وروستۍ برخه کې له دې ځایه روانیږو، غواړم چې کورته ورسیږو بیا سپوږمۍ وینو، په مشک کې اوبه ډیرې دي. ته لږ پر آس هم وڅښه،

ما په توبره کې وربشې ورته لمدي کړي.
لږ خندوروسته شپه شوه، اوښ دخوزانو په ژوولو بوخت و. آس په توبره کې خو لـه ننه ويستې وه او اور بشې بې ژوولې، عاصم له عبادسره ناست و او دپنير سره بې داوربشې د ودۍ خو نمرۍ خوړې بيا يې اوبه پسې وڅښلې اوبه يخ ريګ کې بې پټې وغځولې دبې

ويل:
اوربلولوته اړتيا نشته، آرام ويده شه، تر نيمې شپې زه پهره کوم.
دعباد سترګې پخوا له خوبه درنې وې، سمدستې پريووت اوويې

ويل:
ګوره چې تاته خوب درغی ماخامخا راويښ کړه، دشپې مهال زموږ يو خامخا بايد پهره وکړي.
ــ ته غم مه کوه، ماپرون شپه ښه خوب کړی دی، اوس که خوب راباندی زور راوړي نو قدم به وهم.
لږ خندوروسته عباد خريده اوبه درانه خوب ويده و، عاصم ستوني ستغ پروت و او ستوريو ته بې کتل، د هغه دخيال مارغه مختلفو لوريو ته الوت، کله به هغه دشام له ګنې ګونې ډکو کوڅو اوبازارونو ته ولاړ اوکله به يې ديثرب دخرما دونو چکرې وهلې، دی نژدې له څلورو مياشتو اوږده سفر وروسته کورته راروان و، چې دلاړې دتږولو ستونزو سره سره دده دغه سفر له اټکل څخه زيات بريالی و.

● ● ● ●

دامن په ورځو کې دعربو په حدودوکې دننه، عاصم خپل خان ډېر خوندي با له، خوله قافلې څخه له بېليدو وروسته دی داحتياط لپاره يوازې دلارې دهغو کلبوتر څنګ تيريده چې خلکو بې ديثرب سره ښې اودوستانه اړيکې درلودې، دی پردې ډېر ښه پوهيده چې په خير اد

خیرت بې کورته رسیدل ددوی دکورنۍ دعزت مساله ده.

اوس له کومې بدې پیښې سره له مخ کیدو پرته خپل کورته نژدې شوی و چې کله به ده فکر کاوه چې یوازې درختونو دپلورلو له درکه به دخپل تره پور خلاص کړم او ددمشق ښکلې توري چې وروښیم نوداولس دقوم هر زلمی به راساندې آفرین ووايي په زړه کې به بې دخوښۍ یوه څپه راپورته شوه خوچې کله به یې خپل کور وریه یاد شو نود هغو خیال د دې یوازې، دښتې نه ډیر ویروونکی و، دده مور په ورکتوب کې دې یوازې پریښې و، دده دوو ورونو پرمیرانه اوزړور-تیا ټول قام ویاړ کاوه هغوی په جګړه کې ووژل شول، پلار یې د یوه خپلوان دناروغۍ دپوښتنې نه پیرته راروان و چې له شانه په بې خبرۍ کې پرې حمله وشوه او ووژل شو، اوس دعاصم دژوندانه تر ټولولوی هدف دخپلوعزیزانو د وینو بدل اخیستل وو، دده دپلار، د ورونو او دتره دزوی اروا وې تږې دې اودغه تنده یوازې دبنوخزرج په وینو ماتیدلای شوای.

دده تره هبیره دښې مټ دغوځیدو له امله دتوري اوچلولو توان نه درلود. دهبیره کشر زوی سالم تر اوسه پورې ځوارلس کلن هم نه و، د هغوی خور سعاد دوه کاله نوره هم ترې کشره وه په دغسې وضع کې د خپلې کورنۍ دحوصلې اوزغم دساتنې او دوژلو شویو داروااو دآرامۍ ټوله ذمه واري دعاصم پراوږوپرته وه.

دی فطرتاً ظالم اووینې تویوونکی نه و، خویه یوه داسې چاپیریال کې یې سترګې غړولې وې چې پرخپل خاندانې اویا قبیلوي غیرت وینه ورکول دیوه ځوا ن لومړنی فرض بلل کیږي دخپل معیوب تره اودهغه دکم عمره اولاد بې وسې ده ته له زغم وتلې وو.

شام ته دتلو نه مخکې یې دهبیره، سالم اوسعادپه مخکې په منات سوګند خوړلی و چې کله زه بیرته راشم نوتاسو به لـه ویاړ اوفخره

داوویلای شي چې موږ لـه خپلو دښمنانو څخه کسات واخیست. او شمعون به هم داپیغور رانکړي چې موږ بې پرورږي یو.

تاسو پردې مه خپه کیږئ چې زموږ دقام مشران له دې جګړې څخه ستړي شوي دي رما باوردی چې ددوی غیرت به بیرته را ژوندی کړم. او اوس یې ددښتې په ساړه ریګ کې پښې غځولې وې اودا چورتونه یې وهل چې دغه نوبې توري به چې لـه شام نه یې راوړې دي ډیر زر دهغو خوانانو په لاسوکې وي چې دقام ډیره یوه وژل شوي دوینو د بدل ژمنه به کوي ،بیا به هیڅ عرب زموږ راتلونکیو نسلونو ته دا پیغورورنکړای شي چې ستا سو نیکونه دومره بې غیرته وو چې ددښمن په وینو یې دخپلو عزیزانو دا رو او تندې ماتي نکړای شوې.

خوددې پای به حه وي؟

آیا زموږ په بدل اخیستو به دغه جګړه پای ته ورسیږي؟

نـه،دا جګړه به پای ته ونه رسیږي ، زموږ دغیرت اوننګ غوښتنه داده چې دخپلو عزیزانو داروار دتندې ماتولو لپاره دخپلو دښمنانو وینې ورته وراندې کړو .بنو خزرج هم همدغه حال دی. موږ دواړه په یو ډول ددې جګړې دوام ته اړیو ، دا دبدل پریدل لړې به دوام لري، تر څه وخته به دوام لري؟

دعاصم به ذهن کې ددې پوښتنې خواب نه و.

هغه ددغه ذهني کشمکش په حالت کې تر ډیره پورې پروت و .بیا یې پام د اوس اوراتلـونکیو تر خو حقایقو څخه واړاوه اودماضي په خیالونو اوخوبونوکې یې پناه واخیسته ، ده ته پخوانۍ هغه ورځې وریادېدې چې اوس اوخزرج دامن ناکوګاوندیو په څیرژوند درلود اوده به دخزرج لـه هلکانو سره یوځای لوبې کولې هغه وختونه دیثرب دخرما بڼو نه څومره ښکلي ښکاریدل ، هغه مهال به په کلیو کې څومره ګڼه ګونه وه.

دخپل ماشوم‌توب له ملګريو سره شرارتونه اوشوخی چې عاصم ته وريه ياد شول پرشوندو يې موسکا وغوړيده، ددښتې هوا اوس ښه سړه شوې وه، دی داور دبلولويه اراده راجګ شو خوناڅا به يې له لرې کوم آواز ترغوږ و شو اودی څټ شو بوه اوبل لوري ته يې وکتل ، لږ خند وروسته يې داهسې وهم وګانه دلرکيو دانبار په لوړ ورغی خوڅوغړونه يې نور هم واوريدل اوده په بيره خپله لينده اوغشی راواخيستل او عباديې راوېښ کړ او ورته ويې ويل:

لږ پام کوه ما له غونډۍ اخوا نه څه غږونه واوريدل ، امکان لري چې کوم کاروان تيرېږي زه ورځم ګورم چې څه خبره ده.

عبادجګ شو خپله وسله يې برابره کړه ، عاصم ګړندی پرغونډۍ وختوت چې څوکې ته ورسيد دلمبو په رڼا کې يې څو تنه او اسونه وليدل، دغه کسان پر اور راچاپيره دکيناستلو پرځای دريدلي وو او په څه خبره يې بحث کاوه عاصم ورو ورو وړاندې ورغی اوله غونډۍ نه راکوز شو.

خو دتلو پر ځای پر رغړيدو وړاندې ورغی.

چا په لوړ غږ چيغې وهلې:

ما تاسو ته هيڅ تاوان نه دی رسولی، زه په عزی او منات سوګند خورم چې داهسې بهتان دی، دروغ دي ، په ويدو دچالاس اوښې ترل نامردي ده.

بيا بل غږ اوچت شو:

ته دروغجن يې، ستالات اوعزی هم دروغ دي.

- زه ستاسو سوګند خورم دموسی "ع" پرخدای "ج" سوګند ودرېږئ! زما خبره واورئ، زه بې ګناه ميم ، ماهغه ديره غلام سره په شرمونکي حالت ليدلي وه څکه يې پرما داتور ولګاوه.

- ته دروغجن اومکار يې!

- په یاد ولرئ زما قوم به دیثرب له ټولو یهودیانو څخه بدل واخلي.

دوه تنه تېښتي شول او بل شوي لرګي یې را پورته کړل، تر هغې وروسته دېرلېسې وهلو اود وهل کېدونکي چیغې اوچتې شوې.

عاصم ته داهر څه یوه معما وه، ده هغو خلکو دخبرو څخه بوازې دومره وپوهیده چې کوم سړی چې د بول کېږي هغه تړل شوېدی او دبرونکي یې یهودیان دي . خو شیبې یې پریکړه ونکړای شوه چې دی څه وکړي ، دیوه اوږده اوستونزمن مزله نه وروسته چې اوس خپل وروستي پړاوته نژدې شوی و دایې نه خوښیدل چې له کوم خطر سره لاس او ګریوان شي.خو دیوه بې وسه انسان ددرد ناکو کریکو په اوریدو دده دغیرت رګ راوېښ شو ناڅاپه یې دیوه سړي پښې ټنبه کړې او غیشی یې وویشت .سړی ټپي شو او دهاې چیغه یې له خولې ووته لرګی یې وغورځاوه عاصم په لینده کې بل غیشی کیښود اوپه لوړغږ یې دویل:

بې همتو خبر دار ! تاسو زموږ په دم کې یاست ، دا خل به ستاسو زړونه زموږ دغیشو ښه وي

یوه شیبه چوپه چوپتیا واکمنه شوه، بیا یو سړي وتښتید او پرخپل آس یې پښه واړوله چیغه یې وکړه:

ښبانه راغلل تښتئ!

دستر ګو په رپ کې خلورواړه سپاره وتښتیدل او په تیارو کې ورب شول.عاصم دلمبو په لور منډه واخیسته ، هلته یو سړی چې په رسیو تړلی و او سر اومخ یې په وینو اوخاورو ککړ وو یې سده پروت و دتښتیدونکیو پنځه اسونه اوپرسامان بار دوه اوښان پریوتیو تړلي وو، بل شوی اورته نژدې یو داوبو مشک اودخوړاک خرلوښي پراته وو.

عاصم داوبوله مشکه دزخمي پرمخ څو څاڅکي وروشیندل، هغه له لږ زګیر وروسته سترګې وغړولې اوپه دردناک غږ یې وویل:
زه بې ګناه یم ، زما لاسونه اوپښې خلاصې کړه غواړم ولاړ شم،
عاصم هغه ترمټ ونیو اوڅټکې یې ورکړې!
ستادښمنان وتښتېدل، نور تاته څه خطر نشته.
تېبي په خیر عاصم ته وکتل اوبیا یې سترګې پټې کړې عاصم دنژدې پرتو لوښو نه یوه خاورینه پیاله را پورته کړه او له اوبو یې ډکه کړه دهغه پرشونډو یې ورکیښوده، هغه بیله دې چې سترګې وغړوي څو غوړپه اوبه وڅښلې ، د هغه له سر اوتندي نه وینې روانې وې، عاصم یې چپنه وشلوله اوټپونه یې وتړل، بیا یې خنجر راویوست دهغه دلاسواو پښو پړي یې وشلول تر دې وروسته یې یو ټوکر په اوبو کې لوند کړ او دمخ اوتندي وینې یې پرې پاکې کړې.
تېبي په بیره دهغه لاس ونیو عاصم تسلې ورکړه او ورته وې ویل:
وېرېږه مه زما دوسته! زه به دې نه خوروم.
تېبي وویل:
ماته دې پناه راکړه ؟
- هوکې! افسوس چې زه پروخت راونه رسېدم.ته څوک یې او دغه کسان څوک وو؟
تېبي دهغه دپوښتنې دخواب پرځای وویل:
تاویل چې اوس تاته هیڅ خطر نشته!
- هوکې ته باید پرما اعتماد وکړې.
عاصم په لانده ټوکر دتېبي مخ ور ومینځه وې ویل:
زما دپوښتنې خواب دې رانکړ! مادرنه ویوښتل چې څوک یې؟
تېبي سترګې وغړولې خواب یې ورکړ:
ته ماپیژنې چې زه څوک یم.

عاصم دلمبو په رڼا کې په خیرهغه ته وکتل اوپه زړه کې یې دخپګان، کرکې اوسپکاوي یو تریان احساس کړ اوجګ شو.

داعمیر بن عدي و چې دهغوی کورنۍ اوقبیله دهغوی دکورنۍ اوقوم دوښو تږي وو، عاصم حیران دریان ولاړ و اوداسې یې ګڼله لکه دهغوی دکورنۍ دمړیو ارواوې چې ددوی دمړیو پراروا او ملنډې وهي.

اوده له قبیلې سره بدلوظې کړې وي.

عمیر خپل لاس ور اوږدکړ اودعاصم پرښنو یې کیښود اوپه زاریو ته ورته لهجه یې وویل:

عاصمه! تا ماته پناه راکړې ده.

اوعاصم داسې په اندېښنه شاته ولاړ لکه کوم زهر لرونکی مار یې چې پرښنو تیرشوی وي.

عبا: له څوکامه لرې څخه غږېرې وکړ:

عاصمه! ته خو روغ یې؟

هغه ځواب ورکړ.

زه روغ یم، ته باید همالته پاتې وای!

عباد ور ننوت، راغی یوښتنه یې وکړه:

دا آسونه دچا دي. داخوان څوک دی؟

عاصم ورته د شو خپله لینده یې راپورته کړه او ورته یې وویل:

زه خبر نه یم، راځه چې ځو!

عمیر په دردونکې لهجه وویل:

عاصمه! ځه ته غواړې له ما نه بدل واخله، زه د هغه یهود پانو پرخای ستا پلاس وژل کیدل غوره بولم.

عاصم بیا په دې چې څه ووایي له هغه ځایه روان شو.

عباد له یوې شیبې دریدو وروسته ورپسې روان شو.

عمیر راجګ شو او چیغه یې وکړه:

عاصمه ودرېږه ! ما درسره بوزه ، دلته دښپې لیوان مانه پرېږدي ، ما پخپلو لاسوووژنه! عاصمه، عاصمه! هغه تېرېدلی څوګامه واخیستل خوېرمخې ولوید.

عاصم ودرید ، عبادته یې وکتل اوویې ویل:

عباده! دا دعدي زوی عمیر دی ما یو بې وسه اومظلوم انسان ګانه اوپناه مې ورکړه، اوس لاس نشم پرې اوچتولی خو له ده سره مرسته کول هم زما دوس خبره نه ده، زه برازې داغوارم چې وپوهېږم چې دی بې وژلو هغوی څوک وو؟ ته آس او اوښ راوله زه به دلته درته انتظار کوم.

عباد وویل:

که تاپناه ورکړېږ دي نودمره به یادلره چې دهبیره وراره او دسهیل زوی یې.

عاصم په غوسه شو ویې ویل:

ته درځه ، زه غوارم چې همدااوس له دې ځایه روان شو نورزه خوب ته هم اړتیا نه لرم.

عباد ولاړ اوعاصم بیرته راغی اودعمیرسرته ودرید ،عمر پر مخې پروت و ، عاصم غږ پرې وکړ:

عمیره ! عمیر ه! عمیر هیڅ ځواب ورنکړ ، عاصم ورتیټ شو دهغه په رګونو یې ګوتې کیښودې ، هغه ژوندی و عاصم هغه راجګ کړ او پل شوې اورته نژدې یې خملاوه، لرګي به سکروتو بدل شوی وو ، عاصم دیوه اوښ کته راواخیسته پر سکروټویې کیښوده.

چې داورلمبې اوچتې شوې نوعمیرته یې وکتل.

عمیر زګیروي وکړ اوسترګې یې دغړولې ، یوه اوبل لوري ته یې وکتل اوبیا یې سترګې دعاصم پرخیره بنخې کړې،اوپه کمزوري غږ

یې وویل:

زه پوهیدم چې ته به ماپه دې بې وسې کې پرې نږدې یوخل دې په یاد دي چې دشمعون به مخکې دې وویل چې هغه ورځ لرې نه ده، چې بنو اوس او بنی خزرج سره یوشي او دیهودیانو پرخلاف وجنګیږي، زماباور دی چې اوس هغه ورځ لرې نه ده.

عاصم په سره لهجه وویل:

زما له تاسره هیڅ خواخوږي نشته، زه غواړم پردې وپوهیږم چې داڅوک ووچې غوښتل یې تا ووژني؟

هغه دخیبر دیهودیانو څخه دشمعون کوم خپلوان و. اونوریې نوکران وو زه به مې توله کیسه درته وکړم ته لږ اوبه راکړه.

عاصم جګ شو اوبه یې پرې وڅښلې اوعمیر خپله کیسه پیل کړه:

دغه یهود یان له خیبر څخه دآسونو داخیستولپاره راغلی وو او دشمعون میلمانه و. کله چې دوی اسونه واخیستل شمعون ماته وویل چې دوی تر خیبره ورسره اوبیرته راشه، زما پلار دشمعون دباتې پور دادا کړلو بندوبست کړی و اوزه په همدې اونۍ کې دده څخه خلاصیدم او خپل کورته روان وم، خوشمعون دومره تینګار کاوه چې زه مجبور شوم ترخیبره له دوی سره تلوته تیارشوم یهودي له خپل خانه ماته دمناسبې مزدورۍ وعده هم راکړه ، دغه پریکړه دشپې پروخت وشوه.اوماغوښتل چې له تلو مخکې کورته ولاړ شم اوبیا بیرته راشم خوزموږ کاروان د شپې په وروستۍ برخه کې وخوځیده او مامې دخپل کور خلکو ته دا ونه ویلای شوای چې زه خیبرته ځم. دغه ځای زموږ دوهم پړاو و .

موږ دلته له لمر لویدو وروسته راورسیدو. د دوی له خوړلو وروسته یهودي ماته وویل:

ته ویده شه! دشپې په پیل کې به زما کسان پهره وکړي بیا به

تاراویښ کړي ،زه داور ترخنګ ویده شوم.

لږخند وروسته چا په لغته ووهلم او راویښ یې کړم.

ماچې سترګې وغړولې لاس اوښې مې ترلې وو او یهودي او نوکران یې شاوخوا راته ولاړ وو، یهودي ماته کنځلې کولې او نوکرانو یې دوهلو پیل وکړ.

عاصم وپوښتل:

دخیبر یهودي له تاسره څه دښمني درلوده؟

عمیر ځواب ورکړ.

دهغه له ماسره هیڅ دښمني نه وه،خوشمعون غوښتل چې ماله کور نه لرې چیرته ووژني اوما ته هغه مهال دا معلومه ګړه چې داسې اراده لري،زه تو له کیسه درته کوم ،شمعون دخپلې میرمنې له مرګه وروسته د خیبر دیوې خوانې نجلۍ سره واده وکړ ، هغې بدلمنې نجلۍ دده له غلام سره ناروا اړیکې پدا کړې ،یوه شپه ما هغوی له کوره بهر په باغ کې یوځای ونیول، هغوی زما پرښو راپربوتل زما تر هغې ښځې دغلام په بې وسۍ زړه وسوځیدما وعده ورسره وکړه چې که بیا غسې شرمناك کار ونه کړی نو دا راز به مو افشا نه کړم.تر هغو وروسته څو ورځې په خیرت تیرې شوې خو بیا دشمعون ښځې ماته دخان رانژدې کولو هڅې پیل کړې ،یوه ورځ شمعون او دهغه زوی ښار ته تللی وو اوما په بڼ کې کار کاوه هغې نوکره راواستوله اوورویې بللم ، خو مادشمعون په غیاب کې دننه ننوتلو څخه انکار وکړ، دشپې مهال زه له درشل څخه بهر پروت وم چې هغه ماته راغله،

هلته نژدې دوه نور نوکران هم ویده وو. زه دبې عزتۍ له ویرې وتښتیدم اونیغ خپل کور ته ولاړم.

بلارته مې وویل چې نور دشمعون کورته نه ځم ، خکه خوبې سمدستي دپور دادا کولو بندوبست وکړه هغه وعدۍ راسره وکړه چې په

همدې اونۍ کې به يې پوره ادا کړم خو اوس ته بیرته ولاړ شه.

ما اندیښنه درلوده چې دشمعون میرمن به له مانه دبدل اخیستو لپاره کوم تور رابانديې ولګوي.

هغې ماته دغسې ګرانبونه کړي هم وو. خکه خودخپل پلار پرتینګار برسیره بیرته ورنه غلم.

خودې ورځې وروسته شمعون بخپله راپسې راغی اودهغه له خبرو نه زما اندیښنې لرې شوې، زما پلار چې زه ورسره استولم دادیې راکړ چې زر به دېره له پیسو سره درشم اوتابه بیرته راولم چې له هغې وروسته يې دریمه ورځ به دې سفر راواستولم دلته چې دې خلکو ماته کنځلې پیل کړې نوپوهیدم چې شمعون ولې زما به رالیږلو دومره زیات تینګار کاوه او اصل هدف یې څه و. دې خلکو به واروار پرماتور لګاوه چې ما داسې جابرعزت لاس اوچت کړی دی چې هغه زه دزوی په څیر پاللی یم.

یهودي یې خپلو نوکرانو ته امر وکړ چې ما ووژنې اوله لاري نه مې لرې چیرته ښخ کړي، په دې وضع کې چا وېلای شوای چې ته به زما دژغورنې لپاره رارسیږې، یهودي ویل چې منات اوعزی دروغ دي اومنات اوعزی ته راواستولې عاصمه! وعده راسره وکړه چې دلته مې مرګ ته یوازې پرې نږدې اورانه ولاړ نشې.

عاصم خواب ورنکړ اوعمیر دمایوسی په حالت کې سترګې بندې کړې تر لږه خنده چوپتیا شوه بالاخره عمیر سترګې وغړولې ویې ویل:

دشمعون به باور راغلی وي چې زه وژل شوی یم.

اوزه خبر نه یم چې اوس به زما په غیاب کې هغه څه دول کیسې مشهورې کړې وي هغه به پرما کوم داسې تور لګولی وي چې زما دقوم خلک به لعنت رابانديې وایي ما دلته یوازې مه پریږده، بخپلو لاسونو مې کیسه ختمه کړه. اومرۍ مې داسې ځای ښخ کړه چې څوک

بې نبنه هم ونه وینې زه ستاله مرستې پرته کورته نشم تلای اوپه دې ویرانه کې مې مرګ حتمي دی.

عاصم عمیرته وکتل او دخپکان په حالت کې یې خپلې شونډې وزوولې ویې ویل:

ته پوهیږې چې زه دې په دې حالت کې نشم پرېښودای.

خوزما یو شرط دی هغه داچې چاته به زما یادونه نه کوې زه دانه غواړم چې دخپل قوم خلك ملنډې راباندې ووهي.

عمر دادمنه ساه واخیسته ویې ویل:

ستا شرط مې قبول دی.

عاصم وویل: پرآس سپریدلی شې؟

عمیر چګ شو کیناست ویې ویل:

نه پوهیږم سرمې ډېر خوږیږې، بدن مې سوی کوي، زه به هڅه وکړم!

— دلته زموږ ایساریدل مناسب نه دي زما باوردی چې هغه خلك به دلته شاوخوا چیرته پټ وي اوموږ به څاري.

عاصم اوعمیرتر لږ خنده چوپ وو، په دې کې عباد آس او اوبن هم راوستل.

عاصم وویل:

عباده! زه غواړم زر تر زره عمیر دده کورته ورسوم.

ته دغوله آسونو نه یو راوله.

— ودریږه! زما آس ښایې دلته وي زه به پر همغه سپورشم عمیر داوویل اوچګ شو.

سرېې په دواړو لاسونو کلك نیولی ؤ اوتېریدلی په بوټیوکې ترلیو آسونو ته ورغی.

عباد له عاصم نه وپوښتل:

دانور آسونه او اوښان همدلته پرېږدي؟

عاصم ووېل:

نه دا دغنمیت مال دی، دهغو پرې پرانیزه پخپله به په موږ پسې راشي خو که کوم حیوان شاته پاتې شو نه يې غم مه کوه، موږ تر سهاره يو پړاولاره خامخا باید ووهو چې کله لمر راوخيژي چیرته به خو ساعته دمه وکړو. که په لاره کې دده وضعه ډېره خرابه نشوه نو تر صبا شپې پورې به کورته ورسيږي.

• • • •

لمر لویدلی و ، دعدي دکور په يوه پراخه کوټه کې چراغ بل و ، سميرا يوه خوانه ښکلې اوچته پېغله چراغ ته نژدې دجامو په ګنډلو بوخته وه، دعدي کشرزوی نعمان چې دپینځلس کلونو په شاوخوا کې به و هغې ته نژدې ديوال ته تکیه وهلې وه، دعدي بل زوی عتبه کوټې ته ورننوت اونعمان ته نژدې کیناست ويې ويل:

سمیرا! دوې ورځې کيږي چې پردې بوخته يې دا کميس به څه وخت ګنډل کيږي؟

سمیرا ځواب ورکړ:

زه کله ورته وزګاريږم کړی ورځ دکور په کار بوخته يم!

نعمان ووېل: ورو ره ! سمیرا هیڅکله زموږ کميس په دومره مینه نه دی ګنډلی.

— بس ختم دی ! سمیرا په بیړه څوکوکونه و وهل.

بیا يې پرغابنونو تار غوڅ کړ اوستن يې په نژدې تاخچه کې کیښوده، بیا يې کمیس وغوړاوه خپلو ورونو ته يې وښود او ويې ويل:

سهي دی که نه !

دعتبه پرشوندو شریره موسکا راغله ویې ویل:
زما خو هیڅ خوښ نه شو، ځایې دعمیر خوښ شي.
اوس مونږ ته وودی راکړه وړې یو،
– نه بوخل داکمیس واغونده چې زه یې وګورم.
عتبه وویل:
ښه ده خوکه مې خوښ شو بیا یې بیرته نه باسم.
سمیرا ناکراره شوه ویې ویل:
زرکوه هغه به را ورسیږي.
نعمان وویل:
وروره! پلار جان ډیر وخندید مونږ یې بایدبر احوال واخلو.
– هغه به راروان وي، عتبه پرخپل کمیس دپاسه هغه کمیس واغوست.
نعمان وویل:
هی هی داخو ډیر پراخ دی.
سمیرا ځواب ورکړ:
داپه عمیربنه جوړ دي، په هغه ورځ چې راغلی د مایې کچه واخیسته.
عتبه وویل:
سمیرا ته دعمیر ډیر خیال ساتې.
سمیرا په غوسه ورته وویل:
ولې به یې نه کوم! آیا زمونږ پرکورنۍ تر ټولو زیات دده احسان نه دی؟
بهر دچا دپښوغږ اوچت شو، سمیرا اندېښمنه شوه ویې ویل:
هغه راروان دی زرکوه کمیس دپاسه!
عتبه کمیس ویوست او ورېې کړ، عدي کوټې ته ورننوت.

سمیرا لږ ناکراره غوندې شوه ویې پوښتل:

پلاره! ته یوازې راغلې ، ورور دې ولې درسره رانه ووست؟

عدي دخواب پرځای یې سیکه کیناست اوسمیرا او ورونو یې چې دهغه وضعه ولیده وویریدل . څو شیبې په کوټه کې چوپتیا وه بالاخره سمیرا وویل:

څه خبره ده ته ولې پریشانه یې؟

عدي په غریو نیولي غږ وویل:

زما له عمیرنه داسې تمه نه وه.

عتبه وپوښتل:

پلار جانه! عمیر څه کړي دي ، کورته له راتلو نه یې انکار وکړ؟

- که هغه کور ته دراتلونه انکار کړی وای نوزه به دومره نه خوریدم ،خوهغه زه نړی ته وشرمولم، . . .

اوس به یو یهودي هم پر موږ اعتبار ونکړي.

سمیرا وویل:

پلارجانه! ته خو وایه هغه څه کړي دي؟

- هغه دشمعون له کوره دره سوه دیناره غلا کړي دي اوتښتیدلی دی.

- عتبه وویل:

نه پلار جانه! داخبره داعتبار وړ نه ده.

عمیر غلا نه کوي، دده بد ترین دښمن هم پرده دغلاتور نشي لګولی

- نوهغه ولې تښتیدلی ؟ ما به دومره خواریو دشمعون پورادا کړ، یوازې شل دیناره پاتې وو.

هغه مې هم نن ورورې وو اوس به دده په ورکیدو دشمعون هر تور رښتیابلل کیږي.

عتبه وویل:

زموږ دقوم یوسړی به هم داتور ونه مني.

عدي ځواب ورکړ:

زموږ دقوم په منلو او نه منلو هيڅ نه کېږي.

ديشرب يهوديان دشمعون خبره په واک نه غورځوي.

دی به هغوی زموږ پرخلاف وپاروي ، که يهوديانو زموږ سره راکړه ورکړه بنده کړه نو توله پره به يې زما پر کورني ولوېږي.

عتبه وپوښتل:

عمير له څه وخت راسې ورک دی؟

– دري ورځې کېږي چې ورک دی.

دري ورځې ! شمعون تاته احوال درکړی و؟

عدي ځواب ورکړ!

شمعون وايي چې په کور کې دنغدو پيسو کيلې ګانې تل له ده سره وې ورمه ورځ يې کيلې ګانې بيرته ماته راکړې او ويې ويل چې نور مې دڅه زړه نه لګېږي، سبا پاتې پور به به دې درې ځلونو ورځو کې ادا کړو نو ماته اجازه راکړه مايې دايسارولو هغه وکړه خو دومره تېنګار يې وکړ چې راايسار ول مې يې لازم ونه بلل

عمبرا وويل:

هغه يهودي دروغ وايي که عمير دهغه له کوره غلا کړې وای نو په منډه به دلته تا ته راتلو.

عدي ځواب ورکړ:

خوشمعون ويل چې دغلا په باب اوس دی خبر شو زما دوړتلو نه لږ مخکې ځوک دپور لپاره ورغلي وو ده چې دپيسو صندوق، خلاص کړ ويې ليدل چې ددوه سوه دينارو پره کځوړه نه وه

عتبه وويل:

بلارجانما له پره سره دروغ دي ، عمير ويل –

چې شمعون يې پرخپلو زامنو هم اعتبار نه کوي ، دا دده شرارت دی،

که زما وروړتبنتیدای نړیوه کخوړه یې ولې وړه ، ټول صندوق یې ولې نه تشاوه.بیا هغه له کوره پرته بل چیرته تلای شوای؟

عدي ورپل:

بچیه ! زما هم باور نه راځي چې عمیر به داسې کار کړی وي، خو یوه خبره دشمعونُ لورې درنوي اوهغه داچې عمیر ورك دی، هغه نه له شمعون کره شته اونه دلته راغلی ، کوم با شعوره سړی به داونه مني چې بیله څه سببه هغه تبنتیدلی وي.

ترڅو دهغه درك معلوم نشي موږ چا ته به هسکو سترګو خبرې نشو کولی، ته سمدستي دهغه لټون پیل کړه، په دره کې چې ته دده څومره دوستان پیژنې ورشه ، امکان لري دکوم چا په کوم کور کې غلی وي، نعمانه! ته هم ولاړ شه! شمعون ماته څلور ورځې مهلت راکړی دی ، که په دې موده کې غلا شوی دیناروته بیرته پرې ونه سپارل شي نوبه ټوله دره کې به ډنډورې ووهي زه بنار ته ځم ، امکان لري چیرته په شرابو نیشه پروت وي ، یاد کوم جوار ګر په لاس ورغلی وي اوهرڅه یې بایللي وي اوس به له شرمه ځان پټوي، نوکران هم درسره بوزه اوکوره چا ته دامه وایه چې شمعون پرده تور لګولی دی، که چا پوښتنه کوله دومره ورته وایې چې له کوره مرور شوی او چیرته تللی دی.

لومړی دخپلوانو کره ورشه ، وریسې یې دملګریو او انډیوالانو سره پوښتنه وکړه.

عدي جګ شو او بهر ته روان شو ، سمبرا ورپل:

پلار جانه! زما باوردی چې زما وروریی ګناه دی.

که له هغه نه څه غلطي شوې وي نوسختي مه پرې کوه ، هغه کلونه دژوند خوښي نه ده لیدلې اونن کورته راځو.

عدي خواب ورکړ:

ستا نصیحتونو ته زه اړتیا نه لرم، دعا کوه چې هغه ژوندی اوروغ په لاس راشي.

# پنځم باب

له کوزه دعدې او دهغه د زامنو دوئلو پرځای بت وتلی ؤ او سمیرا د چراغ
به رڼا کې بولږې ناسته وه له درد او اخلاص یې دا دعا غوښته چې:
اې منته استا نه د دنیا هیڅ شی پټ نه دی ، تا ته معلومه ده چې عمیر
چیرته دی هغه له مصیبت نه وساته .
که یې غلا کړې وي نو بیرته یې وکره . که دښمنو پر هغه تورلګولی وي
نو ته یې رسوا ، ذلیل او خوار کړې که عمیر بیرته روغ راغلی نو دا نیکې به
دې تر عمره یادوم مزه به هر کال ستا لپاره نذر کوم او قدید ته به ځم ، خو که
دې به دې مصیبت کې زموږ ملګرتیا پرېښوده ، نو هیڅ به درته وانړوم او
د ناپرځای به دلاته عزی او هبل نمانځنه کوم.
کوز به کوز به وګرځم او دا اعلان به وکړم چې څوک له تا نه د نیکۍ تمه
کوي دا یې بې عقلي ده.
ای منته اکه دې مرسته راسره ونه کړه نو خلک به ملتدې دریاندې
. ووهي.
سمیرا څوځلې ددې خبرو له تکرار ورورسته چوپه لو آیله ناسته وه،
ناڅاپه یې تر بهار تر غوږ شو، په منډه بهر ته راووته په انګړ کې ویرجیده
دلسونو دېښو تر بهتر دی
ددې بلار او ورونه پلې له کوزه وتلي وولو دې دهغوی له رخصتولو
ورورسته دکوز بهر نې دروازه تړلې وه . لوس به خیال کې ور وګرځیدل چې

دا عمير نه وي، په منډه دبهرني دروازې په لور ولاړه آس ددوى ددروازې
مخې ته ودريد اوسميرا په ويريدلي غږ ترې وپوښتل:
څوك يې؟
چاله بهر نه وپوښتل:
دادعدي كور دى؟
دې په اندېښنه ځواب وركړ:
هوكې! ته څوك يې؟
له بهر نه غږ وشو:
دروازه خلاصه كړه، ما عمير راوړى دى، چې ټپي دى
ديوې خور مينه ناڅاپه پر هره ويره برياله شوه اوسميرا سمدستي
دروازه خلاصه كړه.
عاصم پرآس سپور ؤ اوعمير يې په مخكې نيولى ؤ،
سميرا په درد ناكه لهجه وپوښتل:
زما ورور چيرې دى؟
– ويريږه مه دى بې خوده دى خودخطر خبره نشته نه كوم نارينه ته
غږ كړه.
سميرا وويل:
اوس دننه هيڅوك نشته، تاسو دننه راشئ.
عاصم دننه ورغى اودكور د دروازې په مخكې يې آس ودراوه ويې
ويل:
لږ يې تكيه كړه!
سميرا په دواړو لاسونو عمير را ټينګ كړ ،عاصم له آس ښكته پلي شو
هغه يې پراوږه واراوه او ويې ويل:
تاسو ده ته بستره وغوړوئ!
سميرا په منډه كوټې ته ولاړه اوعاصم عمير ورسره واخيست او ورپسې

شو.

سمیرا په بېړه پرېوه کټ بستره وغوړوله او عاصم عمیر خملاوه، د چراغ په رڼا کې چې سمیرا دعمیر په وینو سرې جامې ولیدې حیرانه ودریده، بیا یې عاصم ته وکتل او وېې ویل:

دې چا ټپي کړی دی؟ تاسو دې له کوم ځایه راوستی دی له څه وخته راسې بې هوښه دی؟ نه څوك یې؟ بیا یې عمیر تر مټ ونیو او چتکی یې ورکړې ویل یې:

ورور جانه! ورور جانه!

عاصم ذې ته تسلي ورکړه وېې ویل:

ته مه وېرېږه! ورور به دې اوس راپه خود شي.

سمیرا په ډېر زحمت خپلې سلګۍ راتم کړې وېې پوښتل:

ستا باور دی چې دی به خطر کې نه دی؟

- زما باور دی.

سمیرا دکوټې له یوه کونج نه کرسي راکش کړه او دعمیر دکټ تر څنګ یې کېښوده وېې ویل:

تاسو دلته کښېنئ!

هغه کیناست او له لږ څنډ وروسته یې وویل:

تر اوسه دده له سره وینې څوټېږي، تاسو دپټۍ دپاره لږ پاك ټوکر راکړئ.

سمیرا په منډه دبلې کوټې نه یو څادر راوړ. او دوې ریتاړې یې ترې وایستلې دعاصم په مخکې یې کېښودې، چې دربیمه یې څیروله عاصم ورته وویل:

همدغه بس دې نور د رخت ضایع کولو ته اړتیا نشته.

عاصم دعمیر له سره په وینو ککړې پټۍ راخلاصې کړې سمیرا وویل:

که دزخم داغلو ته اړتیا وي او ربه بل کړم.

ـ زخم ژور نه دی ، یوازې پوستکی څیرې شوی دی.
بیا به زه یوه دوا راوړم چې وینه دروي.
سمیرا دا وویل او بیا یې له تاخچې نه دڅرمنې یوه کڅوړه راواخیسته.
عاصم پټۍ پرانیستې، سمیرا له کڅوړې نه یو پوډر راواخیست پرټپونو یې ودوړاوه، وروسته بیا عاصم نوې پټۍ پرې وتړلې.
عمیر ورو ورو زګیروي وکړل بیا یې څو اوږدې ساه ګانې واخیستې او په کمزورې غږ یې اوبه وغوښتې.
سمیرا داوبو جام ورته راوړ، عاصم دهغه تر ورمېږ لاندې لاس ورکړ او راپورته یې کړ، سمیرا یې داوبو جام پرشونډو ورکیښود، عمیر دڅو غوړپه اوبو څښلو نه وروسته ورو ورو سترګې وغړولې او عاصم یې ورو سر پربالښت کیښود عمیر تر لږ خنډه عاصم ته کتل بیا یې دکوټې پرچت او دیوالونو نظر راوګرځاوه بالاخره یې سترګې دسمیرا پرځیره ښخې کړې ، سمیرا دموسکې کیدو هڅه وکړه او له دې سره یې تر سترګو اوښکې راوڅڅېدې.
وروړ جانه! ما دا اوس ستالپاره دعا ګانې کولې.
عمیر ښېل لاسونه وغځول او سمیرا ښېل سر دده پرټټو ورکیښود.
هغه په مینه دسمیرا پروېښتانو لاس راتیر کړ وې پوښتل:
پلار جان چیرته دی؟
سمیرا ورې ورې سلګۍ وهلې خواب یې ورکړ!
هغه په تاپسې وتلی دی.
عقبه او نعمان چیرته دی؟
هغوی هم ستا په لټون پسې وتلې دي.
عمیر سترګې پټې کړې.
سمیرا له لږ خنډ وروسته وویل:
وروړ جانه! ته چیرته تللی وې ، ولې دې مروته نه ویل چې چیرته روان یې؟ زما باوردی چې تا غلا نه ده کړې او تښتیدلی نه یې شمعون تور د

باندې پورې کړئ دی خوته چېرته وې؟
ته ولې چوپ یې ورور جانه! دې ته اړتیا نشته چې له مانه کومه خبره پټه کړې، که ته دیشرب تول یهودیان لوټ کړې هم زما ورور یې، پلار جان ډېر خپه ؤ خوته غم مه کوه زه به یې بخلا کړم
عمیر خواب ورنکړ، سمیرا سرزاپورته کړ
هغه ته یې وکتل بیا یې مخ عاصم ته وروااړاوه او ویې ویل:
دی بیا بیخوده شو.
هغه خواب ورکړ.
ستاورور خوب ته اړتیا لري که لږ شیدې وي راېې وړه.
شیدې ډېرې دي اوس به یې راوړم، دا یې وویل اوسمیرا له کوټې ووتله.

• • • •

عاصم فکر کاوه چې هغه به کورته ورسوي اوسمدستي به ترې راشي په لاره کې له ده سره تر ټولو ستر ذهني جنجال داوه چې عدي اوهغه دکورنۍ غړي به له ده سره څه ډول چلن وکړي که څه هم تر اوسه پورې دامن ورځې پای ته نه وې رسېدلې خودېئو خزرج کوم کورته دننه ورتلل ده ته له اټکل وتلې خبره وه.
که عمیربې خوده نه وای نوچې کلیو ته رانژدې شوی وای لارې به یې ورسره بیلې شوې وې، هغه فکر کاوه چې تر دروازې پورې به یې رسوي او عمیر به هلته خپل پلار او کورنۍ ته ورسپارې اوترې درومې به ، که چا ترې پو ښتنه وکړه چې خوك یې نودی به خواب نه ورکوي اوآس به پو نده کړي اوهغوی چې عمیر په هغه وضعه کې ووینې نو ماته به زیات پام نه کوي ،خواوس هغه له څه اندېښنې اوپاڼېیمانۍ پرته دخپل دېمن کره ناست و، دایو خوب و، له باور څخه لرې خوب .
دسمیرا دلیدو نه وروسته ددې خوب تریخ اوداندېښنې وراځ ورو ورو

دده له ذهن څخه ورکیدو، دسمیرا خیره دفطرت دهغو ښکلاو دخلبدو هنداره وه چې دیوې معمولي خلانه یې دلیدونکیو دکتو زاویې اولوزې بدل شي.

عاصم ته یې ددښمن په وړاندې دسخت زړه او بې رحمۍ روزنه ورکړې وه. او له عمیر سره یې دمرستې په هر پړاو کې داسې احساسوله چې له خپلو قومي روایاتو سره خیانت کوي.

خواوس دده په ذهني حالت کې یو نه اټکل کیدونکی بدلون راغلو، چې کله ده سمیرا داندیښنې اوخوږ په حال کې ولیده نو په خپل ذهن کې بې دتکلیف او درد یوه څرپکه تیره شوه، او دعمیر په راپه خود کیدو چې سمیرا موسکۍ شوه ده هم یو ډول سکون او ارامي احساس کړه، ده لږ څند داهېر کړل چې سمیرا دده دښمن لور ده او دوی دواړه تر یوه چت لاندې داوسیدو لپاره نه دي پیدا شوي، خودغه حالت یې تر ډېره وخته دوام نه درلود، هغه شیبې چې په تېرو ترخو وختونو برلاسې شوې تېرې شوې اودا تولې پېښې ده ته دیوه خوب پرخای بې حقیقته ښکاره شوې.

دی جک شو اوغوښتل یې چې په منډه راووزي خوسمیرا دشیدو له دیګ اوګیلاس سره ورننوتله،

او ویې ویل:

سنا آس مې په طبیله کې وتاړه او وابنه مې ورته وا چول، ما زین هم ترې لرې کړ، تا ته مې هم شیدې راوړې شات مې یکې اچولي دي، وږدن جان مې شات ډیر خوښوي، تاسو داواخلئ!

عاصم دعمیر مټ وخوځاوه، هغه بیله دې چې سترګې وغړوي وویل:

خوب ته مې پریږدئ!

عاصم هغه په زور راپورته کړ او ویې ویل:

آشنا! خور دې شیدې راوړي لږ وڅښه!

عمیر په خوبوړي حالت سترګې وغړولې دسمیرا له لاسه یې دشیدو پیاله

واخسته څولوي لوي غوړیونه یې وکړل او بیرته خملاست.
سمیرا وویل:
وروور جانه! یوه پیاله بله هم وڅښه!
عمیر سترګې پټې کړې په بل لنډ واوښت او ویې ویل:
نه. نه مامه خوروئ.
سمیرا دشیدو ډکه پیاله عاصم ته وړاندې کړه.
څو هغه خواب ورکړ.
نه نه. زما ورته ارتیا نشته.
سمیرا په معصومانه لهجه ترې وپوښتل!
ته شیدې نه څښې؟
څښم یې خو اوس اشتها نه لرم.

— داغلطه ده زه له وړوکتوبه خپل پلاراو وروڼو ته ډوډۍ پخوم اوزما تجربه داده چې نارینه چې په هر عمر وي لوږه یې له خیرې ښکاري، ستا څیره هم فریادکوي چې بوخه باید وخورې.
عاصم سمیرا ته وکتل او هغه موسکۍ شوه ویې ویل:
داواخله! زه اوس ډوډۍ هم درته راوړم.عاصم ته دسمیرا په خلیدونکیوسترګو کې هیله تر حکم هم اغیز منه وه او له لږ زړه نازړه توب وروسته یې پیاله دهغې له لاسه واخیسته، سمیرا دخپل وروز دپښو لوري ته کیناستله.
عاصم شیدي وڅښلې اوپیاله یې بیرته ورکړه ویې ویل:
تاباید زما لـه آس نـه زین نـه وای لرې کړی ، ما بوازې ستا وروږ دلته راورساوه ،غواړم همدا اوس بیرته ولاړ شم.
سمیرا دشیدو یوه بله پیاله ورته ونیوه او ویې ویل:
واخله! ستا څیره ماته داهم وایي چې ډیر ستومانه شوی یې اوښایي له

خو شپږ اسې نه وې ویده شوی ، خکه مې ستا لپاره په بله کوټه کې بستره هم وغوړوله ، زه پر یوه خبره پښېمانه یم ، مالومږی ونه لیدل چې نه هم نبي یې زه مې ورور ته ډېره پرېشانه وم .

– زه نبي نه یم .

– مګر پرتو دې کمیس په ونو ککړ دی .

– ولستا د ورور وینې دي ډېره لاړه مې په ځیږ کې کلک نیولی و .

– زه خوښه یم چې نه نبي نه یې داواخله !

– مادیرې وخښلې نور تبنګار مه کوه . اجازه راکړه چې ولاړ شم

– سمیرا پیاله یرې خوا ته کښېښوده ویې ویل :

– میلمه زموږ له کوره په نیمه شپه کې نه ځي ، او چا چې زما ورور ځان ژغورلی وي هغه هسې عادي میلمه هم نه وي ، تاسو زما د پلار ځان له لیدو پرته نشئ تلای ، هغه به له مانه ډېر خپه شي .

عاصم جګ شو ګې ویل :

زه دلته نشم پاتې کېدای .

– ولې ؟

– ستا ورور ته معلومه ده .

– سمیرا په خپګان وویل :

که ستا ټک ضروري وي نه دې اېسارووم ، خو تاسې د پېښنې ځواب رانکړ ، ته څوک یې . له کوم ځایه راغلې ، چېرته ځې او ورور مې دې چېرته ولید ؟

عاصم ځواب ورکړ :

ته ما یو سرګردانه مسافر وبوله

سمیرا وموسکل ویې ویل :

د شپې سرګردانه مسافر باید د سهار د رڼا انتظار وکړي . کوره که د خپل ورور په باب داده وای نو ته به مې د پاتې کېدو ټینګار نه وکړی زه په کور

کې بوازې یو اوامکان لري دشپې مهال مې ستامرستې ته اړتیا شي
عاصم ځواب ورکړ:
ستا ورور یوازې خوب ته اړتیا لري ځوساعته چې ویده شي وضعه به یې ښه شي، هوښتیا یوه پوښتنه درنه کوم، شمعون ستا پرورورڅه تور پورې کړی دی؟
ته شمعون پېژنې؟
- هو کې
هغه ویلې دی چې زما ورور غلا کړې اوتښتیدلی دی.
- دادروغ دي، ته دې پلارته تسلې ورکړه چې عمیر څه غلا نه ده کړې.
دسمیرا سترګې له خوښۍ وځلیدې اوویې ویل:
زما باور دی چې شمعون دروغجن دی، خودی داسې ناڅاپې چیرته ورک شوی و.
- زه یوازې دومره درته ویلی شم چې شمعون غوښتل دی له دې ځایه چیرته لرې ووژنې.
- اوتادی له مرګه وژغوره!
هسې تصادفي زه په هغه لاره راتلم، او دی یې چې واهه هغوی زما په لیدو وتښتیدل خوته چامه وایه چې دشپې یوه ناآشنا سړي ستا ورور دلته را ورساوه او ولاړ.
- ولې؟
- ستاورور به درته ووایي چې په دې کې څه مصلحت دی، ګوره چې هغه راپه خود شو زما له لورې ورته ووایه چې کوم خاروي مرچې په لاره کې په لاس راوړل دهغو نیمایې ستا برخه ده چې ته څه وخت وغواړې برخه به دې کورته درته راورسول شي. عاصم دا وویل او ددروازې په لور ولاړ.
سمیرا وویل:
ودرېږه زه درسره خم بیا یې یوه شمعه راجګه کړه دچراغ نه یې بله کړه او

له عاصم سره روانه شوه. ډیراخ انګړ په یوه کونج کې تر څېره لاندي دعاصم
له آس سره دري نور آسونه هم تړلي وو او ورسره نژدې یې زینونه هم ایښي
وو، عاصم دآس له قبضې کولو وروسته زین پرې وتاړه سمیرا وویل:
ته لري چېرته روان یې، که دښمن ۱ پسې وي نو تیښتې ته دې لې
تیانشته، پلار جان به پناه درکړي. زموږ ټول قام به دې مرسته وکړي.
دغه معصومې خبرې دعاصم دزړه تل ته کوزې شوې،
سمدستي یې دخبرو دموضوع بدلولو ارتیا ولیده پوښتنه یې وکړه:
ستانوم سمیرا دی؟
هوکې تاته څه معلوم شو؟
اوس عمیر تاته همدا نوم واخیست.
سمیرا وویل:
ته مې چې ولیدې ووېریدم، که مې ورور یې سده نه وای کړنه به مې ز
دښه رابللو جرئت نه وکړی، لومړی خل مې چې دډیوې په رڼا کې ستاڅېره
ولیده هم ویره مې احساسوله، خواوس نه درنه ویرېږم
عاصم زین کلک کړی و، پرې یې راخلاص کړ او دآس پرغاړه یې
وراچاوه ویې ویل:
ته دیوه ناآشناپرڅېره باید تیر نه وزې، امکان لري هغه ستا دښمن وي.
سمیرا خواب ورکړ:
که ته زموږ دښمن وای هم، ستا دخبرې به لیدو به مې دویرې احساس
نه کاوه.
عاصم آس تر جلب ونیو او له څېرې یې راویهت او سمیرا یې په مخه
کې روانه شوه ناڅا په دشمال پر څپه دیوه مړه شوه، انګړیه تیاروکې ډوب
شو، سمیرا دیوه لاندې کېښوده او دواړه چوپ دروازې لوري ته روان شول،
عاصم څو شیبې مخکې غوښتل له هغه ځایه وتښتي، اوس زړه نازړه ولاړ
و، سمیرا وویل:

زه نه پوهیږم چې ستا څه مجبوري ده، له کومه ځایه راغلې یې او چېرته درومې؟ زما د کور خلک به پر دې افسوس کوي چې ستا د نېکۍ بدل یې درنکړای شو

- نه بیا زموږ کور ته نشې راتلای؟
- نه!
- ولې؟

عاصم له لږ ځنډ وروسته ځواب ورکړ

د هرې پوښتنې ځواب آسانه نه دی

- نو زه هیڅ درته نه پوښتم. زه یوازې دا درته وایم چې د دې کور اوسېدونکي نېکي هېرونکي نه دي. زموږ دروازه به تل ستا پر مخ خلاصه وي

د عاصم زړه ښه ښه کېده. په دردناکه لهجه یې وویل:

اوس غواړم چې تر ټولو مخکې ستا له اندېښنه لرې کړم

خو دا خبره یوازې ستا د خوړونو لپاره ده. زه داوس له قوم څخه یم لو زموږ تر منځ د رښتود بنسټ او داوند غوړونه ولاړ دي. ته ووېل چې د نیا دې شپې مساپر باید د سهار رڼا ته انتظار وکړي

خو موږ چې د کومو ویروونکو شپو مسافر یو هغه نه یې زموږ په ژوند کې پای نه ونه رسېږي

سمیرا تر لږ ځنډه خوږند سر ولاړه وه. بالاخره یې په ژړغوني غږ وویل:

ورځه!

عاصم ببله دی چې څه ووایې په درنو درنو ګامونو له پټلۍ نه ووت او بیا یې مخ راواړاوه او انګړ ته یې وکتل. سمیرا چوپه پر خپل ځای ولاړه وه عاصم پر آس پښه واړوله نو سمیرا په لړزېدلي غږ وویل:

ودرېږه!

هغه ودرېد. سمیرا څو ګامه وړاندې ورغله او بیا ودرېده. بیا په منډه

هغه ته نژدې ورغله وبې ویل:

زما له دې سره کار نشته چې ته څوك يې؟خو زما له ورور سره دمرستې منته درنه کوم که ته د اوس له قام نه يې نو دا نیکي دې نوره هم پرموږ درنه شوه.

عاصم وویل:

اوس پردې ستا پوهولو ته اړتیا نشته چې موږ بیا په ژوند کې بوبل نشولیدلی، خوزه به ستا سره داخوشیبې بوخای تیرول تر عمره هیرې نه کړم . اوس زه پردې اعتراف هیڅ شرم نه احساسوم چې که ته دعدي لور اوزه دسهیل زوی نه وای نوستا بوه وزوکې اشاره به ماته دحکم په معنی وه.

-زه پردې ویاړم چې دعدي لورېم. خوله نن وروسته به زه له تا نه کرکه ونکړای شم. درخه زه دبن تر پایه درسره خم اوبیرته راګرځم.

دوی روان شول . عاصم وویل:

ته چې وپوهیدې چې زه دسهیل زوی یم اوس هم نه زانه ویریږی؟

هغې ځواب ورکړ:

نه. زما باوردی چې که له دې بن نه دځناورو رمه راووزي هم نوته به مې ترې وژغورې . کشکې ستا خبره داسې وای چې زه ترې ویریدای.

دوی چې دباغ ورو ستی خندې ته ورسیدل ودریدل.

عاصم وویل:

اوس دامن لږ ورځې پاتې دي له هغو وروسته به داوس او خزرج خلك بیا خپلې توزې تیروي.

سمیرا ځواب ورکړ.

دامن دورځو له پای ته رسید وروسته زه دانه درته وایم چې توره دې مه تیروه . اوس اوخزرج خپل برخلیك نشي بدلولی. خو اوس دې ته اړتیا نشته چې په وار وار ماته دا ووایې چې ته مې دښمن یې:

- ته نه پوهیږې چې زه ولې په وار وار دا درته وایم؟

- واوره! زه داسې احساسوم چې موږ په ناپامۍ کې په خوشبوکې دننه د ډېرو خطرناکو لارو ډېر برا ورونه وهلي دي. تقدير زما سره ټوکې وکړې.

- او ته باید داهغه ونه کړې چې دا ټوکې وروستۍ خندا ته ورسېږي

- ورخه سميرا! چې ته کله پردې ښه غور وکړې نو دا پېښې به پخپله هم ټوکې درته ښکاره شي

ته به زما پرېږې عقلي پوزې وخاندې خوزه ښايي وخندلی هم نشم.

خو سمیرا له خپل خابه ونه خوځېده هغه چوپه ولاړه وه او عاصم ته يې کتل. عاصم به تيارو کې هم د هغو دسترګو رڼا احساسولی شواي.

هغې وويل:

نو ته سره له دې چې د سهيل زوی یې د عدنې له لوز نه کرکه نه کوې؟

عاصم خواب ورکړ:

زه چې د سهيل زوی یم بيا هم يو انسان یم هيڅ انسان له نانه کرکه نشي کولی. خو زما له کرکې کرلو او يانه کرلو نه څه جوړېږي زموږ لارې له يو بل نه بېلې دي. له نن وروسته به موږ يو بل ونه ليدای شو. دېښو کوم خوزونه چې زموږ په منځ کې شته ورو ورو به سوړ ورشي

- کله کله يو انسان د خپل دښمن ليدو ته هم ناکراره شي

- هو کې!

- نو آيا دانشي کېدای چې کرم وخت ته زما ليدو ته ناآرامه شې؟

عاصم خواب ورکړ:

که ته دا خپل برې بولې نو زه به دې ويلو خوزنه احساسوم چې تل به دې دليدو لپاره ناکراره وم

زه به هغه مهال هم ستا دليدو هيله لرم چې زما توره ستا دوروڼو له تورو سره ټکر خوري.

سميرا خواب ورکړ:

ستا توره به زما دوروڼو له تورو سره ټکر نشي

- ته ما ډېر غیرتي او بې همتې بېغوره نښې ژاګوله
- نه که بې همته وای زما ورور به ډېر کورته نه راوړ.

ته ووېښو له لښکر او داور له څرڅو راتېر شوي یې او ډانه راغلی یې. دې کار ته ډېره صبره حوصله په کار ده زه ته پوهېږم چې سبا ته به مې احساسات څه ورل وي. خو که زه د خپل ورور د ښمن د لښو لباره ته کراره شوم نو دغه انتظار به کړم. سمبراله یې ته بهر بوتي څرندی ته اشاره وکړه ویې ویل:

دغه څرندی پر سر خو مره روښانه ستوری راځېږي راتلونکي هره میاشت به وسېږي مې به لومړۍ شپه د دغه ستوري له راختو نه وروسته د همدغه څرندي په لمنه کې ستا لاره څارم که ته دکرکې داورله سندر ته به راتېر به او شوې تو خامخا راشه!

عاصم ځواب ورکړ:

که زه تر راتلونکي میاشتې پورې ژوندی وم او د پوه پښکلې د ښمن د نبه او هیلې مې نشوای راټیو کولی نو خامخا به راشم خو د دې پای به څه وي؟

زه نه پوهېږم. زه به عرش. مسات او هبل ته دعا کوم چې مانستلېند و ته ته کړاره نه کړي. خو ته خامخا راشه. امکان لري زما دعاګانې قبولې نشي.

عاصم برابر سپوږ شو تر لږ خنده یې په چوپه خوله سمبرا ته کتل. بالاخره یې وویل:

زه نه شم ویلی چې مسات او عرش ته به زما دعاګانې څه ډول وي پرا ته دومره پوهېږم چې که دې لیرې ته راته ځلم هم د غه لاره به هېره نه کړم ما دې د نوم پوښتنه ونه کړه

- زما نوم عاصم دی. عاصم بن سهیل. خو ستا خبر به ډېر کې دي چې چې ته زما یادونه مه کړه.

- زه وعده کوم چې له دغه ځلېدونکي ستوري پرته دې چا ته یادونه ونه

کړم.

- که هغه ستوري ژبه د زلو دای نو ورته ویل به یې د قوم دښمن دی. ستا په زړه کې د هغه لپاره باید له کرکې پرته بل احساس او جذبه نه وي.

عاصم چې دا وویل آس یې پوند کړ. سمبرا ورو ورو کالمونه اخیستل او د خپل کور په لور روانه شوه.

په لاره کې یې په وار وار ویل:

کاشکي ته د سهیل زوی نه وای... کاشکي دلته نه وای راغلی.

عاصم چې د خپل کور څلور دیوالي ته ورسید عباد یې ولید چې د ده انتظار یې کاوه. هغه ورته را وړاندې شو آس یې تر جلب ونیو وېې ویل:

تا خو ډیر ځند وکړ.

عاصم له آس نه را کوزید و ویې ویل:

ته باید ویده شوی وای.

عباد په ګیله منه لهجه ځواب ورکړ:

دلته څوک خوب کولی شي، ککادي اسمان پرشو راخستی دی. ډیرو خلکو یې ماته کنځلې وکړې.

- تا خو به څه ورته ویلي نه وي؟

- نه. ما د ده د تسلي لپاره وویل چې بر آس ژر نه تبدیلي او دی به په لټون پسې ورغی.

ته پښیره نن ورځ هغوی ډیر پریشانه دي.

عاصم ګرندي کالمونه واخیستل او د کور انګړ ته ورننوت، د ده د پښو تر پهاریې چې واورید پرهلك له کوټې نه بهر راووت او بیا په منډه ورغی ده ته یې غیږ ورکړه، دا د ده د تره زوی سالم و، هغه بیا چیغې کړې:

پلاز جانه! عاصم ورور راغی!

هبیره او د هغه میرمن لیلا له کوټې راووتل عاصم سالم یو نې خواته کړ خپلې د ککانښځې ته یې سلام وکړ او بیا له تره سره غاړه غړې شو.

هیره هم په کیله منه لهجه ورته وویل:

عاصمه! نن دې ډیر پریشانه کړم، که ترلږ خنده نه واى راغلى نو زه دې په لټون پسې وتلم. هغه آس دې وموند؟

- نه. هغه چې کلې ته رانږدې شو ناڅاپه وتښتید. او هیڅ درک مې یې پیدا نکړ.

- ته دومره بریالي سفرنه وروسته باید په یوه آس پسې دومره نه واى زهیر شوى. راځه دننه!

- سعاد چیرته ده؟

لیلى دروازې لوري ته اشاره وکړه ویې ویل:

هلته ولاړه ده.

سالم وویل:

وروز جانه! سعاد درنه مروره ده، وایي ډیر خندیې وکړ.

عاصم ورغى. هغه یې په غیږ کې کلکه کړه. بیا یې تر زنې ونیوه ورته ویې ویل:

که زما وروکې خورکى رانه خپه وي نو له همدې ځایه به بیرته ولاړشم

سعاد وخندل:

سالم دروغ وایې:

دوى بیا یوې پراخې کوټې ته ننوتل او پریوزي کیناستل عاصم وویل:

سعاد! ماله دمشق نه تا ته دجامو ټوکراو له یروشلم نه مې درنه کوټې راوړې ده. او کاکاناوې تاته مې هم راوړې.

لیلى وویل:

سعاد! وروز ته دې ډوډۍ راوړه.

سعاد بلې کوټې ته ولاړه. هیره وویل:

زویه! ددې بریالي سفر مبارکي درته وایم.

ترڅې ډیرې بس دې، برازى درخت پریسو دشمعون یوز خلاصولى شي

خو دغه اسونه او اوښان تاله کومه کړل؟
- کاکا جانه داهسې بې سربه کرځیدل. که تر څو ورځو پوري بې خاوند راغلی نوزموږ دي.
هبيره وويل:
زو به خلك خپل شاروي هسې په لاره کې نه پرېږدي.
نه خو به کومه خبره له ما نه پټوي نه؟
عاصم پرخپله پریشانی دقابو کيدو هڅه کوله ويې ويل:
نه کاکا جانه!
هبيره وويل:
اوس به زموږ دقوم هر سړی دتوري پيدا کولو هڅه کوي. خو موږ به يې برازي پرهغو کسانو پلورو چې له دښمن سره دجنګيدو ژمنه وکړي.
عاصم خواب ورکړ:
کاکا جانه! توري راوړل زما کار و. اوس ستا خوښه چې حقدارې څرك بولي؟
هبيره وويل:
دامې دورخو له پاره ته رسيدو وروسته ته بايد زيات پام وکړې. ستا دي برې نه وروسته به بنوخزرج دکينې په اور کې سوځيږي.
- تاسو زما غم مه کوی زه به خپل ځان وساتلای شم
سعاد دوړی راوړه اودعاصم په مخکې يې کیښودہ اوهبيره وويل:
زوېه! ته دې دوړی وخوره اوويده شه. سبا ته به په داده زړه بيا خبرې سره کړو.
عاصم ويوښتل:
عباد دوړی خوړلې ده؟
هبيره خواب ورکړ:
هوکې

● ● ● ●

دشپې په وروستۍ برخه کې دشمعون نوکر هغه راويښ کړ او خبر يې ورکړ
چې داود بېرته راغلی دی. اوتېنګار کوي چې همدا اوس ستا سره ووينې
شمعون وارخطا له کوټې راووت او ستر ګې يې منتظر دميلمنو کوټې ته
ننووت
داود دننه ناست و. دشمعون چې ستر ګې پرې ولګېدې ترې ويې
پوښتل:
څه خبره ده بېرته ولې راغلې؟
- چا په لاره کې پر موږ حمله وکړه.
- عمير څنګه شو؟
- موږ هغه مړ ژواندی کړی و.
خو په پوره باور نشم ويلی چې مړ شوی به وي که به ژوندی وي دشپې
مهال دکوم نامعلوم دښمن حمله ډېره تونده او ناڅاپي وه چې موږ هر څه
پرڅای پرېښودل او وتښتېدو. هغوی زما دوه اوښان اوپينځه اسونه هم
ورسره بوتلل.
- کرچيان به وي؟
- نه زما اوښان او اسونه يې يثرب لوری ته راوستي وو. موږ به
دپېښو پل ليدلی وی، که په لاره کې راباندې شپه شوې نه وای نو د غلو تر
کوزه به موږ ستې رسولی و، که هغوی وږاندې نه وي تېر شوي نو زما کسان به
يې سبا نه پل وباسي. زه فکر کوم چې دا کرکان له همدې خايه راپسې وو.
شمعون خپه شو ويې ويل:
زما به هيڅ سر نه خلاصيږي، نه تر له کيسه راته وکړه! داود وويل:
موږ تېره شپه عمير په پرېوتړلی و او په ډېوړلو موږ پيل وکړ چې ناڅاپه
راباندې بريد وشو.

او موږ ترې وتښتید و یو غیښتی زما پر غلام ولګید.
په تیاره کې موږ پوه نه شوو چې حمله چا وکړه.
د کوچیانو یو کلی و . موږ هلته ورسیدو . د کوچیانو سردار زموږ پیژندوي وخوت. هغه زما تپې نوکر ورسره ایسار کړ او موږ ته یې ښل کسان راکړل چې مرسته راسره وکړي خو چې موږ بیرته راغلو په هغه ځای هیڅوک هم نه وو . اوښان او آسونه هم یې دڅه وو.
بیا مو تو له شپه یوځ اوبلي خوا ته لټول. دسهار په رڼاکې مو داوښانو پلونه پسې واخیستل او دیثرب په لور روان شوو. کوچیان کړی ورځ راسره ملګري وو خو له لمر لویدو سره یې داوویل اوبیرته ستانه شول چې که غله د یثرب اوسیدونکي وي موږ ستاسو سره هیڅ مرسته نشو کولی. ما خپلو نوکرانو ته دلتون ددوام لوکړ اوستا سو حضور ته راغلم، که تر سهاره پرك معلوم شونوښایې دخپل مال دترلاسه کولو پاره ستا مرستې ته اړتیا شي.
شمعون پوښتنه وکړه:
مګر عمیر څنګه شو؟
زه خبر نه یم. موږ دشپې په خپل پړاو کې اوریدل کړي و خو چې له کوچیانو سره بیا ورته راغلو نو اوږ مړشوی و.
شمعون په ترخه لهجه وویل:
تادشپې په تیاره کې یوازې داهڅه وکړه چې وګوري آسونه او اوښان دې شته که نه. اودې خبرې پروا دې ونه کړه چې ماته دعمیر مساله دخیبر تر تولو آسونو اواوښانو زیات ارښت لري. که هغه ژوندی وي نودیثرب په ساره او اوږدو کې به زما پرخلاف دنهر اوغوسې یو توپان راوالوزی.
داودځواب ورکړ:
داسې ده چې عمیر موږ هلته ونه لید او ما دشپې مهال یوځ اوبلې خوانه دهغه لټون هم ونه کړ خو باور مې دی چې مړشوی به وي.
- مګرته وایې چې لاس اوښتې موږ ترلې وې، نو اوس زه پر دې باور

وکړم چې له مرګه وروسته یې خپل لاسونه او پښې پرانیستل او ونښتې؟

- امکان لري چې غلو هغه چیرته پټ کړی وي.

- ما داسې ډاکه ماران ما نه دي لیدلي چې بې وارثه مړي دې پټوي ددې ډیر امکان دی چې هغه ژوندی وي او له همغه حمله کوونکیو سره راغلی وي او تر سهاره پورې د پټو خزیو په سلګو نو کسان زما د کوز مخې ته راټول شي. که داسې وضعه راغله تا ته به دې داوښانو او آسونو مسئله دومره مهمه نه وي ته دومره ناپوه اوبې همته وې چې بوپه رسی کلک تړلی سړی درته پروت و او تاسو له تښتیدو مخکې هغه ونه واژه.

داود وویل:

که زما په ملامتولو تاته څه ګټه رسیږي نوزه هیڅ نه وایم. خو آیا دانشي کیدای چې ډاکه مارانو له تښتیدو څخه مخکې د هغه رسۍ پرانیستې وي او هغه هلته شاوخوا چیرته پروت وي او خپلې وروستۍ سلګۍ شمیري.

شمعون په غوسه وویل:

ته ما ته یوازې یو خواب راکولی شې او هغه داچې ما پخپل یوه بې عقله خپلوان داعتماد غلطي وکړه، اوس ته همدلته کښینه زه راځم.

شمعون بهر ته ووت او لږ څنډو روسته بېرته راغی او دداود تر څنګ کیناست.

داود په مړاوي غږ وپوښتل!

ته چیرته تللی وې؟

-ما خپل نوکر دعمیر کورته واستاوه که ډاکه مارانو ورسره راوستی وي نو اوس باید خپل کورته را رسیدلی وي که هغه نه وي رارسیدلی نو سمدستي بېرته ولاړ شه او همالته یې ولټوه، که هغه ژوندی وي مونږ ته یې وژل ډیر ضروري دي.

داود وویل:

نه باید دهغه په اړه دومره اندیښمن نشي
که هغه ژوندی وي بوازې زما لپاره دخطر سبب کیدای شي زه به دخپل سپیناوي لپاره ووایم چې کله داکه مارانو پرغل راوړی موږ وتښتیدو او عمیر له هغوی سره په مقابله کې تیې شو.
اوچې ببا دا ووایم چې داکه مارانو زما پر نوکر هم تېي کړی دی نو دغه خبره به نوره هم درنه شي.
شمعون تریو شوېې وویل:
خو چې کله عمیر پخپله ووایې چې دوی زما دوژلو هڅه کو نه نو دیثرب خلك به ستا پر خبره څه باوروکړي؟
-که دیثرب یهودیان زما وکالت وکړي، نو بنو خزرج به زما د دروغجن بللو جرئت ونکړي.
- زه عدي ته څه خواب ووایم؟ ماهغه ته ویلي دي چې عمیر مې له کوره دوه سوه دیناره غلا کړي اوتښتیدلی دی.
-زه به ستا په پلوی دا گواهي ورکړم چې داکوګانو له حملې نه مخکې ماله عمیر سره دوه سوه دیناره لیدلي وو خو خبرنه وم چې دا دغلامال دی.
شمعون له لږ چورت وروسته وویل:
که عمیر ژوندی وي تاته ددې خبرې ارتیا نه پاتې کیږي چې ووایې هغه له تاسره یوځای سفر کاوه، تاته به دا ډیر غوره وي چې ووایې داکوانو برید راباندې وکړ او له لږ مقابلې وروسته موږ تري وتښتیدو ستا په لاس دهغوی یوتن تېي هم شو خو شپه وه دا معلومه نه شوه چې هغه څوك دی بیا که عمیر پرموږ څه تور ولګاوه نوموږ به بیا دا وویلای شو چې هغه دخپلې ګناه دپټولو لپاره پرموږ هسې تورلګوي که ستا آسونه دهغه له کوره راووتل نوموږ ته به دا ګرانه نه وي چې به خلکو ومنو چې عمیر له غلو سره ملګری و. خودا تولې دراتلونکې خبرې دي اوس موږ ته دا ضروري ده چې معلومه کړو عمیر ژوندی دی که نه؟

داود وویل:

په خدای سوګند چې دعربو یوسړی هم په هوښیارۍ کې ستا په کړ پسې هم نشي رسیدای ته باید دیثرب دټولو یهودو سردار وای. کنانه، حارث اوکعب ستا سره سیالي نشي کولی.

* * * *

له لمر ختو نه لږ وړاندې عمیر په خپله بستره پروت و، نعمان اوسمیرا یې پښولوژي ته اوعدي اوعتبه ده ته نژدې په بل کټ ناست وو.

عدي وویل:

زویه ! زما باور دی چې شمعون پرتاتوز پوزې کړی دی، زه به هغه ترمرګه ونه بخښم، خوهغوی څوك وو چې ته یې وژغورلې؟

کاشکې تا دهغوی پته معلومه کړې وای، اوس به دهغوی نیکی زموږ پرغاړه پاتې وې.

عمیر وویل:

پلار جانه! دشپې مهال ماته معلومه نه شوه چې حمله کوونکې څوك وو؟ تر هغو وروسته بیا زه بې خوده شوی وم چې رابه خود شوم له هغه خایه په میلونولرې له کلي نه بهر پروت وم

امکان لري چې زما ژغورونکي دکومې مجبورۍ له امله زموږ تر کوره نه وي راغلي، خو زما باوردی چې کومه ورځ به خامخا تا ته راشي.

سمیرا وویل:

امکان لري هغه زموږ کوم دښمن وي.

عدي په غوسه شو ویې ویل:

چاچې دعمیر ژوند ژغورلی هغه زموږ دښمن نشي کیدای.

عمیر وویل:

پلار جانه ! داود به شمعون ته خامخا دا احوال ورکړي چې زه ژوندی یم

. خکه خو چا ته زما په باب مه وايه چې کوزته راغلی دی، امکان لري هغه دنوزو په محکمې پر ما د غلا دنوږ لکولو ازتیا ونه ويني. هغه چې څو ورځې چوپه خوله وي بیا به بې دومره ذلیل کړو چې زره موغوارې. زما باوردی چې تر څو هغه پردې داده نشي چې زه ژوندی یم که مرچوپه خوله به وي.

عدي وپوښتل:

تا خو به کوم ګاونډی ته وي خبر کړی؟

هغه خواب ورکړ : نه، خوامکان لري زموږ نوکر راز ونه ساتلای شي.

- زه به پر هغه تینګار وکړم.

نعمان ځك شو ویې ویل:

لکه چې بهر څوك ناري وهي.

عدي وویل:

ورشه وګوره څوك دي؟ نوکر به اوس راویښ نه شي هغه کری شپه ستومانه وُ اوس ویده شو عمیر وویل:

ودریږه نعمانه! امکان لري شمعون وي او زما د درك لګولو لپاره راغلی وي ، عنبه ته ورشه!

عدي جګ شو ویې ویل:

نه زه پخپله ورځم اوبیا ووت . له انګړنه تیر شو اود باټك دروازه یې خلاصه کړه ویې لیدل چې دشمعون غلام ولاړدی.

عدي دېنوغوږ پر ستوني تیر کړ.

دشمعون غلام وویل:

له خنده ستا نوکرانو ته چیغې وهم.

- هغه ستومانه دي ویده شوي . موږ کری شپه دعمیر په لټون پسې وتلي وو.

- زمابادار ډیر اندېښمن دی . وایي چې څه درك یې پیدا شو که نه؟

- بادار ته دې ووایه چې زه بیا دهغه په لټون پسې ځم ، که هغه پیدا نه

شوهم ستا یوه یوه تنکه به ادا کړم.

- زمابادار ویل چې که دعمیرخه درك معلوم شوما به خامخا پرې خبروي.

- هغه ته روایه چې که عمیرپیدا شو په غاړه کې به یې پرې ورواچوم اوتا ته به یې دروړم

د شمعون غلام بیرته ولاړ.

* * * *

شمعون دخپل کوز په یوه کوټه کې له داؤدسره سبا ناري کاوه چې د داود دري نوکران ساه نیولي دننه ورننوتل اویه هغوی کې یوه وویل:

صیب! موږ خپل اوښان اوآسونه دبني اوس په یوه کوز کې ولیدل.

شمعون څك شو ویې پوښتل:

دچا په کوز کې؟

- صیب دهبیره چې وراره یې پخوا ستا سره اوسیده.

- داامکان نه لري، هبیره داکه مار نه دی. دهغه یو لاس غوڅ شوی هم دی.

صیب! دهغه له کاوندیانو څخه هم دادرك لګیدلی دی چې دهغه وراره چې شام ته تللی وبیرته راغلی اوله خان سره یې ډیر شیان راوړي دي.

شمعون جګ شو اوویې ویل:

ستا باور دی چې ستاسو آسونه دهغه په کوز کې دي.

- هوکې موږ پخپلو سترګو ولیدل. هلته هغه آس هم و چې عمیر پرې سپور و.

- که خبره داسې وي نوزما تولې اندیښنې لرې شوې. زه دهبیره وراره پیژنم، هغه به دبنوخزرج دکوم سړي دوژلو فرصت هیڅکله هم له لاسه ورنکړي، بیا دعدي دزوی . اوس ته ویلی شې چې عمیر له تاسو سره و.

عاصم ستا سو کاروان لوټ کړ او عمیر یې وواژه. اوس موږ ته دهغه دمړي په باب داند ښتې ارتیا نشته دهغه خپلوان به یې پخپله ولټوي او پیدا به یې کړي. دڅه ښینه به ډیثرب تر ټولو لوی غمیزه شي.

داوس دقبیلې یوه تن دخزرج یوکس دامن په ورخو کې وژلی دی. اوس به ددوی ترمنځ دوولس مباشتې یو له بله سره ټکر وي او دیثرب خلک به د قریشو او بنو کنده دجګړو راستانو نه هیر کړي.

داود وویل:

مګر موږ به خلک څه ډول قانع کړو چې عاصم عمیر وژلی دی؟

شمعون وویل:

ته ډیر سوډریې دهغه په کور کې ستا او بنان او آسونه پرډې ګواهي ورکوي چې غمیر ستا سو سره و، دعمیر پلار به داشاهدي روايتې چې زوی یې ورک دی.

عاصم به یوازې دافکر کړی وي چې تاسو به دعمیر له وژلو وروسته دبدل له ویرې دلته راونه ګرځئ. خو داخبره به یې په ذهن کې نه وي راغلې چې تاسو ته داخومره آسانه ده چې دی دهغه وژونکی ثابت کړئ، خو زه پریوه خبره حیران یم چې عاصم د عمیر آس خپل کورته څنګه راوست. له دې نه خو داسې ښکاري چې دشپې پرمهال هغه عمیر نه دی پیژندلی او هغه بې مړ باڅوندی پریښی دی. داکیدای شي چې هغه یې دځنکدن په حال کې لیدلی وي نو پرې یې پرانیستي وي.

اوس ډیر په بیره هلته ولاړ شه. که هغه ژوندی پیدا کړې سمدستي یې ووژنه او راځه. او که مړشوی وي نو خپل کسان دې دهغه دمړي دساتنې لپاره پریږده او ترې راځه د عاصم په کور کې دعمیر آس او د خیبر په لار دعمیر دمړي موندل کیدل به دخلکو شکونه اوبدګوماني ټولي لرې کړي.

داود وویل:

مګر هغه آس تاورکړی و دعمیر خپل خونه و.

شمعون وویل:

څه فرق کوي ، موږ پوازې داتابتول غواړو چې عمیر پر هغو سپړنو اوستا سره تللی و. اوس ته وخت مه ضایع کوه. ستا تر راتلو به زه څه اقدام نه کوم ،زما له طبیلې څخه تازه دمه آسونه درسره بوزه زه مې خپل زامن هم درسره استوم.

داود وویل:

په خدای سوګندچې زه هم له ډیرې ستومانې څخه بې سیکه یم

شمعون ځواب ورکړ:

داکار ستا تر خوب ډیر مهم دی، اوس پاڅه مه ناوخته کوه.

داود په نه زړه اوچت شو، لږ ځند وروسته هغه له خپلو نوکرانو او دشمعون له درې زامنو سره دیثرب دخرما له باغونو څخه وتل.

• • • •

درې ورځې وروسته عمیر دخپل کور په بوه کوټه کې ناست و . عدي کوټې ته ورننوت اوعمیر جګ شو ودرید.

- کښینه زویه! نن دې وضعه څنګه ده؟

- پلارجانه ! زه ډیر روغ یم. نن مې دسرخوږ هم لږ دی.

دوی دواړه پرتخت کیناستل.

عدي له لږ چوپتیا وروسته وویل:

اوس دې له خلکو دپټیدو اړتیا نشته ، زه دا اوس له شمعون نه راغلم. دهغه پام پل لوږې ته اوښتی چا دخیبر دیوه یهودي آسونه او اوښان ترې اخیستي دي ، او س هغه زموږ دیوه دښمن له کوره راپیدا شوي دي. یهودي پردې خبره سخت غوسه دی اوزما باور دی چې ددې پیښې نه وروسته به دښو اوس پرخلاف برا لازموږ ملاتړ وکړي.

- دغه اوښان اوآسونه دچا په کورکې پیدا شوي دي؟

- دهبیره په کوز کې، ته دهغه وزاره پېژنې، هغه دشمعون په کوز کې ستا سره یوځای اوسید لی دی. دسهیل دزوی نه ډاکو جوړیدل ماته عجیبه ښکاري.

عمیر وپوښتل:

تاته شمعون وویل چې دخیبر یهودی عاصم لوټ کړی دی؟

- هوکې! دشپې پرمهال یې په لاره کې پرهغه حمله کړې اویو نوکریې تپي کړی هم دی.

عمیر لږ په چورت کې ډوب شو بیا یې وویل:

آیا دا امکان نه لري لکه پرماچې شمعون دروغ تور ولګاوه دغسې یهودي سوداګر پرعاصم دروغ تور پورې کړی وي؟

عدي ځواب ورکړ:

ته باید دخپلو ډیرو بدو دښمنانو وکالت ونه کړې، دهغوی لاسونه ستا دورونو په وینو رنګ دی. نن سهار څو یهودي مخور دهبیره کور ته ورغلل اولوټ شوي څاروي یې راوایستل.

عاصم په خپل سپینا وني کې ویل چې ده دغه اسونه او اوښان له دی ځایه څو میله لرې په لاره کې ولیدل اوبې خاونده یې وګڼل کورته یې راوستل. دادومره دبې عقلۍ خبره ده چې ددوی دخپل قام مشرانو پرې باور ونه کړ او هغوی پرهبیره ملامتي راچوله چې وزاره دې یهودیان په غوسه کړل اوزموږ په لاره کې ازغي توکوي.

هغه ددې لانجې دپاکولو لپاره کعب بن اشرف درهیمګړي منلی دی.

- ستا مطلب دادی چې عاصم دلوټ مال له بیرته ورکولو نه انکار کړی دی؟

- نه یهودی خپل څاروي بوتلل.

- نوبیا ددوی په منځ کې لانجه پرڅه ده؟

- لانجه داده چې هغه پرکاروان برید کړی دی. اوچې کله شمعون پرده

داتوري پوزې کړ. عمیر دمخورو په مخ کې پر هغه له لاس اوچتولو دریغه ونکړه
کله چې ده خپل سبیناوي کاوه نوشمعون ورته ویلي وو چې دروغ دا بې.
هغه شمعون ترپېره نیولی و او پرخوله یې په سوک وهلی و چې بوغابې
یې هم پرې مات کړی دی.

عمیر وویل:

هې افسوس چې مادا تماشه ونه لیدای شوای، اوتردې لاافسوس کوم
چې هغه دشمعون دیره غابې ماتول بس بللي دي.

عدي وویل:

که هغه دسهیل زوی نه وای مابه انعام ورکړی و ، اوس زه دیر پردې
خوشاله یم چې ددې پیښې نه وروسته به یهودیان دینې اوس پرخلاف شي .
اودوی به هیڅ مرسته نشي ترې تر لاسه کولی، کعب بن اشرف ویلي دي چې
دې پیښې ته دیثرب تول اوسیدونکي باید یاد وکړي ، که دلته یوخل دقاتلو
دلوتلو رواج شو نو ددې اغیزه به پر یهودو او غیریهودو تولو پریوزي، بیا
داپیښه دامن په وخت کې شوې ده . خکه خو کعب دتولو قومونو مشران نن
له ماسپښین وروسته وربللي دي چې راتول شي، چې به زاتلونکې کې
دداسې پیښو دپیښیدو مخه ونیول شي. زه هم هلته ورغم آو دا غوښتنه به
کوم چې عاصم اوتره یې باید له وطنه وشړل شي.

- ستاپه گومان به د اوس قوم داغوښتنه ومني؟

- زما باوردی، یهودیان به زموږ سره همغږي وي.

بیا به اوس دانه خوښوي چې یهودیان زموږ حلیفان شي اودوی پرخلاف
میدان ته راووزي دوی به دیهودیانو دداده کولو لپاره تر تولو درانه قیمت
ادا کولو ته چمتو وی، ما اوریدلي دي چې نن کله عاصم پرشمعون گوزار
وکړنو نژدې پخپلوانو یې هم پرې ملامت کړ، دهبیره خو وضعه داسې ده
چې هغه خپل ورارہ پرخبیره پرمخ وواهه.

عمیر وویل:

زه ویریږم چې کله داوس او خزرج مخور دکعب په کور کې را ټول شي همالته جګړه ونه نښلي، عدي ځواب ورکړ:

دکعب په کور کې څوك د ثورې او ټولو جرنت نه کوي هغه دا هدايت هم کړی دی چې څوك به له وسلې سره نه راځي.

- پلار جانه! تا به ویل چې کعب ډیر شر اچوونکی سړی دی او داوس اوخزرج په جنګونو کې دده لوی لاس دی.

- هو کې! خو داخل دهغه دشرلوری زموږ پرځای داوس په لوردی، عدي داوویل او چُك شو.

عمير وپوښتل:

ته چیرته روان یې؟

- زه مې له خپلو خلکو سره د سلا، مشلت لپاره ځم، موږ باید له دې موکې نه پوره ګټه اوچته کړو، عمير وویل:

پلار جانه! تا ته شمعون ویلي دي چې هغه یهودي چې اسونه ترې اخیستل شوي رو څوك دی؟

- نه مالـه هغه نه دي پوښتني ارتیا نه لیده.

- تا داهم ترې ونه پوښتل چې حمله چیرته پرې وشوه؟

اوچې حمله پرې وشوه دوی څه کول؟

- نه، خو ددې بې معنی پوښتنو نه ستا مطلب څه دی؟ آیا ته... وروستي الفاظ دعدي په ستوني کې ونښتل، او هغه هك پك عمير ته کتل.

عمير وویل:

پلار جانه! کیدای شي چې هغه به له خپلو نوکرانو سره دیوه بې وسه انسان دوژلو نیت درلود ځو دهغه په چیغو په هغه لاره کوم تیرید و نکی مسافر وزخبر شوی وي چې دهغو په ګواښ به دوی خپل آسونه او اوښان پرېښي وي او تښتیدلي وي اوبیا داهم امکان لري چې هغه مظلوم انسان چې هغوی نیم ژواندی پرېښی وي ستا زوی وي، پلار جانه ځینی حقیقتونه

عمیر وویل:

پلار جانه! تاخو به شمعون ته زما په باب څه نه وي ویلي؟

-نه، که تازه نه وای پوهولی نو بنایي چې ما دغه غلطي کړې وای نن زما سره دهغه چلن ډیر شریفانه و، دهغه له خبرو مې داسې احساس وله چې له خپلې غلا څخه ستا ذزوند په باب زیات اندېښمن دی.

پلار جانه! دهغه سره اوس یوازې داغم دی چې که زه ژوندی دم نو ده ته په یثرب کې ساه اخیستل ګران دي.

منصور کتابتون @ Telegram

27 / 1 / 2022

# شپږم باب

کعب بن اشرف دخپل کور په مخکې دکجورو په سیوري کې دیثرب له مخورو سره ناست و، دهغه ښې اوکیڼ لوري اوشاته دیهودي قبیلو مشران ناست وو اومخې ته یې یوه لوړي ته دبني اوس او بل ته دبنوخزرج مخور اومشران ناست وو.

دهغوی په مېنځ کې لږ خای تش و، تندارچیان چې زیاتره یهودیان وو لږ لرې ولاړ وو اوشیبه په شیبه یې شمیر زیاتیده.

کعب یوه گرانبیه چپنه اغوستې وه اوپه یوه وړوکې غالۍ ناست و اونور مشران بیا دکجورو پرپوزي.

له یوې مودې راپه دیخوا دالومړی خل و چې اوس او خزرج پریوه خای راټول وو لودلته دتورو شرنگا شرنگ نه اوریدل کیده، دکعب بن اشرف په وینا دوی هلته تش لاس ورغلي وو.

خو سره له دې چې تش لاس وو له څیرو څخه داسې ښکاریدل چې دامن اوسولې په لټه بسې نه وو راغلي، دوی دیو بل پرنیتونو څه نیک گومان نه درلود، یوازې دیهودیانو دخوښې تر لاسه کولو لپاره راغلي وو.

دخزرج دقبیلې مشرانو داتمه درلوده چې ددوی رقیبان به له مجلس نه بې آبه اورشوا ووزي. اودوی به له دې پرته چې خپلې تورې په وینو سرې کړي یو مهم بریالیتوب به یې په برخه شي. که یهودیان ورسره وران شي نوبني اوس ته به دیثرب څمکه سره تبی شي، اوبنو اوس په هره بیه دیهودیانو خوښې غوښته، هغوی پردې ښه پوهیدل چې دخزرج اویهودو.

ترمنځ له یو والي وروسته به دیثرب په فضا کې دوی ته ساه اخیستل ډیر ګران شي.

عدي دشاوخوا ولاړو نندارچیانو له منځه را بنکاره شو او وړاندې راغی دکعب بن اشرف په مخکې په تش ځای ودرید، دده دقبیلې کسانو هغه کوله چې دی دلاس په اشاره خپل لوري ته رو وغواړي، خو ده بل لوري ته پام وانه راوه.

کعب وویل:

عدي کښینه!

عدي وویل:

زه یوازې ددې لپاره راغلم چې ستا احوال راغلی، زه نه غواړم په دې غونډه کې برخه واخلم، اوځرنګه چې داداوس دقوم دیره تن اوستا نو دقوم دیره تن ترمنځ ده، خکه خو داهیڅ مناسبه نه وه چې زما دقبیلې مشران اومخور دلته راغلي وای، زموږ اړیکې دومره ښې نه دي چې په یو ځای کې سره کښینو.

کعب شمعون اوداود لوري ته وروکتل اوبیا یې عدي ته مخ راواړاوه او ویې ویل:

که دغه جګړه ترعاصم او داود پورې محدوده وای نو ستا سو یوه ته هم دا اړتیا نه وه چې دلته راشی،زما قوم دومره لیدلی نه دی چې خپلې لانجې دنورو مخې ته وړاندې کړي ، امکان لري له دې جنجال سره تر تولو زیات ستا اړیکې وي ته کینه موږ دهبیره اودهغه دوراره دراتلو انتظار کوو چې هغوی راغلل ته به وګورې چې دلته مو ته بې سببه نه یې په زحمت کړی ، ما ته پرون چا ستا دزوی دبې درکۍ خبر راکړ دا ډیر دخپګان ور خبره ده ، تر اوسه یې څه احوال راغلی؟

عدي ځواب ورکړ:

نه، ماته یې تر اوسه څه درک په لاس نه دی راغلی.

شو لندارچیانو په یوه غږ چیغې کړې:

هغوی راروان دي.

عدي دخیبل قوم له مخورو سره کیناست او یوه شیبه وروسته هبیره او عاصم دسیل کورنکیو له منځه راووتل وړاندې راغلل. هبیره دخپل قوم له مشرانو سره کیناست او عاصم ولاړ و.

کعب وویل: خوانه ته هم کښېنه!

عاصم ځواب ورکړ!

نه، زه یو تورن یم، او غواړم چې دریدلی یم.

کعب وویل:

ته دامنې چې ستا سر له کوره کوم اوښان او اسونه راووتل هغه د داود ملکیت و؟

-زه خبر نه یم، دا مانه دشپې په مخه راغلل او هیڅ خاوند ورسره نه و. اوخپل کورته مې راوستل، څرنګه چې داود پرې دعوه وکړه چې دده دي، ما هم ده ته وسپارل.

عجیبه ده! په لاره کې دومره څلور یول ستا د راتلو په انتظار وو زه خو خلې په هغه لاره تیر شوی یم، یوه وزه مې هم نه ده لیدلې.

دخزرج دقبیلې کسانو په کرس کرس وخندل او د اوس مشرانو دوینو غوړیونه کړل او چوپ وو.

عاصم وویل: که تا ته ورځ په مخه نه دي درغلي دا زما قصور نه دی، امکان لري ستا برخه نه وي، یا به دشپې ستا سترګې بنې کار نه کوي.

پرمجلس یوه درنه چوپتیا خپره شوه، او یهودیان په غوسه شول یوه اوبل ته یې وکتل هبیره چیغې کړې:

عاصمه لږ په هوښ کې شه!

بیا داوس یوه بل سپین ږیري کعب ته وویل:

صیب! تاسو چې عاصم ته هره سزا ورکړې زموږ په سر سترګو قبوله ده.

کعب داود ته وکتل ویې ویل:

داوده ته غواړې څه ووایې؟

داود چک شو ویې ویل:

صیب! عاصم د شپې مهال پر موږ برید وکړ.

موږ د خپل یوه ملګري مړی پرېښود او وتښتېدو.

زما یو غلام هم تښتې شو، هغه مې په لاره کې په یوه کلي کې پرېښی دی، زه مې د خپلو خارویو په باب چې په خوله کېدای شم څکه چې بېرته په لاس راغلل.

د خپل نوکر له تښتې کېدو هم تېر یم، څکه چې ته یې دانه ښېښې ورنه دی زه داهم بخښلی شم چې له عاصم سره له پخوانۍ دښمنۍ پرته دامن په وزخوکې هغه پر موږ برید وکړ، خو زه نشم بخښلی چې هغه زموږ یو بې ګناه ملګری ووژه او د شپې په تیاره کې یې هغه ته د توري او چنګولو مرکه هم ورنکړه.

د داود دیوه ملګري د وژل کېدو خبر د بنو خزرج قبیلې مشرانو ته ډېر خوشالوونکی و، اوس دوی پرې باوري شوي وو چې پرې به یهودیان چوب پاتې نشي.

کعب پوښتنه وکړه:

وژل شوی سړی څوک دی؟

صیب! پخوا له دې چې زه خواب ورکړم غواړم پرې داده شم چې دغه خلک به دلته یو بل نه وژني.

ته داده اوسه! ماله دوی نه دا ژمنه اخیستې ده چې آرام به اوسي زما په وړاندې چې دوی به د زور از موېلو لپاره زما کور نه غوره کوي.

داود وویل:

پر مجلس یوه شیبه چوپتیا حاکمه شوه، بیا د خزرج د قبیلې خلکو بویل ته سره وکتل، دهغوی غږ ونه وزو وزو لوړ شول، خو عدي چې دوی پر به سترګو کې د کسات اوبدل دلمبو دلیدو تمه درلوده په بشپړ سکون او آرامی عاصم ته کتل، چا وخوځاوه او ورته ویې ویل:

عدي! اورې بې! عمیر عاصم وژلی دی.

عدي د دې پر خای چې هغه ته خواب ورکړي لاس یې وخنډلو، د بنو خزرج د سپین روږو غړونه پر چیغو بدلیدل،

کعب دواړه لاسونه اوچت کړل

چوپ! چوپ شئ، اوچې په مجلس کې لږ آرامي شوه ده عاصم ته مخ واړاوه ویې ویل:

ته غواړې څه ووایې؟

عاصم وویل:

زه یوازې دومره وایم چې داود دروغجن دی ماخوك نه دي وژلي،

داود وویل:

صیب! دامن په ورځو کې د یوه عرب وژل دلسې ګناه نه ده چې عاصم د خپلې قبیلې دراتلونکې پروا ونکړي او اعتراف پرې وکړي ده خو د عمیر مړی هم چیرته غلی کړی دی او موږ سره له دې چې هغه ډیر ولټاوه خو مونه موندلو.

که فکر کوې چې ماکومه غلطه خبره کړې ده له شمعون نه پوښتنه وکړه

کعب وویل:

شمعون ته څه وایې؟

شمعون خواب ورکړ:

صیب! عمیر له خو کالو راهسې زما سره اوسیده، یوه ورځ یې خدای خبر دی څه په زړه کې ورو ګرځیدل چې زما پر آس یې پښه واړو له اوچیرته ولاړ، وروسته راته معلومه شوه چې هغه زما له کوره څه نغدې روپۍ هم ورسره

اخیستې دي، ددې پیښې په باب یې ماپلار ته خبر ورکړ، وروسته بیا داود دخپلو اسونو په لټون پسې دلته راغلی له ده نه خبر شوم چې عمیر له یثرب نه تر وتلو وروسته له دوی سره ملګری شوی، زه دانشم ویلی چې عمیر چا وژلی خو د داود له اسونو سره زما هغه آس هم دعاصم دري له کوره په لټه راغلی چې عمیر بیولی و. تاسو لـه عدي نه پوښتنه وکړئ که عمیر تر اوسه کورته نه وي راغلی نو معلومه ده چې هغه بد نصیبه وژل شوی دی.

اوزه پردې ډیر خپه یم چې دده قاتل دامن دورځو درناوی هم ونه کړ ما عدي ته ویلي وو چې عمیر مې له کوره غلا کړې ده او تېښتیدلی دی، خوله داود نه دنورې کیسې له اوریدو وروسته ما دا زغم نه درلود چې ورته ووایم هغه وژل شوی دی، زما دځوريتیا بیر سبب داهم و چې داود یې تر اوسه پورې مړی پیدا نکړای شو، ما ګومان کاوه چې له تېښې کیدو وروسته به چیرته پټ شوی وي، خو درمړه ورځې وروسته چې بیا هم کورته راستون نشو نو سبب یې همدغه دی چې قاتل یې مړی هم چیرته پټ ښخ کړی وي، که د داود خبره رښتیا وي او تر دعمیر قاتل له عاصم پرته بل څوک کیدای شي؟

[illegible] عدي ته وکتل او ورته ویل!

ته غواړې څه ووایې؟

عدي له ځایه چټک شو وړاندې ورغی او عاصم ته لاړې وډرید، تر [illegible] [illegible] او [illegible] له کتل بیا یې ناڅاپه عاصم تر مټ ونیو او په زوره [illegible] او [illegible] یې کړې!

[illegible] له [illegible] ؟ داولې نه وایې چې عمیر وژل شوی ته دی [illegible] مننا [illegible] سول کوې او دی یې په کور کې [illegible] [illegible] هغه ناڅاپه اوږه زما کورته راوړی و؟

[illegible] خپلوان چټک شو وړاندې ورغی [illegible]

[illegible] په [illegible] خوښې نه وي دګډلې هر سړی

ستا سره په دې غم کې شریك دی.
عدي هغه ته ډېکه ورکړه اوله خانه یې لرې کړ چيغه یې پرې وکړه:
زه ستا سو خواخوږي ته اړتیا نه لرم ، تاسو ټول لیوني یاست.

کعب وویل:
دی یې کور ته یوسي ، دزوی مرگ یې حواس له کاره غورځولي دي.

عدي چيغه کړه:
زما حواس پرځای دی ، ته اوس ددا ود اوشمعون غم وخوره له هغوی نه پوښتنه وکړه چې اوس یې ولې ژبې گونگی شوي؟ حاضرو کسانو ټولو شمعون اوداود ته سترگې وروا ړولې ، عدي له لږ ځنډ وروسته عاصم ته مخ ور واړاوه:
د لته داسې گواه شته چې تابې گناه ثابتولی شي.
ته ولې هغه ته غږ نه کوې؟ هغه ستا داشارې په انتظار دی.
ستا گناه یوازې همدومره ده چې عمیر دې لـه مرگه ژغورلی، او ته ویرېږې چې ستا دقوم خلك به دې ورټي . خوزه دخپلې قبیلې له پیغورونو نه ویرېږم
زه پردې نه شرمیږم چې ووایم تا زما زوی له مرگه ژغورلی دا او زه ستا دنیکۍ پوروړی یم
دشپې مهال خو یهودیانو هغه راهه اوتاچې چیغې واورېدې نا کراره یې کړې که تا دا گومان کاوه چې ستا احسان او منته به زما لپاره دننگ اوشرم خبره وي نوده یره اشتباه کوې
عمیره ! عمیره ته راشه!!
عمیر دسیل کوونکیو دشاله صف څخه مخکې راغی او وراندې راغی دعدي اوعاصم سره نژدې ودرید.
له یزی اوسترگو یرته یې خبره په څادر کې پټه وه.
حاضر کسان حیران شول اوده ته یې کتل، هغه لـه مخ نـه څادر

وغوږ څوه لو کعب بن اشرف ته یې وکال وېي وویل:

دلسهي ده چې دلمن په وزخوکې یې زما د وژلو توطیه کړې وه خو علم په دې کې هیڅ لاس نه درلود زما مجرم ستا بني لاس ته دی.

شمعونه! ته ما پېژنې؟

شمعون چې تر څه حده خپل بایللي حواس را اقلیو کړي وو جګ شو او ویې ویل:

زه تا ډیر ښه پېژنم لوړه پوړې ډېر خوشاله یم چې ته ژوندی یې پوړې سر بیره چې تا زما له کوزه غلاکړې وه او تښتېدلی وې

عمیر وویل:

ته پوهېږې خوشته یې چې دلود ته دې زما د وژلو ماموریت سپارلی د خوهغه تر سره نکړای شو؟

شمعون چیغې کړې:

دا دروغ دي، بهتان دی ته دې دخپلې ګناه د پټولو لپاره ما بد نامېږې!

له کعب بن اشرف پرته ټول یهودیان جګ شول او شور ماشور یې جوړ کړ:

دا دروغ وایې دا غلط وایې موږ دشمعون سپکاوی نشو زغملی.

عمیر په لوړ غږ چیغې کړې:

نشو به دا لو ېدل هم ته خوښ وې چې د دې ټولې توطیې لرحلو تو څخه هدف دا چې تر دې وروسته لوس او خزنځ دامن په وزخو کې هم په خپلو کورنو کې آرام نه وي، آیا دا دروغ دي چې دلود ستا کره میلمه راغلی و او تا تښکېر کړو چې زه آسونه تر خیره بوځې او سره بوځم؟ آیا زه د شپې په وروستي برخه کې له دلود سره روان نه شوم؟ آیا نه په دې مجلس کې غواړې ولوږې چې له منسره دې دکینې سبب څه دی؟

لوولې زما د وژلو په فکر کې شوی؟

شمعون چیغې کړې:

زه نه پوهیږم چې تا دهبیره له وزاره سره څه ډول خبره جوړه کړې ده، خویو ه غله ته اجازه نه ورکوم چې پرما جاري راوشيندي.

-زه دلته خبرو ته ستا اجازې ته اړتیا نه لرم

یهودیانو ټولو په یوه خوله چیغې کړې:

ته دروغجن یې، موږ نه غواړو چې څه واورو.

کعب داند ینښې او خپګان په حالت کې چک شو او ویې ویل:

که دوه دښمنان دځه مجبوری په سبب یو له بل سره دوستان شي څوک حق نه لري چې هغوی ته پیغور ورکړي، خودا شرافت نه دی چې پودریم لوری تر ملامتۍ لاندې راوستل شي. زه اوس اوخزرج ته مبارکي ورکوم چې ددوی دوه خوانان دسولې لپاره میدان ته راغلي دي، خو داخبره راته دمنلو نه ده چې شمعون دې دعمیر دوژلو لاره جوړه کړې وي اوس اوخزرج که یو بل ته ددوستۍ لاس نه ورغځوي نوزه دا ډاډورکوم چې زما دقوم یو تن به هم ددوی منځ ته ورنشي

هبیره په لوړغږ وویل:

داوس اوخزرج ترمنځ هیڅکله دوستي نشي کیدای.

موږ دومره بې غیرته نه یو چې دخپلو عزیزانو وینې هیرې کړو.

دخزرج دقبیلې یوه تن وویل:

ستا څه خیال دی چې موږ بې غیرته یو! پرمنات قسم چې تر څو مو په رګونو کې وینه شته توري به مو په پوښ نشي

دسترګو په رپ کې دمجلس رنګ بدل شوی و او یهودیان چې لې وراندې له یوه نا اتکل شوې حالت سره مخ وو اوس یې په آرامۍ داوس او خزرج دمشرانو ناندرۍ اوریدلې.

کعب بن اشرف وویل:

په یادولرئ چې تاسو زما په کور کې دآرام اوسیدو وعده کړې ده، زما هیله ده چې دهغې وعدې خیال به ساتئ اودلته به کومه داسې پیښه نه

رامنخ ته کېږي چې موږ ستا سو په جګړه کې له کوم لوري سره په دېډو مجبور شو خکه خوزه ستا سو نه غوښتنه کوم چې په ډاډه زړه له دې خایه ولاړ شي.

دواړو لوریو خپلو خپلو ملګریو ته دصبر اوزغم خبره کو له اوجګ شول له هغه خایه روان شول، هیره چې دعاصم تر څنګ تیریدو هغه ته یې په غوسه ناك نظر وکتل او ویې ویل:

عاصمه! زما له تانه داهیله نه وه ، دعدي دزوی ژوند دومره ګرانیه نه ؤ چې دخپل پلاز اوورونو وینې پرې هیر ې کړې. دخزرج دقبیلې یوه سپین ږیري عدي ته بیا ویل چې که زما زوی دخنکندن په وخت کې هم داوس دکوم چا نه داوبو یو غوړپ غوښتی وای نوزه به ذمرګ تر ورخې له چاسره دمخ کیدو ور نه وم.

داوس اوخزرج مشران په داسې حال کې له هغه خایه ولاړل چې عاصم، عدي اوعمیر ته یې په غوسه اوکرکه کتل داوس دقوم دمشرانو په نظر دعاصم داګناه دبخښل کیدو وړنه وه چې دعدي زوی یې له مرګه ژغورلی ؤ اوخزرج دې بخښنې ته چمتو نه وو چې عدي اودهغه زوی په داسې نازکه مرکه خپلې خولې پرانیستې چې یهودیان د اوس پرخلاف راپاریدلي وو، دوی دړې واړه تر لږ خنده پورې څه پریشانه ولاړ وو، خو چې کله ګونه لرې شوه نوعاصم له هغه خایه روان شو اوعمیر اوعدي په هغه پسې ور روان شول، لږ وراندې عمیر غږېږې وکړ:

عاصمه ودریږه!

هغه ودریدمخ یې ورواړاوه ، عمیرنژدې ورغی اوورته وېي ویل:

افسوس چې زه پرخپله ژمنه ټینګ پاتې نه شوم ، ما نه ښتا داسپکاوی له زغم نه وتلی ؤ ،دیهودیانو دچلونو پرخلاف دخولې خلاصول زما فرض ؤ خوافسوس چې ترلږ خند مخکې پورې موږ دخپلې قبیلې دغیرت ساتونکي وو خواوس له عزته محروم شوي یو.

عاصم پرلمریو نیولي غږ وویل:
زما له تانه هیڅ گیله نشته.
عدي وویل:
تازما پراوږو دیره غره بار ایښی دی، خوپردي نه پوهیږم چې تا عمیر دربښتیا ویلو نه ولې منع کړی و.
ته پوهیدې چې عمیر ټول عمر دخلکو له سترګوپټ نشوای اوسیدای.
عاصم ځواب ورکړ:
که یهودبانو ته سمدستي دا معلومه شوې وای چې عمیر خپل کورته رارسیدلی دی نو نن به یې داسې دریغ نه درلود، ما غوښتل دیثرب خلکو ته دا ثابته کړم چې دوی څومره دروغجن، تګان اوشراچوونکي دي.
- څوتاسره له دې چې دوی شر اچوونکي اوتګان ثابت کړل ددوی دې هیڅ ونه کړل ستا دکرو ورو پایلې دادي چې دخپلې قبیلې خلك دې پرخلاف شول، عاصم وویل:
کله چې په زړه کې داخیال راوګرځید چې عمیر یې باید کورته ورسوم نودا مې هم احساسوله چې زه یوه ګناه کوم، خو اوس داسې احساسوم چې ما باید همدلسې کړې وای اوهغه ورځ لرې نه ده چې زموږ دقبیلې هر باشعوره انسان زما په خیر احساس وکړي.
عدي وویل:
ستا دقوم خلکو نه غوښتل مخ ته دې وګوري حیران یم چې ته بیا هم په ته یې.
که ته نه وای راغلی اوزما په ملاتړ موغږ نه وای اوچت کړی نوزه به دماتې له احساس سره تلم، خو اوس داسې احساسوم چې دا زما لومړی بری دی.
عدي وویل:
دامستا لومړی اوورروستی بری دی، تاچې کومه لاره غوره کړې ده دا

... به هم تاته لاس درکول خوښ نه کړي.

آیا تاسو ماته دمرستې لاس نه راکوی؟

– زه نه پوهیږم، ..... په دې عمرزه ښایي دخپلو نیکونو له لارې بیله نوې لاره غوره نکړای شم.

عاصم وویل:

آیا تاسو دا نه وینی چې زموږ قومونو له تیرو جګړو نه ډیر عبرتونه اخیستي دي، اوس ډیرې کورنۍ داسې دي چې ظاهراً ډیر جوش اواحساسات ښکاروي خو زړه یې نه غواړي چې دغه مرکیدونکی اور بیرته ژبغراندشي.

عدي خواب ورکړ:

زه یوازې دومره پوهیږم چې سمدستې له جګړې نه ددې خلکو ډډه دستوماني له امله ده.

چې کله یې دمه جوړه شي نودبیل د حلالولو لپاره به بوې ورې پلمې ته اړتیا وي د اوس او خزرج تر منځ دهمیشنۍ سولې هیله هسې لیونتوب دی ته لیونی یې عاصمه، او ښایي زه هم لیونی شم، خو په دې کلي کې به بیا موږ هیڅ ځای ونلرو.

عاصم چوپ له هغه ځایه روان شو عدي دعمیر مټ ونیو او ورته یې ویل:

راځه بچیه! ته چې پرکومه ځمکه شوارې ګلان وینې هغه له ازغیو پرته بل څه نشي درکولی.

Telegram-Q - منصور کتابتون

# ( اووم باب )

دشپې مهال کعب بن اشرف دیثرب دپنځلس یهودي مشرانو سره دخپل کور په یوه پراخه کوټه کې ناست و، شعمون کوټې ته ددننه ورغی او ناستوکسانو هغه ته وکتل.

کعب په غوسه ناك نظر ورته وکتل او وېې ویل:

کېنه! موږ پردې فکر کوو چې ستا دېې عقلېو دخطرناکو پایلو نه د ژغورنې لاره به څه وي، داود چیرته دی؟

شمعون ځواب ورکړ:

صیب! هغه خیبر ته ولاړ ما مناسب نه ګڼله چې هغه په کورکې ایسار کړم.

کعب بن اشرف په چورت کې ډوب شو اوپه کوټه کې تر لږ ځنډه چوپتیا شوه، بالاخره یوه یهودي وویل:

دا ډېره دخپګان وړ خبره ده خوته ډېره اندیښنه مه کوه، مااوس اوخزرج له ډېرو کسانو سره لیدلي دي اوپه پوره ډاډ ویلی شم چې ددوی احساسات دیوبل پرخلاف هماغسې دپخواپه شان دي تاسو ددوی له لوري دکوم ناوړه غیرګون اندیښنه مه کوی.

کعب وویل:

زما لپاره دا عادي خبره نه ده چې داوس دقوم یوتن دخزرج دیوه تن ژوند ژغورلی اود خزرج دقوم دوو تنو دده په پلوی ګواهي ورکړه.

اوداپېښه ماته عادی نه ده چې له کلو نوکلونو وروسته هغوی زموږ سره

سترگه پرسترگه شول اود خبرو جرنت یې وکړ.

بل یهودي وویل:

جنابه! که ته دا اندیښنه لرې چې اوس او خزرج سوله وکړه، نو هغوی خوسبا ته بیا یو د بل پرخلاف راپارولی شو.

کعب ځواب ورکړ:

ته دا اشتباه مه کوه چې هغه خلك تول احمق ویرلې دا ستا سوکمال نه دی چې هغوی له ډیرې مودې راهیسې یو-بل ترمړی نیسي دغه کورنۍ کرکه، وینې تویول او کسات اخیستل ددوی په خته کې ګډ دي.

- خوفرض کړه چې که دوی دخپلې بقا لپاره سره یو شي اوتاسو خپل شریك دښمن وګڼي نوبیای به مو څه وي؟

یوه یهودي سردار وویل:

پر اسمان به دوه لمرونه را وخیژي خواوس اوخزرج نشي سره یو کیدای، نن به دوی کې یوه داسې کورنۍ نشته چې دکوم عزیز اوخپل دوینو اوبدل لپاره نا کراره نوي.

ترکومه پورې چې پردې عقیده وي چې دوژل شوي کسات تر څو نه وي اخیستل شوی دهغه قبر به تیاره وي اودوژل شوي د ارو او تنده بوازې ددښمن په وینو ماتیدای شي موږ د دوی دبو کیدو اوپه سوله ایز ډول ژوند څخه اندیښنه نه لرو تر څو پورې چې دعربو په اوسیدو تکیو کې دقومي برترۍ احساس وي دوی به هیڅکله هم سریو نشي.

کعب وویل:

داسمه ده چې عرب سرتمبه اوناپوه دي اوپردې بې لارۍ او ناپوهۍ ویاړ هم کوي.

خوتاسو ښایي دا نه وي اوریدلي چې په مکه کې یوه سړي دنبوت دعوه کړې ده او ددې ناپوهۍ اوجهالت پرخلاف یې غږ اوچت کړی دی.

هغه دبت پرستۍ، دروغو، بې حیایۍ، غلا او وژنې څخه

خلك اسار وي، هغوی پرې ښې پوهېږي
چې تاسو ټول يو د بل ورونه ياست، ما اورېدلي چې قريش د ځينو نورو قومونو څخه زيات مغرور او خپلسري دي، دوی د هغه په لويي ونه لوري

د عربو او سېدونکي د نا پوهي. اوس لارې په ډنډ کې ځکه راښکېل دي چې دوی ته چا د سلامتۍ لاره نه ده ښودلې، د دوی قومي کرکې لوډېنې ځکه ژوندۍ دي چې دوی چادو والي له برکتونو سره بلد کړي نه دي.

دوی د خپلې ټولنې پر مخ بدۍ ځکه وياړ کوي چې د نيکۍ او ښېګڼې له تصور سره آشنا نه دي، خو که چا يې د فکر لوری بدل کړ نو د يوه داسې ځواك خاوندان به شي چې ساری به يې په تېر تاريخ کې نه وي، دوی به په داسې سيلاب بدل شي چې د خپلې مخې هر ديوال به د خس په څېر ورسره واخلي.

د يهودو د يوې بانفوذه قبيلې «قينقاع» يوه سردار په کړس کړس وخندل او ويې ويل:

که ستا اشاره محمد ته وي نو ډاډه اوسه هغه موږ ته هيڅ خطر نشي پيدا کولای، ته د هغه په باب د اورېدلو خبرو نه پرېشانه شوی يې.

په خدای سوګند زه مکې ته ورغلی وم، هغه مې ليدلی او راغلی يم. هلته خلك پر هغه ملنډې وهي د هغه په لاره کې ازغي ښندي، د قريشو له خوا تنو پرته نور د يرې وسه او غريبان پر هغه راټول شوي دي او د هغوی داوضعه ده چې هره ورځ د يو ل خوري. هغوی به سوځوونکو ريګونو کې څملوي او پر ټټر يې درنې ډبرې ورږدي.

— او هغوی هغه ټول زحمتونه زغمي؟

— هو کې! هغوی له دې پرته نور څه وکړای شي؟ په مکه کې به څوك د قريشو مقابله وکړي؟ زما باور دی چې هغه نبي به يا قريش ووژني او يا به يې له مکې نه وشړي، ځکه خو د هغه په باب انديښنې ته اړتيا نشته، اوس موږ بايد پر همدغو خپلو لانجو غور وکړو او د دې ځای تر ټولو مهمه مساله دا ده

چې اوس اوخزرج څه ډول زر تر زره يو دبل پرخلاف راپورته شي ترڅو چې عاصم اوعدي غوندې خلك ددوی پام زموږ په لور راوانه ړوي.

کعب وويل:

دمکې دنبي له ياد وني نه زما هدف دا نه وچې تاسو وويروم ماغوښتل چې يوازې دا خبره ستاسو په ذهن کې کيني چې تاسو بايد داسې ونه ګڼئ چې اوس اوخزرج به تل تر تله يوله بل سره په جګړه اوجنجال کې وي اوددوی ترمنځ هيڅکله هم تفاهم او جوړه امکان نه لري.

هغوی ددوه ورونو اولاده ده، وينه يې يوه ده څکه خو دې ته بايد ډېر پام وکړو چې عاصم اوعدي غوندې خلك پردوی اغيزه ونه کړي.

يوه يهودي وويل:

بناغليه ا ن ن خو د هغوی وضعه داسې ده چې داوس هر سړی عاصم ملامتوي ، او دخزرج هر سړی عدي اودهغه زوی ته دبې غيرتی پېغور ورکوي تاسو ډاغم مه کوئ چې دوی به پرنورو اغيزه وکړي.

شمعون چې تر اوسه پورې چوپ ؤ وويل:

بناغليه ! زه غواړم يو څه زيری درکړم.

دعاصم تره زما پوروړی ؤ، هغه ډېر اداکولو لپاره راغلی ؤ.

کعب په غوسه شو ويې ويل:

موږ ټول تا ته مبارکي وايو خو په دې کې موږ ته دخوشالی خبر کوم دی؟

ټولو وخندل اوشمعون پرخپله پريشاني دقابو کيدو هڅه وکړه ويې ويل:

بناغليو ماداويل چې ماله هغه نه پور وانه خيست.

کعب وويل:

زه ستا ددې سخاوت سبب پوښتلی شم؟

- صيبا ماغوښتل چې هغه خوشاله کړم، ورته ومې ويل چې دعاصم

Telegram منصور کتابتون

له کړو وړو تر مایوسیدو وروسته تاته ددې ارتیا نشته چې له بل چا مرسته وغواړې زه ستا دکورني دوژل شویو بدل نشم اخیستی خو دومره خامخا کولی شم چې تر بوه مناسب وخته دغه پور درنه ونه غواړم ، څکه خو دغه پیسې بیرته درسره واخله اوتر یوه کال پورې بې سود هم نه درنه غواړم.

- هغه ستا پردې لورینه خوشاله شو؟

- هو کې! هغه ویل چې پردې پیسو به دخپل ټام څوکسان نور هم دوسلو خاوندان کړم، هغه له ماسره په خبرواترو کې دنن پیښو ته هیڅ ارخښت ورنکړ هغه داسې ګومان کاوه چې دعدې زوې پر عاصم کړدې کړې دي.

کعب وویل:

اوس زه تا پوهوم چې که دخزرج کوم سړی درته راشي هم همدغسې چلن به ورسره کوې، زه تاسو ټولو ته دا نصیحت کوم چې دملاتړ وعده ورکوئ ، که ستا سو پیسې دوی جګړې ته تیاولی شي نو دهغو تر دې بل ښه دلګښت ځای نشته، د اوس اوخزرج دسره جنګولو اویو دبل پرخلاف پارولو لپاره ددوی له شاعرانو څخه ښه کار اخیستل کیدای شي تاسو پټ دهغو سرپرستي اوپالنه کوئ، د عدې ، عمیر اوعاصم په باب زه دومره وایم چې ماته هغوی ډیر خطرناک ښکاري، امکان لري څه موده وروسته ددوی چاره وکړو. خو اوس دومره باید وګورو چې دوی څه کوي.

* * * *

ددې پیښونه درې میاشتې تیرې شوې وې اویثرب یهودیان پردې ډیر پریشانه وو چې په دې موده کې داوس اوخزرج تر منځ کومه جګړه نه وه شوې ، هغوی پخپلو کلیو باغونو او ورشو ګانو کې دتورې وهلو غیښې ویشتلو ،نیزې لوبې اونورو جنګي لوبو تمرین کاوه او له کورونو څخه تل وسله وال راوتل، ددې خبرې احتمال تل و چې په کوم خوړ ، کومه کوڅه او بازار کې به کوم څوک بل ته په مخه ورشي اوخبرې به بوه دوې شي بالاخره

به په سبنو کې دکـسـات چرې خوړلن ناځاپه په لمبو شي خودوی بوله بل نه په ځنګ کرځېدل ددوی دټوړو د را ایستلو لپاره بيرته يلمې ته اړتيا وه.

دعاصم لپاره دغه دامن وړخې ډيرې ګرانې وې، دی په کوز کې دننه خپلو ته او له کوزه بهر خپلو دوستانو ته پردی شوی و، ده به چې خاردي پرولو ته بوتلل نو دقبيلې دبودا ګانو اوخوانانو له کتريه يې دا احساسوله چې کوم ډير ناوړه کار يې کړی دی دنارينه و له لوبو سره اوس هم دده ډيره مينه وه او ده به دخپلې قبيلې له خوانانو سره دتيغ وهلو اوغيشې ويشتلو په سياليو کې برخه اخيسته، خوچې چا به داوس اوخزرج دتيروجګړو يادونه راواخيستله دده دپارولو هڅه به يې کوله نوده به په خپګان مخ ترې واړاوه.

دده تره دعربو دجاهليت دوختونو دهر بدخوی بنه لستازی و دکوزنی غرور ده ته دقبيلې دخلکو په مخکې دا اجازه نه ورکوله چې ورارة يې بې غيرته اوبې همته وي.

هغه دعاصم دغبرګون په باب يوازې دا دليل راووړ چې عدي اوبابې زوی پرعاصم کوډې کړې دي.

ده به هر خپل خپلوان اودوست آشنا ته همدا ډاډ ورکاوه چې زما ورارة دا سې نه و، هغه يوزمری و د خزرج کوم چاله ده سره د سيالی دعوه نشوای کولی، هغوی به ده ته لاره پرېښوده اوترې تېښېدل به.

دی دخپل پلار او ورونو وينې جبرته هيرولی شي دخپلې قبيلې دخوانانو لپاره يې له شام نه توری راوړي چې مرو دخپلو ورونو او عزيزانو کسات واخيستلی شو.

پرمنات سوګند چې اوس پرهغه دجادو او کوډو اغيزه شوې ده هغه ددې جادو دماتولو لپاره ډيرې هڅې کړې وي.

قديد ته ولاړ او دمنات بت په مخکې يې دعاګانې وکړې.

ديثرب له خلکو نه يې تاويزونه اوځانبتونه وکړل، ديثرب هغه يهوديان چې دآفت په لرې کولو کې يې شهرت درلود په وار وار ددوی کره راغلل، په

زور يې پي انسونه اوبېښې پرې وترل او دمختلفو بوټيو اوبه يې پرې ښيلې په مخکې يې عجيب او حيرانوونکې منترونه ووېل شول. او د ډېرو سپېڅليو ځايونو خاورې يې پرېدن ورومښلې، عاصم په احتجاج کاوه، چيغې به يې وهلې چې زه رك روغ يم دهيڅ جادو اغېزه راباندې نشته، خو هيڅا دده وچيغو پروانه کوله چې کله هيبره له څلورو لوريو مايوس شونو شمعون د بوه دلسې يهودي درك وروښو دچې دآفت چاره يې کولای شوای، هيبره په زاريو زاريو هغه يهودي ځېل کورته راووست، هغه درې ښا ښته پرلېسې د بوه منتر له ويلو وروسته هيبره ېوازې کوټې ته کړ او ورته وې ويل:

ستا پر وزاره ډېرې خطرناکې کړنې شوي دي، اوس دده يوازې يو علاج دی څوږه درته ويلی نشم

هيبره پر پيښانی ترې وپوښتل:

څنګه نشې راته ويلی؟

- څکه چې زه يو يهودي يم، او که ناچا ته وويل زه به په څه مصيبت کې راګيرشم چې کله هيبره دعربو تولو بتانو نومونه واخيستل او سوګندونه يې پرې وخوړل چې زه به ستا په باب چا ته څه نه وايم نو يهودي هغه ته وويل: که عاصم پخپلو لاسو هغه څوك روږنې چې کړنې يې پرې کړي دي او بيا هغه په وينو سره نوږه ماته راوړې زه به يې سمدستي دکوږو اغيزه له منځه يوسم

- کړنې چا کړي دي؟

- دا معلومول ستاسو کار دی زه يوازې دومره ويلی شم چې دا جادو دکوم خطرناك دښمن د لاندې کړلو پاره کېږي.

- زه هغه دښمن پيژنم

تر هغو وروسته دهبيره تر ټولو ستره مساله داشوه چې څه ډول عاصم وغدي او دهغه دزوی وژلو ته چمتو کړي ددې هدف لپاره ده دقبيلي زيور

شاعران په وار وار خپل کورته راوستل چې اوزني شعر یې دعاصم دکسات جذبه راپاروله شوای.

دې شاعرانو به دده دپلار اوورونو د در دوونکې وژنې پېښې یادولې دهغو دتړبو اروا او فریادونه به یې ورته انځور ول ،، دهغو دتړبو ارو اوفریادونه به یې ورته اوړول چې ددښمن وینې یې غوښتې په پای کې به یې دعمیر او عدي دخوښیو یادونه کوله چې دکوډو په واسطه یې داوس دقوم پر ویاړمن زلمی دمیرنتوب له خوږونو څخه بې برخې کړی و.

عاصم به چې دهیره نه ستومانیدونکې هڅې ولیدې کله کله به شکمن شو چې دغه خبرې رښتیانه وي ، خو بیا به یې له خپل زړه څخه وپوښتل چې که عدي او عمیر پرما کوډې کړې نو بیا هغوی چاکړې دي؟

که ماعمیر سره له دې چې دښمن مې ګڼه خوله مرګه مې وژغوره نو آیا هغوی به دې مجلس کې زما په ملاتړ غږ اوچت نه کړ؟

که زما دوستان او خپلوان پیغور راکوي چې دخپل پلار او ورونو وژنې مې هېرې کړې نو آیا عدي ته به یې دوستان او خپلوان داپیغور نه ورکوي چې دخپلودې زامنو اودوو ورونو خون بې هېر کړی، بیا به یې دسمیرا په باب چرت واهه او په خپل تیاره چاپېریال کې به یې ذهېلو او آرزو ګانو نوی دیوې په بلیدو شوې.

له سمیرا سره تر لومړی لیدنې وروسته تر بوې هیاشتې پورې له زغم نه وتلي ذهني کشمکش سره لاس او ګریوان و.

زه هلته نه ځم ، دبیا لیدو هڅه یې باید ونه کړم په ژوند کې زموږ لارې او منزلونه سره بېل دي ، عدي یو تصادفي پېښې تر اغیزې لاندې راوستی ، خو هغه به دخپلې لور په باب کوم پیغور ونه زغملی شي...

سمیرا ته هم دامعلومه ده چې زه هغې ته دمایوسي له اوښکو پرته څه نشم ورکولی خلک به ملنډې راباندې وهي او دعزیز به څمکه کې به هیڅ ګوټ کې هم موږ ته څوک پناه رانکړي زه به هغه بیا ونه وینم.

خو چې بیا به نوی میاشت راڅرګنده شوه نو په خیالونو او ارادو کې به
نرمې راغله فکر به بې کاره چې کله دجنوب پر افق هغه روښانه
رانبکاره شي نو هغه به زما لاره ځاري که زه ورته شم نو دا به څه فکر کوي؟
نه زه باید یو ځل خامخا ورسره ووینم، یوازې ددې لپاره چې ورته ووایم
چې دا لیونتوب دی ، یو داسې خوب دی چې تعبیر یې امکان نه لري زه
په تنګه او تیاره دنیا کې ستا لپاره هیڅ ځای نشته ته به زما دقوم هرسړي
دخان دښمن وګڼې او ستا سو دقوم هر سړی به ستا پلار او ورور ته
پیغورونه ورکوي سمیرا ستا خیر په دې کې دی چې ماهیر کړه.
بیا به چې دشپې مهال دغونډۍ په لمن کې دواړه ولاړ وو او یو دبل ته
درزا به یې اوریدله په دوی کې یوه هم دا نه احساسوله چې له کومه ځایه
راغلي دی او چیرته ځي. دوی به دماضي ترخه اودراتلونکي اندیښنې هېر
کړل دوی چې به کوم مهال ساه اخیسته دهغوهره شیبه دماضي تر کلوګلو
ورته درنه او مهمه ښکاریده.

ده ویل:

سمیرا زه ددې لپاره راغلم چې درته ووایم چې بیا به دلته رانشم.
سمیرا وخندل او ناڅاپه پرتیارې شپې کې دخوښۍ یې شمیره ستوري
وځلیدل، عاصم ته ځېلې خبرې بې معنی او خندنی ښکاره شوې دوی دواړه
یوبل ته نژدې کیناستل او عاصم لې په جدي لهجه وویل:

سمیرا زما پرخبره دې باور راځي؟

-په کومه خبره!

-پردې چې بیا دلته نه راځم

هغې وویل:

که زر ځله دغه خبره تکرار کړې باور مې نه راځي.

-ولې؟

-نه پوهیږم یوازې پردې پوهیږم چې ته دچا زړه نشې خپه کولی.

- مګر ددې به پای څه وي؟

زه نه پوهيږم

- تا ته داهم معلومه نه ده چې داوس اوخزرج ترمنځ دښمني ده او ددوی دښمني به زموږ ترمنځ داور دبوه غره په څېر ولاړه وي.

سميرا بيا دخنداهڅه وکړه خو کرسنده خندا يې به بوه غمجنه خندا په ستوني کې ونښته ويې ويل:

ماته هغه وخت داور دغه غر نه ښکاريدو.

ترڅه خنده دواړه چوپ وو، بيا عاصم وويل:

څه چورتونه وهې سميرا؟

هغې خواب ورکړ:

زه دا چورتونه وهم چې موږ دورخې په رڼا کې يو بل نه دي ليدلي.

- ته پوهيږې چې موږ دواړه دورځې په رڼا کې ښايې ترعمره ونه ليدای شو، داهم هسې تصادفي پيښه وه چې تير خل مو ديوې په رڼا کې سره وليدل زموږ ملګرتيا دتيارو شپو دمسافرو ملګرتيا ده اودتيارو شپو سرګردانه مسافر کله کله يو له بله سره ورک کړي.

سميرا دخبرو لوری بدل کړ او يې ويل:

کاشکي موږ دوه ستوري وای ا وکړی شپه مو يو بل ته کتلای.

- ستاستوري ډير خوښ دي؟

- هوکې زه تل ستوريو ته ګورم، تاته معلوم دی ماښام مهال په لويديځ افق يو روڼ ستوری راخيژي؟

- هوکی ا هغې ته زهره وايي.

- زه هغه خپل ستوری بولم او دزهرې پرځای مې سميرا نوم وربانده ايښی، بيا يې په آسمان کې دجنوب لوري رانه ستوري ته اشاره وکړه زياته يې کړه له ډيرو ورخو راهسې مې دغه ستوری هم ډير خوښ دی او پردې مې هم يو نوم ايښی دی.

- څه نوم دې پرې ایښی؟ -
سمیرا ځواب ورکړ:
عاصم!
دوی تر ډیره خبرې سره کولې بیا عاصم وویل:
زه نور باید ولاړ شم، او بیاځک شو.
سمیرا وویل:
عاصمه دغه میاشت ډیره رابانديې اوږده شوه.
ته خو به راځې؟ خوستا ځواب ته اړتیانشته زما باور دی چې ته به راځې.
- زه به خامخا راځم.

دوهمه میاشت تر پخوا په زیات باور او اعتماد له دې ارادې سره راغلی وچې له سمیرا سره به یې داوروستی لیدنه وي خو چې دغونډۍ لمنې ته ورسیدنو سمیرا هلته نه وه، ده تر ډیره وخته انتظار وکړ او بالاخره مایوس بیرته ستون شو، دیوه له زغم نه اوچت انتظار له څپو سره سره ده په زړه کې یو ډاډ احساساوه چې دیوې ترخې فریضې له تر سره کولو بیغمه شو.

که سمیرا پخپله پردې پوهیدلې وه چې زه له مصیبتونو او غمونو پرته هغې ته بل څه نشم ورېه برخه کولی نودا یې ښه وکړل چې را نغله خو چې له غونډۍ څخه رابنکته کیدو دایې په خیال کې وروګرځیدل چې ښایي دکومې ناروغۍ اویا بل سبب له امله نه شوای راتلای په زړه کې یې اندیښنو اوخپګان سررا اوچت کړ، تر لږ خنده زړه نازړه ؤ او بیایې ګامونه اوچت کړل اوروان شو خولې ورانديې تللی ؤ چې دچا غږ یې واورید:
- ودریږه!

دی ودرید، سمیرا په منډه راغله اوساه یې نیولې وه ویې ویل:
ما ویل ته به تللی وې، نن دنعمان تبه وه او پلار جان ورسره ناست ؤ، هغه همدااوس ویده شو، افسوس چې تا ډیر انتظار وکړ، خو ماته له کوره راوتل ناممکن وو، زه اوس هم ویریږم چې نعمان پلار جان راوینښ نه کړي،

هغه که لږ خند وروسته ناکراره شي او پرخای کې راکښېني نو څکه بېرته زه خم ، خو لوس به بوه میاشت ستا انتظار نه کوم ، دنعمان دناروغی په سبب به دوې درې ورځې له کوره راونه وتلی شم څکه تاسو راتلونکی اونی ته زلنی نه خوراخې که نه ؟

عاصم ورېل:

سمیرا ما غوښتل تاته روایم چې.....!

سمیرا یې خبره ورغوڅه کړه:

چې ته بله اونی راشې یا به نې دیرې خبرې وکړو.

راتلونکې اونی همدغه ورځ نیمه شپه به زه ستا انتظار کوم که ته راتلونکی اونی نشوای راتلای نو ددې میاشتې په څوارلسمه شپه خامخا راشه ورایه ته کله راخې ولې چوپ یې؟

عاصم ورېل:

دیره ښه ده دسبوږمی په څوارلسمه شپه به راشم ، خو که زه نشوای راتلای ته خو به خپه کیږې نه ؟

- نه زه به وپوهیږم چې دکومې مجبوری له امله رانغلې ، خو له هغو وروسته به دې هره شپه انتظار کوم، که زه دنعمان په باب ژاده وای نوسبا ته به مې په راتلو مجبوروله، اوس به دا څوارلس ورځې تر څوارلس میاشتو پرما اوږدې شي.

عاصم ورېل:

مګر دسبوږمی په څوارلسم به دغه غوندې زموږ لپاره خوندی ځای نه وي ، که څوک دې لوزې ته راغلل له لرې به مو وویني.

- داځای بلکل شاړ دی، زموږ کوزدکلی په وروستی څنډه دی ، دشپې مهال دلته هیڅوک نه راځي، بیا هم باید پام وکړو دسبوږمی په رڼا کې به زموږ دیر مناسب ځای وي، له دې ځایه بې لوزې ته په بڼ کې به دې انتظار کوم .هلته به مو په ګنو ونو کې له سپوږمي پرته هیڅوک هم ونه ویني

، اوس زه ځم.

عاصم ښه شو ویې ویل:

سمیرا لږ ودرېږه!

هغه ودرېده عاصم له یوې شیبې ځنډ وروسته وویل، تا ویلي وو چې مونږ تر اوسه پورې دورځې په رڼا کې یو بل نه دي لیدلي گوره که ته دلمر ختو پروخت ددې غونډۍ بل لورې ته راشې زه به پرآس سپور شم اوله دې ځایه دتیرېدو هڅه به وکړم.

سخوکه ته رانغلې نوزه به تر لمرلوېدوپورې همالته ځامخا راځم.

سمیرا له هغه ځایه روانه شوه خو څوکامه وروسته بیا ودرېده بوځل بې شاته راوکتل اوبیا په منډه ولاړه اوپه ونو کې ورکه شوه ، عاصم تر څه ځنډه چوپ ځای پرځای ولاړو، بیابې بو اوږداوسېلي واخیست اودخپل کلې پرلوري روان شو دی پردې پوهېده چې په خپله پرېکړه عمل نشي کولی، خو دځه اندېښنې او پرېشانی پرځای یې داداوسکون احساساوه، هغه په خپل زړه کې ویل:

دابنه وشول چې ماهغې ته دزړه خبره ونه کړای شوه.

په دومره لنډلیدوکې ماچېرته هغه پر ټولو خبرو پوهولی شوای، دهغې داوښکو دپاکولو ، تسلې ورکولو او د اوس اوراتلونکیو خطرناکو حالاتو په باب ددې قانع کول وخت غوارې ، خو آیا دا رښتیا ده چې که نن ماله دې سره دڅاده خبرو اوزړه خواله فرصت درلودای نودا به مو ورروستې لیده کاته وو؟

عاصم دخپل زړه په تل کې ددې پوښتنې ځواب لتاوه. اوده داسې احساسوله چې دیره بې دریغه څواك په مغکې دده دځیالونو اوفکر دیوالونه رانړېږي.

اودی دیره داسې شې دتر لاسه کولو هڅې کړې چې دده دروح ژورونه ننوتې دي دده آرامي او داډ یو ځل بیا په اندېښنه اوپرېشانی بدلېدو او

ویل یې:

سمیرا ! کاشکي موږ یو بل نه لیدای ، کاشکي ته دعدي لور او یازه دسهیل زوی نه وای.

زه تا څه ډول وپوهوم چې موږ یو د بل لپاره نه یو.

زه خپل خان څنګه پوهولی شم چې په کومه لاره مې ګام اخیستی هغه دسمیرا دکور دخلورد یوالي نه وراندې پای ته رسیږي.

موږ څومره مجبور اوبې وسه یو ،موږ څومره ناپوه اوساده ګان یو نه ،نه ، سمیرا زه باید یوه ورځ همت وکړم اوتاته ووایم ، که په راتلونکي خل نه وي نو په بل خل به پرخپل زړه زور راوړم اودا به درته وایم چې موږ کوم خوبونه لیدلي دهغوهیڅ تعبیر نشته موږ چې دهیلو کومې مانۍ درولې دي دهغو هیڅ نادا و نشته، زموږ په برخه له مایوسی اوبدمرغی پرته بل څه نشته ، نو بیا موږ دهغې ورځې انتظار ولې وکړو چې دزمانې بې رحمه لاس موږه زور یوله بله بیل کړي موږ خپلو خپلو کورنیو اوقبیلو ته دا موکه ولې ورکړو چې تونږي راوباسي او زموږ په منځ کې ودریږي موږ پرتیاره لاره دومره لرې ولې ولاړ شو چې بیرته راګرځیدل راته ګران وي.

سمیرا ! زما سمیرا ! ژمنه وکړه چې همت به کوې.

اوبنکي به نه بهوې، زه له خپل پای نه نه ویریږم خو نه غوارم چې تا په داسې لارو بوخم چې له ازغیو ډکې دي ، ته یوه ښځه یې اوستا مصیبتونه اودردونه ماته له زغم نه وتلي دي.

دشپې چې عاصم پرستره پریووت لـه سمیرا سره یې دراتلونکي سهار دلیدو وعده په زړه شوه او تر ډیره پورې لټ پرلټ اوښت ، او بیا سهار دلمرلویدو پرمهال عاصم غونډۍ ته نږدې خپل آس ودراوه اوناڅاپه یې دا احساس کړه چې دنړۍ تولې ښکلاوې خوږې اوتازګی دسمیرا په راتلوورته راغې، دې دهغې په مخکې لـه خوشبوزیات ایسارنشو، خو همدغه خوشبو دده دشعور اواحساس تولې پراخی اوسعتونه په خپله

غیره کې اخیستي وو.

دسمیرا په خیره کې دهیلو رڼا ، پرشوندویې دژوند موسکا وې او په سترګو کې یې دمینې هیلې اوغوښتنې وې، ددغو خل، دغو موسکا ګانو او هیلو په مخکې ده ته دتیروخت غمونه اومصیبتونه اوداوس پریشانی اوناکراری اودراتلونکې اندیښنې هیڅ ښکاریدې.

هغوی تر شوندو لاندې یو دبل نوم واخیست.

اوددوی چوپه تږی له نغموډکه شوه.

سمیرا وویل:

عاصمه! اوس ولاړ شه ! او له دې سره دهغې له ښکلو سترګواو ښکې راوخوټیدې، عاصم داسې ګڼله لکه چاچې لمخونه راوښکر کړی وي یوې اوبلې خواته یې وکتل اوآس یې پونده کړ.

تملیکرا - منصور کتابتون

جوړونکی سیف الرحمن زرمتی

# ( اتم باب )

یوه ورځ له ماسپښین وروسته عاصم کورته ننوت هیره دکوز په بن کې دکجورو تر کښو ونو لاندې ویده ؤ او سعاد څوګامه له هغه نه لرې ناسته وه او ورو ورو یې غږلې دسعاد چې پرعاصم سترګې ولګیدې مخ یې واړاوه او داسندره یې پیل کړه:

دښمن زما دکاکا پرزوی کودې کړې دي!

دهغه لاس دتورې اوچتولو وړنه دي.

اوس دهغو ارواو تنده څوک ماته کړي چې ددښمن وینو ته ریږي.

عاصم تر لږه خنډه خپه اوپه اندیښنه کې ولاړ ؤ بالاخره یې وویل:

سعاد! که دې بیا زما په مخکې داسندره وویله نوځرخې به دې ماته کړم.

سعاد په بې پروایي ځواب ورکړ:

زما له ځرخې ماتولو پرته نور څه کولی شې، خو یه دې کې وینې نشته چې ستا دپلار او ورونو دارو او تنده ماته کړي.

دسعاد دغه پیغور عاصم نشو زغملی هغه پرده ډېره ګرانه وه او په هره خبره کې به یې دده پلوي کوله ، خو دعمیر دزوند ژغورلو نه وروسته دی دځبل تره اونورو خپلوانو په څیر دسعادهم له پامه لویدلی ؤ.

په پیل کې به یې ده ته ویل چې ځورلنې مې پیغور راکوي چې دکاکازوی دې بې غیرته شو ، خو چې دغه دول خبرې بې اغیزې ثابتې شوې نودې دخپلو مور اوپلار په څیر دده ځورول پیل کړل چې دې غیرګون

عاصم ته دکور فضا ډیره زهر جنه کړه.
هغه وویل:
سعاد! تاته به ډیرې ورځې د دې سندرې ویلو اړتیا نه وي ، زه له دې خایه ځم.
سعاد ټکان وخوړ او ویې ویل:
ته چیرته ځې؟
- ستا یې څه چې چیرته ځم:
سعاد ترلږ خنده هکه پکه ولاړه وه او عاصم ته یې کتل بیا یې په سترګو کې اوښکې راغلې بالاخره یې وویل:
وروړ جانه! که ته له مانه خپه شوی یې نو به عمر به بیا داسې سندره نه وایم.
- زه له تا نه خپه نه یم، خو دیوې مودې لپاره مې له دې خایه تلل ضروري دي.
سعاد وویل:
نه نه، پلار جان به اجازه درنکړي چې ولاړ شې.
هبیره ناڅاپه سترګې وغړولې جګ شو کیناست او ویې ویل:
څه خبره ده عاصمه! ته چیرته روان یې؟
- زه شام ته ځم.
هبیره اندیښمن شو ویې ویل:
ته غواړې له کوره وتښتې؟
- نه د سوداګرۍ په نیت ځم.
- مګر ته خو هبیرې چې دایراني بوڅ د پرمختګ له امله دلویدیز لوري سوداګر شام ته نه ځي.
عاصم ځواب ورکړ:
پرون خبر شوم چې د بني غطفان سوداګر چې زه له هغه لوري ورسره

راغلی وم به نژدې ورځوکې بیا شام ته درومې زه غوارم له هغوی سره ولاړ شم

سمدستي دایرانیانو دپرمختک څخه دمشق اوشام ته څه خطر نشته، دشمال په ښارونو کې دګډوډي سبب دادی چې له هغه خایه خینو شتمنو کسانو خپله مال او شتمني راټوله کړه اوداسکندر یې اوقسطنطنیې په لور ولاړل خو ددې یوه نتیجه داهم ده چې هلته ډیرګران شیان ډیر ارخانه پیرل کیږي

که ما ته له پخوا نی کتې نه څه پیسې راکړې نودا سفر به مې ډیر بریالی وي . که ماله دمشق نه وړاندې په تلو کې کوم خطر احساس کړونو له هغه خایه به بیرته راستون شم ، تراوسه به ددمشق اوشام له شمال سیمو نه ډیرې قافلې هلته رسیدلې وي او هلته به رخت نورهم ارخانه شوی وي که زما په دې سفر کې دڅه ګټې امکان نه وي هم دا ضروري ده چې یو څه موده له کوزه بهر ولاړ شم.

هبیره تر ډیره پورې سرښکته اچولی و اوبه چورتونو کې ډوب و بیا یې عاصم ته وکتل ویې ویل:

زه ستا برخي پیسو ته لاس هم نه وروړم چې هغه کله اخلې درسره وړای بې شي، خوزه ستاله سودا ګری سره مینه نه لرم ، اوس به خلک ماته دا پیغور هم راکوي چې دزاره دې دینو خزرج له ویرې کور پرېښود او وتښتید ، ستاکه زړه غواړي خپله برخه باغ دې هم پلورلی شي.

عاصم وویل:

کاکا جانه ! تا ته معلومه ده چې زه له جګړې نه ویریږم، خو داوس او خزرج دجګړې پایلې ددوی دواړو لـه بربادۍ پرته څـه نشي کیدای لـه دې جګړې نه یوازې یهودیانو ته ګټه رسیږي.

هبیره وویل:

داستا نظر نشي کیدای دا دچا کړې خبرې کوي.

[illegible]

[illegible]

[illegible] احساسات [illegible]

[illegible] احساسات [illegible]

[illegible]

[illegible] انتظار [illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible] دجاد [illegible]

[illegible]

[illegible] دجاد [illegible] خارج [illegible]

[illegible] جرئت [illegible]

هیره خواب ورکړ.

دوی پیل ته څه لږ ټیا لري ، ځکه چې بوهیږي دوی برمنلي دي لوځبل هر وزل شوی بدل بې اخیستی دی بیا دتا په کړو وړو هغوی نور هم ډاډه شوي دي چې موږ پر خپله مته اعتراف کړی دی ، خو که دوی ولو لومړی کړي که نه ، نور زموږ قبیله تر ډیره آرامه نشي پاتې کیدای زه دوی ته دلته وایم چې بو څو ورځې نور هم صبر وکړی لږ زما دوزلو ته دکړو لقیزه لري شي....

عاصم ووېل:

زما باور دی چې زموږ قبیلې ته به ډوار ورومبي کړلو لږ ټیا پېښه نشي ، دیثرب یهودیان تر موږ ډیر هوښیار دي او وړاندي ګوري ، هغوی به داسې خبره خامخا رامخې ته کړي چې اوس لوخزرج بو دبل برخلاف توري لوچتولو ته مجبور شي ، زموږ په منځ کې دا دلمن بوه نیمه مباشت موده ده دوی لپاره ډیره خوږوونکې وه .

هیبره غوسه شوې وېل:

ته په هره خبره کې دیهودیانو یادونه کوې خو دهغوی به ملامتولو ته له خپلو ذمه واریو خلاصی نه مومې

عاصم ووېل:

کاکا جانه آیا دا رښتیا نه ده چې یهودیان په پټه کې دولږه برث تجوب دوړو ته بوزونه ورکوې چې موږ جګړو ته دوام ورکړای شو؟

آیا هغوی پرما دعمیر دوزلو تور به دروغو بوزي نکړ؟

هیبره ووېل:

زه تا دیهودیانو له ملامتولو ته ایسارووم ، خو تا دي خبرونه دا پایله خدګه واخیسته چې خزرج قوم زموږ دوستان دي؟

– یثو خزرج زموږ دوستان نه دي ، خو مثر دوی حضرت ئک دښمنان لېدلي دي ، زه دکوم داسې جګړې لپاره تیوره نشم لوچتولی چې بولږي

د بهرد بانو ارمانونه پکې پټه کېږي

هبیره وپوښتل:

چې کوم وخت زمونږ ولړه ، زلزله لوخراسان دخروج به وړاندې دجګړې به کنار کې ودرېږي نو ته به هغه مهال هم دتونږې په را ایستلو کې زړه نازړه وې؟

- نه پوهېږم، خو پردې مې باور دی چې هغه وخت به زه دلته نه وم . او زه به د بهرد بانو پرخیرو دخوږو موسکانو ونه زغملی شم

کاکا جانه زه بیره پوښتنه کوم . ایا اوس ارخزرج دوه وروڼه نه رو؟ آیا زمونږ او دهغوی وینه یوه نه ده؟

هبیره په لومړي خیل تندي پرخپیره ورواهه او ویې ویل:

ته بلکل لیونی شوی یې ، کاشکې ماستا دکوز علاج کولی شوای نه چې چېرته دې زړه غواړي ولاړ شه زه دمخه نیسم، زه به داسې کنم. چې زما دوږوز زوی چې ما پرې ویاړ کاوه مرشوی دی.

دهبیره میرمن له کوټې راووتله او وړاندې راغله ویې ویل:

څه خبره ده ؟ تاسو جنجال ولې کوی ، آیا دکوز او هبیره به پردې خبرو لږې شي. هبیره هیڅ ځواب ورنکړ او میرمن یې راغله دسعاد ترڅنګ کېناسته. له لږ ځنډ وروسته یې عاصم ته مخ ولړاوه او ویې پوښتل:

سالم نه دی راغلی؟

عاصم ځواب ورکړ،

هغه له عباد سره خاروې راولي، زه لږ مخکې راغلم

• • • •

تا ماښام له کوز له بهر دڅو تنو غږونه اوچت شول دوی ټول پریشانه شول او ډار زړه نه یې سترګې ورداروليې. دهبیره دمیرمنې لذلز منذر بن عقیل، پممه دوه رامسعود او جابر اویه هغوی پسې دلیلې اوه کسان کوزته دننه

ورننوتل

هبیره داندیښنې په حال کې جګ شو ودرید. منذر ته یې وکتل او ویې ویل:

لکه چې کوم ښه خبر دې نه دی راوړی؟

منذرځواب ورکړ:

عاصم هیڅ نه دي درته ویلي؟ هغه نن یوه بله توره کړې ده.

هبیره عاصم ته وکتل، خو هغه چوپ ولاړ و، دعاصم دکاکا میرمن خپل وروره ته وویل:

وروره جانه! څه خبره ده؟

منذر ځواب ورکړ:

دعدي زامنو زموږ پرورشو حمله کړې وه.

اوعاصم زموږ پرخلاف دهغوی ملاتړ وکړ.

عاصم چیغه کړه:

دا دروغ دي دهغو څو وزې اواوښان زموږ ورشو ته ننوتي راغلي وې، مسعود اوجابر هغه راګیر کړې اوخپلې ورشو ته یې راوستې لږ ځنډ وروسته دعدي نوکراوزامن راورسیدل اوماد هغوی څاروي بیرته وروسپارل.

منذروویل:

تاچې زما دزامنو پرځای دهغوی پلوي کوله نه شرمیدې؟

جابر وویل:

عاصم دروغ وایي، دهغوی څاروي زموږ ورشو ته رارسیدلي وو اوموږ حق په جانب وو چې هغه راونیسو، دهغوی نوکرانو موږ ته ګواښونه کول اوشورماشور یې ګډ کړ دخپل قوم خلك یې خبر کړل

موږ خپلو ملګریو ته غږ ونه کول چې عاصم څاروي هغوی ته ور وشړل او پرموږ یې ملامتي ویله.

دعاصم مخ له غوسې تور اوشین شو ویې ویل:

جابره که ستا پلار او زما کاکا دلته نه وای بیا به دې داجرئت نه وکړی چې ما دروغجن وبولي.

منذر په غوسه شو ویې ویل:

ته زما دزوی دویرولو هڅه مه کوه، که نن زه هلته وای نولیدلي به مې ور چې دعدي زوی څرنګه خاروي رانه بیا یي او ته زموږ ددښمنانو په ملاتړ دخولې چوله کولو جرئت څنګه کوې!

عاصم په پسخند ځواب ورکړ:

که ته هلته وای لیدل به دې چې دخزرج دځوانو په راتولیدو ستا زامن دوریو په څېر بغیدل، او دوی پردې هم نه پوهیدل چې غږ یې دغره یل لوړې ته تر شپنو پورې نه رسیږي.

دخزرج له خلکو سره ناندری وهونکي نور وو.

دغه مېرنۍ خو هغوی ته نژدې ورتلای نه شوای دوی لږ تر لږه سل ګامه لرې وو، مسعود خپلو اوښو هم تر جلب نیولی و چې که خبره دتیښتې شي دخپلو پرخای له پردیو پښو کار واخلي.

مسعود وویل: ته چټي وایې، ما دنورو کسانو دخبرولو په اراده داوښ جلب نیولی و.

عاصم وویل:

نوتا هغه وخت دافکر ولې نه کاوه چې ددوی خاروي دې راوستل چې که ددوی اته - لس تنه راټول شي نوته به له هغوی سره دمقابلې پرخای دتیښتې لاره نیسې، آیا دارښتیا نه ده چې هغه وخت هم زموږ دکسانو شمېرزیات و؟

- تاخو زموږ کسان له جګړې ایسارول؟

- هوکې ما ایسارول، څوکه زما پردې باور وای چې دجګړې په وخت کې به ددښمن لومړی ګوزار ته اخلې، نو ما یو سه کړی به مې نه وای، آیا زما په څېر دعدي زامنو هم خلك له جګړې نه ایسار ول؟

انګړ ته ورت. دهغه زامن پرهغه پسې ورغلل اوځو شیبې وروسته نور خلك هم په چوپه خوله له هغه خایه روان شول.

سعاد چې تر اوسه په حیرانۍ دې پیښوته کتل په ژړا شوه اوپه منډه یې کوټې ته ننوته.

دهبیره میرمن خپل خاوند ته وکتل ویې ویل:

ستا وراره زما دورور سپکاوی وکړ، یا به اوس دی له کوره باسې یا به زه نه اوسیږم.

هبیره بیله دې چې څه خواب ورکړي پرکټ یې پې سیکه ځان وروغوځاوه.

عاصم وویل:

کاکا ناوې! زه تانه خپه کوم، ماپخپله له دې خایه د تلو پریکړه کړې ده.

هغه چوپه خوله دخپل میره تر څنګ کیناسته، عاصم تر لږ خنده زړه تازه ولاړ و. اوبیا یې ورو وروکامونه واخیستل اودبهر دروازې ته لور ولاړ.

هبیره له شانه غږیږې وکړ:

عاصمه ودریږه!

هغه ودرید اوشانه یې راوکتل، دهبیره له سترګو اوښکې بهیدې، دا له اتکل نه وتلې خبره وه عاصم به تل دخپل تره په سترګو کې دکرکې اوبدل لمبې لیدلې، دده پر زړه یو ګوزار وشو، هبیره چټک شو وراندې ورغی اوعاصم یې ترمټ ونیو ویې ویل:

دسهیل زوی زما له کوره داهسې نشي تلای دایې وویل اوبیا یې دننه کوټې ته ورسره بوتلو:

زه تا له تلو نه را ایساروم، زه پوهیږم چې ته مجبوریې.

عاصم په درد ناکه لهجه وویل:

کاکا افسوس چې ماته خوشاله نکړای شوې.

هبیره وراندې ورغی اودکوټې په یوه کونج کې یې اینبې دیره صندوق

سرپوړ ته کړ له هغو نه یې یوه کخوړه را واخیسته او عاصم ته یې ونیوه ویې ویل:

واخله! داستا مال دی، له دې نه مې یرازې دشمعون دپوړ پیسې بیلې کړې وې.

عاصم وویل: نه کاکا! زه اوس دې ته اړتیا نه لرم ما نور د سوداګرۍ اراده بدله کړه.

هیره په ترخه لهجه وویل:

عاصمه! دا واخله او نور ما مه خوروه!

عاصم په نه زړه دغه له لاسه همیانی واخیسته، بیا یې له لږ ځنډ وروسته وویل:

زه تر اوسه پورې همدلته یم، داکه له تاسره وای ښه به وه، زه به خو ورځې دکوم دوست کره پاتې شم چې کله روانیدم بیا به یې راسره واخلم.

نه.نه! نور زه دې ته لاس هم نه وروړم، ته دې ته اړتیا نه لرې چې خوورځې دکوم دوست کره تیرې کړې که اوس تا ته زما سره خوورځې تیرول هم ښه نه ښکارې زه به چیرته ولاړ شم

هیره دا وویل اوله کوټې ځخه ووت.

سعادیوه لوري ته دیوال ته ډډه وهلې وه او په غمجن نظر یې عاصم ته کتل، بیا په بیره وړاندې ورغله وې ویل:

راکړه ستا امانت به زه درته وساتم

عاصم په چوپه خوله همیانی ورکړه، سعاد چې له سترګو یې اوښکې څڅیدې وویل:

ته باید نه وای تللی.

عاصم دوا ره لاسونه ددې پر سر کیښودل او ویې ویل:

سعاده! که ته پردې خوشاله کیږې نو زه دې ته چمتو یم چې خو ورځې تر تې هم ستا دموریبغوږونه وزغمم.

ـته باید خو ورخي وروسته هم ولاړ نشي، باید تل همدلته واوسي ، زه وعده کوم چې مور به هیڅ هم نه در ته وایي.

زه به هیڅکله هم هغه سندره ونه بولم، ستا په یاد دي چې زه کله ماشومه وم او ته به په غوسه شوي.

نو زه به دي وهلم اوس مې هم ووهه زه خو دومره لویه شوې نه یم

عاصم سعاد په غیږ کې ونیوه او دهغې پرسر یې د مینې لاس را تیر کړ، سعاد په سلګیو کې ویل:

- چې ته په کور کې وې زه د شپې هم له څه شي نه ویریږم

اوداد راسره وي چې که وویریږم تا به راویښ کړم که بیا دا کور ، غل ،پیری هر څه چې وي ویه تښتي خو چې ته دلته نه وې زه له هر شي څخه ویریږم

- ستا سره به سالم وي ، پلارجان به دې وي.

- نه .زه تاسو ټولو ته اړتیا لرم.

عاصم وویل:

سعاد! زه له تاسره یوازې دا وعده کولی شم چې ستا لیدو ته به یوه ورځ خامخا راځم، خواوس زموږ دکورنۍ خیریه دې کې دی چې زه له دې ځایه ولاړ شم، ته باید پریشانه نشې، امکان لري دیر زر زه بیرته راستون شم ، لومړی خل هم ستا داتکل نه مخکې رانه غلم؟

ـ هغه خل ته خپه نه وې تللی.

- زه اوس هم خپه نه خم، دایوه مجبوري ده ، یوه ورځ به زه تا پرې ویرهوم چې له کوره زما تګ څومره ضروري و.

- سعاد دانګریه لوړ وکتل ویې ویل:

- پلارجا ن بهر ته ولاړ زه ویریږم چې هغه په غوسه کې چیرته ولاړ نشي

- نه سعادا بیغمه اوسه، زه به یې پخلا کړم او بیرته به یې راولم عاصم دا وویل او بهر ته ووت

هلته دخازوبو تر خېره لاندې هېبره له عباد سره خبرې کولې ، عاصم بې چې وز روان ولید په حقارت بې مخ واړاوه، دهغه غوسه بې چې ولیده عصم دخه ویلو جرئت ونکړ او غلی بهر ته ولاړتر لېږ خنډ دهغه پردې هم نه پرهیده چې چېرته روان دی؟

په شوپو کې بې دخپل تره اومنذر خبرې کرنګیدلې ، بیا یې ناڅاپه وریه زړه شول چې نن دسپوږمي خوارلسم دی اودده غمجنه، مایوسه لوریجاړه دنیا دسمیرا پرموسکا ګانو ډکه شوه.

دی له کلیو راووت یوه اویل لوزې ته له ګرځیدو وروسته پریوه لوړه کېناست ، لمر خپل دیوې ورخې واتن وواهه دمابنام ګرندې په منډو سبوزې دتیارو په غیږ کې ورک شول.

لږ دودونو نری کرښې چې په دره کې د غځېدلیو کلیو له کورونو څخه اسمان ته جګیدلې دمابنام په تیارو کې جذب شوې،بیا دیشرب دمیوو پرباغونو اوشوندیو له ختیځ افق څخه دراختلې سپوږمی ورانګې خبرې شوې ، عاصم دنیمې شپې په انتظار ؤ هغه به د ناکراری په حال کې کله جګ شو یوې اویلې خواته به یې قدم واهه بیا به پرکومه ډبره، کېناست ، بالاخره دغه دي دبې په لوز وزغی.

ټایپکرام : منصور کتابتون

جوړونکی : سیف الرحمن زمنی

# نهم

سمیرا هلته نه وه او عاصم بوې اوېلې خواته له کتلو وروسته دکجوړو په منځ کې په یوه خالي ځای کې کېناست. دڅولړلسمې سپوږمۍ ړانګو په بڼ کې زړه وړونکې منظره جوړه کړې وه. له لږ انتظار وروسته هغه جګ شو او په کرارۍ یې بوټې اوېلې خوا ته قدم واخیست. د تېرې ورځې پېښو یې اروا سخته خپه کړې وه. او دی له ډېرو ساعتونو خوړوونکي کشمکش نه وروسته دې ته راغلی و، او دا یې فکر کړی و چې له سمیرا سره به یې دا وروستی دیدن وي.

دی پوهېده چې دې دیدن نه وروسته به یې ژوند نور هم تریخ شي، خو بیا هم له سمیرا سره دلیدلو او خبرو په تصور ده یو ډول داد او سکون تر لاسه کاوه، خو هغه اوس دلته نه وه. عاصم فکر کاوه چې ښایي هغه را نشي.... نه. هغه به خامخا راځي، زه له وخته ډېر مخکې راغلی یم، تر لوسه پورې نیمه شپه نه ده شوې.

خو په خند وشو چې هغه ستړی راغلی دی.. هغه خامخا دځه مجبورۍ له امله پاتې شوې ده. اوس به هغه سبا ته راځي او زه باید ا نه خاپښته نور هم انتظار وکړم، کېدای شي سبا ته هم رانشي. دځه مجبورۍ

زه لا ده لمو ورځې نورې هم له کوره راونه وتلی شم اوزه دې ته داهم ونه وملی شم چې زه روان یم

عاصم ته دخپل زړه بوج له زړهم ځخه اوچت ښکاره شو چې بیا د ځاپه نقدبرده ته دژوند نوې رنګینی په مخه کې وځوېدلې اوزړه یې په درزلشو، سمیرا را روانه وه

عاصم دونو له سیوری راووت او دسپوږمۍ په رڼاکې یې متې وغزولې ودریده. سمیرا وړاندې راغله ودریده، ټینه شوه.زړه نازړه شوه اوبیا په سم ووراغله اوورسره څاره غږی شوه.

عاصم وویل:

ما فکر کاوه چې راتغلې اومونږ بخوا له دې چې سره بیل شو بیا موسره ونه لیدل.

سمیرا وویل:

مونږ به هیڅکله سره بیل نشو.

- ته ډېره ناوخته شوې

- پلار جان مې ویښ و. لومړی دلیلې خوګان وسره ناست وو، چې مونږ ولاړل بیا له عنبه لوعسبر سره په خبرو بوخت شو او ددوی زیاتې خبرې مشا په باب وې

- زما په باب!

هوکې ! پلار جان پردې ډېر خوښ دی چې نن تا زمونږ قبیلې جګړې ته نه وړې پریښې ، نن چې زمونږ کره کوم کسان راغلي وو پلار جان مې ژمنه ترې واخیسته چې په راتلونکې کې به په کرمه معامله کې جګړه دوی ته پیلوي.

عاصم د سمیرا تر ژبې لاندې لاس کیښود او دهغې مخ یې سپوږمۍ لوړې ته واړاوه اوبه ځغیرې ورته وکتل وغې ویل:

سمیرا زه به دغه شپې تل په یادلرم ، دغه خبره به مې تل به

سترګو کې وې، له دې خایه په میلونولرې به زه داسې احساسوم چې
ته دې په بن کې ولاړه یې او سپوږمۍ خپلې وړانګې دریاندې
اوروي.

- له دې خایه په میلونو لرې! ته چیرته روان یې؟

- هوکې!

سمیرا حیرانه شوه: ده ته یې وکتل.

عاصم پرخمکه کیناست او د سمیرا لاس یې ونیو وې ویل:

سمیرا کینه! زه غواړم څه درته ووایم.

هغه کیناستله.

عاصم وویل:

سمیرا ما ته داسې مه ګوره، ته پوهیږې چې له تانه بیلیدل راته
دژوند تر ټولو ستر از موینت دی.

سمیرا په غریو نیولي غږ وپوښتل:

ته چیرته ځې؟

-شام ته.

-زما په خاطر؟

هغه په درد ناکه لهجه ځواب ورکړ:

سمیرا! ته باید زما له خبرو نه داسې مطلب وانخلې چې دخپل
وطن په پرېښودو خوښ یم، که دراتلونکې وهمناکې تیارې یوازې
زما لپاره وای، یا زما دغلطیو پایلې یوازې زما تر ذات پورې
محدودې پاتې کیدای شوای نوما به په ډیر بدحالت کې هم غوښتل
چې دلته پاتې شم، خوزه به تا په خپله بدمرغۍ کې راسره شریکه
نه کړم.

سمیرا په پریکنده لهجه وویل:

زه هم درسره خم:

- نه سمیرا! ستابښې پرګلانو فرش دنلولپاره پیدا شوي دي اوزما په لاره کې له سکروټو پرته هیڅ نشته . ته دسپوږمۍ دشپودمسکاګانو لپاره پیداشوي یې، خوله ماسره به په ویروونکیو تیارو کې تیندکونه خورې ، دیشرب خمکه پر ما تنګه شویده، اوله دې خابه چې ولاړشم زما به هیڅ کور اووطن نه وي.

ستا لپاره دلته هرڅه شته، زه له تانه دومره لویه قرباني نه غواړم ،چې کوم وخت به سړه سینه فکر وکړې چې پرپلار او ورونو به دې څه حالت راخي اوستاسو دکورنۍ اوقبیلې خلک به څه وایي، بیا به ستا احساسات بدل وي.

هغې وویل:

عاصمه! که ستا یوازې زما مصیبتونو ته پام وي نو زه همدا اوس ستا سره تلوته تیاره یم .زه داپوښتنه نه درنه کوم چې چیرته خې؟ زه به تا ته دلارې دمصیبتونو اوستونزو ګیله ونه کړم، داور دسکروټو تاو به احساس نکړم. زه یوازې دومره پوهیږم چې له تا پرته ژوندی نشم پاتې کیدای.

سمیرا هیله منه اوبه موسکا شوه. له دې سره یې له تورو تورو غټو سترګوڅخه اوښکې راتویې شوې.

دعاصم زړه په چاودیدوو، هغه خپل ټول توان را ټول کړ اوویې ویل:

امکان لري ته دانول وزغملی شې ، خو یوه خبره به ونه زغملی شې ، ته به دا ونه زغملی شې چې زما دقبیلې هر هلك او بوډا به ستا پرپلار او ورونو ملنډې وهي اوبخبله ستا سر قبیله به له دوی سره داسې سلوك وکړي چې دوی ته به سرلوړي ګرځیدل ګران وي.

سمیرا! داوس اوخزرج دجګړې دپای ته رسیدو امکانات راپیدا

شوي دی؛زه داسې احساسوم چې ستا دورور دژوندپه ژغورلو مې دېشرب دخلکو لپاره بوښه کار کړی دی، اوس زه دا نه غواړم چې داسې احساس کړې چې دنېکۍ په پرده کې مې ستا له ورونو اوپلارنه ډېرېد بدل واخیست.

که موږ له همت نه کار وانه خیست نو ددې پایلې به همداسې شي چې اوس اوخزرج بیا تورو ته لاس کړي ، زه ستا سره مینه کوم، سمیرا له تاپرته ژوند راته توکې ښکاري. خوآیا ته داخوښوې چې زما مینه داوس اوخزرج دتباهی سبب شي ؛ ته دا زغملی شې چې زموږ کورنۍ زموږ په سبب بیر دېل ورمیږونه غوغ کړي؟

سمیرا دخواب پرځای مخ پردواړو لاسونو پټ کړ او په سلګیو شوه، عاصم جګ شو اوتر څه خنده ژړه نازړه ولاړ و، بیا ورتیټ شو په مینه یې دسمیرا پروېښتانو لاس راتیر کړ ویې ویل:

سمیرا! ښایې تر یوې مودې پورې موږ سره ونه لیدای شو حوصله وکړه اوما ته دغه شیبې زیاتې دردناکې کوه مه. که ماخپله سینه خیرولی شوای او زړه مې درښودلی وای نوستا به داګیله نه وه چې زه په خوښی خم

سمیراجګه شوه اوخپلې اوښکې یې پاکولې ویې ویل:

زه له تانه ګیله نه کوم، خو دلته دې ددې لپاره راتلوته اړتیا نه وه چې راته ووایې زه خم

عاصم وویل:

زه پوهیږم چې داپرار به دواړو ته خوروونکی وي. خوزه ویریدم چې که ستا له لیدو پرته ولاړ شم ته به مې بې وفاوبولې اوکرکه به رانه وکړې، په مسابرۍ کې به داخبره راته له زغم وتلې وه چې زما سمیرا چې زه بې له هرې ساه سره یادوم رانه

مروره ده.

زه په دې امید خم چې کله بیرته راشم نو دیشرب وضعه بدله شوې وي، داوس اوخزرج پخوانې تېرونه روغ شوي وي ، اوچې زه بیا ستا دپلار په پښو کې ولوېږم او ورته ووایم چې لـه سمیرا پرته ژوندی نشم پاتې کیدای نودی به هغه کنځلې نه کني،

سمیراهیله منه شوه وېې ویل:

ته دلته دوضعې دبدلون اوښه کیدو انتظار تشې کولی؟

– نه،سمیرا نـه ، زه دلته نشم اوسیدای دا به زموږ دواړو لپاره پولوی ازموېښت وي ، دا امکان نه لري چې زه دلته پاتې شم اوستا دلیدو هڅه ونه کړم.

داهم امکان نه لري چې زموږ مینه دې تر ډیره دخلکو لـه نظره پټه پاتې شي. بیا زما لـه قبیلې سره اړیکې دومره خرابې شویدي چې اوس دلته نشم اوسیدای.

دسمیرا اوښکې راتم شوې وې او هغې په خپل زړه کې دخپګان او درد پرځای یو ډول پیکه سکون احساسا وه.

یوداسې سکون چې یو تېې سرتیرې وسلې غورځولو ته اړباسي.

عاصم هم په خپل زړه کې یو داډ احساس کړ ویې ویل:

راځه ! زه دې دکور تر دروازې پورې رسوم

هغې په غریونیولي غږ وویل:

نه..... ته ورځه زما غم مه کوه، زه مې دکور لاره نه هېروم ته ورځه!

دسمیرا لـه سترګو بیا اوښکې وخوټیدې ، عاصم څو شیبې غلی ولاړ وُ بیا ناڅاپه لـه هغه ځایه روان شو، څو ګامه چې ولاړ ودرید اوسمیرا تـه یې مخ راواړاوه ، سمیرا په بیره مخ واړاوه ، هغې ژړل عاصم ددې سلګې اوریدې اوده زړه یې سولاوه.

،،سمیرا بیا په اعتراض ووېل:

ته ولې نه خې ! خو دهغې په غېږ کې د تریخوالي او غوسې پرځای بې وسي، هیلې او فریاد و او عاصم دا احساس کړه چې که څو شیبې نور هم دلته پاتې شونو ددهٔ دارادو تول برجونه به ونړېږي. دی بیرته وګرځید خو یو له رعبدړک غږ یې واورید:

ودرېږه!

عاصم ټک شو یوې اوبلې خوا ته یې وکتل، ښي لوري ته دونو له منځه څو ک رابنکاره شول او عاصم په بیړه خپله توره راوکښله.

سمیرا په منډه ورغله عاصم یې تر مټ ونیوا و بل لوري ته یې دېکه ورکړه وې ویل:

عاصمه! تښته.

عدي وړاندې ورغی وېې ویل:

عاصمه دې ته اړتیا نشته چې وتښتې.

سمیرا عاصم پرېښود دعدي په لور ورغله او هغه یې تر مټ ونیو چیغې یې کړې:

پلار جانه! دی ګناه نه لري، دی یثرب پرېږدي بل ځای ته روان دی ددې لپاره خې چې ستا دعزت خیال ورسره و. داېې نه خوښول چې خلك تا ته پیغور درکړي.

عدي وویل:

سمیرا دلته شور مه کوه ورځه ! زه که د ده سره څو خبرې کوم، عاصم حیران و چې دهغه په غږ کې دغوسې معمولي څرك هم نه و.

– پلارجانه داستا دښمن نه دی، څه ورته مه وایه!

– بې عقلې چوپه شه! زه تش لاس یم، بیا یې هغه یوې خوا ته تېل وهله او وړاندې ورغی دعاصم په مخکې ودرید

دوی ترلږ خنده په چوپه خوله یو بل ته کتل بالاخره عدي وویل:

ته دې توره په پوښ کې ایښودلای شې ، له شانه دڅه حملې خطر درته نشته ، زما کسان ویده دي.

عاصم لږ پښیمانه غوندې شو اوتوره یې په پوښ کړه.

ماښنا خبرې واوریدې ، اوس زه غواړم څه درته ووایم زما سره راځه ! عدي داوویل اومخ یې واړاوه، خوعاصم له خپل ځایه ونه خوځید، عدي څوګامه واخیستل عاصم ته یې راوکتل او ویې ویل:

ته له یوه بوډا سړي نه ویره لرې؟

عاصم له څه ځواب ورکولو پرته وړاندې ورغی او له هغه سره ملګری شو، سمیرا چې څوګامه لرې پریشانه ولاړه وه په منډه ولاړه او په ونوکې ورکه شوه.

عدي له بڼ نه تیر شو اودکورترڅنګ دوچو وښو له یوې خرې سره ودرید، هغه لږ واښه راواخیستل پرځمکه یې وغوړول اوویې ویل:

زما په ګومان به موږ همدلته کښېنو. په دې تیاره کې دننه دخلکو راویښول مناسب نه دي، ستاخو به ساړه نه کیږي؟

سنه.

هغوی دواړه یو بل ته نژدې کیناستل ، دعدي چلن هره شیبه دعاصم پریشاني او اندیښنه زیاتوله.

عدي دهغه پرخبره سترګې ښخې کړې ترې ویې پوښتل:

ته له کوم وخته سمیرا پیژنې؟

عاصم ځواب ورکړ:

زما اندیښنه داده چې زما پرخبرو به داده نشې، خوکه دسمیرا په باب ستا سره څه اندیښنه اوبدګوماني وي زه پوره داډ درکوم چې هغې داسې کومه خبره نه ده کړې چې ستا دشرمندګۍ سبب دي.

عدي وويل:

تاته دسميرا دسپيناوي اړتيا نشته. زه هغه نه پيژنم ، نه بايد داسې هم ونه کنې چې کله مې ددې دخاړنې او ساتنې اړتيا احساس کړې ده، داهسې تصادف و چې کوم وخت دا خپ خپ بهر ته راووتله زه ويښ وم اوددې دکوټې دوره غږ راپاڅولم اودې ته اړشوم چې سرای ته راوګورم زه پوازې دې خبرې ته په انديښنه کې شوم چې په انګړ کې دخو ګامه اخيستو اودريدو نه وروسته دې منډې پيل کړې ، که ماپرزړه زور نه وای راوړی اوستا خبرې مې نه وای اوريدلې نوښايي اوس زموږ ليدل دومره دخوښۍ په چاپيريال کې نه وای .خوتا زما دپوښتنې ځواب رانکړ ما درنه وپوښتل چې تاسو له کومه وخته راسې بويل پيژنئ؟

عاصم ځواب ورکړ:

مالومړی ځل دا هغه مهال وليده. چې عمبرمې ستا ترکوزه رارسولی ؤ.

-اوس ته پشرب پريږدې او درومې؟

-هوکې!

-ته ددې لپاره خپ چې سميرا زما لورده ، او دلته په پاتې کيدو زموږ دکورنۍ دسواکيدو خطر ګڼې!

-هوکې اخوزما دتلو نورسپبونه هم شته.

-ماهغه ټول اوريدلې دي اوزه افسوس کوم چې ستا دستونزو دحل چاره راسره نشته. خو فرض کړه چې که سميرا زما لورنه وای نوڅه به دې کول؟

-زه ستا په مطلب پوه نه شوم!

- زما مطلب دادی چې که سميرلخزرج پرځای دکوم بل قام لوروای نوتابه څه کړي ود؟

– زه نه پوهیږم څو په اوسنیو شرایطو کې به ما هیڅوك هم له خان سره پخپلو مصیبتونوکې نه وراشریك کړي.

– که دسمیرا پلار دخپلې قبیلې دملامتی ویره نه درلودای او په خوښۍ بې هغې ته له تاسره دتلو اجازه درکړې وای بیا به دې څه کول؟

– که دا ممکن وای نوما به دسمیرا پلارته ویل چې په اوسنی وضعه کې زما یوازې تګ ضروري دی. زه به زربیرته راشم. دا هم کیدای شوای چې ماخپله اراده بد له کړې وای خودا امکان نه لري زه د سمیرا دپلار په مجبوریو خبریم.

عدي تر لږ څنډ سر ښکته واچاوه او په ژورو چورتونو کې ډوب شو. بالاخره یې عاصم ته وکتل او ویې ویل:

زه مې دخپل ژوند یوه مهمه پیښه درته وایم ، او زما باوردی چې دا به ستا لپاره په زړه پورې وي.

له نن نه ۱۶ کاله مخکې زه دسوداګرو له یوه کاروان سره دمشق ته روان وم. دکنانه قبیلې یوسړی چې حارث نومیده په دې سفر کې راسره ملګری و.

موږ ډیر زړیو دبل اندیوالان شوو. چې بیرته راوګرځیدو دعکاظ میله پیل کیدونکې وه. او له یثرب څخه زیات کسان هغې ته روان وو.

حارث څورځې له موږ کره پاتې شو. له هغو وروسته دزیاتې کنې په تمه زه له کاروان سره دعکاظ په لور روان شوم، دسوداګرۍ نه پرته عکاظ ته زما دتلو یو سبب داؤ چې شام ته له تلو مخکې زما میرمن امیدواره وه اوما داله خپل مور اوپلار کره پریښوده اوترې راغلم. زما دمیرمنې پلرکنی له دې خایه پنځه میله لرې دعکاظ په لاره کې آباد وو، زما

دا اراده وه چې عکاظ ته ورتلو په لاره کې پردوي شپې هلته تیرې کړم او په بیرته راستنیدو کې به خپل بال بچ هم راسره راولم. هغه خسر خپلو ته چې ولاړم خبر شوم چې زما له تللو وروسته زما پره لور پیدا شوې وه چې درې میاشتنۍ مړه شوې وه. زما میرمن به هغې پسې ډیره خپه وه چې ما ونه لیدای شوه، هغې به ډیر راته ویل چې هغه ډیره ښایسته وه او دقبیلې ښځې به یې له لرې لرې خایونو لیدو ته راتللې، زما خوابنې او ښینې هم دهغو ډیرې ګورنې کولې خوحارث او نورو ملګریو مې دا مبارکې راکوله چې زه دیوې نجلۍ دپلارولۍ له رسوایۍ اوشرم نه وژغورل شوم. حارث راته ویل چې ته ډیر نیکمرغه یې، ماسې یو پربل پسې دوې لوڼې ژوندۍ ښخې کړې دي داخل هم چې کله زه له کوره راووتم نو میرمن مې امید واره وه.

مابرعزی قسم وخوړ چې که دې داخل نجلۍ وزیږوله نوله هغو سره به هم همغه معامله کړم.

دعکاظ له میلې نه چې وزګارشوم ګوښتل مې بیرته را ستون شم خو دحارث دوی کلی له هغه خائی دوه پړاوه لرې او ما ته یې ټینګار کاوه چې څوشپې وزکره تیرې کړم. له مجبورۍ ورسره ولاړم، هلته چې ورسیدو خبر شوو چې دحارث کره څومیاشتې پخوا لور زیږیدلې ده دوي خبر له اوریدو سره دحارث وضعه داسې شوه چې له خپې نه راوتلو ته یې زړه نه کیده ما هغه وکره چې تسلې ورکړم خوزما خبرو هیڅ اغیزه پرې ونکړه.

هغه په وار وار داویل چې زه مې په کور کې مار ساتلای شم خو دانشم زغملی چې څوک راته دیوې نجلۍ پلار ووایي، ماسې دخپلې ښځې په مخ کې په عزا سرګند څرګند ولی وو چې که

نجلی، ده ژوندی به یې ښخوم که دې غوښتی نو چې زېږیدلې وه باید مړی یې خپه کړې وای او زه یې له دې ازمینښت نه ژغورلی وای :

اوس څلور میاشتې تیرې شوې دې خوزه به مې خپل سوگند پوره کوم.

دتودوخې موسم ؤ اوموږ دشپې په آزاده هوا کې بهر ناست وو، حارث دشرابو بومنگی راوغوښت زما مخې ته یې کیښود ما دده په تینگار دتیزو شرابو څخه خوغوړپه وڅښل خوحارث بې دریغه وڅښل ، چې بنه نشه شوله ماسره یې تر څه وخته په چټیاتو ویلو تیر کړل، پرما خوب زور راووړ، پربستره وغځیدم. نیمه شپه مې په درانه خوب کې شور اوزوږ تر غوږ شو، زه وارخطا شوم یوې اوبلې خوا ته مې وکتل حارث هلته نه ؤ له خیمې څخه دکومې ښځې دژړا غږ راتلو، زه جگ شوم اوبه منده خیمې ته نژدې ورغلم اوحارث ته مې چیغې وکړې.

دحارث ښځه په ژړا راووتله او دسرو ښیتانه بې شکوله وبې ویل:

هغه ولاړ، زما لورېې یو وړه او ولاړ دلات اوعزی په روی مې لور وژغوره.

دازما وربیمه لورده، نن مې دکورنی هیڅ هم راسره مرسته ونکړه، هغوی پوهیدل چې حارث به مې لور ژوندی ښخه کړي خوچا مې چیغې وانه وریدې اوله کوروونو راونه وتل.

ما پوښتنه تري وکړه چې حارث کوم لوري ته ولاړ؟

هغې یوه لوري ته اشاره وکړه ، ما بیله دې چې نور څه ووایم په همغه لوري مې منده واخیسته، لږ څنډ وروسته له کلي لږ لرې مادماشومې دژړا غږ واورید.

په منډه زه همغه لورې ته ورغلم ؛ حارث ښکه کېښود له اونجلۍ پر ښکه پرته وه ژړل يې . همغه ماته وکتل چک شو ودرېد او په غوسه شو ويې ويل:

ته دغه لېږه راغلې؟

ما ځواب ورکړ:

حارثه ! زه غواړم مرسته درسره وکړم.

همغه راته وويل:

دقبر کيندلو لپاره دې مرستې ته اړتيا نه لرم.

که رښتيا غواړې مرسته راسره وکړې ددې نجلۍ مرۍ بنده کړه چيغې يې ماپريشانه کوي.

ماورته وويل:

ته تر اوسه دشرابو په نښه مست يې. چې کله دې دغه نيشه والوزي، ددې کرېږد يادبه دې پريشاني نوره هم زياته کړي.

همغه وويل:

ته مې دقبرابستلو هڅه مه کوه زه مې خپل قسم پوره کوم.

حارث بيا دقبر په کيندلو بوخت شو زه ورورانډې شوم لاس مې يې ونيوه.

همغه په غوسه زه تېل وهلم او چيغې يې کړې:

ته غواړې بې غيرته زانه جوړ کړې؟

ماورته وويل:

حارثه! عزې نه غواړي چې ستا لور مړه شي، ښکه يې زه دلته رالېږلې يم، که ته دا نه خوښوې چې خوږ وبولې نوماته يې وسپاره، زما مېرمن به دا دخپلې لور په څېر وپالي ، زه به چاته ونه وايم چې دا ستا لور ده او خلک به داپېغور نه درکوي.

۞

حارث په غوسه کې چیغې کړې:

نه نه، داسې نشي کیدای، ببا ناڅاپه ورانندې ورغی او غوښتل یې چې پرنجلۍ ګوزار وکړي ، خو مایې مخه ونیوه او دواړه سره لاس او ګریوان شوو.

هغه نښه ږ خکه ډیر زر مارا قابو کړ، داعجیبه وه چې کله زه او حارث غیرپیغمبر دو نجلۍ ژړا بس کړه او چوپه شوه، ما تر ډیره پورې حارث همدغسې را قابو کړی ؤ او په داډه زړه مې دده کنځلې اوبدرد اوریدل ، تر دې چې خوښ یې کیناست بالاخره یې راته وویل:

عدي ! زما دقام کوم سړي داجرئت نه درلود چې زما مخې ته راشي خوته مې مبلمه یې.

ماورته وویل:

زه ستا دوست یم اوزما باوردی چې که ته نښه نه وای نوزما اوستا لاس اوګریوان کیدوته اړتیا نه وه ته اوس نه پوهیږې چې څه کوې؟

هغه وویل:

ماپریږده!

ماځواب ورکړ،

مګر لومړی داژمنه وکړه چې پر دې معصوم مې به لاس نه پورته کوې!

هغه وویل:

که زه داسې ژمنه ونه کړم نوڅه ؟

ماځواب ورکړ:

نوبه عزا سوګند خورم چې همدغسې به دې پرتتر ناست وم زما باوردی چې سهار به دې دقوم خلك رانول شي ، خو زه ددې

پروانه لرم چې هغوی به له ماسره څه سلوک کوي.

هغه وویل:

ته دا غواړې چې د دې نجلۍ به ملاتړ زما د قام خلک تا

ووژني؟

ماځواب ورکړ:

هوکې! ما قسم خوړلی چې دغه نجلۍ به ژغورم.

حارث ترڅه خنده چوپ ژ بیا یې وویل:

کیدای شي چې عزت د دې نجلۍ د ژغورنې لپاره ته دلته را

استولی وي؟

ماځواب ورکړ:

زما باور دی چې عزی نه غواړي دغه نجلۍ مړه شي.

هغه وویل:

خلک به ما ته د بې ننګۍ او بې غیرتۍ پیغور راکوي.

ماځواب ورکړ:

څوک به خبر نشي چې دغه نجلۍ ژوندۍ ده.

زه به همدا اوس له دې ځایه روان شم.

داوسپنیزې ارادې له درلودو سره حارث یوانسان و. لږ خند

وروسته دده په چلن کې غیر معمولي بدلون راغی هغه وویل:

که زه دغه نجلۍ ستا سره واستوم نو ستا په کور کې به یې

حیثیت څه وي؟

ماځواب ورکړ:

زه به تل دا خپله لور گڼم، که دې باور نه راځي زه قسم ته

تیاریم، تاته معلومه ده چې زما لوزمره شوې ده زه چې

خپله میرمن د پلار کره له کوره خپل کور ته بوزم نو خپلو

نژدې خپلوانو ته به هم دا راز نه وایم چې دا مې کومه د بل چا

لوږ راوستي ده.

له لږ جنجال وروسته هغه خپله ماته زمنله او مابېنود ورته ومې ویل:

ته کوزته ولاړشه زما آس راوله زه خمدلته ایساریږم.

چې کله دی جګ شو او روانېدو نوما ورته وویل:

که دې خپلې میرمنې ته ووایې چې لوږدې ژوندی ده دابه بنه خبره وي.

هغه بېله خواب راکولو ولاړ، چې بیرته راغی اوزما آس یې راووست نومیرمن یې ورسره وه، هغه وویل:

دې زما پرخبرو باور نه کاوه خکه مې پخپله راوسته، دحارث میرمن سره له دې چې خپله لوږ دتل لپاره تری بیلېدله بیا هم داډه وه ، چې ژوندی پاتې شوه هغه وړاندې راغله او دمننې په نظرېې ماته وکتل اونجلی یې زما له لاسه واخیسته ویې ویل:

که اجازه راکوې زه لږ تی ورکړم دابه وږې وي.

هغې نجلی یوه لوزي ته ورسره یووړه اوکیناستله، دشیدو ورکولو نه وروسته جګه شوه نجلی یې خوځله په سینه پورې ونیوه او ښکل یې کړه بیا یې ماته وکتل زه چې پر اس سپور شوم، هغې په ژړا کې نجلی ماته وسپارله.

حارث له ما سره دخدای پامانۍ پروخت وویل:

زه نه پوهیږم چې ستا څلن تر کومه سم دی ، خوزه مننه درنه کوم ، کاشکې ته هغه مهال راغلی وای چې ماخپله لومړنی لوږ بنخوله.

نجلی پخپل لاس غوبنتل دده پیره راونیسي ، حارث یې اختیاره دهغې ووکی لاس ونیو اوښکل یې کړ.

بیا یې ناڅاپه زما له لاسه واخیسته او په لمبو کې یې وغورځوله. دهغې دسر او مخ له ښکلو وروسته یې بیرته مانه وسپارله او ویې ویل:

عدي! ما دې سره ښکه مینه وکړه چې داسې لوړ ده وروخه!

زه له هغه خاپه لږ لرې راغلم چې له شانه یې دموږ لم راغلی:

ودریږه! ودریږه! ما دا ستا قبضه راکش کړه. هغه په منډه راغله او ویې ویل:

ما ددې شوم درته ونه وایه، شوم یې سمیرا دی.

عدي چې تر دې خاپه کیسه وکړه چوپ شو او په خبر یې عاصم نه کتل.

عاصم وویل: سمیرا له هغو وروسته خیال مور او پلار نه دی لیدلي؟

عدي ځواب ورکړ:

نه، دوې کاله وروسته دعکاظ په میله کې دهغه دکوزنۍ خرکسان ما ولیدل دهغوی له خولې خبر شوم چې حارث په همغه کال په یوه جګړه کې ووژل شو او خرمباښتې وروسته یې میرمن هم وفات شوه

- سمیرا خبره ده چې ستا لور نه ده؟

- نه، او زما باوړ دی چې که زه ورته ووایم هم هغه به زما په خبره باور ونه کړي. زما په زړه کې له هغې سره مینه دبوه پلار له مینې لږ نه ده، سمیرا پنځه کلنه وه چې زما میرمن وفات شوه. هغې په څوکلنۍ کې له ماسره دا زمنه واخیسته چې زه دسمیرا خیال ساتم او هیڅ به یې نه په تکلیف کوم. نن دسمیرا

اوښکې مانه له زلمو نه وتلې وې همدغه سبب دی چې ما وطن پښتنو دغه کیسه درته واوروم. اوس ته دخان او دهغې دراتلونکې په باب دا فکر مه کوه چې داستاد دښمن لوږدی، بلکې پردې فکر وکړه چې دابېره پښېمه او بې وسه نجلۍ ده او نه دې دزړه په ماتولو زما دګورنۍ عزت او وقار نشې زیانمنولی. نن چې ما ددې سلګۍ اوریدلې نو هغه وخت راباد یده چې حارث ددې دښخولو لپاره کنده کېندله او دا نژدې پرته وه ژړل یې. زما انسانیت زه دې ته اړ کړم چې له حارث نه یې واخلم. نن زما دانسانیت غوښتنه داده چې هغه تا ته وسپارم او پردې فکر ونه کړم چې زما دوستان او دښمنان به څه فکر کوي، دحارث په اند دبونې نجلۍ پلار ګیدل بې ننګي او بې غیرتي وه څکه یې غوښتل سمیرا ژوندۍ ښخه کړي. خو چې ما بیا دده په زړه کې دېلرنۍ مینې خپه شوی شعور راوېښ کړ نو دده دځېلې پخوانۍ عقیدې څخه لوړنۍ بدل کړ. سمیرا یې مانه وسپارله او س ستا چلن پر ما پخوانۍ عقیده بدله کړه.

ترکومه پورې چې نادعمیر ژوند نه و ځمورلی ما داسې ګڼله چې ستاسو له قبیلې سره جګړه زما دژوند تر ټولو ستر راحت دی تا زما په زړه کې بوداسې احساس راژوندی کړ چې له کلونو راسې مړشوی و. تا له مانه له دښمن څخه دبدل اخیستو او دهغو دوپښو تویو لو خوند واخست خوزه یې هیڅ خبه نه یم.

هاسمه! ته زما په سبب له سمیرا نه مخ مه اړوه او تېښتې ته اړتیا نه لري، زه همدا نن په همدې شېبه دې ته تیار یم چې سمیرا تا ته وسپارم

دعاصم په سترګو کې اوښکې ځلېدې. دمننې او احساس اوښکې، ده وویل: زه ستا مننه کوم، خو کله چې تا سمیرا له

ځانته سره راوستله ته پردي داده وې چې داپه خوشحاله وساتي، ته پردي داده وې چې په کور کې دې خوړک دې ته په سپکه سترګه نه ګوري خوزبا معامله له دې نه بېله ده،زه دې له له غمونو او مصیبتونو پرته بل هیڅ نشم ورکولی.

عدي وویل:

بوه ښېګڼه د نورو ښېګڼو لپاره لاره پرانیزي ، تا یوه پیل کړی دی ، او دهغو پایله داده چې نن د یثرب فضا په امن کې ده کیدای شي چې لږ ورځې وروسته د دې ځای وضعه بلکل بدله شي خکه خوستا دې ته ارتیا نشته چې له دې ځایه ولاړ شې.

زه د عربو د راتلونکې په باب ډېر امید واریم تا په اوریدلي دي چې په مکه کې ديوه نوي دين غږ پورته شوی دی.

د دې دين ښستګرخلکو ته د وروری او برابری درس ورکوي.

اوکوم کسان چې پرهغه ایمان راوړي هغوی د نسل اوقوم له حدودونه تیریږي پخپلو کې سره ورونه او دوستان کيږي.

ما اوریدلي دې چې په دوی کې د غلام او بادار ټوپیر هم له منځه تلی، د قریشو د لبیلې تر ټولو عزتمندو خوکسانو دمکې پر نبي ایمان راوړی دی. امکان لري په دې نوي دين د ټولو عربو ذهني لوری واوري اوزموږ پخواني لارې او دستورونه ورمره بدل شي ،که په حجازکې د دې دين ریښې ټینګې شوې نو یثرب به د یرزر تري اغیز من شي موږ په تیارو شپوکې د سرګردانی پرځای باید په کور کې د سهار د رڼا انتظار وکړو.

عاصم وويل؛

زه هم له څه مودې راپه دې خوا د دې دين په باب اورم خوزما دا نه نشته چې د عربو دونيا خوی بدل شي.

لږتماري اووژل د دوی په ربنه کې ګډ دې، په کومه ورځ چې

دوی احساس کړه چې ددوی قبیلوي عصبیت له منځه خي دوی به ددغه دین دپلویانو پرخلاف توري را وباسي اومیدان ته به راووزي، دلته کورنۍ اوقبیلې یو دبل پرخلاف راپاریدلي شي ، سره متحد کیدلی نشي.

له عمیر سره خواخوږي زما یو بیړنی عمل ؤ خوزما دقبیلې خلکوڅه چې زما دکورنۍ نژدې خپلوانوهم هغه وَنه زغملو، ته نو بیا دا څنګه ویلای شې چې دعربو دقبایلو په منځ کې چې په سلګونو کلونه کوم اوربل دی هغه به ددې دین په واسطه مړ شي؟ ماخو دا اوریدلي دي چې قریشو ددې دین پرایمان راوړونکیو دمکې خمکه سورتنورګرځولې ده بیاهم په هر صورت که ستا دا غوښتنه ده چې زه له دې ځایه ولاړ نشم نوزه ستا امر منلوته چمتویم.

عدي وویل:

ماته څو ورځې دچورت وهلو وخت راکړه، امکان لري زه ستا دستونزو څه حل لاره پیدا کړم که ما دا ولیدل چې ستا په کورکې ستا اوسیدل ګران دي نو عرب یو پراخ ملك دی. زه به تاسو ته دامن ګوښه پیدا کوم ، اوس ورځه ویده شه ، او په راتلونکې کې چې هر وخت وغواړې په نیغه لاره زموږ کورته راتلای شې، خوتر اوسه دخلکو له نظره ځان ساتل ضروري دي، که زما درته اړتیا وه بیا به په یوه نه یوه ډول احوال درکړم

دی جګ شو، عدي خپل لاس وزاوږد کړ او عاصم یې لاس کلك ونیو او له هغه ځایه روان شو.عدي ورو ورو ګامونه واخیستل اودخپل کور په لور روان شو ، سمبرا دانګړد دروازې ترڅنګ ولاړه وه، خو چې عدي یې ولید ددې پرځای چې وتښتي ژړایې پیل کړه، عدي یې لاس پرسرورکېښوداو

ویې ویل:
سمیرا ! ولاړه شه، نوردې ژړا ته اړتیا نشته.
هغې ډېر په زحمت خپلې سلګۍ راتم کړې ویې ویل:
پلار جانه! تا هغه ته ولې دوېل چې زه ستا لورنه یم؟
عدي ځواب ورکړ:
سمیرا! ما څوځله اراده وکړه چې دغه راز درته ووایم.
خو حوصله مې نه درلوده، نن مې عاصم ته ددې ښکاروول ضروري بلل.
-زه پوهېږم ، تا ددې لپاره دغه خبرې ورته وکړې کـه زه ستالوروای نونو به شرمنده وای اوزما مړی به دې غوټه کړې وای.
- ته لیونۍ یې ! ورځه ویده شه!
- مګر زما باورنه راځي چې زه به ستا لورنه وم، دا امکان نه لري، دا څنګه کېدای شي چې زه دعمیر او نعمان خورنه وم.
- تادنعمان دمور شیدې رودلې دي سمیرا، ته هیڅکله هم دا چورت مه وهه چې ته زما لورنه یې.... راځه!
سمیرا خپلې اوښکې پاکولې اوله عدي سره روانه شوه.

• • • •

عاصم له عدي څخه رخصت شو او له باغ څخه وتلو چې ناڅاپه یې کوم سل ګزه لرې بوټن ولید چې مندې یې وهلې ، عاصم په بیړه بیر ته راوګرځید او دیوې ونې شاته پټ شو.
باغ ته درانژدې شوي سړي ګامونه کرار شول.
اوهغه به شاته مخ اړاوه اوکتل یې بیا عاصم بر بل سړی هم ولید چې ښه ګړندی په لومړي پسې را خوشې شوی ؤ ، لومړی سړی

چې باغ ته راغی عاصم ته نژدې ديوي ونې شاته غلی شو له شانه وريسې سړی باغ ته نژدې ودرید، څو شیبې ولاړواو بیا په پله بیرته شا ته ولاړ، کوم سړی چې عاصم ته نژدې ډېر ستوماته او ګړندی ساه یې اخیسته.

عاصم دهغه له نظره خان پناه کړی او دونې پرتنې یې خان نبلولی او دغه پوښتنې یې په مغزوکې ګرځیدلې چې داڅوک دی او وريسې راروان څوک او ددالته ولې راغی ؟ که داد عدي کوم نوکر وي نو دلته ولې ولاړ دی؟که وريسې راتلونکی دده دښمن او نودی چې دلته راور سید ولې یې څوک مرستې ته راونه بلل؟

دونو په سبوري کې عاصم هغه ښه ونه لیدای شو، خو چې هغه له دمې جوړولو وروسته بیرته غوښتل چې له باغه ووزي وبې لیده چې دتښتیدونکي نیمایي مخ په توکر کې پټ دی ، عاصم شکمن شو اوناڅاپه یې پرې ورټوپ کړل اوهغه یې رالاندې کړ.

دنا آشنا تر خوله وړوکې چیغه ووته، یوه شیبه وروسته هغه هڅه وکړه چې خان وژغوري خودعاصم په اوسپنيزو لاسونو کې بې وسه شوی و، عاصم هغه په تیل وهلو له باغه راویوست.

هغه ترې وپوښتل:

ته څوک یې؟

نا آشنا هیڅ خواب ورنکړ.

- ولې چوپ یې؟

نا آشنا ترلږ خنډه په حیرانی عاصم ته کتل ، بیا یې ناڅاپه چیغه وکړه:

زه بې ګناه یم ، ما پریږده!

عاصم دهغه له مخ نه نقاب کش کړ او وبې غورځاوه! اوتر لږ

ښځه یې په وارخطا یی هغه ته وکتل بالاخره یې وپوښتل: ته دشمعون غلام یې ، ووایه په داسی وخت کې دلته دڅه لپاره راغلی یې؟ اودا درېسې څوك وا!
ده بیا چیغې کړې:
زه بې ګناه یم هغه کوم ډاړه مار و، په ماپسې راغی.
-ډاکودشپې په غلامانو پسې نه ورځې ووایه څه خبره ده؟
داسې ښکاري چې تا څه غلاکړي اوراتښتیدلی وې. خوزه غواړم پردې پوه شم چې دې لوري ته ولې راغلې؟
دشمعون غلام وویل:
دویرې له امله زه نه پوهیدم چې په کوم لوري روان یم.
- تادشمعون کرو غلا کړې وه اودهغه نوکران درپسې ــ وو؟
غلام لږ هیله من شو ویې ویل:
ښاغلیه! ته داپوښتنه څه کوې ماخوستا څه زیانولی نه دي ؟ که مې دشمعون غلاکړې ده هغه خوستا دښمن دی .
عاصم هغه پرېښوداوویې ویل:
ښه ده ووایه څه شی دې غلاکړي دي؟
- ښاغلیه!... مادهغه دمیرمنې ګاڼه غلاکړې ده.
خواوس هېڅ راسره نشته.
عاصم له عمبر نه ددغه غلام اودشمعون دمیرمنې ترمنځ دناروا اړیکو کیسه اوریدلې وه، ځکه یې دنورو پوښتنو اړتیا نه لیده اوغلام یې تېل واهه ورته ویې ویل:
څه تېښته!
غلام په لویدو لویدو کې ځان راسنبال کړ اوبیه بوه لور ولاړ اوعاصم دخپل کور مخه ونیوه.

لږ ځنډ وروسته دی ډېره بېړه دي ډېر تړځنګه تېرېده، چې دغو تنو د ښهر ځمکې بې واورېد عاصم له ځانه سره فکر وکړ چې د ښمنو کسان به وي او ډغه به تښتېدلي غلام ېسې به را وتلي وي.

عاصم دشپې په دې بېمه پرته کې له لرې جا سره مخامخ کېدل مناسب نه بلل، لاره یې پرېښوده او په باغ کې ننوت شو.

چې ډغوی وراندي تېر شول دی له باغ نه راووت او د ځېل کور په لور روان شو.

عاصم له خپل کور څخه لږ لرې د نارینه او ښځو چېغې او فریادونه واورېدل، ډغه ولیدل چې د کور ډېرې ځنډي نه داورلمبې جګېږي، ده څو شیبې په حیرانۍ ورته کتل او ځای پرځای ولاړ و بیا ډېر ګړندی ورغی د کور انګړته ورننوت هلته د ښځو او نارینه و بیروبار و.

د ډېرنې دېوال سره ولاړه یوه ځېره تقریباً بشپړه سوځېدلې وه د سکرو تو او سکرو له انبار څخه ځای ځای لمبې ختلې او څو کسانو هلته او به شیندلې.

عاصم یو سړی راونیو او تری یې پوښتل:

داخه وشول، اور چا لګولی دی؟

ډغه ځواب ورکړ:

زه نه پوهېږم، زه هم دا اوس راغلم.

عاصم ډغه پرېښود بل سړی ته یې مخ واړاوه څو ډغه هم کوم داد من ځواب ورنکړ، یو تن وړاندې ورغی او په سپکه لهجه یې ورته وویل:

ته دي له خپل ترهٔ نه ولې پوښتنه نه کوې؟ ډغه له تیې کېدو وروسته تا ته چېغې وهلې.

دامنذر و، عاصم ده ته د بام پرځای په کنه ګونه کې ځان ته لاره

وکړه وړاندې ولاړ هبیره دخپلې کوټې په مخ کې پرچپرکټ پروت و.
سعاد، دهغې مور اوخو تنه نور خپلوان یې ترخنګ ناست وو،
دهبیره پرسینه اودسعادپرمټ پټۍ تړلې وې.
عاصم په اندیښنه وپوښتل:
کاکا داځه وشول؟
هبیره دخواب پرځای عاصم ته وکتل اوبیا یې سترګې پټې کړې
، سعاد اومور بې چې سلګۍ وهلې دعاصم په لیدو یې په زوره زوره
وژړل.
دقبیلې یوې بوډۍ ښځې له عاصم نه وپوښتل:
ته چیرته وې؟
خوعاصم هغې ته دخواب پرځای سعادته وکتل او ویې ویل:
سعاد ته تېبې بې داځه خبره وه؟
سعاد دخپلو سلګیو د راتم کولوهڅه کوله ویې ویل:
هیڅ خبره نه ده زما ټپ معمولي دی، افسوس چې زه ژوندی بم
کاشکې ددښمن غشی زما پر زړه ښخ شوی وای.
منذرووړاندې شو ویې ویل:
لورې ! داسې خبرې مه کوه، ستا دتره دزوی زړه ډیر نرم دی.
عاصم مخ ور واړاوه اوهغه ته یې وکتل دوینو غوړپ یې تر
ستوني تیرکړ، ناڅاپه بې ستر ګې دهغه په نوکر ولګیدې او هغه
په چیغه وپوښتل:
تاسو ولې چوپ یې ؟ ولې نه راته وایې زموږ پرکور چا حمله
وکړه؟
هغه خواب ورکړ.
ښاغلیه! موږ چې دحیواناتو په رمباړو راویښ شوو نوپه طبیله
کې اور لګیدلی و، موږ له پینځو وزو پرته نور څاروي ټول

راوايستل خو دا زمړه کول ګران وو، ستا کاکا چې بهر ته راووت نو دديوال له سره دغښتو باران پرې وشو او دی ټپي شو، تر دې وروسته سعاد اوسالم راوراندې شول، خوسالم وژغورل شو، سعاد ټپي شو، بيا حمله کوونکي چې پر ديوال راختلي وو بېرته شانه کوږ شول او وتښتېدل،

موږ ورپسې ورغلو خو هغوی زموږ له باغ نه ووتل پراسونو سپاره شول، يوازې يو تن يې پلی ؤ، موږ تر ډېره خايه ورپسې ورغلو خو هغه زموږ نه ګرندی ؤ، عبادموږ ته امر وکړ چې کورته راشو او دټپيانوغم وخورو.

زه ورپسې خم، خکه موږ بېرته راوګرځېدو.

- تاسو له هغوی نه څوك ونه پېژندل؟

- نه هغوی مولونه وهلي وو.

- هغه سړی چې پلی ؤ هغه هم پرمخ پرده غوړولي وه ؟

- هوکې!

- عاصم وويل:

کاکا جانه ! زه ستا بدل اخلم،ستا ته خويه ډېر زورنه وي؟

مبېره راجګ شو کيناست او دزخم دتکليف سره سره يې په مترکرکې خوښی وځلېدې،ويې ويل:

نه، مامې پخپل لاس غيشی راويوست ، زموږ دښمنان دليندويه نيولو هم نه پوهيږي.

سعادوويل:

ورورها دښمن اوس زما خوشاځکې وينې هم توبې کړي، داماته له زغم نه وتلې وه چې ستا نه پرته نور څوك زما بدل واخلي.

- ته داده اوسه سعاد ستا وينه به هغوی ته ډېره ګرانه پرېوزې، عاصم داوويل او بيا يې يوې اويلې خوا ته له لبدو وروسته خپل

غلام ته غږ وکړ:

عباده! عباده!!

هبیره ځواب ورکړ:

عباد د لته نشته، هغه چې بېرته راغی د قبیلې له ځوانورو کسانو سره بېرته ولاړ، سالم او د منذر زامن هم ورسره تللي دي.

عاصم ناکراره شو وېې پوښتل:

هغوی چېرته تللي دي؟

منذر ځواب ورکړ:

هغوی د حملې کوونکیو د درك لګولو لپاره تللي دي، عباد د هغوی کور ولید او بېرته راغی، اوکه د بدل په باب ستا اراده بدله شوې نه وي نوزه درته وېلای شم عباد په تښتېدونکي دښمن پسې چې کوم کور ته رسېدلی هغه دعدي کور دی.

یوه شیبه دعاصم په رګونو کې وینې کنګل شوې بیا یې ناڅاپه د زړه درزاګرندی شوه. په منده کوټې ته ولاړ له هغه ځایه یې د آس جلب راواخیست اود سترګو په رپ کې یې په کټه ګرنه کې لاره وکړه او د کور هغه کونج ته ورغی چې د نورو ځارویو سره دده آس هم درېدلی و. چې بیا کله د آس د پښوتریهار اوچت شو هبیره په غرورسرراپورته کړ منذرته یې وکتل او وېې ویل:

زما دوروروزوی دی ولید؟

• • • •

کوم وخت چې عاصم د خپل آس پرلوڅه شا پښه واړوله او د عدي د کور په لور روانېدو، شمعون په ډېرې ناکرارۍ په خپله کوټه کې قدم واهه او د هغه غلام په وېره وېره هغه ته کتل، شمعون ناڅاپه ودرېد او وېې ویل:

ستا پوره باور دی چې هغه عاصم و؟

- هوکې ماهغه دسبرومې په رڼا کې ښه ولید خو پردې نه پوهېږم چې هغه دعدي په باغ کې څه کول؟

شمعون وویل:

هغه دعدي باغ ته دکجورو دغلا لپاره نه و ورغلی احمقه هغه به دخپل تره په ټینګار دعدي دوژلو لپاره تللی وي، کاشکې ماته معلومه وای چې دا اور به پخپله خوله واخلي اوماته ارتیا نشته چې لمن ورته وږوهم، اوس تا ماته یو داسې مصیبت راپورته کړی دی چې له هغو دژغورنې هیڅ لاره په نظر نه راځي.

- جناب! ماستا امرپرخای کړی دی، تاویل چې که څوک درپسې راشي نوهغه دعدی تر باغه پورې خامخا ورسوم.

- مګربد ماشه ! تاخو داویل چې تر تابه منډو کې څوک ګرندی نشته ، نو بیا هغه ته ولې راونیوې؟

- صیب! مادروغ نه دي ویلي پر ماپسې را روان کسان مې په ګردپسې نښوای رارسیدای.

ماڅو خلې په دې خاطر ښه ونیوه چې هغوی مایوس نشي اوبیرته ستانه نشي ، خو دعدي بڼ ته چې ورسیدم زه څه خبروم چې عاصم ماته نژدې پټ دی اوناڅاپې به مې رالاندې کړي.

شمعون له لې چوتونو وروسته بیا وپوښتل:

عاصم ته وپیژندلې؟

- هوکې! هغه زما له مخه نقاب لرې کړ بیا یې راته وویل چې ته خودشمعون غلام یې

- بیا یې پرېښودې؟

- هوکې صیب.

- ته څنګه وایې ، هغه به خامخا داپوښتنه درنه کړې وي چې

په دې مهال دعدي په بن کې تا څه کول.رښتیا وایه که نه پوست په درنه وباسم!

ـهوکې هغه رانه وپوښتل:

ـ نوتاڅه خواب وزکړ

ـ صبب! مادا پلمه وکړه چې د ډاکه مارانو له وېرې مې منډې وهلې، هغه راته وویل چې دروغ وایې تادې دخپل بادار په کور کې غلا کړې ده اودهغه نوکران اوس درپسې دي ،مادخان خلاصولو لپاره دهغه دغه تور ومانه.

شمعون لږ،ډاډه شوويې ویل:

تاپه ټول ژوند کې دابوه دهوښیارۍ خبره کړې ده.

اوسبا ته به دخلکو په مخکې دغلاپه تور متروکې خوړل هم زغمې خکه چې څوك له عاصم څخه دغه خبره واورې هغوی ډاډه شي خومانه به له عاصم نه خان زغورل گران شي ، هغه بو خطرناك سړی دی.

ـ صبب! زه وعده کوم چې په څو ورځو دننه کې به یې وژنم،خو دمتروکوله خوړلو وروسته به زما انعام څه شی وي؟

ـ شمعون وویل:

ستا انعام به داوي چې قمچینې وهونکې ته ووایم چې دبر خان د امرتابع ثابت نه کړي، که نه ته دڅه نرمۍ حقداز نه یې، که ته بو په کاریدونکې حیوان نه وای نودواره لاسونه به مې درته غوڅ کړي وو.

غلام وويل :

صبب! ته مه پریشانه کیږه، زما باوردی چې دهبیره دکورنی خلکو به تر اوسه پورې د عدي پرکور حمله کړې وي، اوترسهاره به اوس اوخزرج دپریکندې جګړې لپاره میدان ته را وتلي وي، بیا بنایي ستالپاره زما په مترکوهلو ارتیا هم نه وي. تر اوسه پورې

اوس اوخزرج بره هم دبل په کور حمله نه ده کړې، سبا ته به ددوی دجوش اواحساساتو داسې حالت وي چې دهیچا خبره به نه اوري، موږ چې کوم اوربل کړ عاصم اوعدي یې دمره کولو توان نه لري.

ټلیګرام - منصور کتابتون

جوړونکی سیف الرحمن زړښتی

# (لسم باب)

عدي په انګړکې د آس د پښو ترپهار واورېد له درانه خوبه راويښ شو او جګ شو پر خپله بستره کې کېناست، دده ترڅنګ په بله بستره عتبه ويده ؤ، عدي دهغه مټ وخوځاوه راويښ يې کړ او ويې ويل:

زويه! لکه چې کوم آس خلاص شوی دی.

عتبه جګ شو ويې ويل:

زه به يې وګورم پلار جانه!

- مګرزويه تش لاس مه ځه، امکان لري بهر کوم غل وي.

عتبه ترخپل سرپوړي راخړېدلې توره ورسره واخيسته او بهر ته ووت.

هلته د نعمان غږ اوچت شو:

څه خبره ده پلارجانه!

- هيڅ نشته لکه چې کوم آس خوشې شوی دی.

عتبه ورو زنځير خلاص کړ، دوره بوه بله يې خلاصه کړه او بهر ته يې وکتل يو د آس ترهېدلی غونډې بوي اوبلې خواته منډې وهلې، عتبه پر دې حيران شو، ناڅاپه يې داسې احساس کړه چې په انګړ کې يو درونده شی ولوېد، عتبه بهرته ووت يوې اوبلې خواته يې وکتل او د آس د نيولو په هڅه کې د راندې ورغی، اس ودرېد، په غاړه کې يې د پړي بوه برخه ځړېده عتبه چې راونيو وپوهېده چې رسی شلېدلې نه ده په کوم تېره تيغ غوڅه شوې ده. بيا يې ناڅاپه ولېدل چې داس په ورو ستنۍ پښه کې يو غشی ننبستی دی او دده

حیراني په اندېښنه بدله شوه، هغه په بېړه غبشی راویوست او یوي خواته یې وغورځاوه او دویرې په حال کې یې نوکرانو ته غږ وکړ.
دطبیلی له لوري دبل آس له شیشنیدو پرته یې څه خواب وانه ورېد، دی له آس سره وراندې ورغی، خو چې څوکامه یې واخیستل بیا ودرېد او نوکرانو ته یې غږ وکړ ناڅاپه یې پرکېښ مخ یوغبشی ونښت او ده چیغه وکړه دانګر په کونج کې یې دکجورو دونو لوري ته وروکتل بیا یو پربل پسې دوه درې نور غبشي راغلل او یو یې پراوږه ونښت او بل یې غاړې ته نژدې تیر شو هغه چیغې کړې لوتماران دی، لوتماران دي اوخان یې یوې خواته کړ، دطبیلې له لوري پینځه شپږ تنه وسله وال رابنکاره شول، عتبه مخ راواړاوه او دکور د دروازې په لوز روان شو، خو پینځه تنه نور کسان دونولوري نه را ووتل او ده مخه یې ونیوله، اوس یې دویرې پرځای ددفاع شعور راویښ شو، ګرندی په شا ولاړ او دکور دوروستی کوټې دیوال ته ورسید،
داد سمیرا کوټه وه چې دهغو یوه وروکې کړکۍ انګړ لوري ته هم وه حمله راوړونکیو مخونه پټ کړي وو.
اوهغه دواړه ګروپه عتبه ته څوګامه لرې یوې اوبلې خواته ودریدل.
ناڅاپه عدي، عمیر اونعمان له کوره راووتل.
اودعتبه په کېڼ لوري کسانو یې حمله وکړه، دعمیر په لومړي ګوزار یوتن تېې شو او راولوید اونور په شاولاړل، عدي او نعمان عتبه ته نژدې شول خوعمیر دښمن شاته تلوته اړ کړ اودانګر دیوال ته نژدې شوی و.
عتبه چیغې کړې:
عمیره! شاته راشه! هلته ددښمن غبشی ویشتونکي پټ دي،

عمیر شاته منډه راواخسته خو یو پر بل پسې پر هغه څلور غبشي ولګیدل او هغه یې مخې ولوید.

عتبه چیغه وکړه:

پلار جانه! ته دننه ولاړ شه! دوی ډیر زیات دي، له دې سره جوخت یې د ښي لوري په د له حمله وکړه، عدي او نعمان ددې پرځای چې شاته ولاړ شي په منډه ورغلل او له ده سره یوځای شول.

عدي په زوره چیغې وهلې:

نعمانه! ته دننه ولاړ شه، دروازه بنده کړه، نعمان دده دخبرې دمنلو پرځای سمبراته غږ وکړ چې دروازه بنده کړې، دعتبه توره دیوه سړي پر ورمیږ ولګیده او هغه راولوید او به تر پکوشو، په بل ګوزار یې یو بل تن ټپي کړ، خو له دې وروسته یې دبیا حملې وخت پیدا نه کړ، دیوه تن توره یې پر سر ولګیده او راو خر خید پر ځمکه ولوید، یوه بل تن پر عتبه ګوزار وکړ خو عدي دهغه ګوزار پر خپله توره واخیست عتبه را جګ شو او ټپر بدلی شاته ولاړ، په دې. کې بانې حمله راورونکې چې عمیر کین لوري ته شاته تمبولې وو له خپلو ملګریو سره یوځای شول ، او دهغوی په توندو حملو عدي او نعمان هم شاته کیدو ته اړ شول.

دعتبه مخ او جامې په وینو لتاړه شوي وو. هغه په شاته تلو تلو کې له همغه دېړال سره ولګیدچې عدي او نعمان لې ځنډ دښمن حلقه احساس کړي ؤ، خو هغوی ونه توانیدل، دیوه تن توره دعدي پرټټر ولګیده او هغه چیغه وکړه!

نعمانه دننه ولاړ شه! دروازه بنده کړه.

لیر صوړ هیڅ لشو کولی نعمانه! زما خبره ومنه اوس چې زه وړ دلهیلې خلک راورسیږي لوستا ژوند به وژغورل شي، تر اوسه به ژموږ نوکرانو هغوی خبر کړي دي.

دخپل برید پربري دباوري کیدو له امله د حمله راوړونکیو جوش لږ کم شو اوبیله دې چې نور زیان ور ورسیږي غوښتل بې پردوی کلابندي تنکه کړي.

یوه سړي وویل:

که تاسو داسې فکر کوئ چې ستاسو نوکران ستاسو د قبیلي خلکو دخبرولو لپاره تښتیدلې دي نواشتباه کوئ موږ چې راغلو دهغوی لاسونه اوپښې موو تړلې.

زموږ دوه کسان لوڅې توري دهغوی سرته ولاړ دي ، ستاسو غږ ستاسو دقبیلې تر یوه کوره هم نشي رسیدلای هغوی له دې خایه ډیر لرې دي اوس تاسو ته له وسلې غوزخولو پرته بله لاره نشته.

– ودریږئ تاسو پوهیږئ چې اوس زموږ دغوږونو هیڅ لاره نشته، عدي داوویل او دیوال ته بې ډډه ووهله، حمله راوړونکیو لاسونه ونیول.

عدي له لږ خند وروسته وویل:

که ستاسو اسونو ته اړتیا وي درسره بوېئ زی پرموږ رحم وکړئ موږ خو چا ته څه زیان نه دی رسولی.

یوه تن بې وویل:

اجمقانو! څه ته کوری دوی ژر ختم کړئ،

عتبه چې ورمیږ ښکنه اچولی و، اوبه وار وار به یې دخپلې تندې ونې پاکولې چیغه وکړه:

پلارجانه! له دوی نه رحم مه غواړه ! زه تراوسه ژوندی یم ، دایې وویل او غیرمعمولی توندۀ حمله یې وکړه دغه حمله چې څومره سخته وه هومره نه اټکل کیدونکې وه ، عتبه پرلپسې ښې ، کیڼ اومخامخ گوزارونه کول اوورانډې ولاړ او هغوی شاته وتښتیدل، خودا دناخاپه ماتیدونکي سړي ړوند جوش و ، هغوی چې خوکامه

ښامانه شول بېرته راوګرځېدل او بېرېدېې وکړه، او بيا خپل خوځنوزي د عتبه پرېدن ولګېدې او دی پرخمکه راوغورځيد.

عدي اونعمان ورانګې راغلل خوعدي چې څوګامه راغی پر مخ ولوېد اود نعمان پښې پرخمکه ونښتې.

هغه لېټ شو اوغوښتل يې چې خپل پلار راپورته کړي څو ګامه لرې دعتبه مړی سور شوی ؤ ، خو حمله راوړونکيو لاتراوسه پرهغوېي دريغه ګوزارونه کول، ناڅاپه دکوټې له کونجه ښځينه چيغه اوچتېه شوه او له دي سره جوخت دعتبه پرمړي دګوزار کوونکيو له جملې ځغه يو پرخمکه راپريووت اوچيغه يې ترخوله ووته ، حمله راوړونکي هک پک شول او يوې اوبلې خواته يې وکتل چې له دريځې ځغه بل غبشی راغی اوبيل تن يې تپي کړ اوويې غورځاوه نور تول وارخطا شول اوشاته وتښتېدل او دستر ګوپه رپ کې دد هپوال ښېنخ ته ورسېدل. څوکسان دکجورو په ونو کې پټ شول، خو نور يې له دېوال نه واوښتل اوبل لوري ته ښکته شول اوڼوز دانګر دخلاصې دروازې په لور ولاړل.

سميرا له کړکۍ نه سر راوبوست اوچيغه يې وکړه:

نعمانه په بېړه پلار جان دننه راوله!

نعمان عدي راپورته کړ اوتکيه يې ورکړه ، هغه له درده په زګېروېو ګرد ګرد په نعمان پورې ځان ښېلولی ؤ روان شو خوچې دروازې ته ورنږدې شو همت يې ځواب ورکړ ويې ويل:

نعمانه ! ماهمدلته پرېږده اودځان دژغورلو فکر کوه، ورځه دلېيلې خلاف خبر کړه!

هغه وويل!

زه تا او سميرا نه پرېږدم او نشم تلای زما با ور دی چې هغوی به اوس سمدستي بله حمله وکړي.

سمیرا دروازه خلاصه کړه بهرته را ووته او دواړو عدي ته اوږې ورکړې اودننه یې بوتلو.

په بستره یې څملاوه او دروازه یې بنده کړه.

عدي خپل پاتې خواك راټول کړ او چیغه یې وکړه!

نعمانه! که تا زما خبره ونه منله نو په کور کې دننه به دموږه کانو په خیر مړه شو، که هغوی بیا حمله وکړه نو به دروازه ماتولو اوبیا کورته په اوراچولو کې به ځنډ ونکړي، ته لویدیځ لوري ته تر دیوال اوښتی شې، که دې دقبیلې خلك را خبر کړای شول امکان لري هغوی زموږ مرستې ته راشي.

نعمانه وخت مه تیروه، زه منات درته شفیع کوم دازما وروستی غوښتنه ده مه یې ردوه.

سمیرا وویل:

نعمانه! ولاړ شه. زه به دکړکۍ نه غیشي وولم اودهغوی پام به هغه لوري ته راواړوم.

دعدي کور له کلي نه وتلی او له څلورو لوریو په باغونو کې راایسار و.

نعمان پردې باوري و چې ببرته راشي پلار او سمیرا به ژوندي ونه وینې بیا هم که له حمله راوړونکیو نه دژغورنې کوم امکان و نوهغه همدا و چې په څه ډول دقبیلې خلك خبر کړای شي.

هغه په ژړه غوني غږ وویل:

پلار جانه! کاشکې دا حکم دې راته نه وای کړی.

بیا یې بیله ځنډه دروازه خلاصه کړه او بهرته ووت، سمیرا سمدستي دروازه بنده کړه اوځنځیر یې ورواچاوه بیا په منډه ولاړه او بل لوري ته یې کړکۍ پرانیسته، په انګړ کې بشپړه چوپتیا وه.

خوسمیرا ته دغه چوپتیا دجګړې له هنګامي څخه زیاته

ویروونکې ښکاره شوه، مخامخ بهر نې دیوال ته نژدې دخرماو په سیوري کې دخو کسانو دشتون گومان کیده اوهره شېبه یې دزړه درزا زیاتیدله.

نعمان چې له کوټې ووت ددیوال سره یې جوخت منډه واخیسته اودکجورو یوې ونې ته نژدې شو چې یو پربل پسې دوه غشي راغلل اوپه یوه شېبې نرځنگ تېر شول. له دې سره دحمله کوونکیو چیغې اوچتې شوې:

راونیسئ ووژنئ، ودروئ هغه غواړي بل لوري ته واوړي او وتښتي.

نعمان په ډیره چالاکۍ پرخرما وخوت او یوه پښه یې پردیوال کیښوده اوبل لوري ته یې توپ وواهه.

څو تنو شور گډ کړ او وړاندې ورغلل څو له دریځې نه سمیرا غیشې پرې وویشتل. اوبوتن یې تېې کړ، هغه له " های " سره وویل چې وړاندې مه ځئ، تاسو ډیر احمق یاست کور له خلکو ډک دی.

حمله کوونکي بیرته ولاړل او په ونو کې پټ شول.

څو شیبې یوه تن خپل نور ملگري پوهول چې:

تاسو اوس دځه لپاره انتظار کوئ، ددوی یوتن تردیوال واوښت اوزما با وردی چې داد عدي دریم زوی دی اوس تاسو ددې انتظار مه کوی چې هغه خپل ټول قوم دریاندې راټول کړي اودلته راشي، اوس موږ باید خپل غم وخورو.

راځئ!

خودوهم تن په پریکنده لهجه وویل:

نه، هیڅکله هم نه، دلته زما دررور مړی پروت دی.

پرمنات سوگند چې بدل یې وانخلم ولاړ به نشم. که ته دومره بې همته وې له موږ سره باید نه وای راغلی.

سبی همته ته بې چې دورور مری دې بریښود او ولاړې په ونو کې پټ شوې که ته دپسونو په خبر نه وای تښتیدلی، موږ ته دکور دروازه ماتول گران وو.

دریم تن په منځ کې ورولویدوبې ویل:

کوری اوس سهار کیدونکی دی اوتاسو هسې وخت ضایع کوی، عدی تېي دی، هغه دجگړی توان نه لري.

که بې زوی تښتیدلی وي نو په کوټه کې دننه له یوه مړي اوبوي نجلۍ پرته بل هیڅوک نشته، او داځو مړه دشرم خبره ده چې موږ دهغو دغیشو لـه ویرې دپسونو په څیر تښتو،که غیرت لری په ماپسې راځئ!

-درځی، درځی!

دوی دونو له سبوري راووتل اوپه منډه ددروازې په لور وراندې ورغلل، دسمیرا په غیشي بو تن تېي شو خونور بې له دم نه ووتل اوددر وازې مخې ته ورسیدل، سمیراپه بیړه کړکی بنده کړه او په منډه دروازې ته ولاړه، چا دروازه تیل وهله او وبې ویل:

عدي بهر ته راووزه که نه کور ته به اور واچوو.

سمیرا په ریږ دیدونکي غږ وویل:

پلار جانه! نور هیڅ نشو کولی زموږ وروستی وخت راغلی دی، اوس ښایي دقبیلې خلك زموږ مړي هم ونه لیدای شي کاشکې زموږ کور دومره له کلي څخه لرې نه وای.

له بهر څخه بیا غږ راغی:

عدي لـه سوځیدو مخکې نه غواړې چې دخپلوزامنومړي بوځل وویني؟

عدي وویل:

زه تا سو لـه اوراچولو نه نشم منعه کولی، خوبه یادولری چې

ددغه اور لمبې به پوازې زما تر کوره پورې محدودې پاتې نشي، اوس اوخزرج تل دميرنيو په څير په ميدان کې يوبل ته دسيالۍ اومقابلې غږ کړی دی. دبې همتو اوغلو په څير بې دشپې پروخت پرکوررونو حملې نه دي کړي.

-مظلوم لـه خانـه مـه جوړوه عـدي، آيا تـا دشپې زموږ کورتـه اوروانه چاوه؟

- زه په لات، منات،هبل اوعزی سوګندخورم ،ذابراهيم پرخدای سوګند خورم چې دچاکورته مې اورنه دی اچولی، تاسو څوك ياست؟

- زه سالم دهبيره زوی يم،... اوس رانه نشې خلاصيدای.

بره تن وويل:

سالمه! لـه ده سره بحث تـه اړتيا نشتـه، دغـه خلك بـه اوس بهرتـه راشي تاسـو څـه تـه ګورئ دې دروازې تـه وچ وابنـه راوړی او اور ور واچوئ زرشی بنيره کوئ!

عدي چيغې کړې.

غواړی مـاووژنئ؟

له بهر څخه غږ راغی:

ستا تراوسه پکې شك دی؟

عدي وويل:

ديثرب خلك دنورو قبيلو په څير په ښځونو لاس نه پورته کوي، که تاسو وعده کوی چې زما لورتـه بـه څـه نـه وايی نوزه چمتويم چې ځان تاسو تـه وسپارم:

- ستادريم زوی ونبنتيد؟

- هوکې ، خوتـه بـه داونشې ويلی چې هغـه بې همتـه دی.

دبر زر بـه ببرتـه راشې اوزما تولـه قبيلـه بـه لـه هغـه سره ملګرې دي تاسو پردې بايد ښه فکر وکړی چې زما پرلور موکه لاس اوچت کړ

نوستا سو کور به تر کومه پورې خوندي وي ،زما ددوو زامنو مړي بهر پراته دي او نور زما له خپل ژوند سره هیڅ مینه نه شته ، تاسو که زما په وینو لاسونه سره کړی نو دا ده به شي زه بهر درتلو ته تیاریم، خو په دې شرط چې په یوه بې وسه نجلۍ به لاس نه اوچتوئ! که تاسو داوعده نشئ کولی زه هم دې ته چمتو یم چې په اور کې وسوځم تاسو زما دکور سوځولو شوق پوره کړئ خو په یاد ولرئ چې بیا به دا اور تر هغو مړ نشي ترڅو دیثرب تر له دره په ایرو بدله نشي.

لږ څنډ له بهر څخه غږ رانغی، سمیرا دوره له یوه چاک نه بهر انګړ ته کتل، حمله راوړونکیو د دروازې مخې ته وچ وابښه اودخرما پاڼې انبار کړې وو. یو تن چې په لاس کې یې دوبښو لمبه وه وړاندې راغی. خو دوهم تن سمدستي وړاندې راغی اوهغه مټ یې ونیو ویې ویل:

ودریږه ! ماله دوی سره خبرو ته پرېږده!

یو دریم تن راوړاندې شو دلومړي له لاسه یې مشال واخیست اودوښو انبار ته یې وغورځاوه او ویې ویل:

موږ له دوی سره دخبرو وخت نه لرو.

په وچو وښو کې داور لمبې پورته شوې خریو بل تن په منډه راغی او دوښو ګیډۍ یې چې اوریې اخیستی و له دروازې نه لرې وغورځولې وې ویل:

تاسو دیوې داسې ګناه دروازه پرانیزی چې بیرته یې ختمول زموږ له وسه بهر دی ، بیا یې په لوړغږ وویل:

عدي! موږ تاته دیوه زړورسړي دمرګ وخت درکوو، موږ اور اچولو ته مه مجبوروه.

له دروازې پرانستلو سره دغیشو اور ولو هڅه وکړه نو پای به یې ستا دزامنو څخه دېر عبرتناک وي.

عدي له بسترې راجګ شو اوتېریدلی اوکودکود وراندې ورغی، سمیرایې یوې خواته تیل وهله او ددروازې لـه چاک نه یې بهر ته وکتل، دوښو اوکجورو دپاڼو انبار چې لـه دروازې څخه یې لږ لرې غوزخولی ؤ لمبې ترې پورتـه کېدې چې لمبې یې شیبه پر شیبه لوړېدې، عدي وویل:

وډ بړې زه بهر تـه درځم.

سمیرا پرهغه پورې ونښته اوچیغه یې کړه!

ته نه بلار جانه! ته داسې زما ژوند نشې ژغورلی.

عدي وویل:

سمیرا! زما لـه بهر تـه وتلو سره سم دروازه بېرته زنځیر کړه زما بـوږدی چې هغوی بـه داور اچولو جرئت ونکړي دوی پوهېږي چې پایلې به یې څه وي؟

سمیرا بیا چیغه کړه:

بلار جانه ! زه به هم درسره یوځای مرم

- سمیرا ساده کیږه مه، ماپرېږده، عدي خپل ټول توان په کار راووړ او دایې یوې خواته تیل وهله او زنځیر یې خلاص کړ بهر ته ووت . دهغه جامې په وینو لمدې خیشتې دې، حمله راوړونکي په نیمه دایره ورباندې راغلل ، دهغوی تورې داور په رڼا کې ځلېدلې ، عدي دروازې تـه نږدې دیـوال تـه شـاولګوله او ودرید ، حملـه راوړونکیو اوس د څه ناکراری ښـو دلوېرخای په دیر داده زره تورې اوچتې کړې او وراندې راتلل، خو درې کسان څو ګامه شاته پاتې شول.

دمنذر زوی مسعود هغوی ته وکتل ویې ویل:

سناسو تورې دعدي وینې نه خوښوې، راځئ تول به په یوه ځل ګوزار کوو.

یوه تن ځواب ورکړ:

موږ دخپلو تورو دتندي ماتولو لپاره دخزرج دخوانانو وینې خوښوو، موږ دیوه تږي ، تش لاس اوکمزوري سړي په وینو لاس سره کول نه خوښوو، تاسو مو زر زرخپل کارپای ته رسوی نو رسهار کیدونکی دی.

ناځاپه سمیرا توره په لاس بهر ته راووته او د سترګو په رپ کې دخپل پلار اوحمله راوړونکیو ترمنځ ودریدله.

عدي چیغې کړې:

سمیرا ته دننه ولاړه شه ا سمیرا ، سمیرا! دهغه غږ دحمله راوړونکیو په کړس کړس خندا ګانو کې ورک شو.

اوهغه بې سیکه راوغورځید.

جابر خپلو ملګریو ته وویل:

ودریږئ! تاسو یوه لوري ته شی اوننداره کوئ!

هغوی ودریدل جابر پرسمیرا څوګوزارونه وکړل. اودا څو ګامه په شاولاړه، ناځاپه ددې پښه دعدي پریدن ولګیده ، او شاپرتخته ولویده جابر یوه کرسنده خندا وکړه او دتورې څوکه یې ددې سترګو ته مخامخ کړه.

یوه تن چیغه پرې وکړه:

جابره! موږ له عدي سره وعده کړې ده چې برده نجلۍ به لاس نه پورته کوو.

- ماکومه وعده نه ده کړې جابر داوویل اودتورې څوکه یې لږ نوره هم ورورانده کړه سمیرا خپل ورمېږ یوې خواته کړ جابر هم دتورې څوکه همغې خواته کړه.

يوه تن چيغه وکړه:
بهر دباغ لوري ته داس ډېښو ترپهار دی.
ځوك راروان دي ، له دې خايه تېښتي.
هغوی وارخطا شول اودلوېې دروازې لورته يې ستر گې واړولې.
يوه تن وويل:
تاسو ولې وراخطا شوی په لاره کې زموږ ملگري پهره کوي ، که له دې لوري ځوك دښمن راتلای نودوی به نغاره وهلې وه او موږ به يې خبرولو.
دجابر و ارخطا يي سميرا ته دا فرصت ورکړ چې راجگه شي اوهغې ناڅاپه پرده حمله وکړه ، اوس جابر پر شاروان ؤ او دي پرلپسې گوزارونه پرې کول.
مسعود چيغه وکړه:
ته څه ته گورې دابښځه نه ده کومه شيشکه ده اوبيا يې له څنگه پرهغې حمله وکړه ، سميراپه کينه اوړه يو ژورتپ واخيست اويوې خوا ته شوه، خوجابر تيغ گوزار پرې وکړ چې دتورې څوکه يې دهغې پرتټر ښخه شوه او بيا داور دلمبو سره نژدې راولويده په انگړ کې دلړ شيبې لپاره چوپه چوپتياوشوه.
يوه تن په سپکه لهجه وويل:
دمنذر زامنو دلومړی ځل لپاره خپله توره وازمويله اوهغه هم ديوې نجلۍ پريدن، کـه نـه پـه دې جگړه کې تراوسه پورې دوی دتماشا کوونکيو حيثيت درلود ، او دمنذر زامنو داسې گڼله چې دوينو غوړ پونه يې تر ستونې تير کړي دي.
عدي له خپل ځايه راجگ شو اوپه تيندکو نو شو ولويد ،اودبيا پاځيدو ناکامه هڅه يې وکړه خو بيا يې په ښويدوخان سميرا ته ورساوه.

ده غوښتل چې دسميرا پام ورواړوي ويې ويل:
سميرا ! زما مظلومې لورې ! بيا يې په سينه پورې کلکه کړه بيا بې داور په رڼاکې، دسميرا په وينو سور لاس راپورته کړ او ويې لېداو په زوره يې چيغه وکړه:
ځناورو، وحشيانو اوس څه ته ګورئ، ما ولې نه وژنئ.
تاسو له سميرا نه وويريدئ خواوس به زما دساتنې لپاره توره راپورته نکړئ.
مسعود چيغه وکړه:
څه ته ګورئ دئ هم ختموئ! خوملګريو يې دده دامر دمنلو پرځاى زړه نازړه يوبل ته کتل دغه کسان چې لږ مخکې دعدي دوينو تږي وو په خپل مخ کې ديوې نجلۍ دمړې په ليدو ويريدلي ښکاريدل.
دساراپي قبيلو په جګړو کې داسې پيښې عامې وې خو ديثرب نسبتاًمهذبو خلکو په نظر ديوې نجلۍ وژل غير معمولي پيښه وه، پردې سربيره دآس دپښو غږ اوس ډير رانږدې شوى و. اودوى تر عدي دروازې لوري ته ډير کتل.
بوه تن وويل:
جابره ، مسعوده! تاسو داده پردې مړيو دخپلو تورو تمرين کولى شئ، سپور يوازې دئ اوکه شاوخوا ته دښمنان وي هم تاسو ته به هيڅ خطر پيښ نشي، دخطرپه وخت کې به موږ ستاسو ساتنه کوو، په منات سوګند که زه پوه شوى واى چې ستاسو هدف ديوې نجلۍ وژل دي نوزه به نه وم درسره ملګرى شوى ، اوس معلومه نه ده چې په يثرب کې څو مړه ميندې او خويندې ووژل شي.
سبورانګړ ته رانږدې شو، دغه عاصم و.

سالم وراندې شو دهغه اس یې ترجلب ونیووېې ویل:
وروره! موږ بدل ترې واخیست داعدي دی، اوپه انګړکې یې ددوو زامنو مړي هم پراته دي
داهغه نجلۍ ده چې پرجابر یې حمله وکړه ، ته چیرته وې؟
عاصم وروړاندې شو اود اور رڼا ته یې یوه زړه بریښوونکې ننداره ولیده، او څو شیبې هک پک ودرید، بیا هغه مړي ته ورنژدې شو اوسر یې په غیږ کې کیښود چیغه یې وکړه:
سمیرا، سمیرا، ماته وګوره ، خبرې راسره وکړه، زه ستا عاصم یم، خو له سمیرا سره دده دهیلو خواب نه و چې بیا دعاصم غږ په سلګیو بدل شو.
عدي له درده زګیروي وکړل او خپل ورمیږي را اوچت کړ وېې ویل:
عاصمه! ته ډیر ناوخته راغلې ، سمیرا په اوس تاته ونه ګوري داعمیرا وعتبه خپل لوري ته وربللې ده.
جابر وړاندې ورغی اوتوره یې اوچته کړه ویې ویل:
عمیرا وعتبه تاهم خپل لورته وربولې، کاشکې هغوی دغسې ستاسو دقبیلې ټول خلک وروبولي.
عاصم ناڅاپه له خپل ځایه ځک شو اوپه پوره زوزبې جابر ته واهه او بوې خواته یې وغورځاوه.
بیا یې دسترګو په رپ کې خپله توره راوایستله.
مسعود چیغه وکړه:
دی ونیسئ! ویې وژنئ! دا خاین دی ، دا یې ووېل اوپرعاصم یې حمله وکړه عاصم دهغه ګوزار پرخپله توره واخیست او بیا یې دبرا تېې زمري په څیر پرهغه ورتوپ کړل، مسعود یې چې څوګامه شاته تلو ته اړکړ بیا یې په ټول توان یو ګوزار پرې وکړ چې دسترګو په

وپ کې هغه پرخمکه ورپېده.

جابر جګ شو اوغوښتل يې له شانه وارېږي وکړي.

خوعدي چيغه وکړه:

عاصمه شاته وګوره ! عاصم مخ راوګرځاوه ويې ليدل چې دجابر دتورې دم ته راغلی دی، هغه ناڅاپه يوې خواته ټوپ وواهه، دجابر دتورې څوکه پرخمکه ولګېده له دې سره عاصم يوزوروړ ګوزار وکړ او دده توره دجابر لـه تورې سره ټکر شوه چې دهغه لـه لاسه توره څوکامه لرې والوته، اوس دعاصم دتورې څوکه دجابر پرټټر وه هغه په شاروان ژر دې چې پرديوال ولګيد.

سالم ورورانډې شو عاصم يې ترکيڼ مټ ونيو او ويې ويل:

وروره ! څه درياندې وشول دازما دماماززوی دی. داجابر دی اوزامسعود ووازه . وروره راپه خود کې شه!

خوعاصم بيله دې چې دتورې څوکه دجابر لـه ټټرڅخه لرې کړي کيڼ مټ ته يې جټکه ورکړه اوکم عمره . سالم پرخمکه راولويد.''

عاصم مخ راواړاوه او دهغوکسانو په لورېې وکتل چې بـه ولړ خطا بې او حيرانی يې دغـه لـه باورنـه لرې ننداري ته کتل ، هغه وويل:

سميرا چا ووژله ؟ يې همتو زه پوښتنه درنه کوم دعدي بې ګناه لور چاووژله؟

چاځواب ورنکړ.

عاصم جابرته وکتل او ويې پوښتل:

ته ووايه دعدي بې ګناه لور تاووژله؟

جابر چيغه وکړه.

دروغو! تاسو څه ته ګورئ ، څه درياندې شوي دي.

عاصم په هوش کې نه دی، پرده تر اوسه دعدي دجادو اغېزه ده ،

ما وژغوری!
خوچا دوراندې راتلو جرئت ونکړ.
سالم بیا چک شو دعاصم لاس یې ونیو او ویې ویل:
وروره! موږ دې نجلۍ دخان ژغورنې وعده وکړه خو دې ناڅاپه پرجابر حمله وکړه ، که دې حمله نه وای کړې ده به لاس نه وړ پرې اوچت کړی.
وروره ارا په خود شه!
عاصم خپل لاس ترې وښندلو اوسالم بې پرمخ په ځپیره وواهه او هغه برخرخ وخوړ اوپرخمکه راپریوت بیا یې جابر ته وکتل او په درانه غږ یې ورته وویل:
سمیرا تا ووژله؟ کاشکي دمنډرلس زره زامن وای اودسمیرا دوینې په هرڅاڅکي مې یو یو وژلی وای.
هغه چیغه کړه:
عاصمه پرما رحم وکړه! خوعاصم خپل لاس وخوځاوه او ددې دتورې څوکه دهغه په سینه کې ښخه شوه، هغه راولوید اوعاصم دلیونتوب په حال کې دهغه په ترپکویدن دتورې ګوزارونه پیل کړل.
یوه تن چیغې کړې:
څه ته ګورې! دمنډر دوه زامن ووژل شول ،اوس به تاسو په کوم مخ بیرته ځئ، موږ ته ترډې مرګ غوره دی عاصم لیونی شوی دی راویې نیسی ویې وژنئ!
زرګوی پرې راتاوشې ، که نه اوس به دخزرج دقبیلې کسان راورسیږي دوی په نیمه دایروي حلقه کې وراندې ورغلل اوسالم یوې خواته ودرید سلګۍ یې وهلې.
ناڅاپه عاصم پریوه لوري حمله وکړه اوپه لومړي ګوزار یې برتن لاندې پروت ؤ اوریبده نورېې وارخطا شول او بیرته په شا وتښتیدل

،عاصم دانګر په منځ کې ودرېد اوله غوسې نه يې په لړ زيدونکي غږ وويل:

بې همتوا زه ددې لپاره راغلى وم چې درته ووايم چې زموږ پرکورديهودي شمعون کسانو حمله کړې وه اوعدي پردې خبر هم نه و ،کوم وخت چې دشمعون کسانو زموږ پرکور حمله کوله زه له عدي سره دهغه په باغ کې ناست وم ، خو اوس ددې خبرو وخت تېر دى، ستاسو لـه جګړې سره مينه وه او زه مودغه مينه تر سره کوم اوس دمېږو په شان ولې تښتئ ، راځئ خوچا دوړانـدې راتلو جرئت ونکړو، ناڅاپه بهر دنغارې غږ اوچت شو او يوه تن چيغې کړې:

اورى يې! زموږ ملګريو نغاره وږغوله راځئ تښتئ بيړه کوئ!

بل تن يې غږ وکړ:

ودرېږئ ! موږ خپل مړي دلته نشو پرېښوداى:

دريم يې وويل:

ليونيانو! اوس دمړيو دپورته کولو وخت نه دى.

دا بـه موهغـه مهـال فکر کـړئ چې دعـدي يـوزوى دقبيلې دخبرولوپاره له دى خايه وتښتيد،

اوس دخان ژغورلو غم وخورئ.

دسترګو په رپ کې انګړ تش شو، خوسالم دعاصم ترخنګ ولاړ و، عاصم په غوسه شو چيغه يې وکړه:

ته څه ته ګورې! ورځه...

سالم په پرېکنده لهجه ورته وويل:

زه نه ځم ، ستا سره پاتې کېږم

عاصم وروړاندې شو تر مټ يې ونيو اوپه زور ، يې دانګړ دروازې ته کش کړ.

سالم چيغې کړې:

ورورہ! ته مې دجابر اومسعود په خير ولې نه وژنې؟
زه اوس قبيلې ته په کوم مخ ورشم؟
عاصم هغه په دروازه کې په زوره بهر ته تېل واهه اوهغه خو گامه لرې پرمخې پرخمکه ولوېد، چې سمدستي راجګ شو بو نظر بې عاصم ته وکتل او بيا په منډه دبڼ په ونو کې ورك شو.
عاصم تر لږ خنډه بې حسه وچ کلك پرخپل ځاى ولاړ ؤ اوبه انګر کې پرتومړيو ته بې کتل. داتولې پيښې ده ته له باورڅخه لرې ښکاريدلې، پخپل زړه کې يې خان ته ډاډ ورکاوه چې دا امکان نه لري چې سميرا مرګ رانه واخلي دايو خوب دى، داڅنګه کيداى شي چې سميرا ته مرګ راشي اوزه ژوندى وم.
ناڅاپه يې يوه سلګۍ وکړه اوبه ورو ورو ګامونو دسميرا لورته ورنژدې شو.
دعدي کمزوري غږ اوچت شو:
اوبه، اوبه! دى په منډه ولاړ اودکور له دروازې سره نژدې ديو منګي نه يې په جام کې اوبه راواخيستې، عدي چې څو غوړ په اوبه وڅښلې عاصم هغه بيرته څملاوه اوبيا بې دسميرا سرراپورته کړ اوداوبو جام بې پر شونډو ورکيښود، څو اوبه دهغې پروښکيويوې اوبلې خواته راغلې، اودعاصم له ريږديدونکي لاسه داوبو جام پرخمکه ولوېد.
ده بيا دسميرا مړي پرخپل تنه پورې کلك ونيو اوچيغې بې کړې:
ماته وګوره! خبرې راسره وکړه، مابه دې دنيا يوازې مه پرېږده مه رانه درومه. سميرا! ستا مجرم زه يم، کاشکې دلته نه واى راغلى كاشکې مونږ يو بل نه واى ليدلې، کاشکې ماته دا معلومه واى چې زمونږ مينه به دې کورته د دوزخ اورشي.
بيا بې آسمان ته وکتل اوبه سلګو کې بې وويل:

اي لاته ! اى هبله ، اى عزى او مناته!
پرما رحم وکړي، که تاسو ستر کې لرى نوزما وضعې ته وګوري، که اوریدای شئ نو فریاد مې واورئ.
که تاسو چا ته څه ورکولى شى نو زه دسمیرا د ژوند سوال درته کوم.
دمیاشتو او کلونو لپاره نه ،یوازې دیوې شپې لپاره زما سمیرا بیرته راکړی، بیا به بې دنړى هیڅ خواك هم زانه وانه خستلاى شي.
بیا که د ټولې نړۍ ځناور هم پردې کوز حمله راوړي زه به یې به یوازې ځان مقابله وکړم داسمان بى رحمه خواکونو ! تاسو خو به سمیراته دومره وخت ورکړی د چې ووینې زه د دې لپاره د خپلې قبیلې سره جنګیدلی شم. اى دابراهیم "ع" او اسماعیل "ع" خدایه ! زه له تا نه مرسته غواړم.
عدي ده ته نژدې پروت و او بنده بنده ساه یې اخیسته او بهر دخلکو چیغې او شور پورته کیدو خو عاصم له خپل شاوخوا نه بې خبره و.
ده به په وار وارد سمیرا مخ ته کتل او بیا به یې دهغې مړى پرخپل تتر پورې کلك کړ، دبهر چیغې او کوکارې انګړ ته ورننوتې خو عاصم د څه خطر احساس نه کاوه.
چا په لوړ غږ وویل:
تاسو څه ته ګورئ دا عاصم دى ووېږ نیسئ دیې وژنئ!
خو عاصم له خپل خابه ونه خوځید، په بې پروا یى بې پرخپل شاوخوا راټولو کسانو ته وکتل او بیا یې سربکته واچاوه.
چا غږ وکړ:
نعمانه! تر ټولو لومړى ګوزار ستا حق دى.
نعمان وروړاندې شو او توره یې اوچته کړه.

خوعدي چې ظاهراً داسې ښکاریدو چې دژوند منزل یې پای ته رسولی دی نیغ راکیناست دواړه لاسونه یې دعاصم پرسروتیول او چیغه یې کړه:

نه، نه، ده ته څه مه وایې، ده زموږ په خاطر دمنذرزامن ووژل ،اوس دی ستاسو په پناه کې دی... نعمانه! زما وروستی غوښتنه داده چې ته.... عاصم خپل دوست وګڼې .... ورونو ! عاصم زما دزلفریدل اخیستی دی، نور دې ته اړتیا نشته چې تاسو توري راواخلی.

عدي هندومره وویل اوبوه سلګی یې وکړه او بیرې خواته ړنګ شو.

نعمان خپله توره وغورځوله اوورغی دهغه سره یې په خپله غیږه کې کیښود په دردناکه لهجه یې وویل:

پلار جانه! پلار جانه!

عدي دخواب پرځای په سختی خو شلیدلې ساه ګانې واخیستی اوبیا یې درمیرځوزند شو. بیرېدا سري ورغی دهغه پر نبض یې لاس ورکیښود اوبیا یې مخ واړاوه.

نعمان په زوره زوره وژړل.

دسهار رڼا رابکارید له عاصم همغسې دسمیرامری په سینه پورې کلک نیولی و اوناستِ وچې دقبیلې خلکو دعدي اودهغه دزامنو مړي پورته کړل اودننه یې یو وړل نو یوه خوان دعاصم پراوږه لاس کیښود اودهغه پام یې خان ته ورواړاوه.

عاصم مخ ورواړاوه اوبیا یې په چوپه خو له سمیرا اوچته کړه اد دننه یې یووړه خلکو دغوسې او خپګان پرځای اوس ده ته په اندیښنه او پریشانی کتل اوله مخې یې لرې کیدل ،عاصم له روازې سره ودرید اوخو شیبې یې سمیرا مخ ته وکتل خو چې ببا یې

سترګې لـه اوښکـو ډکـې شـوې وړانـدې ولاړ اوسـمیرابې پربـستره څملو له او درووړو یې ګامونـه اخیـستل لـه کوټـې ووت دهغـه لـه سترګو اوښکې روانې وې خلك چې پټ پټ سره پسیدل دده په لبدو چوپه خوله شول ددوی دهر یوه پرخوله ډیرې پوښتنې وې ، خوچا داجرئت نه درلودچې له هغه سره خبره وکړي.

ددوی په اند په دې کورکې دعدي اودهغه د زامنو دوژل کېدو پرخای دا مهمـه وه چې د منذر زامن عاصم وژلي رو اوپه داسې مهال کې چې دخزرج دکسانو توري دده په وینو سـرې کـیدونکې وې نوعدي دخنکندن پروخت کې دهغه پرسر خپل لاسونه ونیول.

عاصم پرهغه خای چې لږ خند وړاندې یې هلته دسمبرا مری په غیږ کې وژلی تم شو خپله توره یې پورته کړه اوپه پوښ کې یې ننه ایستله یـوې اوبلې خواتـه یـې لـه کـتلو وروسته دانګر په هغه لوري ورغی چې آس یې ولاړو.

نعمان ناڅاپه په منډه ورغی تر لاس یې ونیو او ویې ویل:

نه چیرته ځې؟

عاصم هغه پـه غـیږ کې ونیو او دخپلو سلګیو دتم کولو هڅه یې کوله ویې ویل:

نه پوهیږم!

دخزرج یوه مشر سري وویل:

عاصمه! موږ پردې نه پوهیږو چې تازموږ په خاطر دمنذر زامن ولې ووژل خوموږ دې ته چمتو یو چې تاته پناه درکړو.

عاصم په بې پروايي ځواب ورکړ.

زه اوس دچا پناه ته اړتیا نه لرم.

یوه زلمي دعاصم دآس جلب ونیو اوهغه ته یې په لاس کې ورکړ ویې ویل:

که ستا دلته زموږ په پناه کې ژوندخوښ نه وي نو بیا سمدستي له یثرب څخه چیرته لرې ولاړ شه. که نه نور به دې ستا قوم خلک ژوندی پرې نږدي.

- زه له یثرب نه ځم ، خو دلته لا زما یو کار پاتې دی چې باید ترسره یې کړم.

عاصم په یوه توپ د آس پرشا سپور شو او چارګام له انګړنه ووت.

* * * *

دعدی له کوره نژدې یو میل لرې د یوې پراخې لارې دواړو غاړو ته دیهودانو دباغونو لپاره خام دیوالونه ولاړ وو، ناڅاپه دوه تنه له دې دیوالونو رانښکته شول او د عاصم په مخ کې ودریدل او لاسونه یې اوچت کړل.

عاصم چې ولیدل سمدستي یې وپیژندل د عباد او سالم وو، ده په ډیر زور د آس قبضه راکش کړه آس یې ودراوه او ویې ویل:

عباده ! ته چیرته وې؟

عباد ځواب ورکړ:

ماپه لاره کې پهره کوله سالم حکم راته کړی و. چې که دښمن دې لوري ته راتلو زه نغاره ووهم او دوی خبر کړم ، چې ته کله له دې ځایه تیر شوې ومې پیژندلې هڅه مې وکړه چې مخې ته دې راشم خو تا راته پام ونه کړ او وړاندې تیر شوې.

له هغو وروسته چې دخزرج په خلکو کې چیغې او کوکارې شوې زما دوو ملګریو نغاره ووهله او وتښتیدل ،خو چې دعدي په کور کې ملګري ناوخته شول زه اندیښمن شوم او دعدي د کور په لور درغلم، لږ خند وروسته مې دعدي په بڼ کې دتښتیدونکیو کسانو دپښو ترپهار واوریدل، باور مې شو چې دا زموږ کسان دي ، خو

دپوره تسلي لپاره ديوې ونې ترشا پټ شوم هغوی له مانه څوګامه لرې تېريدل اوخبرې يې کولې هغوی تا ته ډېرې بدې کنځلې کولې اوزما زړه ونه غوښتل چې مخې ته يې ورشم بيا يو تن چې په پښه تېپي وه اونکوښيده زما ترڅنګ تېر يده ،زه يې مخې ته ورغلم اوترې ومې پوښتل چې ولې مو دومره ځنډ وکړ، هغه دخواب پرځای پرما توکړل اوتوره يې راوکښله پرمايې حمله وکړه ما خان يوه لورې ته کړ او دګوزار نه مې وژغوره اوهغه ددې پرځای چې پرما پسې راشي تاته يې کنځلې کولې اوولاړ.

بيا زه لږ نور لرې ولاړم چې بيا سالم په مخه راغی او.....

-بياسالم درته وويل چې زه دخپلې قبيلې غدار اوقاتل يم، ووايه ولې چوپ شوې ؟!

دعباد سترګې رادکې شوې ديې ويل:

زما باور نه راځي چې دمنذر زامن دې تاوژلي وي. که دا رښتيا وي هم زه ستا غلام يم.

- ته سرله ننه آزادېې اوسالم به پردې خبره ګواه وي چې زما دښمنۍ برخه ستا شوه زه له دې خايه ځم

-ته ماوژلی شې خوبه دې وضعه کې مې له خانه شرلی نشې.

عاصم وويل:

زه بوازې بوخدمت درنه غواړم، دعدي له کورسره نږدې پټ شه اوزما انتظار کوه.

که څه خطر نوداووايه چې ما امر درته کړی دی ، زه به تر لږ ځنډه درورسيږم .

سالم به ويريدلې لهجه وويل:

نه څيرته ځې؟

- ته دا ده اوس زه کور ته نه ځم.

د سالم سترګې راډکې شوې وبې ویل:

زه غواړم درته ووایم چې ته د کلیو لوري ته مه ورځه. اوس به د قبیلې هر سړی ستا لټون کوي.

عاصم لږ په نرمه لهجه وویل:

سالمه! ته نور زما د مرګ اوږوند غم مه کوه، ته کور ته ولاړ شه!

سالم دفعه د آس جلب ونیو وبې ویل:

نه، تر څو ونه وایې چې ته دې لوري ته د څه لپاره څې زه به له دې ځایه ونه خوځېږم په منات سوګند چې که د دښمن ټوله قبیله دې لوري ته راشي هم زه به ولاړ نشم.

- ته غواړې ویوهیږې چې زه چیرته ځم؟

- هوکې!

- ډیر ښه په ما پسې راسپور شه!

سالم په یوه ټوپ په عاصم پسې سپور شو او عاصم آس ته پونده ورکړه.

لږ خند وروسته سالم وویل:

وروره! هغه لوري ته مه ځه، که د قبیلې خلک مونږ وویني پر تا به برید وکړي او زما باور دی چې اوس به پلارجان هم ستا په ملاتړ ځه ونکړای شي.

عاصم وویل:

سالمه! ته داسې ولې نه وایې چې که د قبیلې خلکو د مسعود او جابر له قتلانو سره ولیدې نو د دوی پیغور به نشي زغملی.

سالم وویل:

وروره جانه! زه ستا لپاره او ته خان ورغورځولی شم. خو دا نشم زغملی چې تا د مدني دلبر په خاطر زما د ماما زامن ووژل، ته هغه

وخت چېرته وې چې هغوی زمونږ په کور برغل راووړ، ته هغه خلك څرنگه بخښلی شې چې زمونږ کورته یې اور واچاوه اوپلار جان بې نبي کړ.

عاصم دآس جلب راکش کړ ویې ویل:

هغه وخت دعدي په بن کې ماله هغه سره خبرې کولې او زامن یې په کور کې ویده وو.

- داامکان نه لري عباد حمله کوونکي دعدئي تر کوره پسې اخیستي وو ته له هغه نه پوښتنه کولی شې.

- ماته دپوښتنې ارتیا نشته عباد یوازې په بوه تن پسې راغلی ؤ او هغه دشمعون غلام و.

هغه ته یې داخدمت سپارلی و چې کله دشمعون کسان زمونږ کوته اور واچوي نودی هغه کسان چې په دوی پسې ورخي دعدي دکور په لور بوزي.

سالم وویل: زما باوردی چې ته دروغ نه وایې ته څه غواړې؟

- دابه اوس درته معلومه شي

کېن لوزي ته یوځای دیوال مات شوی ؤ اوهلته بوتي ایښودل شوی وو.

عاصم دآس جلب راوگرځاوه اوبیا یې پرې ورخوشې کړ، آس توپ وواهه اوبن ته ننوت.

سالم وویل:

داد شمعون بن دی ته غواړې دهغه پرکور حمله وکړې؟

عاصم اس ودراوه ترې ښکته شو اوویې ویل:

ماته به دا ارتیا پېښه نشي چې حمله وکړم، ته مې دلته انتظار کره.... که څه خطرو زما پرآس خان ویاسه.

سخوزه ...

عاصم یې خبره ورغوځه کړه وېې ویل:

نور چوپ شه، دخبرو وخت نه دی ، ما یوازې ددې لپاره راسره راوستې چې ښایې ستا پر شاهدی دقبیلې دخلکو باور راشي که ما ته په خپل کار کې دچا دمرستې اړتیا وای نوستا پرځای به مې عباد راسره راوستی و.

سالم وویل:

ډیر ښه. زه داتینګار نه کوم چې درسره بومې زه. خوداتمه مه رانه کوه چې که څه خطرپیښ شي زه به تاپرېږدم اوخان به باسم.

عاصم له څه خواب ورکولو پرته په بیړه دآس له غاړې پرې راخلاص کړ اوپه وڼو کې ورک شو.

په باغ کې هغه سل ګزه وړاندې دشمعون دکلابهرنې دیوال ته ورسیده پر دیوال وروخوت اودننه یې وکتل . ښې لوري ته د شمعون داوسیدو دکور دروازه تړلې وه، کیڼ لوري ته لږ لرې دده نوکران تر یوې خېټې لاندې پراته وو، عاصم له څه خندپرته دننه ورکوز شو اوڅپرې په لور ورغی په څپره کې دننه درې تنه په درانه خوب ویده وو.

ډیره اوږده اوخواکمنو متو خاوند څرهار تر ټولو لوړ و.

عاصم په یوه ورکې لغته هغه راویښ کړ اودهغه پرتټر یې دتورې څوکه ورکېښوده ، دشمعون غلام وغوړمبیده او سترګې یې وغړولې اوپه ډیر ه وارخطا یی یې عاصم ته کتل ، عاصم پرتوره لږ زور راوړ او ورته وېې ویل:

که دې شور ګډکړ وژنم دې،که دې ژوند درباندې ګران وي چې څه درته وایم منه یې، جګ شه! خپلو ملګریو ته دې مه ګوره، هغوی دې مرسته نشي کولی، که زه وغوارم هغوی به راویښ کړم او ډېر یې وژنم.

غلام له ویرې په لړ زه شو او راجګ شو، عاصم دغه په غاړه کې پرې وروا چاوه او بیا یې بوه جټکه ورکړه دتورې څوکه یې پروړمیږ ورکېښوده ویې ویل:

په دې کې دې خیر دی چې برچوپه خوله زما نه وړاندې ځه!

غلام ته ددې امر له منلو پرته بله لاره نه وه او دعاصم په مخکې روان شو.

دانګړ دروازې ته نژدې غلام دلومړي ځل لپاره له عاصم سره دځه ویلو جرئت وکړ او په ویریدلې لهجه یې وپوښتل: چیرته مې بیایې؟

عاصم ځواب ورکړ:

ته دروازه خلاصه کړه او چوپه خوله راسره دروځه!

غلام په ریږدیدلیو لاسو نو دروازه پرانیستله او دوی باغ ته ورننوتل، ناڅاپه په کیڼ لوري ته دآس دپښو ترپهار اوچت شو او سالم دونو له منځه راووت په مخکې یې ودریدو په عذربې وویل:

ورور! ماته هلته انتظار کول ډیر ګران وو، نور سهار شو ډیر خند مه کوي.

عاصم بیله دې چې څه ووایي پرآس سپور شو بیا یې دشمعون غلام ته وویل؛

ته به دشپې په منډو رامنډو کې ډیر ستومانه شوی وې ،خوزه اوس تاته آس نشم ورکولی ، تر لږ ځایه به منډې راسره وهې په دې کې دې خیر دی چې په لاره کې چیرته دلوېدو هڅه ونه کړې ، بل دې پردې کې ډیره ګټه ده چې زما هرې پوښتنې ته ځواب راکړې.

غلام وویل:

تازمنه راسره کړې ده چې وژنې به مې نه،

-که تاکوم ځواب غلط راکړ نوزه به خپله ژمنه درسره ترسره

نکړای شم، ووایه دشپې زموږ له کوره دعدي دکور تر باغ پورې څوك به تاسو پسې راغلي وو؟

- هوکې!

- ته چې دعدي په بن کې پټ شوی زه درسره مخامخ شوم؟

- هوکې !

- تاسو زموږ کورته له اوراچولو وروسته راوتښتیدئ؟

- حبیب زه بې ګناه یم زه بهر ورته ولاړوم، زه خو یو غلام یم اودخپل بادار امر ته مې غاړه ایښې وه.

- زه تاته دشمعون دګناه سزا نه درکوم، خو ربښتیا ووایه! شمعون تا ته ویلي وو چې کله زموږ کسان به تاسو پسې درشي نوته یې به خان پسې دعدي دکور په لوري بوزه چې زموږ کسان دا ګومان وکړي چې حمله کوونکي دعدي زامن وو.

- بناغلیه! پرما رحم وکړه! هغه به ماژوندی پرینږدي.

عاصم رسۍ ته جټکه ورکړه او په درانه غږ یې وویل:

خبیثه! سم سم خواب راکړه!

غلام سرترپایه عذر عذر شو ویې ویل:

بناغلیه! پرما رحم وکړه ، ما یوازې دخپل بادار په امر عمل کړی دی،

عاصم وویل:

سالمه ! اوس ته کورته ولاړ شه، ته به پوه شوې چې له دې جګړې نه زما د دې کولو اصلي سبب څه و. زه له خپل قوم نه مایوس یم.خو دعدي په کور کې راټولیدونکي خلك بنایي پردې خبره وپوهیږي چې موږ دیهودیانو دناولو هدفونو تر سره کولو لپاره یو دبل وینې توېږو.

تر هغو وروسته به مې هغه داوې چې دغه سړی تاسو ته ژوندی

دروسوم، ددې لپاره نه چې زه خپل سپیناوی غواړم بلکې ددې لپاره چې زه له دې خاپه ولاړ شم ته زما دنامه په اخیستلو ونه شرمیږې.

اوس ته ورځه که عباد په مخه راغی زه به په لاره کې دی هغه ته وسپارم.

سالم وویل:

وروره! ته پردې خبرو دخت ضایع کوله پرځای دخپل خان دژغورلو غم وکړه دجابر اومسعود له وژلو وروسته به زموږ دقبیلې خلك یو هم زما خبرو اوریدو ته چمتو نه وي او که دوی ددغه ذلیل غلام پرگواهي باور وکړي هم دوی به ستا بخښلو ته تیار نشي.

تاسو له دې خایه ژر تر ژره ووزی، زه به داحدغره په چینه ستا په انتظاریم.

- سالمه! ستا څه خیال دی چې زه دعدي اوسمیرا له قاتلانو څخه درحم غوښتنه وکړم، پرمنات سوگند که بنو اوس زما پرسرتاج راکیږدي هم زه ددوی په ملگرتیا خوښ نه یم، د احد په لاره کې دې ماته دانتظار اړتیا نشته.

زه شام ته روان یم اودامې درسره وروستي لیدل دي، که ته پرعباد پام وکړې دابه دې راباندې لوی احسان وي.

عاصم دا وویل اوآس یې پرونده کړ، دشمعون غلام چې ده یې پری په لاس کې کلك نیولی و، له هغه سره مندې وهلې.

* * * *

دخزرج دقوم دیرکسان دعدي په کورکې راټول شوي وو اوخو تنه بنځو پرمړي ماتم کاوه، دوژل شو بو له وینو ډکه بوه پیاله ددروازې په مخه کې ایښې وه اونوي به چې څوك ورتلل په هغو وینو

به بې خپلې ګونې لندې ګړي او دواړي دوړنو د کېنات سوګند به یې وخوړ.

عاصم اوس زغلېده او انګړ ته ورننوت، د شمعون غلام چې جامې یې په خولو لندې ګمنځې شوې دي په دېر زحمت خان ورسېږ رساوه. عباد له شانه اسپنلی لوړه وریېښې روان د عاصم چې انګړ ته ورننوت او هغه ته یې په زور چنګه ورکړه او غلام یې مخې را ولوېږ خبد.

په انګړ کې را ټولو خلکو د یو هېل له خولې د عاصم کېسه اورېدلې وه چې د شمعون غلام او عباد یې ولیدل د یو بل سره یې بېسکې بیل کړې.

عاصم ورته وویل:

ورونو! ما تاسو ته ویلي وو چې په یثرب کې مې دروستی کال پاتې دی اوس د شمعون غلام تاسو ته وراندې کوم او خپله ذمه واري سرته رسوم. دی به پر دې ګواهي ورکړي چې اوس او خزرج چې پر د یال وینې تویوي اصلاً د یهودیانو ارمانونه تر سره کړي، تاسو پوهېږئ چې تر نن زما له خپل قوم سره هیڅ اړیکې نه دي پاتې شوي، زما له دې سره نور هیڅ کار نشته چې له تاسو نه څوک مړي او څوک ژوندي پاتې کېږي، زه دلته نه اوسم او ستاسو د بربادۍ تنداره به نه کوم. خو د یثرب له پرېښودو څخه مخکې زه د دوروستي خل لپاره غواړم داد رته ووایم چې اوس او خزرج د کوم اور خس او خاشاک کېږئ، هغه یهودیانو بل کړی دی. دا د شمعون غلام دی او تاسو زما د خبرو په باب دده نه پوښتنه شئ د شبې مهال چې زموږ پر کور حمله وشوه، ما په باغ کې له هغې سره خبرې کولې له سمېرا پرته د دې ګلاډیال غړي زموږ پر دې خبرو خبر نه و، بیا چې زه د هغې نه رخصت شوم او له باغه وتلم د هغه غلام باغ ته راننوت او

پر تن چې په ده پسې ؤ بیرته وگرځید او ولاړ ، ماله ده نه باغ ته دراتلو دسبب پوښتنه وکړه ده راته وویل چې د شمعون په کورکې مې غلا کړې ده اوراتښتیدلی یم اودهغه نوکرانو پسې رااخیستی وم.

زما دشمعون دکور له غلام سره څه خواخوږي نه وه څکه مې دی پرېښود خوچې کورته ولاړم. هلته زموږ دخارويو څپرې اور اخیستی ؤ او تره مې تپي ؤ، دقبیلې خلکو ویل چې دعدي زامنو زموږ پرکورحمله کړې ده اوو تښتیدل اوزما غلام په هغوی پسې تر خپل کور پورې ورغلی ؤ. له دې سره زه وپوهیدم چې دمنذر زامن دعدي پرکور دحملې لپاره راغلي وو. زه چې بیرته دلته راورسیدم نوحمله کوونکیو خپل کار تر سره کړی ؤ.

دشمعون غلام چې چوپ او کرار پروت ؤ، عاصم عباد ته اشاره وکړه ، هغه یې ورمیږونیو او ویې دراوه عاصم غلام ته وویل:

روایه داخبرې رښتیا دي؟

هغه سرخوږند واچاوه خواب یې ورکړ:

هوکې !

- آیا دارښتیا ده چې شمعون تاته امر کړی ؤ چې د عدي دکور په لور وتښته؟

- هوکې، خو په دې کې زه بې گناه یم یوه غلام ته دخپل بادار دامر له منلو پرته بله چاره نشته.

عاصم عباد ته وکتل اوویې ویل:

عباده ! اوس ته دی زما کاکا ته وروله.

که ده هلته له خپلو دغو خبرو نه انکار وکړ نوسالم ته بې وسپاره زما باور دی چې —

... به یې دسرپه غوڅولو کې د شمعون دوېرې پروا

پو تن چې په ده پسې ژ بېرته وګرځېد او ولاړ ، ماله ده نه باغ ته دراتلو دسبب پوښتنه وکړه ده راته وویل چې د شمعون په کوزکې مې غلا کړې ده اوراتېښتېدلی یم اودهغه نوکرانو پسې رااخیستی وم.

زما دشمعون دکور له غلام سره څه خراخوږي نه وه خکه مې دی پرېښود خوچې کورته ولاړم. هلته زمونږ دڅاروېو څېړي اورا خیستي ژاو تره مې تېې ژ، دقبیلې خلکو ویل چې دعدي زامنو زمونږ پرکورحمله کړې ده اووتښتېدل اوزما غلام په هغوی پسې تر خپل کور پورې ورغلی ژ. له دې سره زه وپوهېدم چې دمنذر زامن دعدي پرکور دحملې لپاره راغلي وو. زه چې بیرته دلته راورسېدم نوحمله کوونکیو خپل کار تر سره کړی ژ.

دشمعون غلام چې چوپ او کرار پروت ژ، عاصم عباد ته اشاره وکړه ، هغه یې ورمېږونیو او وېې دراوه عاصم غلام ته وویل:

وواېه داخبرې رښتیا دي؟

هغه سرخوږند واچاوه خواب یې ورکړ:

هوکې !

– آیا دارښتیا ده چې شمعون تاته امر کړی ژ چې د عدي دکور په لور وتښته؟

– هوکې، خو په دې کې زه بې ګناه یم بوه غلام ته دخپل بادار دامر له منلو پرته بله چاره نشته.

عاصم عباد ته وکتل اووېې ویل:

عباده ! اوس ته دی زما کاکا ته ورو له.

که ده هلته له خپلو دغو خبرو نه انکار وکړ نوسالم ته یې

وسپاره زما باور دی چې —— د شمعون دوېرې پروا

څه به یې دسریه غوڅولو کې

بو تن چې په ده پسې ؤ بيرته وګرځيد او ولاړ ، ماله ده نه باغ ته دراتلو دسبب پوښتنه وکړه ده راته وويل چې د شمعون په کورکې مې غلا کړې ده اوراتښتېدلی يم اودهغه نوکرانو پسې رااخيستی وم.

زما دشمعون دکور له غلام سره څه خواخوږي نه وه څکه مې دی پرېښود خوچې کورته ولاړم. هلته زمرو دخاروېو ځېرې اور اخيستی ؤاو تره مې تپې ؤ، دقبيلې خلکو ويل چې دعدي زامنو زمرو پرکورحمله کړې ده اووتښتېدل اوزما غلام په هغوی پسې تر خپل کور پورې ورغلی ؤ. لـه دې سره زه وپوهيدم چې دمنذر زامن دعدي پرکور دحملې لپاره راغلي وو. زه چې بيرته دلته راورسيدم نوحمله کوونکيو خپل کار تر سره کړی ؤ.

دشمعون غلام چې چوپ او کرار پروت ؤ، عاصم عباد ته اشاره وکړه ، هغه يې ورمېږونيو او ويې دراوه عاصم غلام ته وويل:

روايه داخبرې رښتيا دي؟

هغه سرخوړند واچاوه خواب يې ورکړ:

هوکې !

- آيا داربښتيا ده چې شمعون تاته امر کړی ؤ چې د عدي دکور په لور وتښته؟

- هوکې، خو په دې کې زه بې ګناه يم بوه غلام ته ذخپل بادار دامر له منلو پرته بله چاره نشته.

عاصم عباد ته وکتل اوويې ويل:

عباده ! اوس ته دی زما کاکا ته ورولـه.

که ده هلته لـه خپلو دغو خبرو نـه انکار وکړ نوسالم ته بې وسپاره زما باور دی‌چې ــــ

... په غوخولو کي د شمعون دويرې پروا

ونګرېږي تته به دیهودو دګوزونو ترخنګ تېرېدل خطر نه وي خو ګه د دوی دګلبر تر شا را تاوشه او ګوزته د رسیدو هڅه وکړه

عباد دغلام پرې ونیو او ویې ویل:

مګر زه غواړم له تاسره ولاړ شم

عاصم ځواب ورکړ:

له دلسې مسابر سره ملګرتیا کېدای شي چې منزل یې معلوم وي خوزما به مخکې دېې نیو لاړو نه پرته هیڅ نښته ورځه!

دعباد له سترګو اوښکې راوخوټېدې اوغلام یې ورسره کښې کړ روان شو.

حاضروکسانو اوس ورو ورو له یو بل سره خبرې پیل کړې

عاصم تر لږ خنده چوپ ولاړ و او دوی ته یې کتل بالاخره یې وویل:

دمنذر زامنو سبرا، عدي او دنعمان ورونه ووژل.

اوما دمنذر زامن ووژل خو دا داوس اویا خزرج یوه لوړې پرې هم نه دی دابیرازي دیهودیانو بری دی، ستاسو به ملخ کې دګرکې لوریهودیانو پیل کړی دی.

چې ستاسو د وینو په دارو به همدغسې لمبې ترې پورته کېږي زما ګناه داوه چې د دې اور دوژلو هڅه مې وکړه. اوماته د دې ګناه سزا راکړل شوه، زما دین تول ګلان د دې اورلمبو ونغړل، اوس زما له یثرب سره هیڅ مینه نشته نوزه به زه له تاسو نه هیڅ ونه غواړم

داې ووېل او عاصم زړه غوټی شو دآس جلب یې راوګرځوه نعمان په منډه ورغی او دانګړه دروازې ته یې بهر یې هڅه ودرلوه او داې ووېل

عاصمه ودرېږه! زه خبرنه یم چې تاسبرا له کرم وخته پېژندله

خو غوارم درته ووایم چې که هغه ژوندی وای او ستاملګرتیا یې غوښتلای مابه یې مخه نه وه نیولې ، ماته همدومره بس وو چې تازما دپلار جان په ملاتړ توره را ایستلې وه، مابه دڅپلي دپیغورونو پروا نه درلوده.

اوس که ته له تلو نه مخکې یوځل بیا غواړې هغه ووینې نوزما هیڅ اعتراض نشته.

عاصم ډیر په زحمت خپلې اوښکې راتم کړې ویې ویل:

نعمانه ! نور زه سمیرا نشم لیدای.

یو بوډا وزوراندې شو ویې ویل :

نور خند مه کوه، که ته بیا په له یثرب نه ژوندي وتل درته ممکن نه وي.

نعمان وویل:

ستا آس به ستړی شوی وي ته زما تازه دمه آس درسره بوزه!

- نه، دازما وروستی اندېوال دی، اوزه نه غوارم چې دی دلته پرېږدم، عاصم داوویل او آس ته یې پونده ورکړه.

# (يولسم باب)

دلمرختونه لې وروسته عاصم دېوې غوندۍ ترځنګ تېرېده، ناڅا- په دغوندۍ له شانه سالم پرآس سپور په منډه رابنکاره شو، عاصم دخپل آس جلب راکش کړ اووېې ويل:

سالمه! ته بايد پوازې دې لورې ته نه واى راغلى.که دخزرج دقبيلې کسانو وليدې دوېو لېوانو په څېر به درباندې دربوزې.

سالم ووېل:

ته زما غم مه کوه راځه زه تر بوه غوندې خايه درسره ځم اوبيا خداى پاماني درسره کوم.

عاصم اس چارګام کړ اوسالم ورپسې شو،نژدې له څلورمېله مزله وروسته دشام له لارې څخه لږ بوې خواته دېوې غوندۍ شاته له اسونو پلي شول.

سالم په بېړه خپله لېنده اودغېشو ډکه کڅوړه عاصم ته ونيوه وبې ويل:

زه وبريدم چې ته به په پرشاتوري آس په داسې ګډه وډه وضعه ډېر مزل ونکړاى شې. څکه مې داوبو پرمشک اودارتياو ږ خبنې نورشيان راسره راوړل ، ته زما پرآس سپورشه ماپه خورجين کې خرماوې، پنير اونور خوراکي شيان ايښې دي.

تاجې سعاد ته کوم امانت پرېبنى وُهغه مې هم په خورجين کې ايښې دې،چې زه کله کورته نژدې شوم دقبيلې دسرو بوه ډله مې مخې ته راغله دوى غوښتل دشام لاره ونيسي ماورته ووېل چې ته

مکې لوز ته ولاړې او دوی بیا همغه لوري ته ولاړل ، دقبیلې نور
سان دمنذر په کور کې راټول وو او یو بربل پسې بې ستاخخه
بدل اخیستو سرکندونه خوړل ،ماهغوی ته هم وویل چې ته دمکې
وري ته ولاړې ، چې دوی دا واوریدل څو ته نور سپاره هم په همغه
وري درپسې ولاړل.

له هغو وروسته ماته تر ټولو لویه مساله داوه چې په کورکې
ستا لپاره په سفر کې داړتیا وړشیان برابر کړم.

مادهغې غونډی تر شادېر انتظار وکړ، ویریدم چې ته تللی نه
وې، اوس بیړه کوه پرآس سپورشه.

عاصم وویل:

زه مې خپل آس نشم پرېښودای ، ستا دآس زین به راواخلم.

سالم وویل:

ښه ده زر کوه، زما اندېښنه ده چې دمکې پرلاره ستا له لټون
وروسته به دشام په لاره ستا په لټون پسې راووزي.

عاصم په بیړه دسالم دآس څخه سامان لرې کړ او پرخپل آس یې
کېښود: بیا یې له سالم څخه وپوښتل:تا سعادته توله کیسه وکړه؟

- هوکې! هغه اوس پرتابد ګومانه نه ده، هغېپرسعود اوجابر ژړل
اوناته یې دسلامتی دعاګانې کولې.

- ته هم زما دسلامتی اوژوند دعاګانې کوې؟

سالم دخواب پرځای عاصم ته وکتل اوسترګې یې له اوښکوډکې
شوې.

عاصم وویل:

ښه نور ورځه اوپه بیړه خان کورته رسوه ، ما د شمعون غلام
دعدي په کور کې خلکو ته له وړښودلو وروسته له عباد سره
واستاوه څو ویریږم چې ستا دماما په څیر خلك به هڅه کوي چې

زما دغه کار هم بوه دسبسه ثابت کړي، امکان لري چې غلام هلته ولاړ شي له خپلې خبرې څخه وګرځي او دوی بیا دعباد دغو بېوشکولو ته تیار شي.

سالم وویل:

ته واده اوسه، دقبیلې ټول کسان دمنذر په کور کې را ټولیږي. ما پرنوکرانو ټینګار کړی دی اوراغلم چې که عباد دشمعون له غلام سره راغلی دوی یې له کوره بهر ایسارکړي اوزما تر راتلوپورې یې په باغ کې غلی وساتي.

– کاکاجان زما پوښتنه وکړه؟

– نه هغه دننه پروت و، هغه ته تراوسه چا دجګړې یادونه نه ده کړې ځکه خوما هم دامناسبه بلله چې اوس یې پرېشانه نکړو، سعاد له کوره بهر زماپه انتظار وه: هغې دمسعود اوجابر دمرګ خبرله چا نه اوریدلی و. دامې هم ورته وویل چې پرعباد پام کوه اوبیا راغلم؛ نور ته خندمه کوه.

عاصم پرآس سپریدو چې سالم ناڅاپه وارخطا شووړته ویې ویل: ودریږه! لکه چې څوك راغلل.

عاصم دغونډۍ پل لورې ته داسونو دپښوتر پهار واورید اوپه حیرانۍ یې سالم ته وکتل.

سالم دخپل آس جلب عاصم ته په لاس کې ورکړ او ویې ویل: زه اوس بیرته راځم، اوبیا په منډه دغونډۍ سرته وخوت، څو شیبې یې دبوټي دبرې له شانه دغونډۍ بل لورې ته کتل، بیا یې په منډه خان عاصم ته راورساوه اودآس جلب یې ترې واخیست ویې ویل:

زمونږ دقبیلې دي، بنایې دوی سپاېل را اخیستي وي.

– څوکسه دي؟

- دری تنه دي ، خو ستا ورسره ښکیل کیدل خطرناك دي، دوی به دجګړې پرځای ښېرته وګرځي اودقبیلې ټول خلك به راولي اوبیا به دشام ترځنډو په تاپسې وي ته همدلته اوسه زه به هڅه وکړم چې دوی په کوم بل لوري بوزم.

سالم بیا دعاصم دخواب له اوریدو پرته پرآس سپور شو اودستره ګو په رپ کې دغونډۍ پرشاراوګرځید اوبل لوري ته یې ځان ورساوه.

عاصم څو شیبې چوپ اوبې حرکته ولاړ و. بیایې آس پریوه بوټي وتاړه او پرغونډۍ وخوت ، څوکې ته نژدې پریووت اوبل لوري ته یې ورو کتل دشام په لاره درې سپاره ښه ورانديې تیر شوي وو اوعاصم ډیر ګړندي په هغوی پسې و. بیا دغه سپاره دیوې لوړې غونډۍ په لمن کې ودریدل او سالم ته یې راوکتل، سالم چې دوی ته ورنژدې شو آس یې ودراوه، هغوی ترلږ خنده ولاړ وو/ بیا په عادي مزله بیرته دیثرب په لور روان شول.

کله چې هغوی ددې غونډۍ تر څنګ تیریدل عاصم دیوې ډبرې شاته پروت و او ددوی خبرې یې اوریدلې یوه سپاره ویل:

زما اوس هم دامشوره ده چې همدلته باید پهره وکړو ستا پلار ویل چې هغه به له شام پرته بل لوري ته ولاړ نشي.

دسالم غږ اوچت شو:

زما نظر دومره کمزوری نه دی، چې دعاصم آس ونه پیژنم ماهغه ولید چې دغونډۍ له شانه راووت اوهغه لوري ته روان شو زما باور دی چې اوس به داحد دغره شاته رسیدلی وي.

-چې هغه په هغه لوري تللی و نوتاپه مرو پسې ولې منډې وهلې؟

-به هغه پسې دورتلو لپاره زه ستاسو مرستې ته اړوم ،چې کله تاسو دهغه غونډۍ ترڅنګ تیریدۍ ماغږونه درياندې وکړل خوبیله



دجګړې اوو ژلو درس ورښودلی و. خواوس ده له هغو تولو عقايدو څخه مخ اړولی ؤ چې ده ته تر خپل ژوندانه هغه ګراني وې، هغه توره چې ده دبنوخزرج سره دجګړې لپاره پيرلې وه دده دخپلې قبيلې په وينو سره شوه او دعربو په قانون کې دخپلې قبيلې دکوم تن په وژلو چاته درحم هيڅ ځای نشته.

دهيلو هغه ډيوه چې ده پکې دخپل ژوندانه نوي منزلونه ليدل مړه شوې وه، دسمبرا مرګ دده په نظر درتلونکيو ټولو هيلو ارمانونو اوولولو ماته وه، دی چې دتيرو رواياتو نه بيل شو او خانته يې بوه نوې لاره غوره کړه ډيوه تياره غارپرخنډپای ته ورسيده اوس دده وضعه هغه مسافرته ورته وه چې مايوسي اوخپګان د هرې لارې اومنزل څخه بې پروا کړی وي.

دماضي په غيږه کې دمرګ هيبتناك سيوری تل په ده پسې ؤ او ده ته اوس دې خبرې هيڅ ارځښت نه درلود چې راتلونکې به څومره ترخه اوڅومره آرامې ده ته راوړي ؟ خوپردې سربيره چې هغه دژوند له ټولو ولولو اوهنګامو څخه بې برخې شوی ؤ دايې نه خوښبدل چې دخپلې قبيلې په لاس وُوژل شي ،يثرب اوس دده په خيال داسې دتيارو خاله وه چې په هغو کې دڅه رڼا تصور هم بو ډول خان تېر ايستل وو، اوشام ته په تلو عاصم يوازې دا وړاندې تر لاسه کاوه چې له دې تيارو نه لرې دروځي. خو کاشکې ده ته دا معلومه وای چې يوازې خوپراوه شاته دفاران غره پرڅوکو درسالت لمر راختلی دی چې په وړانګو يې ديثرب هره کوڅه اوديوال رڼا کيدونکی دی، دی چې دکوم وطن دراتلونکې نه مايوس شوی او دروځي پرهغو دځمکې اواسمانونو دټولو نعمتونو باران کيدونکی دی.

هغه ځمکه چې دده لپاره تنګه شوې ده دټولې نړۍ دامن اوآرامۍ دلټوونکيو په مرکز بدليدونکې ده.

هغه چې دوه قامه پر الهي ایا او دې هغه په ولوګو شمار او په
دې ملګه چې دوه ورځې د ملتونو عظمت او پراوي او کیسانې اوس په لیکه اوس دي
د ملت او عیاني ګډان په ټکو د وروړي.

عاصم لیر او سپه پورې د اسلام د پرځو هو په نیاو او پروالی د اسي لمبری او ربه لمبری دې چې دغه ګي هغه پرې لاګه لمبري دوه و او یاني هغه طبرل د پښتون ګلي، د هغه په لاړو کي الهي اسلامي او په هغه دګردو په شمار ایمان راوړونکي دغه ګي په ګرځه کي ډېرې اوسیاني د پېړه لری هم راهي هارلیدان دي او په مکه کې د عاصم کرم د پیښ ډېری امکان نشته چې لاړ ډیرو لپسې دوری د دښمني او رواج مخالفت کړي.

که کرم ملهال د عاصم مخه نیولي وای او ورته ویلي یې وای چې!

ته چیرته درومې ؟ ته دې له ملهال رانیولکي نه ولې مایوس یې؟
ته د مخه کاروان انتظار ولې نه کړې چې تل په به دې درته کې د خپل عظمت او جلال د پیرغ رپولو لپاره هڅه کړې دي؟
ته د شام پر ځای حجاز لوري ته ولې نه ګورې.

نن چې ته له کرمې سهمي سره خدای پاماني کړې هغه دغمګې پرمخ د نړلو یې اسرې او مجبورو انسانانو د هیلو او ارمانونو پر مرکز بدلېږي دلته په دغمګې پرمخ ناسته کسان په مرمرینو ماڼیو کې په زرینو تختو ناست کبرجلو د پرخلیاه پر ښکرې کړي، د مکې ته هغه حق لاربهرو راروان دي چې اوس او خزرج به په پوره صف کې ودروي.

ته به پردې خاوره د ګرګي اونړیت پرځای مینه او ورورولي وروېني ، ته د ژوند د آرامېو په لټون پسې هل ځای تلو ته اړ نه یې، نو عاصم په هغه لیرلی پاله او که هغه مهال ناڅاپه د آسمان ګرګې خلاصې شوې وای او له هغه ځایه رانازلو شوېو پرښتو عاصم ته ویلي

وای چې د کاینات پالونکي د دې خاورې خلك د خپلو داسې نعمتونو لپاره غوره کړي دي چې د ځمکې پرمخ د بل قوم په برخه شوي نه دي بیا به هم ده پر خپلو سترګو اوغوږو باور نه وکړی.

• • • •

څو ورځې وروسته عاصم د غطفان د قبیلې د یوه رئیس زید بن عباده کلي ته ورننوت ،زید د هغو سودا ګرو څخه و چې عاصم د شام نه په راستنیدو کې په کاروان کې ورسره ملګری شوی و د عاصم په خبره کې د ومره بدلون راغلی و چې زید په لومړي نظر ونه پیژاند اوعاصم داوویل چې؛

له یثرب نه راغلی یم اوعاصم نومیږم،

زید تاوده ستړي مشي ورسره وکړل ورته ویې ویل؛

وروره وبخښه ا ته مې چې ولیدې باور مې نه راتلو چې دا به ته دې!

عاصم پر خپلو وچو شونډو ژبه راتیره کړه ویې ویل؛

دیوه مصیبت خپلې سرې د خیرې په بدلون کې د یر وخت نه تیریږي زه دا درنه پوښتم چې ستا سو په کلي کې به یو بې وسه انسان پناه اخیستی شي؟

زه برازې څو ورځې غوارم آرام ویده شم.

زید خواب ورکړ؛

زما د دروازې مخې ته چې راورسیدې دې پوښتنې ته دې ارتیا نه وه.

عاصم وویل:

دا مې هدف نه و چې ستا د میلمه پالنې سپکاوی وکړم.

مایوازې دا غوښتل چې درته ووایم زما دښمنان په ما پسې دي،

امکان لري دلته هم را ورسیږي.

زید یوه خوان ته وویل:

ته دده آس طبیلې ته بوزه، بیا یې مخ عاصم ته ور واړاوه ورته وویل:

له ماسره راځه!

عاصم له هغه سره روان شو اول خندوروسته هغه له خپل کوربه سره په یوه ډك دسترخوان ناست و.

عاصم چې څونمری وخوري لاس یې ونیو ، زید لږ پریشانه شو ترې وبې پوښتل:

ولې څه خبره ده؟

عاصم ځواب ورکړ:

هیڅ زما خیټه مړه شوه اوس یوازې څو ښاښته آرام خوب ته اړتیا لرم.

- ماتا ته دیوې ځانګړې خېمې بندوبست کړی دی.

اوس که ته دا دمیلمه پالنې دآدابو خلاف نه ګڼې نوزه پوښتنه درنه کوم چې په تابیسې راروان څوکسان دي او له دې ځایه څومره لرې دي؟

- دهغوی پښځه ولې په ماپسې دي وروستي د له یې له دې ځایه درې پړاوه لرې مالیدلې وه زما په ګومان به دتولو سپروشمیر دپنځو سوتنو په شاوخوا کې وي.

- دبنو خزرج پنځوس کسان په تاپسې راروان دي اوستا سو دقبیلې یوتن هم نشته چې له تاسره مرسته وکړي؟

- په ماپسې راروان کسان دبنوخزرج نه دي بلکې زموږ دخپلې قبیلې دي اوما په لاره کې له هغوی سره دجګړې پرځای داغوره وبلله چې ځان ترې ګوښه کړم اودلته راورسیږم.

دېرلېسې ناآرامی او شوګېرو نه وروسته زما وروستی هیله ستا سو کلی ته رسېدل دي له راتلو مخکې ماته دا ډاډېنه ضروري وه چې هغوی به ما پسې له راتلوڅخه ډډه کړې ده، دسپرولومړی ډله ماله پټرب نه دراتښتېدو په دوهمه ورځ ولېده ښیامې لاره خوشې کړه او دوې ورځې په دښتوکې سرګردانه وم، دریم ماښام چې ووړی تږی دښتو کلب. یوه کلي ته نږدې شوم یوه شپانه راته ووېل چې دیثرب پنځلس- شل تنه سپاره ،دکلي درنېس کره دي مادا شپه هم په سارا تېره کړه او بیا درې ورځې نورې هم یوې اوبلې خوا ته سرګردانه وم.

په دې موده کې دا راته معلومه شوه چې دښتو کلب دسپرو یوه ډله هم زما په لټون پسې راوتلې ده.

یوه شپه مې په سارا کې دیوه کوچې په کېږدۍ کې پناه واخیسته ، هغه مې ډېر عزت وکړ خو چې ډوډۍ موخوړه او پرېوتو هغه خپ له خیمې ووت. زه لا دنیم خوبې په حالت کې وم لږ ځنډ وروسته مې دخپل اس شیشنېدا واورېده.

په اندېښنه بهر ته راووتم کورم چې هغه زما پرآس دسپرېدو هڅه کوي پردې ډاډه وم چې زما پرآس بل څوك نشي سپرېدای ځکه یوې خواته غلی شوم اوپه ډاډه زړه مې ددوی تماشا کوله کوچی چې مایوس شو پرخپل اوښ سپور شو اویوې خواته روان شو ما فکر وکړ چې ښایې هغه به زما په لټوونکیو پسې ورغلی وي.

په دې وخت کې زه دڅو ساعتنه خوب لپاره دې ته چمتو وم چې خپل سامان اوآس هم پرې قربان کړم خردا مې نه غوښتل چې په ویدو ووژل شم ، ځکه مې پرخپل آس زین کېښود اورېې سپور شوم له هغه ځایه ولاړم چې یو پېنځه میله ولاړم نوز مې توان نه دلود، آس مې خوشې پرېښود اود ریګونو په یوه وړوکې غونډۍ څملاستم ، دشپې په وروستنی برخه کې دېخنې له امله راویښ شوم اوداور

بلولو ارتیا مې ولیده خو ما لاوچ خس راتولول چې داسونو ډېښوتر پهار مې تر غوږ شو، بیا مې دسپوږمۍ په تته رڼا کې کوم دوه سوه ګامه لرې سپاره ولیدل ،یو پراوښ سپور یې په مخکې روان ؤ، وپوهیدم هغوی څوك دي یوازې پردې حیران وم چې هغه په خوب کې ولې ونه وژلم.

ـ دحیرانۍ خبره نه ده هغه څکه ونه وژلې چې په ژوندي نیولو کې یې دزیات انعام تمه درلوده.

زه غواړم تو له کیسه دې واورم خواوس ته دې ته ارتیا لرې چې ویده شې په ماښني راځه!

عاصم له هغه سره بهرته ووت، لږڅنډوروسته دپراخه انګړ په یوه کونج کې یوې وړوکې خیمې ته ورننوتل،زید وویل:

اوس بیغمه ویده شه، زه داډډرکوم چې که دیثرب تول خلك دلته راشي هم زما کورنۍ به ستا ساتنه کوي.

دبنو کلب په باب هم زه ډاډه یم چې هغوی به د یثرب دخوشالي لپاره زموږ دښمنۍ ته زړه ښه نکړي.

زید عاصم ته له تسلې ورکولو ور سته له خیمې ووت او عاصم پربستره له پریوتو سره ویده شو ، دشپې په وروستۍ برخه کې چې راویښ شو ، ستونی یې له تندې وچ ؤ اوسره تبه یې وه ، دسپوږمۍ په رڼا کې یې دخیمې په خوله کې یو منګی ولید ورجګ شو دوه جامه اوبه یې وڅښلې او بیرته راغی پربستره ورپریوت، خو دبدن خوږو اوتبې خوب ته پرېنښود، سهار چې له خیمې راووت او تر لږ خنډه یې له کلي بهر چکروواهه او بیرته راغی بیا پر بستره وغځید.

زید خیمې ته ورننوت اوعاصم راجګ شو.

اوکیناست.

زید وویل:

مافکر کاوه چې تر اوسه به ویده وې.

عاصم ځواب ورکړ:

زه له ډیره ورځو وروسته دومره بې غمه ویده شوم. خوعجیبه ده نن سترپا احساسوم، ټول بدن مې خوږیږي اوښایي تبه مې هم ده.

زید ورورانديې شو پر رګونو یې ګوتې کېښودې او ویې ویل:

زه ما ښام هم پوه شوم چې ... یې خودوې درې ورځې چې آرامې تیرې کړې رك روغ به شې.

عاصم وویل:

ماګومان کاوه چې دیوې شپې له خوب وروسته به دمزله تران ولرم او تاسو ته به ډیر زحمت نه درکوم.

زید ځواب ورکړ:

عاصمه! ماتاته دټول عمرلپاره پناه درکړې ده زموږ تو له کورنۍ دا احساسوې چې موږ ته دامعامله ګرانه نه ده، زه دښو غطفان دټولو رئیسانو په وړاندې دا اعلان کوم چې ته زموږ په قبیله کې شامل شوی یې او زما له کورنۍ سره ستا وینې شریکې دي.

زموږ سره دیثرب په خیر سمسورې سیمې اوباغونه نشته - خوموږ پردې ویاړ کوو چې دنورو میلو ډیرو کسانو دلته پناه راوړې اوزموږ په قبیله کې شامل شوي دي...

عاصم ځواب ورکړ:

زه ستا مننه کوم خویه دې مهال به زما پریکړه دیوه داسې انسان پریکړه وې چې خپل حواس یې له لاسه ورکړي وي. آیا دانشي کیدای چې ماته خوورځې دفکر کولو وخت راکړې؟

زید دپښیمانۍ په لهجه ورته وویل:

ماله څه شرط پرته پناه درکړې ده خو زما باوردی چې ته به روغ رمټ شې دخپلې راتلونکې په باب له ډاډه کیدو وروسته به زما

مخلصانه هلنه رد نکړای شي.

• • • •

پېنځمه ورځ دعاصم ټبه وشکېده او دخو ورځو نورو آرامو تېرولو وروسته دګرځېدو راګرځېدو شو.

په دې موده کې پردې خبر شو چې په ده پسې راوتلي کسان دبنو کلې ته وروسته دبنو غطفان ځینو مشرانو ته هم راغلي وو خو دزید دنفوذ او اغېز له امله دقبيلې کوم مهم سړی ددوی مرستې ته چمتو نه شو.

يوه ورځ زيد خبر شو چې پېنځه تنه سپاره ددوی دکلي په لور راروان دي، ده ټول تنه ځوانان دهغوی دمخې نيولو لپاره ور واستول، دزيد کسانو له کلي نه دوه ميله لرې پرهغوی حمله وکړه او آسونه او وسلې يې ترې واخيستل او بېرته يې واستول، له هغو وروسته کومې بلې ډلې ددوی کلي ته دراتلوجرئت ونکړ.

درې اونۍ وروسته دزيد دکشرې خور دواده په محفل کې دټوم لوی سردار اونور مشران دده په کور کې راټول شول ده عاصم دهغوی مخې ته را ووست اوورته وويل:

وروڼو اومشرانو! پردې وياړم چې داوس قبيلې يوه عزتمن ځوان زما کور دپناه لپاره خوښ کړ او زما په سبب دبني غطفان په وسله ترن کې يوه ګرانبيه توره زياتيږي، زه په خپله قبيله کې دده دشاملولو لپاره ستا سو اجازه غواړم او زما باور دی چې تاسو به په خوښۍ دا اجازه راکړئ.

دعاصم په زړه کې تراوسه پورې داشک دی چې موږبنايي دبني اوس دښمنۍ ته زړه ښه نکړو اوده ته به پناه ورنکړو، ده ته د دادورکولو تر ټولو غوره لاره داده چې تاسو ټول يو پربل پسې زما

داعلان تائیدوکړي چې سرله نن څخه د عاصم دوست زموږ دوست اوده دښمن زموږ دښمن دی.

دقبیلې لوی سردار وویل:

زه دټولې قبیلې له لوری ستا داعلان تائید کوم، او که دغه ځوان زموږ ددوستانو لپاره دسر ورکولو همت اوددښمنانو پرخلاف دتورې اوچتولو حوصله لري نوزه تا ته مبارکي وایم.

زید له ویا ړه سرراپورته کړ او ویې ویل:

عاصم به تاسو مایوسه نکړي، بیا یې عاصم ته وویل:

عاصمه! ته خو به ما شرموې نه؟ خوعاصم دڅه ځواب پرځای سرخوړند واچاوه.

زید له لږ ځنډوروسته وو یل:

عاصمه ! ماخپل فرض ادا کړل ، اوس دغه ښاغلي ستا له خولې دا اوریدل غواړي چې له نن وروسته به دبني غطفان له دوستانو پرته ستا هیڅ دوست نه وي ته ولې چوپ یې؟

دمجلس دکسانو سترګې دعاصم پرځیره ښخې وې ده سرراپورته کړ او په غمجنه لهجه یې وویل:

زه ستا سو مننه کوم ، او دمننې یوه غوښتنه داده چې ستاسو سره زه داسې کومه ژمنه ونه کړم چې تر سره کول یې زما له توان نه لرې وي، په یثرب کې مادخان په باب دا ګومان پریښی دی اوراغلی یم چې تقدیر زه ددوست اودښمن ترمنځ دتوپیر کولو له نظرنه محروم کړی یم ماچې دکومو خلکو په ملاتړ توره اوچته کړې وه هغوی زما دوستان نه وو، بلکې دهغې قبیلې کسان وو چې زما پلار ،زما ورونه اونور خپلوان یې وژلي وو اوما چې کوم ځوانان ووژل هغوی زما دښمنان نه وو بلکې زما دخپلې کورنۍ خلك وو. تر پرونه زه دبنوې کورنۍ اوقبیلې غړی وم اودنیا مې ددوستانو اودښمنانو نه

ډکه وه خو نن زما دنیا ددوستی اودښمنۍ له احساساتو تشه ده زه دخپلو نیکونو له لارې بېل شوم او دېرې داسې سارا په لوړ وړنم چې هلته ماته له ویرانو پرته نور هیڅ نه وو، پرخپلې بې وسۍ او مایوسۍ برسېره زه پوازې دژوند یوې نوموړکې هېلې دزید دروازې ته راوستم، که نه زه ددې درناوي ورته وم. زه افسوس کوم چې خیال بې داسې محسن مایوسه کوم چې دژوندې پاتې کېدو تکیه یې راکړه، خو اوس ما ژمنه کړې ده چې په ټول ژوند کې یې چا ته یې اوچته نه کړم.

زه پوهېږم چې په عربو کې داسې اعلان کوونکي لیوني ګڼي، خو کوم چاچې خپل درمند ته پخپل لاس اور اچولی دې هغه له یوه لیوني پرته بل څه کېدای شي؟

تاسو به حیران شئ چې زه پخپلو کړو پښېمانه نه یم، بلکې دا احساسوم چې که مې په ژوندانه کې بیا داسې پېښې مخې ته راغلې نو زما کړه به هماغسې وي چې د هغو په پای کې زما دنیا ددوستۍ او دښمنۍ په اړه دخپلې کورنۍ اوقبیلې دپخوا نیو روایاتو له خیالونو څخه تشه شوېده.

عاصم چې تر دې خایه راورسېد چوپ شو بیا یې دخپلې توري تسمه پرانیسته اوزید ته یې وروړاندې کړه ویې ویل:

دانسان دوینو لپاره زما تنده ماته شوې ده.

نور مې دې توري ته اړتیا نشته، واخلې! که تاسو دا احساسوئ چې ماپه دې محفل کې تاسو شرمولي یئ نو ورمېږ مې حاضر دی!

زید دعاصم له لاسه توره واخیسته هغه له غوسې نه رېږېده، عاصم به زنګنو شو او خپل ورمېږ یې ټیټ کړ، زید دتورې موټې ته لاس کړ خو چې نیمه توره یې راوایسته بیرته یې لاس ودرېد،

په بې وسۍ یې دقبیلې دمشر سردار په لور وکتل اوویې ویل:

مادې ليونۍ ته پناه ورکړې وه.
بوه بل سړي وويل:
تاخو دا اوس ويل چې په خپل کورکښې ده ته پناه ورکول دخپل زوند تر ټولو لويه کارنامه ده.
دوهم وويل:
زيد ده ته په ليونۍ ويلو خپله غوسه سړولی شي خو ده چې زموږ ددوستۍ لاس رد کړ دټولې قبيلې سپکاوی يې وکړ لې تر لږه دده سزا داده چې بيرته يې بنو اوس ته واستوو.
بوډا سردار په پريکنده لهجه وويل:
نه نه، که زيد يوه ليونۍ ته پناه ورکړې ده نوموږ له هغه سره بد عهدي نشو کولی، زموږ په سيمه کې دده يو ويښته بايد زيان نشي.
يوه ځوان وپوښتل:
زموږ له سيمې نه بهر څنګه؟
سردار خراب ورکړ:
زموږ له سيمې بهر دزيد ذمه واري نشته.
زيد عاصم ته توره بيرته ورکړه ويې ويل:
واخله! زه ديوه بې همته سړي توري ته ارتيا نلرم.
عاصم لوموړی ځل په خپلو مړو رګونو کې دوينې تودوخه احساس کړه خودغه حالت يې له يوې شيبې زيات دوام ونه کړ، هغه خپله توره راواخيسته لـه نيام نه يې راوايستله خو که يې پرخمکه کېښوده او زوريې پرې راووړ د سترګو په رپ کې توره دوې ټوټې شوه، بيا يې دموټی لوری يوې خواته وغورځاوه مخ يې واړاوه او ګړندی دطبيلې په لور ولاړ.
حاضر کسانو تر لږ خنده هک پک وراوبوسل ته يې کتل، بالاخره دقبيلې لوی سردار وويل:

دې لېونی کړم ډېر لوی دردلېدلی دی. پرې یې نږدئ، بیا اوس

ته دا پیغام واستوی چې ستاسو مجرم زموږ له پناه څخه وتلی دی

زید وویل؛

که دی پخپله یثرب ته ورنغی نو بیا اوس یې نشي نیولی.

دزوم پلار چې تر اوسه پورې چوپ ؤ او دا ننداره یې لیدله زید

ته یې وویل؛

زید ! دا دغوښتنی ورځ ده مونږ پولېونی بائد وبخښو زه دلیلې

ترلو خلکو ته خواست کړم چې مه ورپسې ورځئ.

یوه خوان احتجاج وکړ،

مګر پر موږ دا پابندي بائد پوازې زموږ په خپلو سیمو کې وي

دهغه آس ډېر ګرانبیه دی او دهغه جیب هم تش نه دی که موږ

پرېښوه نو دغه سامان به یې په لاره کې دکوم بل چالاک ته ورشي.

بوډا سردار وویل؛

اوس زما باور راغی چې هغه لېونی ؤ، او زما له قبیلې سره نه

ښایي چې یو لېونی لوټ کړي موږ دا کار بائد هغو سپکو خلکو ته

پرېږدو چې پوازې له مریو څخه دجامو په ایستلو پرېږدي.

بیا دعاصم دآس ډېر تر پهار اوچت شو لږ څنډ وروسته دزید

یو نوکر دننه ورغی او ویې ویل؛

هغه لېونی خپله لېندۍ او غشي هم هلته وغورځول.

قدرمن کرام منصور کتابتون

د اول تو کړه دا ولي برخي یاي

# د وهمه برخه
# اوراوصلیب
# (دولسم باب)

دلوړیدیخ او ختیخ دجګړو نوی پړاو په ایران کې دکسری نوشیروان اوپه باز نطینې روم کې دقیصر جستنین له اقتدار تر لاسه کولو سره پیل شو؛

داهغه مهال و چې رومیان دیر ګرندي په ختیخ او لوریدیخ کې خپریدل، دحبشي پوځونو حمیری واکمنوته ماته ورکړه اویمن یې نیولی و اوځرنګه چې هغوی عیسوی مذهبه وو څکه یې رومیانو ملاتړ کاوه، ایرانیانو په خپل ګاونډکې پریوه مهمه برخه دعیسویانو دملکریو واکمني ښه نه ګڼله، دوی داسې احساسوله چې دحبشې خلك دختیز په لوز دروميانو اغیزو اواقتدار ته لاره هواروي ، دشام اوعراق لوري ته دعربو له څنډو سره دغساني اولخمي کورنیو لانجو هم دروم اوایران ترمنځ دشخړو سبب وو، دحیره لخمي واکمن دایرانیانو اودشام غساني حاکمان بیا دروم پلویان او روم ته باج ورکوونکي وو ددغو دوو کورنیو همیشنیو جګړو ایرانیان او رومیان هم ورو ورو دجګړو ډګر ته راښکل وهل.

څکه خو دایران کسرئ نوشیروان چې خپل داخلي اړدوړله منځ
یوړي دبازنطینی امپراتورئ پرختیزو څنډو یې حملې پیل کړې
اودشام اوسیدونکیو یوځل بیا داوړ او وینو بربادئ لیدلې، خو
دقیصر جستنین هوښیار او دتجربې خاوند جنرال بلیساریوس
دایراني پوځ دپرمختګ لاره ونیوله تردې وروسته خو کاله په امن
کې تېر شول خوپه ۵۴۰ م کال نوشیروان له درې لکه پوځ سره
پرشام حمله وکړه اودلارې د سرکلي یې برباد کړل، ترحلب پورې
ورسېدل او دغه ښکلي ښار ته یې اور واچاوه، په دغو ورځوکې
رومي پوځونه په اروپا کې په جګړو کې راښکېل وو.

نوشیروان درومیانو له کمزورۍ نه پوره ګټه اوچته کړه او
دحمص تولې سیمې یې چې ښې وبجارې کړې دانطاکیې په لور یې
مخه کړه، دا د قسطنطنیې اواسکندریې نه وروسته درومي
امپراتورۍ دریم لوئ ښار و، ایراني پوځ دلته هم دحلب او حمص په
څېر دپوره بې رحمۍ اوظلم نه کار واخیست.

دشام دنورو زیاتو ښارونو له لوټولو وروسته نوشیروان بیرته
دمداین په لور ولاړ چې د نیول شویو سیمو په زرګونو ښځې اونارینه
دغلامانو اوورینځو اوجنګې بندیانو په حیث ورسره وو دغو بندیانو
ته ده له مداین څخه دیرې وړځې مزل په واټن نوئ ښارجوړ کړ.

دڅه مودې آرام تېرولو وروسته هغه په منځنۍ ختیځ کې
درومیانو دپاتې واکمنۍ د تغر دتولولو لپاره پرفلسطین دیرغل
تیارئ پیل کړ.

خودروم قیصر، بلیساریوس چې په ایتالیا کې دوحشي قبایلو
سره په جګړو بوخت ؤ بیرته ختیځو سرحدونو ته راوباله دغه
تجربه کار جنرال ناڅاپه دایران سرحد ته ورسېد، نه یوازې داچې
نوشیروان یې دیروشلیم په لور د حملې نه را ایسار کړ بلکې له

داسې وضعې سره یې مخ کړ چې نوشیروان یې د هغوی ځینې ولږ په بیرته راګرځولو مجبور کړ چې تر اوسه پورې یې په کوچنی آسیا کې لوټ او تالان کړی و.

خو هغه وخت چې د فرات پرغاړه بلیساریوس له ایرانیانو سره د پرېکنده جګړې تیاري نیوه د قسطنطین په دربار کې د ده پرخلاف جوړ جاړی پیل شو او دی یې بیرته وروغوښت، تر هغو وروسته د روم او ایران واکمنو سوله وکړه او څو کاله په امن کې تېر شول. د جستنین له مړګه وروسته د روم تخت او تاج د ده خوریې دوهم جستنین ته په لاس ورغی، هغه هم تر څو کلونو پورې له نوشیروان سره د ښکیل کېدو اړتیا نه لیده، خو ناڅاپه د یمن وضعې د روم او ایران ترمنځ د ټکر یو نوی حالت رامنځته کړ.

په ۵۷۵ م کال د یمن حبشي واکمن ابرهه پر مکه یرغل وکړ د ده هدف یوه لوري ته د هغې پخوانی سوداګري لارې بشپړ تر واک لاندې راوستل وو چې د یمن او شام سوداګري بازارونه یې سره نښلول، او دوهم د مکې مذهبي حیثیت ختمول او په عربو کې د عیسویت لپاره لاره هوارول وو.

ابرهه پردې باوري و چې په مکه کې به د خدای کور "حرم شریف" ویجاړ وي او حجر الاسود به د یمن عبادتخانې ته راوړي. چې تر دې وروسته به یمن ته د عربو پام راواوړي.

د روم خلک پردې خبره خوښ وو چې د عربو جنګیالي به د عیسویت له منلو وروسته د ابرهه تر اغیزې لاندې راشي او د دوی پلویان به شي بیا به د دوی متحد ځواک د ایرانیانو پرخلاف په کاروا چوي ځکه خو کله چې ابرهه له خپلو پیلانو سره پر مکه یرغل وروړ نو قیصر او د کلیسا د مشرانو دعاګانې د ده په مخ کې وې، او س د عربو په وچو او بې اوبو دښتو کې د ورسته پاتې ناپوهو او بې

لارو اوسيدونكيو پراتلونكي افق نوري تياري ورزيانيدونكې وي،
دكوم بهرني تسلط نه آزادي ددوي وروستني نعمت و او اوس دغه
نعمت هم تري اخيستل كيده.

ابرهه ديره داسې پوخ سرلښكر و چې سرتيري يې ډيري پرباور
مست وو دده په مخكې داسې ډكرو چې دد ښمن له ليكو نه تش و،
پريوه داسې كلي دحملې او لوټمارلپاره روان و چې كلا وې او
برجونه يې نه درلودل.

خودمكې دخلكو پرتولو كمزوريو اوبدو عملونو برسيره لوى ذات
"ج" نه دابرهه په لاس دخپل هغه كور ورانيدل منظورنه وو چې بنسټ
يې ابراهيم خليل الله ايښى و.

سترذات "ج" دغه كورد هغه ډيري لپاره خوندي ساته چې له رڼا
نه يې دختيځ اولويديځ تياره كوټونه رڼا كيدونكې وو.

لويديځ مورخين دامني چې ابرهه دپيلانو په لښكر پرمكه حمله
وكړه، دوى پردې هم خبر دى چې هلته ددوى د مقابلې لپاره
هيڅوك هم نه وو هغوى داپيښه هم دروغ نه گڼي چې ابرهه
عبرتناكه ماته وخوړه، خو پردې خبره ددوى سرخلاص نه شو چې
دابرهه دپيلانو لښكر د ابا بيلو دخدايې پوځ په وړاندې ناتوانه
شو.

دابرهه له ماتې سره درومیانو داهيلې خاوري شوې چې دوى به
عرب تر خپل واك لاندې راولي.

كله چې بيا دهغه دزامنو ترمنځ جگړې پيل شوې نودحميرى
كورنۍ يوشهزاده دنومورکي له پردو نه راووت مداين نه ولاړ او د
يمن ښخه يې دحبشيانو دايستلولپاره له كسرى نوشيروان ښخه
مرسته وغوښته، نوشيروان چې له يوې مودې راپه دې خوا دوخت
انتظار كاوه له ښخنه پرته يې پريمن حمله وكړه، ايراني پوځ په يوه

ښه حبشیان له یمن څخه وایستل خو حمیري شهزاده ډیر زر پردي ترڅه حلیقت اعتراف وکړ چې ده دهغو حاصل دبادار له بدلون پرته بل هیڅ نه دی، یمن چې نژدې نیمه پیړۍ دحبشیانو ښکارځای و اوس دایرانیانو دښکار ځای شو، دایرانیانو په لاس دحبشې د پوځونو ماتې خبر چې قسطنطنیې ته ورسید نوامپراتور جستنین دنوشیروان پرخلاف دحبشې اومنځنۍ اسیا نه تر ختیځې اروپا پورې دمغلو اوترکي قبایلو یو متحد محاذ جوړ کړ، نوشیروان چې دروم له جنګي تیاری نه خبر شو حمله یې وکړه، ده چې دشام ښارونه تر حملو اولوټمار لاندې راوستل بوه آذرمان نومي جنرال یې له بابل څخه پرمختګ پیل کړ او شمال لوېدیز لورې ته یې دلارې دسردکلیو او ښارګو تیو له برباد ولو ورروسته خان دانطاکیې څنډوته ورساوه دقسطنطنیې پراولس دایراني پوځ بري دا اغیزه وکړه چې دخپل امپراتورپرخلاف بې راوپارول او جستنین له شرمه دتخت اوتاج نه لاس پرسر شو. نوی امپراتور طابیریس لاهوښیاری وکړه او درې کاله یې لندمهاله سوله وکړه، خو په دې موده کې رومیانو ډیر په جوش اوجذبه جګړې ته تیاری ونیو، درې کاله وروسته رومیان جګړې ته دومره تیار شوې وو چې دراین له سینده دآلپ تر غرونو پورې د اروپا دجنګیالیو قومونو دوه نیم لکه تنه سپاره ختیځ محاذ ته د تللو لپاره دطابیریس دامر په انتظار وو.

نوشیروان ته ددې جنګي تیاری خبر هغه مهال ورسید چې دروم سفیر ده دربار ته ددایمي سولې له وړاندیز سره ورغلی و، خکه خو هوښیار و سفیر انو ته ده ورو ستی ځواب داو چې:

تاسو ولاړ شی او دنورو خبرو لپاره په قیصاریه کې زموږ دپوځ دراتللوانتظار وکړی.

خولني وروسته د ایران او روم پوځونه د غزنویانو پر ضد پرغېږ
پورته شول خلاف جګړې اعلان شوله خپلو منځو خونړيو
وروسته نېشپي اوږدې اوږده ټول په ټولو جګړو لپاره ځغلي
غوښتل کېدو لښکر کړه

پوه توکي سردار چې په روم پوځ کې دننې مټ وتختونه
شپږ ونخه په دایران پوځ پرتنې لوی حمله وکړه او دښمن
معلومه کړه کړي نوښتونه په خپلو ځانونو ورسره

هغه نشمې خپلې توپونه شپږ کړه او ورسته په تقریبا کې یې
شپږ میشتې تیرې مرکې او دخپلو سرتیرو سره یې دښمن
تاریخ وړاندې بیرته ورکړه شوی او ترځوږ وروسته تیره ورځ تواړه
نوموړه به خپلو کوښښو تیره کړه دښمنانو چې روم
پوځونه خپلو ځنډونو په شپږو نولسو اخیستو وختو
دغوښتنې خپلې پټوت کړي خو بې هغه ښارونو ونې ترسنونو
وترنو هغه ژبنته د میشتې ورمې کېږي دغوي سپینې حوصلې
تومره مېشتې کړي وو چې توښونو په شته سرکې خپل ګټه و
سپاهیانو سره شو او قوت پیدا ووت

روم ورسته شپږ او دغزنویانو خونړیونه یې لاسته
کړه او ورسته لیرې یې ته شته مېړه پوښتې چې یې نوی ځای
ته ورسید

• • • •

تیموري په میرو کې روم پوځ په وسعتګ وکړه د شپږ
غوره مختلفو خلکو یې لاسته او ورځې کړې د لارې نه به
بالاخره ماتې ګنه په شپې کې پښه وخیسته ومېړنو دده په وروستي
وخت ښه وکړه چې ونو پر خلاف یې دغزنوي حمله ته ورکړه

دانوشیروان نه وروسته دده مشرزوی هرمز د ایران پرتخت کېناست ، دغه پرخان مین اومغرور پاچا په هرډګر کې دخپل پلار پرخلاف راووت هغه دنوشیروان وفادار ملګري یو پر له درباره وشړل او دهغوی پرځای بې ذلیل اوچاپلوس کسان پرخان راټول کړل.

په ایران کې دجبراوظلم یو توپان راوالوت ،چې کله داولس دصبر کاسه ډکه شوه اوپه خپلوځایونو کې دبغاوت نخښې ښکاره شوې نو مداین ته دلویدیځ لوري دروم دامپراتوراو دشمال له لوري دترک خاقان د پرمختګ خبرونه راغلل ، په دغه ناوړه حالت کې ایران یو مشر ومونډ.

او وطن دوستان له هرمز نه دبې دریغه کرکې سره سره پرهغه راټول شول چې دخپل هیواد ساتنه وکړي، دغه مشر او لیډر بهرام چوبین و، دنوشیروان دپوخ دبوه جنرال په حیث بهرام درومیانو سره په خپلو جګړو کې ددیرزیات جرئت . اومیړانې څخه کار اخیستی و. دهیواد دساتنې دمسوولیت له اخیستو وروسته دغه دیوذاته انسان په ایراني اولس اوپوخ کې نوې ساه پوکړه خاقان له یو لك ترکې پوځیانو سره ترجیحون پورې ووت.

خوپه یوه شرنی سیمه کې دتبریدو پر وخت کې دهغه پوځ دایراني غښتلو ویشتو نکیو له لاسه له زیاتې تباهۍ سره مخامخ شو. اوترکانو له سختو زیانونو ګاللو وروسته بیرته ماته وخوړه خوهرمز داسې احساس کړه چې په هیواد کې دننه یوخواکمن حریف ورته پیدا شو ، چاپلوسو امیرانو ده ته خبرې په غوږو کې ورخپرولې چې بهرام دغنیمت دمال یوه برخه پټه کړې ده اودغه ظالم اوناپوه پاچا دهغه درالاندې کولو په فکر کې شو.

بهرام چې د ترکانو له جګړې څخه وزګار شو نو دا خبر ورغی چې د رومیانو پوځ د فرات غاړو ته را رسیدلی دی، خکه خو هغه له څه ځنډه پرته پرمختګ وکړ د سپند غاړې ته یې خان ورساوه او د رومي پوځ سالار ته یې پیغام واستاوه چې یا مې پر بهر د، چې له دریا به د رپوري وزو او یا تاسو زموږ مقابلې ته راپورې وزئ. د رومي پوځ سالار خواب ورته راواستاوه چې موږ دې ته تیار یو چې تاسو له سینده راپورې وزی. بهرام دې ته چمتو نه و چې له پوره تیارۍ پرته له سینده پورې وزي خکه یې د نورو پوځونو او جنګي وسایلو د راتولولو لپاره ډېرې ورځې ولګولې ، اولس له خپل پاچا څخه کرکه درلوده خو بیا یې هم د خپل زړور جنرال ملګرتیا کوله او جوړې جوړې د ایراني پوځ په پړاو کې راټولیدل خو هرمز په خلکو کې د بهرام د محبوبیت څخه دومره ویریدلی و چې د ایران له بریو او ماتې څخه یې بې پرواکړ، هغه پر هر قیمت له دې جنرال نه خان ژغورل غوښتل ،خکه خو یوه ورځ له مداین څخه بهرام ته یو قاصد ورغی او هغه د ښځینه جامو یوه جوړه او یو پړی بهرام ته وړاندې کړه او وې ویل:

د والاحضرت تواک حکم دی چې ته دغه ښځینه جامې واغونده او بیا پړی په غاړه کې واچوه او د لښکرمخې ته تیر شه.

هرمز او د هغه سره په دسیسه کې شریکو امیرانو ګومان کاوه چې بهرام به د پوځ په مخکې خپل سپکاوی ونه زغمي او وبه تښتي، خو ده د خپل پاچا د احمقانه حکم د عملي کولو لپاره ښځینه جامې واغوستې او پړی یې په لاس کې د هر پوځي مخې ته ودرید د وطن خواخوږیو په دې کار د وینو ګوریونه تر سترګو تیر کړل ښتو سربند و یو د پاچا پر خلاف ناړې هم ووهلې ، خو چې

دخپل سالار اطاعت بې ولید چا دبغاوت دجندې پورته کولو جرئت ونه کړ.

هر مز ته چې ددې پېښوخبر ورغی بل استازي ته یې حکم وکړ چې ورشه بهرام زنځیر او زولنې دربار ته راوله په دې موده کې دبوخ دصبر کاسه تر مورګوشوې وه، خکه خوچې استازی دپاچا حکم اوراوه نوسپاهیانو را ونیو لاسونه اوپښې یې وتړل او دپیل پښو ته یې وغورځاوه.

بهرام له رومیانو سره دجګړې اراده پرېښوده اومد این ته یې مخه کړه ، شاهي ساتونکي یې ووژل اوښاریې ونیو. تر هغو وروسته بوخ دجیلونو دروازې خلاصي کړې چې په سلګونو بې ګناه بندیانو دخپل ظالم پاچا دوروستي حکم داوریدو انتظار کاوه ، کوم وخت چې باغیان شاهي ماڼۍ ته ننوتل نوهغه بندیان چې له جیله راخوشي شوي وو ددوی په لومړي کتار کې وو. یوه ساساني شهزاده ماته خوړلی پاچا ونیو اوله ماڼۍ څخه یې بهر ته راوست هغې تیاره اوتنګ جیل ته یې ورتیل واهه چې هلته پخپله اوسیدلی و.

دهر مز مشر زوی خسرو پرویز دباغیانو دحملې پر مهال له ښاره تښتیدلی و ، خو خینو امیرانو هغه په دې وعده بیرته راووست چې پرتخت به یې کښینوي.

هر مز محکمې ته وراندې شواو دوخت امپراتور دمجرمانو په کتاره کې ودرول شو ، دعدالت پرکرسیو هغه ښاغلي ناست وو چې بهرام له جیلونو څخه راخوشي کړي وو، پاچا د قاضیانو دترمولو لباره په ډیره عاجزۍ اوخاکسارۍ زارۍ کولې، چې کله ویوهیده چې امیران یې تر اغیزې لاندې راغلل نوبیا یې پاڅا په اندازدل شو، هغه یې وکړه چې دخپلو بدوکړو وړو اواشتباهاتو پره پر نورو

ور واچوي، پرخپل مشرزوی یې له ډول ډول تورونو لګولو وروسته له محکمې نه وغوښتل چې که ستاسو زما حکومت خوښ نه وي زه دتخت او تاج نه لاس پرسرکېدو ته چمتو یم، خوزما وروستی هیله له تاسو نه داده چې تاسو زما پرځای زما دمشر زوی خسرو پرویز پرځای زما کشری زوی په پاچاهی ومنئ، امیران پردې راوپارېدل هغوی دهرمز کشر زوی او دهغه مور ووژل اومړي یې دبې عزتۍ کولو لپاره اولس ته وسپارل. بیا یې په سرو کړیو سیخانو دهرمز سترګې ړندې کړې او دخسروپرویز پر سریې تاج ورکېښود.

نوي پاچا تر یوې مودې دانقلابیونو خوښ ساتلو هڅه وکړه خو چې ښښې یې ټینګې شوې، نو دبهرام داغیزې او نفوذ څخه یې دخان ژغورلو سوچونه پیل کړل.

مجوسي کاهنانو اوامیرانو هم دغه خبره نه خوښوله چې بهرام دپاچاهۍ دسرو اوسپینو خاوند شي، ځکه خودوی پرویز یوڅه کمزوری ګاڼه اوخپله راتلونکې یې بر هغه پورې غوټه کړه، چې کرم وخت د اولس جوش او احساسات لږ ساړه شول نوپرویز یې خپل روند پلار له جیله راوبوست اومحل ته یې راوست، دهرمز دژوندتولې هیلې او خوښې اوس یوازې دنفساني غوښتنو تر مړو لو پورې محدودې وې، خوپرویز دهغه دغه بد کاری زغملې.

بهرام چې پوځ یې له ښاره بهر دېره ؤ پردې وضعه خوښ نه ؤ، دهرمزله ظلمونو او بې نظمیو څخه دهېواد دژغورنې ته وروسته ده تمه درلوده چې اولس، امیران اومذهبي مشران به دی په اوږو راخلې او پرتخت به یې کښېنوي، خودذې انقلاب پایلې دده دهیلو او غوښتنو پرخلاف وې، هغه امیران چې ده دجیل او زولنو له عذابه ژغورلې وو دده ملګرتیا یې پرېښوده او دپرویز پر شاوخوا راټول شول او هغه خاینان چې دده سرتیرو دهېواد او وطن غداران ګڼل.

اوجیل نه یې اچولې وو هغوی بیرته را خوشې کړل، او عام اولس هم چې دمذهبي مشرانو په اشارو پرتګ عادت ؤ دی هیر کړی ؤ، خکه خو وضعه دومره ویجاړه شوه چې پرویز اوبهرام برالا یو دبل په وراندې ودریدل.

پرویز خپل ساتونکی پوځ او دمداین اولس میدان ته راووست خود بهرام د تجربه کار پوځ په وړاندې یې ماته وخوړه اومذبذبو امپراتو دهغه ملاتړ پرېښود اوله بهرام سره یو خای شول، دشاهي کورنۍ یو بانفوذه غړی چې دبهرام ملګرتیا یې پرېښې وه اوله پرویز سره یوخای شوی و دپرویز له ماتې وروسته په تیښته شاهي ماڼۍ ته ننوت اوبهرام ته یې دخپلې وفادارۍ دثابتولو لپاره دهر مزسرغوځ کړ، پرویز له ماتې وروسته له ډیر شو وفادارو ملګریو، خو وینځو اوغلامانو سره یوځای دفرات پرغاړه غاړه دباز نطینې امپراتورۍ سرحد ته په وزنتولو بریالی شو اودیوې سرحدي چوڼۍ مشر هغه ته پناه ورکړه.

پرویز دروم دنوي امپراتور موریس دربار ته خپل استازي ولېږل اوقسطنطنیې ته دورتلو اجازه یې وغوښتنه.

موریس هغه ته یو تاج اوځو ګرانبیه سوغاتونه ور واستول اوله دې سره یې پیغام ور واستاوه چې ته زموږ دمرستې تر لاسه کولو لپاره دې ته اړتیا نه لرې چې قسطنطنیې ته راشې، موږ ستا مرستې ته خپل پوځونه دراستوو اوچې تاجونو خپل له لاسه وتلې تخت اوتاج بیرته نه وي ګټلی زموږ پوځیان به خپلې توري په پوښونو کې نه کړي.

• • • •

بهرام پرویز ته له ماتې ورکولو وروسته دهیواد واک په خپل لاس کې واخیست، خو په داده زړه یې دحکومت کولو فرصت ونه موند، دمداین خلکو دی پردی باله، بهرام هڅه وکړه چې دوی په زوره ایل کړي او دمداین جیلونه یې لـه هغو خلکو ډک کړل چې تر اوسه پورې یې دشاهي کورنۍ سره خواخوږي او وفاداري درلوده، مجوسي مشرانو هم دنوشیروان دکورنۍ په اقتدار کې خپله ذاتي ګټه لیده، او عام خلک یې را پارول، ځکه خو چې خسرو پرویز درومي پوځونو سره ددجلې دسیند پرغاړه راښکاره شو نو دمداین خلک جوپې جوپې دهغه تر بیرغ لاندې راټول شول.

دمداین دخلکو بدلیدونکي مزاج، دامیرانو بې وفایي او دمجوسي مشرانو له دسیسو څخه پریشانه بهرام له مداین نه راووت او دپرویز دمخې نیولو هڅه یې وکړه خو یو پریل پسې یې دوه خلې ماته وخوړه او بیا دجیحون ختیځ لور ته وتښتید او دترک خاقان ته یې پناه یوړه: دا هغه خاقان و چې څه موده وړاندې یې دبهرام په لاس سخته ماته خوړلې وه، خو هغه دخپل میړني دښمن خدمت او درناوی دخان فرض باله دخاقان میرمن دمداین دشاهي دربار سره اړیکې درلودې، هغې دبهرام ژوندي پاتې کیدل دپرویز د راتلونکې لپاره خطرناک باله ځکه یې زهر ورکړل.

دبهرام مرګ دیره وطندوست پوځي مرګ و، خسروپرویز درومي پوځونو دتورو تر سیوري لاندې پرتخت کیناست او ددې په بدل کې ئ ارمنیا تر له نیمه ده هغوی ته پریښوده او س دبازنطیني حکومت سرحدونه تر تفلس پورې رسیدلي وو. خو دایران امیران او مجوسي مشران پردې داده وو چې خسرو پرویز تر بهرام کمزوری دی، او دوی یې له دې کمزوری څخه ګټه اخیستل شي، دمداین دا ولس ووسعه داسې وه چې دوی څه موده مخکې دبهرام پر ذې او دپرویز

پر مانه کومې ښځې ښوولې دې تر هغو خو خله زیات اوس دبهرام په مقابل کې دپرویز پرېرې دوی ښځې نمانځلې.

ښځه دوی دغه ښځې لنډ مهاله ثابتې شوې، پرویز چې داد منه ساه واخسته سترګې یې بدلې شوې، او په ایران کې دظلم اوستم بو نوی دوران پیل شو. زرتښتو رومي پوځیانو دپرویز پرمانې پهره کوله اودبهرام دماتې اومرګ نه وروسته ده د کوم کورني بغاوت خطر نه احساساوه ، اوس ده په پوره آزادی خپلو مزاج بدلوونکیو او بې وفاامیرانو ته سزا ورکوله شرای.دروسي پوځیانو سره د عیسوي پاپانو یوه ډله هم مداین ته راغلې وه دې خلکو هڅه کوله چې دایران اوریالونکي واکمن عیسویت منلو ته چمتو کړي، په ایران کې د عیسویت راتلونکې ته ددوی دامید او تمې یو سبب دپرویز ګرانه ملکه (۱) وه چې هغه هم عیسوي وه.

دمجوسي مذهب مشران له دې وضعې نه ډېر اندېښمن وو، اوخپل ټول زور یې پر دې لګولې ؤ چې خپل نوی واکمن دپلرونو لونیکو پردین پا بند پاتې شي.

دغران پاچا په زړه کې له عیسویت سره هیڅ مینه نه وه هغه برازې دخپلو رومي مرستندویانو د ښځې په خاطر کله کله

(۱) دوهمې عیسوی ملکې نوم شیرین ؤ، دخینوروایتو له مخې داه موریش امپراتور لور پاورېره وه اوپرویز دهغې دحسن اوښکلا تر اغیزې لاندې راغلی. اوشیرین نوم یې ورېسته ورکېښووه، خوزیاتره تاریخ لیکونکي دغه روایت نه مني ، دوی په دې نظر دي چې شیرین دارمنیا دکومې عیسوي کورنۍ ښځه وه.
داهغه شیرین ده چې دفرهاد دمینې داستان ورسره تړلی دي.

دعيسوي مبلغينو څخه غوږ نيوه، خو د روم خلکو پر بهرام د پرويز پرې خپل برې باله.

خو دغه وضعه ناڅاپه بدله شوه، په قسطنطنيه کې د ايران د پاچا د پالونکي تولواک موريس پرخلاف يو عام بغاوت اوپاڅون وشو، بيوه پوځي لارښود فوکاس قسطنطنيه ونيوه موريس يې له خپلو پينځو زامنو سره ووژه، د موريس شپږم زوی تيو دوسيس د فوکاس له لاسه وتښتيد او د پرويز ته د مرستې تر لاسه کولو لپاره مداين ته وتښتيد، خو د فوکاس کسانو هغه په لاره کې ونيو او ويې واژه د موريس ميرمن يې بيوه موده بندي کړه او بيا يوه خانقا کې يې وساتله. خو هغې د خپل خاوند او زامنو د بدل اخيستو لپاره د تښتيدو هڅه وکړه چې فوکاس هغه هم ووژله، ايران ته چې د دې پېښو خبر ورسيد نو د مجوسي مذهب مشرانو دا احساس کړه چې د روميانو د را لاندې کولو د پر ښه وخت را غلی دی، هغوی پرويز راوپاراوه چې فوکاس ستا مرستندوی وژلی دی او له هغه نه بدل اخيستل درباندې فرض شوی دي.

پرويز ته د هيوادونو نيولو هوس له پلرونو په ميراث پاتې و او له موريس سره خواخوږي هم يوه پلمه وه خکه خو د بازنطيني امپراتورۍ د ننه چې دوی کورنۍ ګډوډۍ ولېدې سمد ستي يې خپلو پوځونو ته د پرمختګ امر وکړ، د روم خلک د فوکاس له ظلم څخه زړه توري شوي وو، خکه يې په هيڅ محاذ هم د ايراني پوځ مقابله ونکړای شوه. او ايراني پوځ ارمنيا په آسانۍ ونيوله، بيا خو مياشتې وروسته د خسرو پرويز پوځ د شام شمال ختيځې سيمې تر پښو لاندې کړې د انطاکيې په لور يې پرمختګ وکړ د دغه نباريه آسيا يې هيوادونو کې د امپراتور د نايب پلازمينه وه

لوی په تیرو وختونو کې څو ځله ایراني پوځونو ویجاړ کړې د خوږ وحشت او بې رحمي. دغه ترپان چې دروازې یې خسرو پرویز خلاصې کړې وې د تیرو ترپانونونه ډېر ورانوونکی او ویروونکی و.

دغه لوی سیلاب په مخ کې د رومیانو دفاعي برجونه د خس او خاشاک په څیر وبهیدل.

فوکاس د بازنطیني امپراتورۍ لپاره همغه وضعه جوړه کړه چې څو کاله پخوا هرمز د ایران لپاره جوړه کړې وه، او چې کله د کرزني ګه وډي سره یو ځای تېرې ډېر خطرناک حالت غوره کړ نو د ایرانیانو په څیر رومیانو هم د خپل ظالم او نا اهله واکمن پر خلاف پاڅون وکړ. د قسطنطنیې امیرانو او مذهبي مشرانو د افریقا یې نیول شویو سیمو والي ته بلنه ورکړه چې قسطنطنیه وتیسي، خو عمر خوړلي والي پر خپل ځای خپل ځوان زوی هرقل ددې خدمت لپاره وړاندې کړ.

دهرقل په قوماندانه بیړه جنګي بیړۍ له قرطاجني نه د قسطنطنیې په لور وخوځیده او پاتې لښکر د وچې له لارې روان شو چې دهرقل جنګي بېړۍ د داردانلوس آبنا ته ورننوته نو د قسطنطنیې خلکو په خوشالۍ هغوی ته هرکلی ووایه، د فوکاس ساتونکیو چې د وفادارۍ پاتې کېدو لپاره یې ډېر رشوتونه ورکړي وو د افریقا او مصر د منظم لښکر مقابله ونکړای شوه.

فوکاس یې ځنځیر او زولنې دهرقل مخې ته راووست او هغه له ډېرو زهرلو وروسته ووژه.

هرقل پر تخت کېناست خو له دې سره په کلیسا کې لاړ په دعا عیسوي پاپانو او د قسطنطنیې په بازارونو او کنډوکو کې په خونړیو وحشتونو بوختو خلکو او دنیوي واکمن حضور ته ونه زاتو او سوغاتونو د ورونکیو امیرانو د اوږد ول چې د پرویز پوځونو انطاکیه ونیوله او هغه د تثلیث د پیروانو کلیسا وې په اورونو نو به نیولي.

# (دیارلسم باب)

دیخنی دموسم یوه شپه پراسمان توري وریځي راخپري وي اونري نري باران اوربده ، یو سپور دفرمس دسرای ترځنګ له آس نه پلی شو او وروراندې شو دروازه یې وټکوله، څو شیبې یې څه ځواب وانه ورید بیا یې په انګړ کې دپښو تر پهار واوريد او څوك دروازې ته رانژدې شول ویې پوښتل:

- تاسو له یروشلیم نه راغلی؟

مساپرځواب ورکړ:

هوکې! پوښتونکي دروازه خلاصه کړه، مساپر له خپل آس سره دننه ورغی، دسرای خدمتګاروپوښتل:

ستاملګري چیرته دي؟

مساپر ځواب ورکړ:

زما ملګري نشته، ما غوښتل چې شپه په یرو شلیم کې تیره کړم خو دا راته معلومه نه وه چې سرماښام دښاردروازې تړل کیږي.

- نوتاسو کوم رومي افسر دلته رااستولي نه یاست؟خدمتګار وویل نه ودریږه زه اوس بیرته راځم ! اوبیا په منډه ولاړ، مساپر وړاندې ولاړ او دځیرې لاندې یې آس ودراوه، لږ خندوروسته فرمس مشال په لاس کې له دوو نورکرانو سره په برنډه کې را ښکاره شو، هغه راوړاندې شو اوله مساپرنه یې وپوښتل:




📚منصور كتابتون📚
6 members



